# سیګار

د افغانستان د بیا رغونې لپاره
ځانګړی عمومي پلټونکی

اکتوبر 30
2014

## د متحده ایالاتو کانګریس ته درې میاشتنۍ رپوټ





**لمر د راختو په وخت کې** د افغانستان د سویلي ولایت کندهار  هوایي ډګر شاوخوا د ازغن سیم برخه ښکاره کوي.
(د ستیو موکساري لخوا د سیګار عکس)


**د درې میاشتني راپور کارمندان**

**مایکل بینډل**، د اقتصادي او ټولنیزې پراختیا موضوع ماهر
**کلارک ایروین**، مشر لیکونکی/اصلاح کونکی
**ونګ لیم**، د ویژول یا لید معلوماتو متخصص
**دایوید مانسفیلد**، د مخدره توکو موضوع متخصص
**ژنیفر مانزولو**، د پروګرام مدیر
**اولیویا پایک**، د ویژول یا لید معلوماتو متخصص
**ایمټ شنایډر**، د معلوماتو مشر څیړونکی/مشر پلټونکی
**ډیبورا سکروګجین**، د تحقیق او څیړنې ریاست رییس/اصلاح کونکی
**سولنګ تورا ګابا**، د تحقیق همکار
**دانیال ویګیلینډ**، د حکومتولۍ موضوع ماهر
**ژنیویو ویلسن**، د امنیت موضوع ماهر
**جوزف ویندرم**، د تحقیق او څیړنې ریاست معاون/اصلاح کونکی

**د افغانستان بيارغوني** لپاره
**ځانګړی عمومي مفتش**

زه خوشهاله يم ترڅو د امريکا کانګريس، د بهرنيو او دفاع وزيرانو ته په افغانستان کې د امريکا د بيارغوني هڅو دريځ په اړه د سيګار د 25 ربع راپور وړاندي کوم.

د افغانستان په تاريخ کي د سپتمبر 29 يوه هڅوونکي ورځ وه، کله چې ولسمشر حامد کرزي په سوله ايزه توګه د ولسمشری واک نوي ټاکل شوي ولسمشر اشرف غني ته وسپاره، هغه بيا د ټولټاکنو دويم کس، عبدالله عبدالله ته د اجراييه رييس په توګه لوړه ورکړه. د افغانستان په ستونزمن تاريخ کي د لومړي ځل لپاره په سوله ايزه او ديموکراتيکه توګه د رژيم بدلول و.

هيله کيږي چې د ملي وحدت د حکومت د لوړي دغه مراسم به د افغانستان بيارغوني ته نوی ژوند ورکړي. نوي حکومت له وړاندي له امريکا سره دوه اړخيزه امنيتي موافقه او له ناټو سره د ځواکونو دريځ موافقه لاسليک کړې ده، چې لدې سره به د امريکا، ناټو او ملګرو هيوادونو د دوامداره ژمنو لپاره حقوقي کاري چوکاټ برابر شي، ترڅو د افغانستان امنيتي ځواکونو (ANSF) ته روزنه، مشوره، او مرسته برابره کړي. داسي ښکاري چې ولسمشر غني د اداري فساد پر وړاندې کلک دريځ غوره کړی دی. د هغه په لومړنيو ګامونو کي، هغه د افغانستان ستري محکمي او لوی څارنوال ته لارښوونه وکړه ترڅو د کابل بانک په توطيه کي تورن کسان تعقيب کړي چې نږدې و په 2010 کي د هيواد مالي سکتور له منځه يوسي. سيګار او د نړيوالي ټولني مرستندويان به دا له نږدې څاري چې آيا دغه لومړني ګامونه به د لوی څارنوال دفتر او د افغانستان د قانون پلي کوونکو نورو ادارو لخوا د فساد پر وړاندي هر اړخيزو هڅو سره تعقيب شي.

مګر، د انديښني وړ ننګوني لا هم شتون لري. زمونږ د تير ربع په راپور کي، سيګار د هغه خطر په اړه يادونه کړې وه چي افغانستان په ډيره او د نه دوام وړ بهرنی مرستي باندې تکيه لري. زمونږ انديښني بيا په سپتمبر کي د مطبوعاتو په راپورونو کي ثابت شوي کله چې د ماليي وزارت له مرستندويانو څخه په بيړنی توګه د 537 ميليونو امريکايي ډالرو غوښتنه کړې وه ترڅو د کال تر پايه د حکومت معاشونه تاديه کړي. د سيګار د معلوماتو غوښتني په ځواب کي، د امريکا بهرنيو چارو وزارت چاروکو ووېل چې هغوی تر اوسه په رسمي توګه د مرستي لپاره ملاتړ کوونکي معلومات ندي لاسته راوړي، مګر څو مياشتي کيږي چې هغوی د عوايد کموالي په اړه د افغانستان له حکومت سره خبري کوي. څرنګه چې مونږ نور معلومات لاسته راوړو، سيګار به کانګريس او عامو خلکو ته د افغانستان د مالي وضعيت او اقتصاد په اړه معلومات وړاندي کړي.

د دغه ربع راپور د افغانستان د بيارغوني پر وړاندي د ترياکو توليد خطر په اړه دی. په لومړی برخه کي، سيګار ليکلي داسي ښکاري چې د مخدره توکو پر وړاندي هڅي د دواړو امريکا حکومت او نړيوالي ټولني له اجنډا وتلي، سره لدې چې دا يو حقيقت دی چې امکان نلري پرته لدې چې د ترياکو اقتصاد په پوره توګه په پام کي ونيول شي، له 2014 وروسته د افغانستان لپاره يوه منطقي او اغيزمنه ستراتيژي جوړه شي. تر هغه وخته چې د ياغيانو قومانداناو وکولای شي د ترياکو قاچاق له لارې خپل ځانونه تمويل کړي، او تر هغه وخته چې مفسد چاراوکي له غير قانوني اقتصاد څخه ګټه اخلي، د هيواد په ځينو سيمو کي به د سولي لپاره ډيره کمه ليوالتيا وي. په يوه ځانګړي راپور کي چې پدې ربع کي خپور شوی، سيګار ښودلي سره لدې چې د مخدره توکو پر وړاندې هڅو لپاره 7.8 ميلیارده امريکايي ډالر مکلف شوي، د کوکنارو کرني کچه تر هر بل وخت لوړه ده. د سيګار د فعاليت يوې پلټنې دا هم موندلي چې په ولايتونو کي د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې پوليسو له قطعو سره د امريکا مرستي نشي کيدلای تعقيب شي او امريکا نشي کولای دا وګوري چې آيا په ولايتي قطعو کي يې پانګوني مرسته کړي ترڅو دغه قطعي توان پيدا کړي، پخپله کارونه ترسره کړي او ځواک د دوام وړ وي.

د دې ربع راپور د امنیت، حکومتوالی، او اقتصاد سکتورونو کې د بیارغونې هڅو ازموینه ترسره کړې. د امنیت په سکتور کې، سیګار د نړیوال امنیت مرستندویه ځواک (ISAF) د هغې پریکړې په اړه ډیر خواشینی شوی چې د افغانستان د امنیتي ځواکونو د توان ارزونې راپور اجرایي لنډیز یې محرم کړی. څو کلونه کیږي چې سیګار د آیساف لدې راپور څخه د یوې اصلي اندازه کولو وسیلې په توګه کار اخیستی ترڅو د امریکا کانګریس او عامو خلکو ته د دغو ځواکونو د جوړولو، روزنې، تجهیز او دوام لپاره د امریکا د 61.5 میلیاردو امریکایي ډالرو پانګونې اغیزمنتیا وښيي. تردې ربع وړاندې، د افغانستان امنیتي ځواکونو د عملیاتي اغیزمنتیا په اړه ټول معلومات د افغانستان د امنیتي ځواکونو د دریځ په سیمه ایز راپور (RASR) او پخواني راپورونو لکه د قوماندان د ارزونې وسیله (CUAT)د توان موخې اندازې کولو سیستم کې محرم نه و.

د آیساف لخوا د راپور لنډیز محرم کول د امریکا خلک د اندازه کولو له هغې اړینې وسیلې څخه محروم کوي چې د افغانستان بیارغونې په هڅو کې د دغه ځانګړې تر ټولو ډیر لګښت هڅې بریا یا ناکامی اندازه کړي. که څه هم سیګار او کانګریس کولای شي د محرمو لنډیزونو معلوماتو غوښتنه وکړي، مګر په اوس وخت کې دغه عجیبه محرمیت او د عامو خلکو له نظر یې پټیدل په هیواد کې د تازه معلوماتو پر اساس د خبرو اترو په ګټه نده. پردې برسیره، پداسې حال کې چې سیګار پدې پوهیږي چې په جزییاتو سره او د قطعې په کچه دغې ارزونې کیدای شي د یاغیانو لپاره ګټور استخباراتي معلومات برابر کړي، داسې نښې نشته چې عامو خلکو ته د افغانستان امنیتي ځواکونو د وړتیا ټول خپاره شوي معلومات کیدای شي په افغانستان کې یاغیانو ته کومه تکتیکي ګټه ورسوي.

هغه اړتیا ترڅو په ځیر سره د افغانستان امنیتي ځواکونو د پرمختګ نظارت ترسره شي د اګست په میاشت کې پام ته راغله، کله چې افغان عسکر د امریکا اردو ډګر جنرال باندې ډزې وکړې او ویې واژه، هغه په افغانستان کې د امریکا اردو تر ټولو لوړ پوړی افسر و چې ووژل شو. په افغانستان کې د امنیت سپارلو ګډ قوماندان معاون په توګه، ډګر جنرال هارولډ جې ګرین د اردو ستایل شوی مشر او د سیګار یو ملګری او همکار و. هغه په هغه وخت کې ووژل شو چې په کابل کې د مارشال فهیم د ملي دفاع پوهنتون کې یې د نظارت دنده ترسره کوله. د ډګر جنرال ګرین صداقت، ډیر کار، او کلکوالی به هیر نه شي.

پر خطرونو برسیره، سیګار به د امریکا بیارغونې هڅو کلک نظارت برابرولو ته دوام ورکړي. په هغو 31 پلټنو، تفتیشونو، او ځانګړو پروژو کې چې سیګار پدغه ربع کې خپاره کړي، د 14.8 ملیاردو امریکایي ډالرو په ارزښت د پروګرامونو او پروژو ارزونه یې ترسره کړې. له بده مرغه، زمونږ ډیریو کارونو په پلان کولو، ساختماني کارونو او نظارت کې کمزوری را برسیره کړې. د بیلګې په توګه، د پل چرخي بندیخانې یوه تفتیش غیر مناسب کارونه پیژندلي او د قرارداد اړتیاو پر اساس کارونه ندي بشپړ شوي. د معلوماتو غوښتنې یوه مکتوب یو ځل بیا د افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهي صندق د 3.17 میلیاردو امریکایي ډالرو په اړه چې د افغانستان ملي پولیسو د پروګرام د تمویل لپاره دي اندیښنې رابرسیره کړې. په یوه مثبت ګام کې، د فعالیت یوې پلټنې کتلي چې د امریکا نړیوالې پراختیا ادارې د سیګار 80% سپارښتنې تطبیق کړې دي.

په هغو شپږو مالي پلټنو کې چې سیګار پدې ربع کې بشپړې کړې، د 5.6 میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت تر پوښتنې لاندې لګښتونه پیژندل شوي. تر اوسه د سیګار مالي پلټنو پروګرام د نږدې 83 میلیون امریکایي ډالرو په ارزښت تر پوښتنې لاندې لګښتونه پیژندلي دي. دویمه برخه زمونږ د موندنو او سپارښتنو لنډیز وړاندې کوي.

کانګریس ته زما د وروستی راپور څخه تراوسه پورې سیګار 36 نوي تحقیقات پرانیستې او 33 یې تړلي دي، چې پدې سره د روانو تحقیقاتو شمیر 322 ته رسیږي. د راپور ورکولو پدغه موده کې د سیګار له روانو تحقیقونو څخه جرمي جریمې، بیرته تادیات، ضبطونې، او د امریکا حکومت د لګښت سپماوې له 1 میلیون امریکایي ډالرو څخه زیاتو ته رسیږي. د سیګار له تحقیقونو څخه تر اوسه ټولې سپماوې له 500 میلیون امریکایي ډالرو څخه زیاتې دي. د سیګار تعلیق او مخنیوی پروګرام 44 افراد او 13 شرکتونه د تورونو پر بنسټ د تعلیق او مخنیوې لپاره راجع کړي دي. تورونه دا دي چې دوی د 398 ملیون ډالرو په ارزښت قراردادونو پراساس فعالیت کولو کې پاتې راغلي یا درغلي یې کړې.

پدې ربع کې، زه باید د اردو د تعلیق او بندیز پروګرام د پالیسو په اړه پخپلو اندیښنو یو ځل بیا ټینګار وکړم. لکه څرنګه چې ما د تیر شپږو ربعونو په راپورونو کې ویلې دي، چې اردو نه غواړي د یاغیانو ملاتړ کوونکي د حکومت له قراردادونو څخه تعلیق یا بند کړي ځکه چې د دغو سپارښتنو ملاتړ کوونکي معلومات محرم دي، نه یووازې له حقوقي پلوه غلطه خبره ده، خو دا د ښې پالیسی او ملي امنیت د موخو پر ضد هم ده. زه د دې حقیقت په اړه اندیښنه لرم چې زمونږ حکومت کولای شي او له محرمو معلوماتو څخه کار اخلي ترڅو هغه انفرادي کسان چې په افغانستان کې له یاغیانو سره تړاو لري ونیسي، توقیف کړي او ووژني، مګر نه غواړي له ورته محرمو معلوماتو څخه کار واخلي ترڅو ورته انفرادي کسان له هغه حق څخه محروم کړي چې د امریکا حکومت قراردادونه لاسته راوړي. د دغه توپیر دوام په اړه کوم منطق شتون نلري. زه غواړم چې یوځل بیا د امریکا دفاع وزیر او کانګریس وهڅوم ترڅو دغې غلطې پالیسی ته بدلون ورکړي او د اردو تعلیق او بندیز پروګرام ته منطقي لار غوره کړي.

د افغانستان نوي حکومت او د امریکا لخوا تمویل شوي بیارغونې پروګرام لپاره د فرصت او بدلون پدغه وخت کې، زما کارکوونکي او زه به خپلو کارونو ته په کلکه دوام ورکړو ترڅو په افغانستان کې د امریکا د مالیه ورکوونکو پانګونه خوندي کړي.

په درناوی،

جان اف ساپکو
ځانګړی عمومي پلټونکی د افغانستان بیارغونې لپاره

**دا راپور د 2014 د جولای له 1 څخه د سپتمبر تر 30 پورې، د افغانستان د بیارغونې دریو مهمو سکتورونو د پرمختګونو په اړه د سیګار د نظارت د کار یو لنډیز او نوي معلومات وړاندې کوي. * پدې راپور کې په افغانستان کې د مخدره توکو پر وړاندې د امریکا هڅو په اړه هم خبري شامل دي. د راپور ورکولو پدغه موده کې، سیګار 31 پلټنې، تفتیشونه، د خبرتیا مکتوبونه، او نور خپاره کړي چې د امریکا هڅو ارزونه کوي ترڅو د افغانستان امنیتي ځواکونه جوړ کړي، حکومتوالي ښه کړي، او اقتصادي او ټولنیز پرمختګ ته لار پرانیزي. دغو راپورونو یو شمیر ستونزې، پشمول د حساب ورکولو، د پلان کولو او ساختماني چارو کمزورى، او د روغتیا او خوندیتوب پر وړاندې ګواښونه موندلي. د سیګار له روانو تحقیقونو څخه د ټولې مالي لاسته راوړنې له 1 میلیون امریکایي ډالرو څخه زیاتې جرمي جریمې، بیرته تادیات، ضبطونې، د قرارداد خوندي شوي پیسې، او مدني تصفیې موافقې دي. د سیګار تحقیقونو پایله د 14 نیولو، دریو محاکمو، څلورو جرمي معلوماتو، او دوو اعترافونو موافقې، او په امریکا کې د یوه بندي کیدلو سبب شوي. په افغانستان کې، 24 انفرادي کسان د اردو له تاسیساتو څخه منع شوي، او نهه کارکوونکي له کاره منفک شوي. د سیګار تعلیق او مخنیوی پروګرام 44 افراد او 13 شرکتونه د تورونو پر بنسټ د تعلیق یا مخنیوي لپاره راجع کړي دي. تورونه دا دي چې دوی د 398 ملیون ډالرو په ارزښت قراردادونو پراساس فعالیت کولو کې پاتې راغلي یا درغلي یې کړې.**

# د سیګار عمومي کتنه

## پلټنې

سیګار د پلټنې خبرتیا یو مکتوب، د فعالیت دوې پلټنې، شپږ مالي پلټنې او یو تفتیش ترسره کړی.

د **خبرتیا مکتوب** پدې اړه و:

- له تیر ربع څخه د سیګار د C-130H د خبرتیا مکتوب په ځواب کې چې د امریکا دفاع وزارت پریکړې په اړه یې توضیحات ورکړي و ترڅو د افغانستان هوایي ځواک لپاره دریمه C-130H الوتکه برابر کړي او د سیګار له سپارښتنې سره موافقه کړې وه ترڅو د څلورمې الوتکې رسول وځنډوي، چې احتمالي لګښت یې نږدې 40.5 میلیون امریکایي ډالر و.

د **فعالیت پلټنو** موندلي:

- د امریکا نړیوالې پراختیا ادارې (USAID) د سیګار د پلټنې سپارښتنو ډیره برخه په وخت او بریا سره تطبیق کړې، او د افغانستان د بیارغونې مرستو تقلب، ضایعاتو، ناوړې ګټې اخیستې خطر مخه یې نیولې.
- که څه هم د افغانستان د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې پولیس (CNPA) ولایتي قطعو یو څه ملاتړ لاسته راوړی، مګر د امریکا هغه مالي سرچینې چې د CNPA لپاره ټاکل شوې وې یووازې خیالي ګټه یې رسولې.

**مالي پلټنو** د کورني کنټرول کمزورى او نه اطاعت مسلو له کبله تر پوښتنې لاندې 5.6 میلیون امریکایي ډالر پیژندلي. دغې کمزورى او د نه اطاعت په مسلو کې د نورو شیانو ترڅنګ، د کاري سفر د نه مستحق لګښتونه، د لوړ قیمت تجهیزاتو او ملکیتونو اخیستل، د غیر مستقیم لګښتونو بیرته اضافي پیسې اخیستل، د تدارکاتو سرچینې لپاره نه ملاتړ کیدونکي یا غیر مناسب یووازینی دلیل، د پیسو تبادلې ناسمې معاملې، د فرعي لاسته راوړونکو غیر مناسب نظارت، د قیمتي تجهیزاتو غیر مناسب له منځه وړل، د سندونو ملاتړ نشتون، د سندونو کمزورې ساتنه، او د قراردادي د تعلیق او بندیز نه ترسره کولو کنټرولول شامل و.

د امریکا لخوا تمویل شوي تاسیساتو **تفتیش راپور** وموندل:

- د پل چرخي په بندیخانه کې د بنایي ناسم کارونه او هغه کارونه چې د قرارداد اړتیاوو پر اساس ندي بشپړ شوي، لدې بندیخانې څخه کار اخیستل کیږي، مګر ګټه ګونه ډیره ده.

## نوي پلټنې او تفتیشونه

پدې ربع کې، سیګار د فعالیت دوې نوي پلټنې پیل کړي، ترڅو د امریکا د هغو هڅو ارزونه ترسره کړي چې د افغانستان هوایي چلند وړتیاوو ته وده ورکوي او د امریکا دفاع وزارت د زیربنا پروژو نظارت چې د افغانستان حکومت ته سپارل شوي. سیګار د کندهار هوایي ډګر د سویلي پارک ساحې تاسیساتو په ګودام، د ځانګړو عملیاتونو کاري ځواک-د سویل قوماندانی او په کمپ براون کې د کنټرول په تاسیساتو، او د مخدره توکو د قضا په مرکز کې درې نوي تفتیشونه پیل کړي.

*د قانون سره سم، سیګار ممکن د 30 سپتمبر 2014 څخه وروسته د خپرولو نیټې پورې پیښدونکي محصولاتو او پیښو باندې هم راپور ورکړي

## ځانګړې پروژې

د راپور ورکولو پدغه موده کې، د ځانګړو پروژو دفتر د معلوماتو غوښتنې 19 مکتوبونه او 2 ځانګړي راپورونه خپاره کړي او د دې مسلو په اړه وې:

- په کمپ شاهين کې د تيلو خطرناک ټانکونه (زيرمې)
- د کندهار برېښنا د وصلولو لپاره د حل لار پلانونه
- په سرې پل کې د خطرناک ښوونځي راوليدل
- د فساد ضد او فساد پر وړاندې هڅې
- د مخابرې برجونو په اړه نا بشپړ شوي معلومات او د يوه مخبر د خونديتوب معلوماتو پر وړاندې ستونزمن غبرګون
- د دريم هيواد د وګړو (TCNs) د احتمالي استخدام څخه ناوړه ګټه اخيستنه
- د افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهي صندق (LOTFA) مرستو کمزورې نظارت
- د پل چرخي په ناحيه کې د افغانستان ملي اردو لپاره دوهمه غير ضروري مسلخ خونه
- د 16 G222 الوتکو له منځه وړل
- د USAID تر پوښتنو لاندې لګښتونو بيرته لاسته راوړل
- د امنيت لګښتونو لوړېدلو له کبله د قرارداد فسخه کيدل
- د امريکا دفاع وزارت د اضافي تجهيزاتو د له منځه وړلو پروسې نا بشپړ شوي سندونه
- د مخابرې په هغه وسايطو چې ورڅخه کار ندی اخيستل شوی کيدای شي پيسې بې ځايه لګيدلي وي
- د افغانستان د امنيت سپارلو ګډې قوماندانی (CSTC-A)، د امريکا بهرنيو چارو وزارت، او USAID چې د افغانستان حکومت لپاره مستقيمه مرسته برابروي د کنترول پروسې څخه کار اخيستنه
- سره لدې چې د مخدره توکو پر وړاندې مبارزه کې امريکا 7 ميلیارده امريکايي ډالرو پانګونه کړې، تر هر بل وخت د کوکنارو کرنې لوړه کچه

## تحقيقات

د دې راپور ورکولو په وخت کې د سيګار له روانو تحقيقونو څخه، جرمي جريمې، بيرته تاديات، ضبطوني، مدني جوړ جاړی، او د امريکا حکومت لپاره سپماوې له 1 ميليون امريکايي ډالرو څخه زياتو ته رسيدلي. د سيګار له تحقيقونو څخه تر اوسه ټول سپماوې له 500 ميليون امريکايي ډالرو څخه زياتي دي. د سيګار تحقيقونو په پايله کې 14 کسان نيول شوي، درې محاکمه شوي، څلور جرمي معلومات لاسته راغلي، د اعترافونو دوه موافقي اخيستل شوي، او په امريکا کې يو کس نيول شوی. پردې برسيره، 24 انفرادي کسان د اردو له تاسيساتو څخه منع شوي او نهه کارکوونکي له دندې منفک شوي. سيګار 36 نوي تحقيقات پيل او 33 يې تړلي دي، چې پدې سره د روانو تحقيقونو شمير 322 ته رسيږي. د سيګار تعليق او بنديز پروګرامونو 44 انفرادي کسان او 13 شرکتونه تعليق او بنديز ته راجع کړي.

**د تحقيقاتو په عمده ټکو** کې دغه موارد شامل دي:

- د پيسو مينځلو تحقيق په پايله کې يوه محاکمه او يو بندی کيدل
- د امريکا اردو يو غړی د تقلب له توطيې وروسته محاکمه شوی
- د امريکا اردو يو پخوانی متخصص د تيلو غلا په توطيې تورن شوی
- د ترانسپورت کانتينرونو د غلا لپاره چې د سامانونو ارزښت يې 260,000 امريکايي ډالر و، نهه کسان نيول شوي
- د افغانستان د لاريو درې ډريوران نيول شوي او د نږدې 76,000 امريکايي ډالرو په ارزښت تيل بيرته لاسته راوړل شوي
- يوه قراردادي کارکوونکی د برېښنايي تقلب توطيې او غير قانوني پيسو اخيستلو باندې يې اعتراف کړی
- د افغانستان يو قراردادي د تقلب لپاره نيول شوی
- د سيګار له تحقيق څخه 150,000 امريکايي ډالر بيرته لاسته راوړل شوي
- د تيلو غلا يوه ناکامه توطيه
- د يوه مخفي عملياتو په پايله کې درې افغانان نيول شوي، د امريکا له تاسيساتو څخه نهه منع شوي، او يو شرکت تعليق شوی
- د سيګار او د فيدرال تحقيق بيورو (FBI) لخوا د پوهې يو يادښت لاسليک شوی ترڅو معلومات شريک کړي

# منځپانګو لست



## برخه1


**1 د ترياکو اقتصاد**

4 "تر بل وخت" لوړي کچي يوه بنه

6 د مخدره توکو پر وړاندې ځو اړخيزه هڅي او پايلي يي

6 د مخدره توکو قاچاق

مخه نيولو کي د قانون پلي کولو هڅي څومره اغيزمني دي؟

9 د کوکنارو له منځه وړلو څه لاسته راوړي دي؟

12 د بنه فعاليت نوښت د اغيزمنتيا ارزونه نورو شواهدو ته اړتيا لري

13 آيا امريکا د مخدره توکو په سيمو کي د سيمه ايزي پراختيا لپاره سمه ستراتيژي لري؟

15 د کرني معلومات بايد

د مخدره توکو د مخنيوی هڅو يووازيني ارزونه نه وي

16 آيا 2015 نوي امکانات وړاندي کوي؟




## برخه2


**19 د سيګار د نظارت فعاليتونه**

22 پلټني

36 تفتيشات

39 ځانګړي پروژي

47 د ربع مهمي برخي: د G222 پروګرام د 486 ميليونو امريکايي ډالرو په اړه د سيګار روانه انديښنه

49 تحقيقات

58 پدي ربع کي د سيګار نور ځارنيز فعاليتونه

61 د سيګار بوديجه

61 د سيګار کارکونکي




## برخه3


**63 د بيا رغوني نوي معلومات**

65 د بيا رغوني نوي معلومات

68 د افغانستان د بيارغوني لپاره فنډ برابرول

71 د فنډونو وضعيت

85 امنيت

127 حکومتولي

163 اقتصادي او ټولنيزه پراختيا

# منځپانګو لست



## برخه4


**201 د نورو ادارو نظارت**

203 د نورو ادارو نظارت

204 د څار بشپړ شوي فعالیتونه




## ضمیمي او پایلیکونه


220 ضمیمه الف: قانوني اړتیاو ته د راپور متقابل راجع کول

226 ضمیمه ب: د افغانستان بیارغونې لپاره د امریکا مرستې

228 ضمیمه ج: د سیګار لیکل شوي محصولات

234 ضمیمه د: د سیګار تحقیقات او اړیکي لیکه

242 ضمیمه هـ: لنډیزونه او مخففات

248 پایلیکونه

"پداسې حال کې چې موږ د 2014 پرمحال د نړيوالو ځواکونو له افغانستان څخه وتلو پړاو ته نږدې کيږو، دا هيواد نړيوال مداوم ملاتړ ته اړتيا لري.
لا پراخه هڅو ته اړتيا ده چې د ترياکو سره مبارزې پروګرامونه د ټولنيزې او اقتصادي پرمختيا اصلي برنامو ته راوړل شي ترڅو د غيرقانوني مخدره توکو د کښت او ترياکو د توليد په بريا سره مخه ونيول شي په بيله بيا افغانانو ترمنځ د ترياکو پراخه کارونه يا روږدي کيدل."

*—— ولسمشر باراک اوباما*

سرچينه: سپينه مانۍ، د 2014 مالي کال لپاره د مخدره توکو لوی ټرانزيټ يا غيرقانوني مخدره توکو توليدونکي هيوادونو باندې د ولسمشرۍ بيان،
د 2013 کال د سپتمبر 13.

# 1 د تریاکو اقتصاد



# د مقالې منځپانګې


"تر بل وخت" لوړې کچې يوه بڼه 4

په ترياکو څو مخکښ هڅې او پايلې يې 6

د ترياکو سوداګرۍ پروړاندې مبارزه کې
د قانون پلي کولو هڅه څومره مؤثره ده؟ 6

له منځه وړو څه لاسته راوړي؟ 9

د ښه فعاليت نوښت د اغيزمنتيا ارزول
لانورو شواهدو ته اړتيا لري 12

ايا متحده ايالات د مخدره توکو په چاپېريال
کې د کليو پراختيا لپاره سمه ستراتيژي لري؟ 13

د کښت معلومات بايد د تارياکو پروړاندې
مبارزې هڅې يوازينې ارزونکی نه وي 15

ايا 2015 نوي امکانات وړانديز کوي؟ 16


**عکس په تيره پاڼه کې**

د ترياکو کښت د ننګرهار په خوګيانو ولسوالۍ کې په 2010 کې له 131 هيکتاره څخه 5,746 هکتاره ته په 2013 کې لوړ شوی. په 2014 کې يې د لانور ډيريدو تمه کيږي.
(د سيګار تصوير د David Mansfield لخوا)

# د ترياکو د اقتصاد مخه نيول بايد د بيارغونې لپاره يو لومړيتوب وي



**د ترياکو يوه** غوزه چې د تيغ وهل کيدو وروسته ترې اپيوم راټول شوي دي. (د سيګار تصوير د David Mansfield لخوا)

افغانستان له ډيرې مودې راهيسې د نړۍ په کچه د ترياکو توليد ترټولو لوی سرچينه ده چې د نړۍ څه دپاسه 90% ترياک توليدوي.[1] د ترياکو توليد د افغانستان سياسي اقتصاد کې په ورته ډول کليدي رول لوبوي. پداسې حال کې چې کښت يې له 3% کمه ځمکه باندې وي، ترياک د افغانستان ترټولو باارزښت نقدي فصل دی او دې پورې اړوند محصولات — ترياک مورفين او پوډر يې ترټولو لوی صادرات دي چې د اټکل له مخې په پولو کې ارزښت يې 3 مليارد ډالر دی.[2] برسيره پردې، د ترياکو اقتصاد په مستقيم ډول تر 411,000 پورې وګړو ته د بشپړې ورځې يا دې ته ورته دندې چمتو کوي چې دا د افغانستان ټولو ملي امنيتي ځواکونو (ANSF) شمير څخه ډير دي — او په شرعي يا قانوني اقتصاد کې د منځني اغيز اضافي دندو ملاتړ کوي.[3]

په راتلونکي اونيو کې تمه کيږي چې پر مخدره توکو او جرمونو د ملګرو ملتونو دفتر (UNODC) د ترياکو توليد په ډيريدو راپور ورکړي. د کښت کچه له 2001 راهيسې تر 200,000 هکتاره څخه (1 هيکتار شاوخوا 2.5 ايکړ کيږي) ډيره لوړه شوې.[4] په 2015 کې په افغانستان کې د ناټو محاربوي ماموريت پای ته رسيدو وروسته د ترياکو د کښت ډيريدو دلايل شتون لري.

د افغانستان بيارغونې لپاره عمومي مفتش (سيګار) او نورو څارونکو ادارو پيژندلي چې بيارغونه بايد د ترياکو اقتصاد مخه ونيسي. لکه څنګه چې عمومي مفتش جان ايف ساپکو وړاندې پدې کال کې کانګريس ته وويل، "د ترياکو تجارت افغان مالي سيکتور مسموم (زهرجن) کوي او د غيرقانوني اقتصاد پرمختګ ته د سونګ توکو کار کوي. دا بيا فساد ډيروي، جرمي شبکې منځ ته راوړي، د طالبانو او نورو ياغي ډلو لپاره ډير مالي ملاتړ برابروي، او د افغانستان حکومت مشروعيت کمزوری کوي". په ټوله کې ساپکو خبرداری ورکړ، "د مخدره توکو ډيريدونکی کښت او قاچاق يو له خورا پام وړ فاکتورونو څخه دی چې د افغانستان بيارغونه کې د متحده اياﻻتو او نړيوالو مرستندويانو ټوله پانګونه خطر سره مخ کوي."[5]

اوس پداسې حال کې چې د ترياکو راټوکيدونکی اقتصاد افغان دولت او بيارغونې پروړاندې ګواښ دی، د ترياکو پروړاندې مبارزه کې افغان اجنډا د متحده اياﻻتو حکومت او نړيوالې ټولنې، دواړو لخوا په لويه کچه راوليدلې. د افغانستان بيارغونې پورې اړوند کنفرانسونو په ويناو او بياناتو کې خورا ندرت سره پيښيږي چې دې مسلې ته د نړيوالې هڅې تکيه کونکی ټکی وويل شي. او دا مهال د ټوکيو څواړخيز حساب ورکوونې کاري چوکاټ[6]، (TMAF) هغه تړون چې افغانستان سره د بيارغونې برخه کې راتلونکې مرسته تاييدوي، کې دې مسلې ته يوازې غيرمستقيم اشاره کيږي.[7] لدې هم

خورا لوی اندیښنه داده چې حقایق نه ملاحظه کیږي یعنی د بیارغوني اوسنی او پلان شوي هڅې — پرمختللي اوبه لګونه، سړکونه او کرنیزه مرسته — په واقعیت کې د ترياکو تولید ډېروي که چیرې د پروګرام ډیزاین کې د ترياکو اقتصاد فاکتور کولو کې دا هڅې پاتې راشي. د دې پېژندلو ته سمدستي اړتیا ده چې په افغانستان کې له 2014 وروسته د ترياکو اقتصاد بشپړ حساب په پام کې نیولو پرته د مؤثرې او هراړخیزې ستراتیژۍ رامنځته کول ناممکن دي.

له 2002 راهیسې متحده ایالاتو په افغانستان کې د ترياکو تولید او قاچاق سره د مبارزې لپاره نږدې 7.8 ملیارد ډالر مکلف کړي، مګر خورا ساده به وي چې دلیل راوړو د ترياکو سره مبارزې مداخلتونه ناکام و ځکه چې د تولید ارقام يې له نور هرکله څخه لوړ دي. په کښت کې ډېروالی او هغه ساحو کې بیرته د کښت پیلیدل چې د افغان حکومت لاسرسی ورته دا مهال نشته، وړاندیز کوي چې نوموړې ستونزه یوازې دغه یولړ مداخلتونو باندې تکیه نه کوي چې دامهال د ترياکو سره مبارزې په نامه پېژندل کیږي. ستونزه د بیارغوني لاپراخه هڅې ناکامی باندې هم تکیه کوي چې په ډېری کلیوال سیمو کې اساسي اوضاع په نښه کوي، لکه نا امني، ضعیف حکومتولي او محدود اقتصادي فرصتونه، چې داټول د ترياکو پراخه تولید لامل ګرځي.

د ولسمشر اشرف غني تړواک لاندې په افغانستان کې د نوي حکومت رامنځته کیدل یو فرصت وړاندې کوي چې د غیرمشروع اقتصاد سره د مبارزې هڅې د بیارغوني هڅو هسته وګرځول شي او د بیاکتنې پروسه رامنځته کړي چې ډاډ ترلاسه شي هیڅ یو پروګرام یا پالیسي وضعیت لاپسې نه خرابوي. په ټوله کې دا اشرف غني و چې د لومړي ځل لپاره يې په 2003 کې د مالیه وزیر په توګه افغانستان د "ترياکو — مافیا دولت" [8] کیدونکي ته اشاره وکړه، چا چې په نړیوال بانک او نورو پرمختیایي ډونرانو فشار راوړ چې په کټوره توګه د ترياکو اقتصاد [9] سره ښکیل شي، او چا چې د ترياکو کښت د کمولو لپاره د "ګړندي ګټو" د تعقیب ناپېژندل شوي پایلو خبرداری ورکړ. [10]

متحده ایالات او نړیوال مرسته کونکي باید لدې فرصت څخه ګټه پورته کړي. دوی باید افغان حکومت قانع کړي چې د ترياکو اقتصاد پروړاندې مبارزه خپل راتلونکي پرمختیایي پلانونو کې ځای پر ځای کړي. او دوی باید د 2014 په نومبر کې په انګلستان کې د TMAF راتلونکي وزارتي بیاکتنه وکاروي چې افغان حکومت سره مرستې لپاره خپلې ژمنې له سره تاییدوي او د ترياکو تولید تخریبي اغیز په کمولو کې د پام وړ پرمختګ وښیي.

## "تر بل وخت" لوړې کچې یوه بڼه

UNODC اټکل کوي چې د ترياکو تولید په 2013 کې تر 209,000 هیکتاره لوړ شوی و — له نیم ملیون ایکړ څخه ډېره، تر 36% پورې له 2012 څخه لوړ او د افغانستان لپاره "ترټولو لوړ ثبت" شوي. [11] دا لومړی ځل نه و چې افغانستان د ترياکو تولید ریکارډ جوړوي. په 1999 کې، د طالبانو د رژیم د عوج پرمهال، د ترياکو کښت د شاوخوا 91,000 هیکتاره "بې ساري کچې" ته رسیدلی و. [12] د ترياکو بل "بې ساري" کچې کښت په 2004 کې 131,000 هیکتاره و. [13] دا سمدستي وروسته له هغه پیښ شو چې د هغه مهال مالیه وزیر اشرف غني د ترياکو راتوکیدونکي اقتصاد په اړه خبرداری ورکړ. [14] د ولسمشر کرزي د "ترياکو پروړاندې د جهاد اعلان" او د متحده ایالاتو د هڅو بیا دوه برابره کولو برسیره بل "بې ساري" ډېروالی په 2007 کې د 193,000 هیکتاره ځمکې کښت و. [15] شکل 1.1 د 2002–2013 په موده کې د ترياکو کښت بدلونونه ښيي.

شکل 1.1

**په افغانستان کې د تارياکو په کښت کې بدلونونه او کليدي پيښې، 2002–2013** (زرګونه هيکتاره)




يادونه: PRT = د ولايتي بيارغوني ټيم CN = د تارياکو ضد مبارزه.

سرچينه: سيګار، د ځانګړي پروژې راپور SP-10-15، په افغانستان کې د تارياکو کښت: د يوې لسيزې بيارغوني او د تارياکو پروړاندي مبارزې هڅو کې څه دپاسه 7 مليارد ډالرو د مصرف وروسته، لاهم د تارياکو کښت له هروخت څخه ډير دی، 10/14/2014.

د 2012 او 2013 ترمنځ کښت کې ډيروالی د پام وړ و. د سيګار د ځانګړي پروژو دفتر لخوا پدې ربع کې خپور شوی يو راپور شرح کوي چې د ترياکو کښت احتمالا ډيريږي، او د توليد ډيريدونکي سيمو کې د افغانستان ختيځ، شمال او سويل لويديز دي. د يوې بيلګې په توګه د عمومي مفتش لخوا ليږدونکی ليک يادونه کوي، چې ننګرهار ولايت په ختيځ افغانستان کې په 2008 کې د ملګرو ملتونو لخوا له "ترياکو پاک" اعلان شو، "د 2012 او 2013 کلونو ترمنځ يې د ترياکو کښت کې ځلورچنده ډيروالی وښود." [16]

يو کوچنی دلیل شتون لري چې ګټل کیږي په 2015 کې به کښت کم شي. د کښت اوسنی فصل په اکتوبر 2014 کې پیل شوی. د تریاکو د پټي په سر نرخ په ورته توګه [17] لوړ یعنی شاوخوا 140 ډالر في کلوګرام پاتې کیږي. [18] افغان اقتصاد به ورته ضعیف وي: اقتصادي پرمختګ راټیټ شوی، ریښتوني معاشات راټیټیږي او پړسوب ډیر شوی. [19] د هیواد په ډیری کلیوالو سیمو کې امنیتي وضعیت مخ په ډیریدونکي توګه نا ډاډه دی. په دا ډول اوضاع کې باید د تریاکو د تولید ډیریدو تمه شتون ولري.

## په تریاکو څو مخکښ هڅې او پایلې یې

د متحده ایالاتو د تریاکو پروړاندې مبارزې هڅو کې په افغانستان کې د غیرقانوني مخدره توکو تولید، تجارت، قاچاق او مصرف راکمولو ته ټاکل شوي نوښتونه شامل دي، تریاکو او مشتقاتو ته یوڅه ابتدایی پام سره. دا نوښتونه د مخدره توکو له منځه وړو او مخدره توکو پروړاندې فعالیتونو صندوق (DOD CN)، د افغانستان امنیتي ځواکونو صندوق (ASFF)، د اقتصادي ملاتړ صندوق (ESF)، او د بهرنیو چارو وزارت د نړیوال تریاکو کنټرول او قانون پلي کولو حساب (INCLE) له لارې تمویلیږي. د بیارغوني تمویل برسیره، د مخدره توکو د پلي کولو اداره (DEA) په افغانستان کې د عملیاتو د تمویل لپاره له کانګریس څخه مستقیم تخصیصاتو له لارې فنډ ترلاسه کوي. [20]

## د تریاکو سوداګری پروړاندې مبارزه کې د قانون پلي کولوهڅه څومره مؤثره ده؟

د متحده ایالاتو د تریاکو پروړاندې مبارزې ټولټال بسپنو نږدې 3 ملیارد ډالر په افغانستان کې قانون پلي کولو ته مقرر شوي و. د دې هڅې مخکښ DEA دی، دې خپل د هیواد دفتر په کابل کې په 2003 کې بیا پرانیست.

تریاکو سره مبارزې هڅه کې د DEA لومړنی ملګری د افغانستان د تریاکو سره مبارزې پولیس (CNPA) دي چې د کورنیو چارو وزارت (MOI) واک لاندې د افغان ملي پولیسو (ANP) یو مسلکي واحد دی. CNPA د شاوخوا 2,850 پرسونل په درلودو سره په ټولو 34 ولایتونو کې د تحقیقاتو او عملیاتو له لارې په شمول د تریاکو له منځه وړو، د مخدره توکو افغان قوانین پلي کولو لپاره افسران لري. [21]

د مخدره توکو نړیوال قانون پلي کولو لپاره د DEA بیلګه د کوربه ملت ملګرو سره کار کولو غوښتنه کوي ترڅو د مناسب خدمت لپاره په دقت سره پرسونل وټاکي او د پلي کونکي افسرانو مسلکي کادرونه جوړ کړي. د CNPA سره په کار کولو DEA او د دې د متحده ایالاتو ملګرو دری مسلکي واحدونه رامنځته کړي. د له منځه وړو ملي واحد (NIU) د CNPA تاکتیکي عنصر دی او د شواهدو پربنسټ د له منځه وړو او مسادرې عملیات پرمخ وړي. حساس تحقیقاتي واحد (SIU) د تخنیکي تحقیقاتي واحد (TIU) لخوا راټول شوي اطلاع یا استخباراتو په کارولو سره د تریاکو پروړاندې او د فساد پروړاندې تحقیقات ترسره کوي.



**د اپيوم بوټی** د ګل په حال کې. (د سيګار تصوير د David Mansfield لخوا)

د متحده ايالاتو ځيني چارواکي باور لري چي د متحده ايالاتو د قانون پلي کولو ستراتيژي په شمول د مسلکي واحدونو رامنځته کول کامياب و او بايد له 2014 وروسته هم دوام ومومي. چارواکي د دغو ادعاو د ملاتړ لپاره د CNPA روزل شوي افسرانو شمير، د پلي کولو عملياتو، نيولو او د مخدره توکو ضبط ته اشاره کوي. [22] مګر ترياکو پورې اړوند توکو او کيمياوي موادو ټولټال ضبط شوي مقدار نږدې ارزونه ښيي چي د قانون پلي کولو خورا محدود اغيز درلود. د مثال په توګه، په درې مالي کلونو 2011، 2012، او 2013 کې د دفاع اطلاعاتي اداري معلوماتو په کارولو سره، د کلني اوسط پراساس 5.6 ميتريک ټن (mt؛ 1 mt = 2,205 پاونډه) هيروين، 70.1 ميتريک ټن ترياک او 96.4 ميتريک ټن کيمياوي توکي په افغانستان کي ضبط شوي. [23] د UNODC کلني اټکل په وينا، په پرتله کولو سره، 380 mt هيروين د صادرولو لپاره توليد شوي، شاوخوا 5,000 mt ترياک توليد شوي او د 400 او 500 mt ترمنځ کيمياوي توکي افغانستان ته قاچاق شوي. [24]

د متحده ايالاتو د ترياکو پروړاندې مبارزې ستراتيژي يو له لومړني اهدافو څخه د مخدره توکو قاچاق او ترهګرۍ ترمنځ د مالي اړيکو پريکولو باندې متمرکز دي. [25] د 2010 په اګست کې، په کابل بانک کې د اختلاص افشا کيدل او نور پراخه مالي جرمونو افغان سوداګريزې ټولنې اړوند آوازې تاييد کړې، له بل پلوه دا چي د افغانستان خصوصي مالي نهادونه شته جرمي فعاليتونو کې دخيل و، په شمول د پيسو مينځل چي د ترياکو تجارت سره خوړې اړيکي لري.

د دا ډول فعاليتونو پرې کولو يوه هڅه کې، د متحده ايالاتو د خزانې وزارت د 2011 فبروري په 18 د افغانستان ترټولو لوی تجارتي *حواله*، د پيسو نوی انصاري صرافي او 15 اړوند افراد او نهادونه د بهرني ترياکو مهم وسيلي ټاکلو قانون لاندې د لوی سيمه ايز قاچاقچيانو د پيسو مينځلو فعاليتونو اسانولو لپاره تور ليست کې شامل کړل چي د طالبانو مالي فعاليتونو سره يې ارتباط درلود. [26] نورو مالي بنديزونو کې د 2012 په جون کې د حاجي خيروالله او حاجي ستار صرافي او د روشن پيسو تبادله کولو سيستم شامل و چي د متحده ايالاتو او ملګرو ملتونو د تروريزم سره مبارزې تور ليست کې د طالبانو لپاره پيسو خوندي کولو او ليږدولو لپاره و. [27] د متحده ايالاتو د خزانې وزارت څخه عامه خپرونې په وينا، د پيسو تبادلې دواړه صرافيو د طالبانو د ترياکو تجارت او تروريزم عملياتو په ملاتړ کې د پيسو ليږد رالېږد سهولت برابراو. [28] د متحده ايالاتو او ملګرو ملتونو نور بنديزونه پنځه مياشتې وروسته د راحت لميټيډ پروړاندې و چي دا هم د حواله سيستم و او په پراخه کچه د طالبانو مشرانو لخوا کارول کيده، په شمول د هلمند د طالبانو نومول شوی والي ملا نعيم بريځ، څوک چي فقط پنځه ورځې وروسته د خزانې وزارت لخوا د بهرني ترياکو مهم وسيلي ټاکلو قانون لاندې د ترياکو پراخه توليد او توزيع فعاليتونو لپاره تور ليست کې شامل کړی شو. [29]

د 2014 په جون کې، افغانستان د پيسو مينځلو ضد (AML) او مالي تروريزم سره مبارزې (CFT) نوي قانون په تصويب کولو د مالي عمل کاري ځواک (FATF) لخوا تور ليست څخه ځان وساته. د AML او CFT نوي قوانين د نړيوال معيارونو سره د هيواد پخواني قوانينو په پرتله ډير سمون لرونکي ګڼل کيږي. [30] (د لازياتو معلوماتو لپاره د دې راپور اقتصادي او ټولنيزه پرمختيا برخه وګورئ.)

د ډيرى معامله کونکي بانک دارۍ ارتباطاتو له لاسه ورکول او د پیسو مینځلو او تروریسم تمویل سره اغیزناکه مبارزه کي د افغانستان د ورتیا نه درلودو راڅرنګدیدلو احتمالا تریاکو پورې اړوند فنډونو حجم سپک کړی چي نړیوال رسمي مالي سیکتور ته تزریق کیدل. مګر د تریاکو ډالر د پیسو منځلو مختلف تخنیکونو له لارې د افغانستان دننه او بهر جریان لري، په شمول د عمده نقدو پیسو د قاچاق فعالیتونه د حواله سیستمونو له لارې او د پیسو مینځلو پر بنسټ رامنځته شوي سوداګري. په هرصورت، تراوسه روښانه نده چي د مخدره توکو قاچاق کونکي څومره نهادونه په افغانستان کي د دوی د عملیاتو پام وړ ماتیدو سره مخ شوي، او یا په بشپړ ډول د قانون پلي کولو عملیاتو، مالي بندیزونو او بین الاداري تحقیقاتو پایلي په حیث له پېنو غورځیدلي. لدې معلوماتو پرته د تریاکو پر تجارت د قانون پلي کولو اغیز سنجول لاهم ستونزمن دي.

د تریاکو پروړاندې مبارزې کمپاین نورو اړخونو سره، د قانون پلي کولو لپاره په پانګوني ګټه یا لاسته راوړنه مهم ده. د متحده ایالاتو حکومت پدې ارزونه صریح معلومات نه وړاندې کوي مګر یو پيښ لیک اټکل کیدی شي. د مثال په توګه، د دفاع اطلاعاتي اداره راپور ورکوي چي د هیروین د درې کالو اوسط ضبط 5.6 میټریک ټن دی. د اټکل شوي 2,266 ډالر في کلوګرام عمده نرخ پراساس، [31] د ضبط شوي هیروین ټولټال ارزښت په کال کي 12.7 ملیون ډالر دی.

د نورو ضبط شوي مخدره توکو ورته محاسبه به د قانون پلي کولو هڅو لګښت او ګټو لا پراخه پوهه وړاندې کړي چي متحده ایالات یې د مخدره توکو د قاچاق عوایدو راکمولو لپاره کوي. د دفاع او بهرنیو چارو وزارت د اټکل له مخي 60 ملیون ډالر د تریاکو سره مبارزې په مرسته کي DEA ته په FY 2013 کي په افغانستان کي د کارولو لپاره ورکړي او DEA نور د اداري مستقیم تخصیصاتو څخه 19 ملیون ډالر په افغانستان کي د تریاکو پروړاندې مبارزې ماموریت ملاتړ لپاره ډالی کړي. [32] په افغانستان کي د متحده ایالاتو د قانون پلي کولو شتون کمښت ناشونی دی چي د افغان ډیریدونکي وړتیا په واسطه جبران شي. پدې ربع کي د سیګار خپرې شوې یوې پلټنې موندلي چي د ارزولو یوه رسمي سیستم پرته چي روزنه، رهبري، پاینت او عملیاتي پرمختګ ارزوي، د متحده ایالاتو حکومت نشي کولی وارزوي چي د CNPA ولایتي واحدونو باندې پانګونه یې د دې ځواک وړ کولو، په ځان متکي کولو او پیاوړي کولو کي مرستندویه وه او که نه. [33]

پردې برسیره، د کورنیو چارو وزارت د افغان ملي پولیسو *لس کلنه طرح ښیي چي ټول افغان پولیس ځواکونه په شمول د CNPA به اوښتونکي جوړښتونه وساتي نو دا چي افسران د ANP مختلف بخشونو کي یوبل ته اړول کیدی شي.* [34] د ANP د اوښتني دا فرمان اجازه ورکوي چي د CNPA افسران د تریاکو پروړاندې مبارزې دندو پرته نورو دندو ته ګمارل کیږي او په احتمال سره به د هیواد په اوږدو کي د CNPA تمرکز نور هم کمزوری کړي. په نهایت کي، د افغان پولیسو قانون پراساس د CNPA په دریو کي یو افسر نورو دندو ته ګمارل کیدی شي او کولی شي چي د مخدره توکو قانون پلي کولو کي دخیل نه وي، لکه د تحقیقاتو پیلول، د قضیو پرمخ وړل او د اطلاعاتو راټولول. [35]

## له منځه وړو څه لاسته راوړي؟

له منځه وړل د ترياکو ولاړ فصل فزيکي تخريب دی او د بهرنيو چارو وزارت د ترياکو پروړاندې مبارزې د نړيوالو هڅو لپاره معياري شاخص دی.[36] د له منځه وړو لومړيتوب او تمويل يې د کلونو په اوږدو کې بدلون موندلی، مګر د ولاړ فصل تخريب د ترياکو پروړاندې مبارزه کې يو مهم عنصر پاتې دی.

له 2002 راهيسې متحده ايالاتو د ترياکو ولاړ فصل تخريب لپاره شاوخوا 1 مليارد ډالر ټاکلي.[37] د دې تمويل عمده برخې يې د کورنيو چارو وزارت له 2004 څخه تر 2009 پورې د له منځه وړو يو خپلواک ځواک ملاتړ کړی. له 2010 راهيسې د له منځه وړو هڅې تمرکز د والي په مشرۍ له منځه وړو (GLE) باندې دی،[38] دا يو داسې نوښت دی چې واليان هڅوي پخپله د ترياکو ولاړ فصل تخريب او مصارف يې ترلاسه کړي.[39] د ترياکو فصل د ټراکټور يا ځمکې اړولو وسيلو په کارولو سره په ميخانيکي توګه تخريبيږي او يا هم د لرګو او تيغونو په کارولو سره په لاسو تخريب کيدی شي. د سپرې معرفي کولو هڅې په 2007 کې د افغان کابينې لخوا رد شوې. مخالفينو يې ويره څرګنده کړه چې د ګياه دا سپرې د وګړو روغتيا اغزناکه کوي، په بيله بيا اقتصاد باندې پراخه اغيز او په راتلونکې کې کليوالي سيمې بې ثباته کوي.[40]

د متحده ايالاتو قراردادي DynCorp نړيوال د بهرنيو چارو وزارت تمويل شوی د ترياکو له منځه وړو ځواک[41] (PEF) تر 2009 وکاروه، چې بيا د ريچارډ هالبروک لخوا د افغانستان او پاکستان لپاره د هغه د ځانګړي استازي په توګه ټاکل کيدو سره سم منحل کړی شو.[42] د 2004 او 2009 ترمنځ 695.3 مليون ډالر په PEF او د دې ملاتړ کونکي ځانګړي هوای وزر باندې مصرف شوي.[43] PEF د في هيکتار په 73,608 ډالرو په اوسط لګښت 9,946 هيکتاره تارياکو فصل له منځه وړی. د متحده ايالاتو د له منځه وړو تمويل شوي هڅو کې مصرف شوي پيسو لپاره د لاسته راغلي ارزښت ارزول ننګونکی دی. د ترياکو د فصل له منځه وړل په درې دلايلو ولاړ دي:

1. هرکال د ترياکو د فصل تخريب پدې معنی چې د توزيع، پلور او نهای مصرف لپاره اپيوم کم شي.
2. له منځه وړل د افغان حکومت حاکميت کليوالو سيمو ته غزوي چيرې چې حکومت خورا لږ شتون درلود.
3. د ترياکو د فصل تخريب د بزګرانو د خطر-ګټو محاسبه بدلوي، او په راتلونکي فصلونو کې يې د کرلو څخه ويروي.

په 2014 کې د GLE لپاره د له منځه وړو هدف 22,500 هيکتاره و — يو لوړ هدف چې د افغان ولسمشريزو ټاکنو لومړي پړاو سره ورکړل شوی، چې د ترياکو تر کښت لاندې ډيری ولايتونو کې ناامني په ډيريدو وه او د له منځه وړو تير کار پايلې هم ټيټې دي.[44] د فصل تر پايه پورې يوازې 2,693 هيکتاره تخريب شو، د هدف له 12% څخه هم کم او په 2013 کې تخريب شوي 7,348 هيکتاره څخه کم.[45]

شکل 1.2

په افغانستان کې د تارياکو له منځه وړل (هکتارونه)




سرچينه: UNODC، د افغانستان د اپيوم سروى 2003، 10/2003، 53، 96 مخونه؛ UNODC، د افغانستان د اپيوم سروى 2004، 11/2004، مخ 77؛ UNODC، د افغانستان د اپيوم سروى2010، 12/2010، 45 مخ؛ UNODC، د افغانستان د اپيوم سروى 2013، 10/2013، 35 مخ؛ UNODC، په افغانستان کې د تارياکو د کښت د تاييدولو راپور، 8/2014، مخ 4.

په اوږده موده کې د ترياکو فصل د تخريب ارزول مشکل دي. د 2005 دمخه معلومات ستونزمن دي ځکه چې د خپلواک تاييد پروسې شتون نه درلود. د 2002–2003 فصلونو کې، افغان چارواکو راپور ورکړی چې 21,430 هيکتاره ترياک له منځه وړل شوي. UNODC دا ارقام په نبنه کړي، مګر نظر يې ورکړی چې دا د 2003 سروى ده چې "نه خو نظارت شوې او نه هم د له منځه وړو کمپاين مؤثريت پکې ارزول شوی."[46] د UNODC د 2004 سروى د له منځه وړو هيڅ ارقام ندي راپور کړي.[47] شکل 1.2 د 2003–2014 ترمنځ موده کې د له منځه وړو بدلونونه ښيي.

UNODC د 2005[48] وروستيو پورې د له منځه وړو تاييد نه و پيل کړی، او د PEF په واسطه يې تر 2008 پورې د ولاړ فصل تخريب تاييد نه و پيل کړی.[49] تر 2006 او 2007 وروستيو پورې، د UNODC د له منځه وړو معلوماتو اعتبار په اړه د دې د لومړی تاييد ميتودولوژي له امله انديښني وې. د بيلګې په توګه، په 2007 کې UNODC په سروى کونکو تکيه کوي چې د له منځه وړو کمپاين بشپړيدو وروسته کليوالي سيمې ته ځي، نو دا تاييد ستونزمن کوي. په پرسول شوي ارقامو شکونو UNODC دې ته اړ ايست چې د ريموټ سينسور عکسونو پراخه استعمال وکړي او د 2008 خخه د Cranfield پوهنتون تخنيکي ملاتړ ترلاسه کړي.[50] د ميتودولوژي او امنيتي ننګونو علاوه، سياست هم د له منځه وړو تاييد پيچلی کړی. له منځه وړل ډيری وختونه د دولت جوړوني، نهادي او انفرادي فعاليت د سنجولو معيار په حيث کارول شوی.[51]

دي کار د افغانانو په واسطه له واقعيت ډير راپور کول هڅولي او د مخدره توکو د کنټرول نهادونو ترمنځ د له منځه وړو لوړو کچو راپور ورکولو لپاره غوره توب. دا د 2007 پسرلي په جريان کي د PEF لخوا د لوړي کچي راپور ورکولو سره په ځانګړي توګه د ليدو وړ شوه چي په يوه بياکتنه [52] کي نهايي ته ورسيد او په اخرني راپورونو کي يي وروستی کمښت راپور شوی. [53]

دا دليل چي له منځه وړو د دولت حاکميت غزولی هغه مهال د قناعت وړ نه ګرځي چېري چي د فساد پروړاندي شکاياتو او ضرر ليدونکي ټولنو تربريد لاندي راتلو کي وکتل شي چي د ترياکو د فصل تخريب سره يي مرسته کړي وي. [54] په حقيقت کي په 2008 کال کي په کندهار کي د يوې موسسي يو کارمند د "له منځه وړو ټيم يرغمال شوی او رټل شوي مخ" ته مراجعه وکړه او ويل يي چي دا "هغه مخ نه و چي په کليوالو سيمو کي بايد ليدل شوی وی". [55] افغان بزګران ډيری وختونه پخپله د له منځه وړو عملياتو ته مراجعه کوي او داسي اکټ کوي لکه "غل چي په شپه کي غلا کوي" چيري چي نوموړې هڅي د يوه منل شوي دولت شتون په واسطه نه مل کيږي چي د فزيکي او ټولنيز زيربنا او پرمختللي امنيت شتون پکي شامل وي. [56]

د دليل دريمي کرښي لپاره شواهد چي ګويا له منځه وړل د ترياکو راتلونکی کښت خنډ ګرځي، هم محدود بريښي. UNODC ادعا کوي چي د له منځه وړو يا تخريب له لاري د بزګرانو د ترياکو له کښت څخه ويرول يا مانع کول په پرله پسي کلونو کي د افغانستان د ترياکو ټولټال ولاړ %25 تخريبولو ته اړتيا لري. [57] په هرصورت څرګنده نده چي دا ارقام څنګه محاسبه شوي. لدې علاوه، دا يو اټکل دی چي وښيي د افغانستان په کليوالو سيمو کي محلي سياست او واک څه ډول دی، او په يوه ولسوالی کي پيښي څنګه د ګاونډي سيمو وګړو پرچلند تکيه کوي، نور ولايتونه خو پرځای پريږده.

د بهرنيو چارو وزارت د نړيوالو ترياکو او قانون پلي کولو دفتر (INL) "جيو فضايی څيړني ترسره کړي چي ښيي په 2011 کي %90 لړه ځمکه باندې ترياک کرل شوي د نيم کلوميتر ترياکو ځمکو سره چي په 2010 کي د هلمند خواړو زون کي له منځه وړل شوي،" د خواړو زون د انګلستان او متحده اياﻻتو لخوا تمويل شوی پروګرام دی چي د هلمند ولايت ښه اوبه شوي برخو کي د ترياکو توليد راکمولو لپاره ډيزاين شوی. [58] په سر کي دا څيړني معتبري بريښي، خو داسي نه بريښي چي نور بدلونونه پکي ملاحظه کړي، لکه د افغان او نړيوال امنيتي ځواکونو د پام وړ تاثير، د امنيتي پوستو او بيسونو رامنځته کول، او "ترهګری" پوري اړوند پرمختيايی مصرفونه — چي دې ټولو د ځايی بزګرانو معيشت او کښت پريکړو باندې اغيز کړی. [59]

د له منځه وړو اغيز په بياکتلو کې، دا به په ځانګړي توګه مشکل وي چې دا حقيقت چې په 2010 کې د هلمند ولايت د مارجه ولسوالی نږدې 60% ځمکه د ترياکو کښت ته وقف شوې وه له پامه وغورځول شي، مګر په راتلونکي کال کې دا 5% ته راټيټه شوه کله چې د متحده ايالاتو مرين او ANSF ځواکونو 15,000 پرسونل په ګډه د 2010 په فبرورې کې د مشترک عملياتو لپاره ځای ونيو. [60] د مرکزي هلمند بزګرانو د کليوالو ټولنو سره د حکومت شتون او نړيوالو ځواکونو ته مراجعه وکړه چې د دې راپور سره موافقت کوي چې "د هر سړک جنکشن [61] باندې د ايساف يو بيس وي" ترڅو د کښت مخه ونيسي. [62] په مقايسه کې، په هلمند ولايت کې د ډيرې کلونو په موده کې پرمخ وړل شوي څيړنې موندلې چې "چيرې چې دولت وړ نه و د شته امنيتي اوضاع له امله دايمي شتون رامنځته کړي له منځه وړل د بزګرانو لخوا يو ناڅاپي عمل ليدل کيدی چې د ملاتړ او فساد له لارې اداره کيږي،" يو داسې اند چې د تاوتريخوالي د ډيرولو لامل شوی. [63]

## د ښه فعاليت نوبښت د اغيزمنتيا ارزول لانورو شواهدو ته اړتيا لري

د بهرنيو چارو وزارت د ښه فعاليت کونکي نوبښت (GPI) په 2007 کې پيل شو، "چې په افغانستان کې د ترياکو له منځه وړو ترټولو بريالی پروګرام دی." [64] GPI هر کال ولايتونو ته د لاندې مواردو لپاره جايزې ورکوي: "(1) له ترياکو پاک درېځ ته رسيدل يا ساتل يې (1 مليون ډالر د هريو لپاره)، (2) له 10 سلنې ډير د ترياکو کښت راکمول (د هر هيکتار لپاره 1,000 ډالر چې د 10 سلنې پورته وي)، او (3) د ترياکو پروړاندې مبارزې استثنايي لاسته راوړنې (تر دوه ولايتونو پورې 500,000 ډالر)." [65] د 2014 د اګست تر 31 پورې، GPI په 33 ولايتونو کې له 221 څخه ډيرو پروژو ته 108 مليون ډالر ورکړي. [66]

تر نن نيټې پورې د GPI لخوا تمويل شوي پروژو د سيګار توضيحي بياکتنه ښيي چې لومړيتوب په پراخه کچه زيربنايي پروګرامونو تمويل ته ورکړل شوی او د خصوصي سيکټور ودانيز شرکتونو په واسطه پلي شوي. دامهال پروژې په محدود اندازه سيکټورونو باندې تمرکز کوي، لکه روغتيا، له منځه وړل، ټرانسپورټ، او کرنه، او په لويه کچه د ښوونځيو، روغتيا کلينيکونو، جيمانيزم، کنفرانس خونو، د ناستې خونو، سړکونو، پلونو او اوبه لګونې سيستمونو ودانولو کې ښکيل دي.

دا چې دا ډول پروژې ترکومه حده کولی شي د ترياکو توليد راکم کړي تراوسه روښانه نده. د مثال په توګه، د پروژو خورا لږې يې د عايد توليد يا د ترياکو کښت منع کولو په واسطه بزګرانو ته اوښتي زيان د پوښلو ملاتړ باندې تمرکز کوي. برسيره پردې، دا روښانه نده چې د GPI تمويل شوي څومره پروژې په هغه کليوالو سيمو کې پلي شوي چې د ترياکو کښت تاريخچه لري، يا څنګه دوی د کښت لپاره دلايل په نښه کوي. [67]

ځيني پروژو ممکن منحرف يا ګمراه کونکي پايلې درلودې. د مثال په توګه ننګرهار، بدخشان او کنړ ولايتونو کې د اوبه لګونې پروژو د پام وړ کمښت دورو وروسته د ترياکو کښت ډيروالي ته لاره هواره کړې وه. [68] لکه څنګه چې د 13 مخ په عکس کې ښودل شوي د ننګرهار په باميخيل او پچير و اګام ولسوالی کې د GPI تمويل شوي اوبه لګوونې پراختيا په دواړه 2014 او 2013 کې د ترياکو کښت لپاره کارول شوي.

د هغه کليوال ټولنو ترمنځ د اړيکو پرې کيدل چې ترياکو کښت يې درلود او د GPI نومول شوي پروژې يادونه شوي. [69] د 2014 د اګست په 30 د مخدره توکو سره مبارزې وزير او INL د GPI بيا ډيزاين کول اعلان کړل او د GPI II نوم يې ورته ورکړ، او داسې پروژو ته اوښتون چې "د کليوال سيمو اړتياوې په غوره توګه پوره کړي، د بديل معيشت پروژو ته لومړيتوب ورکولو سره چې بزګران ملاتړ کوي کله چې د ترياکو کښت څخه اوړي." [70]




**د اوبه لګووني** یو لړ پروژو په ګاونډ کې د **فصلونو** جیو فضایی څیرنه چې د GPI لخوا په بامیخیل، پچیر و اګام په ننګرهار کې تمویل شوي. عکسونه ښیي چې دا د 2013–2014 کرنیز فصل په جریان کې د ترياکو تر پراخه کښت لاندي سیمه وه. (د Alcis Holdings Ltd عکس)

## ايا متحده ايالات د مخدره توکو په چاپيريال کې د کليو پراختيا لپاره سمه ستراتيژي لري؟

متحده ايالات غواړي چې ترياکو کښت راکم شي او دا کار د بزګرانو د هڅولو له لارې کوي چې د بديل معيشت لارې چارې ولټوي. په هرصورت، د کرنې سيکتور *بياکتنې* په اړه د نړيوال بانک يو خورا اخرنی راپور وايي، "بديل معيشت او بديل پرمختيا ناتعريف شوي پاتې دي او مغشوشونکي طرحې دي." [71] راپور دوه مختلف بيلګې شرح کوي چې د افغانستان د ترياکو ترکښت لاندې سيمو کې د پرمختيا هڅې ملاتړ کوي.

لومړی بيلګه د بدلون په يوې تيوري دلالت کوي چې فرض کړئ د ترياکو کښت کيدی شي ګړندی، جبري او په پراخه کچه د افغان سياست دنده اوسي. دا د UNODC لخوا په 1990s لسيزې منځنې کلونو په جريان کې په افغانستان کې د پلې شوي مرستې ناکامي بيلګې ته ګرځي. [72] دا بيلګه د پرمختيا مرسته د ټولنې د ترياکو کموالو ترونونو سره تړې او ډيرې وختونه د يووستوي سيکتور مداخلتونو پربنسټ وي، په ځانګړي توګه د کرنې شرايط.

د دې بیلګې لاندې، د پرمختیا مرسته ډیری وختونه بنیګڼه کټل کیږي چې غواړي د والیانو، ولسوالی چارواکو، او ځایی مشرانو سیاسي هسته رامنځته کړي او د دې لپاره ډیزاین شوي یې چې دوی له کلیوالو ټولنو څخه د تریاکو کښت کمولو مشروع هڅو کې ملاتړ کړي. د بدلون دا تیوري داسي بریښي چې GPI ملاتړ کړي. [73]

د لومړي بیلګې نښه د کندهار خواړو زون (KFZ) دی، د USAID د 18.7 ملیون ډالرو یو پروګرام [74] چې ارغنداب، کندهار، میوند، پنجوایی، شاه ولیکوټ، تخته پل [75] او ژیړی ولسوالیو کې د تریاکو کښت لاملونه مشخص او په نښه کړي. [76]

KFZ له هلمند ولایت خواړو زون څخه ترلاسه شوي زده کړو پربنا رامنځته کړی شوی، مګر دا روښانه نده چې ورته والي یې کومو برخو کې توپیر لري. د هلمند خواړو زون هغه مهال پلي کیده کله چې د غنمو قیمت د بدیل محصول په توګه په ډراماتیک ډول لوړیده او په مقابل کې د تریاکو قیمت په 2001 کې د طالبانو د رژیم له ړنګیدو دمخه راهیسي ترټولو ټیټ لور ته روان و. [77] د هلمند د خواړو زون 2009–2011 موده هم داسي یوه دوره وه چیرې چې په دغه ولایت کې د نړیوال او افغان ځواکونو شمیر خورا ډیر و، او د پرمختیا مرستې هم ډیرې شوې وې. [78] په مقایسه کې KFZ پداسې وخت کې پیښیږي چې د تریاکو قیمتونه لوړ دي او د امنیتي ځواکونو شتون هم لږ دی، او اوبه لګونې باندې پانګوونې [79] ته لومړیتوب ورکوي چې که چیرې جلا پلي شي نو د دې لامل کیدی شي چې بزګران په راتلونکي کې هلته لانوره ډیره ځمکه په تریاکو وکري. پدې سره، د USAID په وینا د تریاکو پروړاندې مبارزې وزارت غواړي د KFZ بیلګه په پاتې 17 ولایتونو کې چې د تریاکو کښت لري پلي کړي، په شمول د ارزګان، فراه، بدخشان او ننګرهار. [80]

دوهم د "بدیل معیشت" سیالیزه بیلګه د تریاکو کښت کمولو سره لږ تړاو لري. دا د افغان دولت محدودیتونه په نښه کوي او پدې اند دی چې د افغانستان ډیری برخو کې، د پولو په اوږدو کې حکومت په ځیني ساحو کنټرول نلري. پرځای یې دا بیلګه غواړي چې د بزګر ټولنې او دولت ترمنځ اړیکې پیاوړې کړي او د بزګرانو بنیګڼه لوړه کړي. دا د کښت کموالی په افغانستان کې د پراخه بیارغونې هڅې په توګه ګوري. دا بیلګه کلیواله پرمختیا خپل هدف ګرځوي او د دې لپاره د تریاکو کښت کمول د نوموړي هدف بهرنی یا اړخي اغیز دی. [81]

د بدیل معیشتونو دې دوهمه بیلګه کې د کلیو پراخه پرمختیا شامل ده چې د USAID د ESF تمویل شوي پروګرام عمده برخه جوړوي. پدې وروستیو کې د سویل (125.1 ملیون ډالر)، لویدیزی (69.9 ملیون ډالر)، او شمال (78.4 ملیون ډالر) لپاره نومول شوی د سیمه ایزې کرنې پراختیا پروګرام؛ د سوداګریز باغوانی او کرنیز بازار موندنې پروګرام (40 ملیون ډالر)؛ د شمال، ختیځ او لودیز (159.8 ملیون ډالر) اقتصادي بدیلونو نوښتونه؛ دا ټول پدې کټګوری کې راځي. [82]

د دې پروګرامونو ډیری یې داسې تایید شوي چې دا به د تریاکو کښت کچه باندې مستقیم اغیز ولري. نور یې یوازې په جزیی توګه د تریاکو کښت کمولو ته نومول شوي، او دې فرضیه سره رامنځته شوي چې "کله د بدیل لوړ ارزښت او اقتصاد له پلوه سیالیز فصل لوی عاید رامنځته کړي نو کلیوالي کورنی به لانورې د تریاکو کښت درولو ته لیواله شي." [83] په هرصورت دا پروګرامونه په مستقیم ډول د [84] تریاکو کښت کې بدلونونه نه سنجوي، چې دا بیا پوښتنه راولاړوي چې ایا USAID ارزوي چې دا فرضیه معتبر وه که نه — دې ټکي ته په 2012 کې د USAID د عمومي مفتش یوې پلټنه کې پام وشو. [85] د پرمختیا پانګوونې او تریاکو کښت کمولو ترمنځ اړیکو ټاکلو کې ناکامي هم دا معنی لري چې USAID هیڅ لاره نلري چې رامنځته کړي چې ایا دې پروګرامونو سهواً د تریاکو کښت کچه ډیرولو کې مرسته کړې.

## د کښت معلومات بايد د ترياکو پروړاندې مبارزې هڅې يوازينی ارزونکی نه وي

د ترياکو کښت سنجول د ترياکو پروړاندې مبارزې پروګرام بريا په رسمي توګه ارزولو کې يو مهم عنصر دی. مګر دا خپل محدوديتونه لري.

لومړی، په يوه غيرقانوني فعاليت معتبر معلومات راټولول خورا ستونزمن وي. UNODC او د متحده ايالاتو د جرايمو او ترياکو سره مبارزې مرکز (CNC) مختلف ميتودونه کاروي او ډيری وختونه يې بيل بيل يا متباين اټکلونه رامنځته کړي، لکه څنګه چې په شکل 1.3 کې ښودل شوي.

دا روښانه نده چې ايا د ترياکو تر کښت لاندې سيمو کې د کښت کموالی په مستقيم ډول د ترياکو سره مبارزې قوي هڅې منعکس کوي، يا پرځای يې د نرخ، رامنځته کيدونکي اوضاع، امنيت کې پرمختګ او د بيارغونې پراخه هڅو اغيز له امله هم دي.

شکل 1.3

**په افغانستان کې د تارياکو ټولټال اټکل شوی کښت، 1994–2013** (هکتارونه)




سرچينه: د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت، د INCSR د 2014 راپور، مخ 25؛ د INCSR د 2005 راپور، مخ 25؛ د INCSR د 2004راپور، مخونه 23–24؛ UNODC، د تارياکو د 2013 سروی، مخ 106؛ د تارياکو د 2003 سروی، مخ 7.

علاوه لدې، د فصل کرلو په اړه محدود معلومات يا هغه فعاليتونه چې د ترياکو لپاره ټاکل شوي دا ستونزمن کوي چې وټاکل شي چې دا کمښت څومره دوام کوي، يا د پرمختيا کوم ډول پانګوونې به ترټولو پراخه د پام وړ توپير رامنځته کړي.

د ترياکو په مجموع کې يا ولايتي شاخصونو ته په کتو سره هم مهم توپيرونه په کلکه يا د ترياکو بياځای پر ځای کولو کې پوښل کيږي. په 2014 کې د کښت ريکارډ کچو سره، ځيني داسي سيمي شتون لري چيرې چې يوځل ترياک کرل شوي خو بيا تر يوې لسيزې پورې شتون نه درلود. دا پياوړی کمښت ننګرهار، بلخ او بدخشان او حتی هلمند او کندهار کې پيښ شوی.[86] په ورته وخت کې د ترياکو کښت د يادو ولاياتو لرې پرتو او نا امنه سيمو کې بياپيل او هلته متمرکز شوی، ځيني مواردو کې په ولايتي کچه د توليد مجموعي کچو پرمخ وړل د هيواد په کچه کښت ډيريدو سبب شوي.[87]

په کښت کې پياوړی کموالی وړانديز کوي چې په خاصو شرايطو کې بزګران ممکن د ترياکو څخه ډډه وکړي حتی په داسې ولسواليو کې چې هلته په اپيومو زرهاو هيکتار ځمکه کرل شوي وي. داسي مرسته چې په ځمکه کې او د ځمکي بهر بيلابيل عوايدو له لارې د خطر مديريت غوره ستراتيژياني هڅوي په ګډه د عامه ښو شرايطو سره لکه امنيت او زيربنا کولی شي بزګرانو ته د ترياکو د کرلو بديلونه ورکړي پداسي حال کې چې د دولت سره تولنيز ارتباط پياوړی کوي.[88]

د ترياکو کښت کې کمښت ارزولو ته د کليوال اقتصاد ودې، بيلابيل حاصلاتو، له ځمکې پرته عايد او پرمختللي حکومتولی باندې معلوماتو سره په تړاو کې ارزولو ته اړتيا ده که چيرې وغوښتل شي چې د ترياکو کښت کې بدلونونو لپاره دلايلو باندې بايد په ښه توګه پوهه ترلاسه شي — او لدې هم خورا مهم، که چيرې د توليد راټيټولو خوښه په افغانستان کې د بيارغونې پراخه هڅې په خطر کې نه اچوي.



**ډيری افغان ماشومان** د ترياکو اقتصاد کې کار کوي.
(د سيګار تصوير د David Mansfield لخوا)

## ايا 2015 نوي امکانات وړانديز کوي؟

د ترياکو اقتصاد د اقتصادي او سياسي اهميت برسيره، ډيری لويديز مرسته کونکي نه غواړي چې په افغانستان کې د ترياکو اقتصاد په نښه کړي. د متحده ايالاتو پاليسي پانو او TMAF کې اختلاف.

د مثال په توګه TMAF کې مخدره توکو ته يوازې جزيی اشاره شوې او د افغانستان لپاره د متحده ايالاتو ملکي نظامي کاري چوکاټ په ښکاره د ترياکو پروړاندې مبارزې خبره کوي.[89] د انګلستان حکومت چې مخکې په افغانستان کې د ترياکو سره مبارزې مخکښ ملت و او بيا ملګری شو، د ترياکو پروړاندې خپل ټول مداخلتونه يې ودرول او يوازې د قانون پلي کولو محدود هڅو ته دوام ورکوي، او په ندرت سره په ډيپلوماتيک کړيو کې دا مسله يادوي.[90]

د ترياکو سره مبارزې کمپاين پيچلتيا، سختي او اوږد افق — په افغانستان کې او نورو هيوادونو کې لا بی زړه کونکی چې اوسيدونکي يې د هغه څه غوښتنه کوي چې افغانان يې ورته رسوي — رسمي چوپتيا د پوهې وړ ګرځوي. مګر د افغانستان د ترياکو لوړ توليد د بيارغونې پروړاندې د پام وړ ګواښ دی او پروړاندې يې عمل ته اړتيا ده.

په افغانستان کې د متحده ايالاتو او ائتلاف شتون، په شمول د قانون پلي کونکو اداری به په کلکه له 2014 وروسته کم شي. پداسې حال کې چې دا د ترياکو پروړاندې مبارزې اجنډا د تعقيب ننګونه قوي کوي، دې د بيارغونې هڅو د بياکتنې لټون ورکړه هم راپورته کړې چې په ښه توګه جوته د ترياکو دا ډول متمرکز توليد ورته څومره زيان رسولی شي.

کابل کې د نوې اداري راتګ هم فرصتونه وړانديز کوي. لکه څنګه چې مخکې ويل شوي، ولسمشر اشرف غني له ډيرې مودې راهيسې د ترياکو تجارت ناوړه اغيزو پروړاندې خبرې کوي. د هغه نوی حکومت د اقتصادي لويدنې سره مخ دی او د فساد پروړاندې کلک ګامونه اخلي او ممکن ليوال وي چې د قانون پلي کولو خورا قوي هڅو او فساد راکمولو کې همکاري وکړي چې د مخدره توکو له تجارت څخه ګټه پورته کوي — په ځانګړي ډول که چيرې د ډونر مداوم مرسته افغانانو ته غوره قانوني معيشتونه وړاندې کړي.

په عملياتي کچه په افغانستان کې د متحده ايالاتو بيارغوني پروګرامونه بايد پدې اړه خورا صريح وي چې څنګه دا پرته لدې چې ستونزې نورې غټې شي د ترياکو اقتصاد تر بريد لاندې راولي. په دواړه، بهرنيو چارو وزارت او USAID کې چارواکي اړ دي چې د دوی بيارغوني پروګرامونو حمايت کولو لپاره د بدلون تيوري ترتيب کړي، مشخص يې کړي چې څنګه به دا پروګرامونه په راتلونکي کې د ترياکو توليد واړوي، او داسې ميکانيزمونه رامنځته کړي چې د ترياکو توليد کمولو کې د دې پروګرامونو مرسته وارزوي پداسې حال کې چې هغه ننګوني په پام کې ولري چې نا امني او د متحده ايالاتو شتون له امله ورسره ځارنه مخ کيږي. نور ډير څه ته اړتيا ده چې بايد سرته ورسي او زده کړې ترې وشي، چيرې چې مناسب وي حکومتولی، امنيت او اقتصادي ودې پرمختيا تکرار شي چې بزګران اړباسي د ټيټې کچې سيمو ولاياتو لکه ننګرهار، هلمند او کندهار کې د ترياکو توليد کم کړي.

دا امکان نلري چې د ترياکو اقتصاد پام کې نيولو پرته د افغانستان لپاره جامع او مؤثره ستراتيژي رامنځته کړی شي. په بيارغوني د ترياکو توليد د اغيز له پامه غورځولو ته دوام ورکول — او د بيارغوني هڅې په ترياکو اقتصاد — بې پروايي، د ماليه ورکونکو د پيسو ضايع کول او د متحده ايالاتو د پاليسی اهدافو تخريب دي.

د دولت د بشپړو هڅو او بشپړو پروګرامونو بياکتل اړين دي. د متحده ايالاتو بيارغونيزو هڅو باندې د پيسو مينځلو خوړونکی اغيزو په پيژندلو سره، سيګار هم وړانديز کوي چې "د پيسو تعقيب" بايد د دا ډول بياکتنو برخه وي او د پيسو مينځلو کاري ځواک رامنځته کړي چې بيارغوني پورې اړوند د متحده ايالاتو او افغان پيسو مينځلو قوانينو څخه سرغړونه وپيژني او تحقيق يې وکړي.

په افغانستان کې د ځار کم شوي ليد راتلونکي دوره کې، سيګار به د ترياکو پروړاندې مبارزې هڅو په اړه د متحده ايالاتو حکومت او امريکا خلکو خبرولو ته دوام ورکړي، او د اړوند سمون لپاره به وړانديزونه کوي. دامهال، د افغانستان د ترياکو اقتصاد په خونه کې د هاتي (فيل) په څير دی چې موږ يې د ډاره له پامه غورځوو.

"دا‘ روښانه ده چې د بیارغونې پرمختګ باید له ریالستیک او ګټورو لارو وسنجول شي. که موږ وغواړو چې د بیارغونې تجربې څخه څه زده کړو نو موږ باید د دواړه بریالیتوبونو او ناکامیو نږدې علتونه په سمه توګه وارزوو."

*—ځانګړی عمومي مفتش جان اف. ساپکو*

سرچینه: سیګار، د جورج ټاون پوهنتون کې د وړاندې کولو لپاره ملاحظات چمتو دي، د 2014 د سپمتبر 12.

# 2
# سیکار
# نظارت



# د سيګار د څارنې مېنځپانګې


| | |
|---|---|
| **پلټنې** | **22** |
| **تفتيشونه** | **36** |
| **ځانګړې پروژې** | **39** |
| **درې مياشتنى سرټکی: د 486 مليون ډالرو په ارزښت G222 پروګرام په اړه د سيګار رواني انديښنې** | **43** |
| **تحقيقونه** | **49** |
| **پدې ربع کې د سيګار نور څارنيز فعاليتونه** | **58** |
| **د سيګار بوديجه** | **61** |
| **د سيګار کارکوونکي** | **61** |


**عکس په تيره پاڼه کې**
د اطفايه ټرکونه د لمانځنې په توګه په يوې C-130H الوتکې باندې اوبه شيندي پداسې حال کې چې افغان هوايی ځواکونه دوه نوي بار وړونکي الوتکې لاسته راوړي. (د امريکا د پوځ انځور)

# د سيګار ځارنيز فعاليتونه

پدې ربع کې سيګار 31 پلټنې، تفتيشونه، خبرتيا ليکونه او نور محصولات خپاره کړي چې د نږدې 14.8 مليارد ډالرو په ارزښت پروګرامونه پوښي.

د فعاليت يوې پلټنې موندلې چې که څه هم د افغانستان د ترياکو سره مبارزې پوليس (CNPA) ولايتي قطعو يوځه ملاتړ لاسته راوړی، خو CNPA ته د متحده اياالاتو ټولو مالي سرچينو دوی ته يوازې حاشيه وي ګټه رسولې. د فعاليت دوهمې پلټنې موندلې چې د نړيوالې پراختيا لپاره د متحده اياالاتو اداري (USAID) د سيګار 127 وړانديزونو 80% يې په وخت او برابر سره پلي کړي چې د افغانستان بيارغوني فنډونو درغلې، ضياع او ناوړه ګټه اخيستنې خطر يې کم کړی. پدې ربع کې د سيګار مالي پلټنو د داخلي کنټرول تشو او مطابقت نه درلودو مسلو په پايله کې نږدې 5.6 مليون ډالر ترپوښتنې لاندې موندلي. تر ن نيټې پورې د سيګار مالي پلټنو له 83 مليون ډالرو څخه ډېر ترپوښتنې لاندې لګښتونو کې او 197,494 ډالر د فيدرال دمخه فنډونو ناليږل شوي ګټه کې پيژندلي.

سيګار يو د تفتيش راپور هم خپور کړی. دې پل چرخي زندان کې د کار تشې موندلې او نوموړی کار د قرارداد غوښتنو سره سم ندی بشپړ شوی، او دا يې رابرسيره کړي چې زندان کارول کيږي خو د وګړو شمير پکې خورا ډير دی (ډير بنديان پکې ساتل کيږي).

د سيګار ځانګړي پروژو دفتر د معلوماتو غوښتنې مکتوبونه ليکلي چې د يولړ مسلو په اړه انديښنې بيانوي، په شمول د کمپ شاهين کې د سونګ توکو د ذخيره کولو ناخوندي ټانکرونه، د کندهار بريښنا رسولو د حل لپاره د پلانونو درستې، په سړي پل کې د يوه خطرناک بسونځي رالويدل، د فساد پر ضد هڅې، د مخابراتي ستنو په اړه د معلوماتو غوښتنې ته نامکمل ځواب، د معلوماتو شريکولو محافظت معلوماتو په اړه ستونزمن ځواب، د دريم هيواد د اتباع (TCNs) د احتمال له مخې استثماريدونکی کار ګمارنه، د افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهی صندوق (LOTFA) ضعيف نظارت، د پل چرخي ولسوالی کې افغان ملي اردو (ANA) لپاره غير اړين دوهم مسلخ، د 16 G222 الوتکو پرزه کول، د USAID تر پوښتنې لاندې لګښتونو بيرته لاسته راوړل، د امنيتي لګښت لوړيدو له امله د قرارداد فسخ کيدل، د دفاع وزارت (د امريکا دفاع وزارت) د لاسرسي تجهيزاتو د توزيع پروسې نامکمل اسناد، او احتمالا په ناکارول شوي مخابراتي وسيلو بی ځايه مصارف. دې دفتر د امنيتي ليږد ګډې قوماندې (CSTC-A)، بهرنيو چارو وزارت (State)، او USAID لخوا کارول شوي پروسو او کنټرولونو يوه بياکتنه هم ترسره کړه چې افغان دولت ته يې مستقيم مرسته برابروله. د ځانګړي پروژو دفتر يو ځانګړی راپور هم خپور کړی چې د ترياکو سره مبارزې کې د متحده اياالاتو 7 مليارد ډالرو پانګوونې برسيره، له هر وخت څخه د ترياکو لوړ کښت ازموي.

## د پلټنې خبرتيا ليک

- د پلټنې خبرتيا مکتوب 14-80a-AL: د افغان هوای ځواک د C-130 الوتکو ځواب

## د کړنې بشپړې شوې پلټنې

- پلټنه 15-1-AR: USAID ته د سيګار وړانديزونو درېځ
- پلټنه 15-12-AR: CNPA ته د متحده اياالاتو مرسته

## بشپړې شوې مالي پلټنې

- مالي پلټنه 14-91-FA: د ARD شرکت لخوا پيش شوي لګښتونو پلټنه.
- مالي پلټنه 14-93-FA: د هغه لګښتونو پلټنه چې د پاملرنې نړيواله موسسې لخوا مصرف شوي
- مالي پلټنه 14-94-FA: د AECOM نړيوالې پرمختيا شرکت لخوا پيش شوي لګښتونو پلټنه.
- مالي پلټنه 14-95-FA: د ماين پاکونې پلانونو اداري لخوا پيش شوي لګښتونو پلټنه.
- مالي پلټنه 14-100-FA: د نړيوال ښار/کاونټي مديريت سازمان لخوا پيش شوي لګښتونو پلټنه
- مالي پلټنه 15-7-FA: د هغه لګښتونو پلټنه چې د نړيواله سوکالۍ او پرمختګ شرکت(IRD) لخوا مصرف شوي دي.

## بشپړ شوي تفتيشات

- تفتيش 15-11-IP: د پل چرخي زندان

## د ځانګړي پروژې بشپړ شوي محصولات

- پدې ربع کې سيګار د ځانګړي پروژو 21 پوښتنې مکتوبونه او ځانګړي راپورونه خپاره کړل. د مکمل ليست لپاره 39 مخ وګورئ.

# د څارنې په برخه کې د سیګار فعالیتونه

د دې راپور ورکولو په وخت کې د سیګار له روانو تحقیقونو څخه، جرمي جریمې، بیرته تادیات، ضبطوني، مدني جوړ جاړی، او د امریکا حکومت لپاره سپماوې له 1 میلیون امریکایي ډالرو څخه زیاتو ته رسیدلې. د سیګار له تحقیقونو څخه تر اوسه ټول سپماوې له 500 میلیون امریکایي ډالرو څخه زیاتې دي. د سیګار تحقیقونو په پایله کې 14 کسان نیول شوي، دری محاکمه شوي، څلور جرمي معلومات لاسته راغلي، د اعترافونو دوه موافقې اخیستل شوي، او په امریکا کې یو کس نیول شوی. پردې برسیره، 24 انفرادي کسان د اردو له تاسیساتو څخه منع شوي او نهه کارکوونکي له دندې منفک شوي. د سیګار تعلیق او بندیز پروګرامونو 44 انفرادي کسان او 13 شرکتونه تعلیق او بندیز ته راجع کړي. له 57 قراردادیانو څخه 11 یې د دې تورونو پربنسټ راجع شوي چې دوی څه دپاسه 398 میلیون ډالرو په ارزښت قراردادونو کې په درغلی او کار نه کولو کې ښکیل و.

## پلټنې

سیګار د افغانستان د بیارغوني اړوند پروګرامونو او پروژو د فعالیت پلټنې، تفتیشونه او مالي پلټنې ترسره کوي. کانګریس ته د اخرني راپور راهیسې، سیګار دوه د فعالیت پلټنې، یو تفتیش، شپږ د مالي پلټنې راپورونه او یو د پلټنې خبرتیا مکتوب خپاره کړي. پدې ربع کې سیګار دوه د فعالیت نوې پلټنې پیل کړي چې د فعالیت روانو پلټنو ټولټال شمیر 14 ته رسیږي. د فعالیت پلټنې خپور شوي راپورونو په USAID کې د پلټنې وړاندیز حل ته د رسیدو لپاره د څار پروسه بیاکتلې او هم د متحده ایالاتو او افغان حکومتونو وړتیا چې د CNPA فنډونه او وړتیاوې تعقیب کړي. د فعالیت پلټنو ټولټال شپږ وړاندیزونه کړي؛ تفتیش پنځه وړاندیزونه کړي. مالي پلټنو د داخلي کنټرول تشو او مطابقت نه درلودو مسلو د پایلې په حیث نږدې 5.6 میلیون ډالر تر پوښتنې لاندې لګښت کې موندلي.

## د خبرتیا مکتوبونه

لکه څنګه چې افغانستان د سپارلو په مرحله کې دی، د امریکا اردو او ملکي چارواکو له سیګار څخه غوښتنه کړې ده چې د هغوی لپاره حقیقي معلومات برابر کړي ترڅو ضایعاتو مخه ونیسي او د امریکا بیارغوني پروګرامونو اغیز ډیر کړي. د سیګار له اصلي اهدافو یو یې د پلي کونکو ادارو او کانګریس ته د تعقیب وړ معلوماتو چمتو کول دي پداسي حال کې چې د توپیر راوستو لپاره اوس هم وخت شتون لري. د دغه هدف لاسته راوړو لپاره، سیګار بې له ځنډ څخه د اندیښنو په نښه کولو ته د خبرداري لیکونه استوي پداسي حال کې چې پلي کونکي اداري اوس هم د عمل کولو وړتیا لري. د راپور ورکوونې دې دورې په جریان کې سیګار د خبرتیا یو مکتوب استولی چې د سیګار C-130H اصلي خبرتیا مکتوب ته د امریکا دفاع وزارت ځواب یې په نښه کړی چې په تیرې ربع کې لیږدول شوی و.

---

**د فعالیت پلټنې:** د وضع شویو معیارونو سره برابر، د پوره او مناسبو شواهدو ارزولو په اساس، ډاډ او پایلې برابرې کړي. د فعالیت پلټنې عیني تحلیل وړاندې کوي تر څو اړونده اداره او مسول کسان د نتایجو څخه یې د خپل پروګرام د کړنو په وده او د لګښتونو په کمولو کې استفاده وکړي، او مسولو کسانو ته د اصلاحي ګام پورته کول اسانه کوي تر څو د عامه حساب ورکونې جوګه شي. د فعالیت پلټنې عموماً د حکومت د پلټنې منل شویو ستندردونو (GAGAS) او د اعتبار او اغیز عمومي مفتشینو شورا (CIGIE) د عمومي مفتش د فیدرال دفترونو کیفیت ستندردونو په اساس ترسره کیږي.

**تفتیشونه:** د ډیزاین، تطبیقولو ،او/یا د اداري عملیاتو پایلې، پروګرامونو، یا پالیسیو، سیستماتیک او خپلواکه ارزونه ده. سیګار د تفتیش او ارزونې لپاره د CIGIE کیفیت معیارونو سره په مطابقت کې تفتیشونه پرمخ وړي، ترڅو په ټول افغانستان کې د ودانیو او زیربنا ساختماني چارو باندې کانګریس او خلکو ته معلومات چمتو کړي؛ او په مجموع کې یوه ارزونه چمتو کړي چې وټاکي ایا ودانۍ د قرارداد سره سمې جوړې، نومول شوي مقصد لپاره کارول کیږي او ایا ساتل کیږي.

**مالي پلټنې:** پدې اړه خپلواک ارزونه وړاندې کوي او مناسب ډاډ چې ایا د نهاد راپور ورکړ شوي وضعیت، پایلې او د سرچینو کارول د پیژندل شوي معیار سره په مطابقت کې وړاندې شوي که نه. سیګار د GAGAS په اساس پلټنې ترسره کوي، چې پدې کې د پلټنې د ستندرد په اړه د تجربه لرونکو عامه محاسبینو امریکایي انستیټیوت راپورونه او په GAGAS نورې برابرې شوي اړتیاوې شامل دي. سیګار د خپلواکو عامه محاسبینو (IPA) مالي پلټنو ارزونه هم کوي. کله چې یو IPA کومه مالي پلټنه ترسره کوي، سیګار د منطقي کړنلارو په مرسته د هغې موافقه له GAGAS سره ارزوي، البته دا کار د IPA د کار څخه د استفادې د حدودو او دا چې سیګار نوموړې اداري ته څومره مسولیت سپارلې دی، په نظر کې نیولو سره ترسره کیږي.



**د افغان هوای ځواک** يوه C-130 الوتکه د کابل نړيوال هوای ډګر د الوتنې ليکه کې ناسته ده. (د NAT-C عکس)

## د پلټنې خبرتيا مکتوب 14-80a-AL: د افغان هوای ځواک د C-130 الوتکې ځواب

د اکتوبر په 6، سيګار د امريکا دفاع وزارت ته د سيګار د جولای 10 خبرتيا مکتوب د ځواب په اړه ليکلي چې افغان هوای ځواک (AAF) ته د پلان شوي C-130H باروړونکي الوتکو په اړه و. د جولای 10 نيټې مکتوب کې سيګار له د امريکا دفاع وزارت څخه غوښتنه کړې وه چې د AAF د منځنې هوايي چلند اړتياو بياکتنه وکړي او د نورو دوه الوتکو چمتو کولو څخه مخکې د موجود C-130Hs الوتکو د بشپړ استعمال وړتيا يې وارزوي.

د امريکا دفاع وزارت ځواب ورکړ او يادونه يې وکړه چې د ماموريت وړتيا تاريخي درجو او پلان شوي ساتنې او د تفتيش مهالويشونو پربنسټ AAF لږترلږه درې C-130Hs ته اړتيا لري ترڅو ډاډمن اوسي چې لږترلږه يوه الوتکه هرمهال د کاريدو وړ وي. سيګار د C-130Hs د ناکاره توب خطر درک کوي او د امريکا دفاع وزارت دې پريکړې سره موافقت کوي چې AAF ته دريمه الوتکه چمتو کړي. مکتوب د سيګار وړانديز سره د امريکا دفاع وزارت رضايت ستاينه هم کوي چې د پلان شوي څلورمې C-130H الوتکې د ورکولو پريکړه ترهغه وخت پورې ځنډوي چې د اړتياو بياکتنه بشپړه شي. دا د 2017 اوږدو کې شاوخوا 40.5 مليون ډالرو احتمالي سپمول ښيي – چې 19.8 مليون ډالر خپله د الوتکې لپاره او 20.7 مليون ډالر د ساتنې، پرزو، روزنې او ترميم لپاره دي.

## د فعاليت د پلټنو راپورونه خپاره شوي

پدې ربع کې سيګار د فعاليت دوه پلټنې خپرې کړې چې د سيګار د پلټنې وړانديزونو ته د USAID حل او د CNPA پراختيا لپاره د متحده ایالاتو هڅې ازمولې.

### د پلټنې خبرتيا ليک

- د پلټنې خبرتيا مکتوب 14-80a-AL: د افغان هوای ځواک د C-130 الوتکو ځواب

## د کړنې بشپړې شوې پلټنې

- پلټنه 15-1-AR: د امریکا د نړیوالې پرمختیا لپاره اداره: د سیګار د پلټنې او تفتیش راپور تولو وړاندیزونو له 80 سلنې ډیر یې پلي شوي
- پلټنه 15-12-AR: د افغانستان د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې پولیس: ولایتي قطعو سره د متحده ایالاتو مرسته په بشپړ ډول نشي تعقیب کیدلی او د دې قطعو د وړتیا رسمي ارزونو ته اړتیا ده

### پلټنه 15-1-AR: د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو اداره

**د سیګار د پلټنې او تفتیش راپور تولو وړاندیزونو له 80 سلنې ډیر یې پلي شوي**

سیګار دا بیاکتنه پیل کړې چې (1) سیګار د هغه وړاندیزونو دریځ معلوم کړي او وارزوي چې USAID ته یې د سیګار تولو فعالیت پلټنو، مالي پلټنو او تفتیشونو کې کړي؛ (2) هغه ګامونه چې د USAID لخوا خلاصو وړاندیزونو په نښه کولو لپاره اخیستل شوي، بیاکتنه یې وکړي.

د دې موخو بشپړولو لپاره سیګار تول 127 وړاندیزونه مشخص او ازمولي چې په 2008 کې د سیګار رامنځته کیدو څخه تر اپریل 2014 پورې USAID ته کړي، او د خلاصو وړاندیزونو، تړل شوي او پلي شوي، او هغه چې تړل شوي مګر پلي شوي ندي، شمیر مشخص کولو لپاره څیړنې ترسره کړې. سیګار هر وړاندیز د سیکتور، وړاندیز شوي عمل او هغه ته نومول شوي پایلې له پلوه درجه بندي کړې. په نهایت کې سیګار هغه اسناد وارزول چې USAID ورته چمتو کړي ترڅو د لګښت سپمولو یا بیرته لاسته راغلي فنډونو په بڼه د ټاکلو وړ مالي ګټه یې مشخص شي.

د جنورې 2008 څخه تر اپریل 2014 پورې د سیګار له تفتیش څخه USAID ته شوي 127 وړاندیزونو څخه سیګار 110 تړلي پداسې حال کې چې د دې تړل شویو 103 یې پلي شوي او پاتې اوه یې پرته له پلي کیدو تړل شوي. په تیره کې خلاصو وړاندیزونو یو پنځوس یې د هغه شواهدو په ترڅ کې وتړل شو چې د سیګار په فبروري 2014 لدې پلټنې څخه د USAID خبرولو وروسته چمتو شول.

د سیګار څیړنو موندلې چې:

- د تولو وړاندیزونو شاوخوا دوه په دریو کې برخه یې د دې لپاره و چې لاندې دوه پایلو څخه یوه لاسته راوړي: (1) د قرارداد د فنډونو حساب ورکونه او څار ډاډمن کړي، یا (2) د قرارداد اجابت او داخلي کنټرولونه پیاوړي کړي.
- له دوه پر دریو څخه ډیرو کې وړاندیز شوی چې USAID نومول شوي پایلې لاسته راوړي: (1) موجود طرزالعملونه، پالیسانې یا بل لاربنود رامنځته، پرمختللی یا تعقیب کړي؛ یا (2) د فنډونو مناسب استعمال یا بیرته لاسته راوړلو ډاډ ورکړي.

د USAID د دې وړاندیزونو په وخت سره پلي کولو په افغانستان کې د بیارغونې مصرف شوي فنډونو قوي حساب ورکوونې پایله درلوده. یوه وړاندیز په یوازې ځان دا پایله درلوده چې شاوخوا 23 ملیون ډالر غوره استعمال شول. اتلس نور وړاندیزونو دا پایله درلوده چې تر پوښتنې لاندې لګښتونو له 2.75 ملیون ډالرو څخه ډیر یې تقویت یا بیرته لاسته راوړل شوي. یو بل وړاندیز پایله دا وه چې USAID د بشپړ شوي پروژو د مالي قرارداد پلټنو مهالویشونه ډیر کړل چې مرسته کوي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې د قراردادیانو لخوا رسید شوي لګښتونه د منلو وړ دي که نه.

سیګار نور اوه وړاندیزونه تړلي چې د ډیرې دلایلو له امله ندي پلي شوي:

- پنځه وړاندیزونه د دې لپاره وتړل شو چې سیګار د اضافي پلټنې پرمخ وړل پلان کړي و چې کولی شو دغه وړاندیزونه لغوه کړي.
- دوه وړاندیزونه د دې لپاره وتړل شو چې USAID د سیګار اندیښنو په اړه کوم ګامونه نه و پورته کړي.

له 127 وړاندیزونو څخه ولس خلاص پاتې دي او سیګار د دې وړاندیزونو تړلو څخه مخکې د USAID لخوا د پلي کولو اضافي فعالیتونو ته انتظار باسي. د 2014 د اګست تر نیمایی پورې، د دې وړاندیزونو اوه یې له یوه کال څخه ډیرې مودې لپاره خلاص و او یو وړاندیز له دوه کلونو څخه ډیرې مودې لپاره خلاص و. له خلاصو وړاندیزونو څخه اوه و یې 61.9 ملیون ډالر تر پوښتنې لاندې لګښتونو کې پیژندلي.

سیګار پدې پلټنه کې کوم وړاندیزونه ندي کړي.



د CNPA **غړو** په 2010 کې په کابل کې د افغانستان د تریاکو سره مبارزې پولیس د قوماندانیو نوي ودانی پرانیستلو لپاره غونډه کې برخه اخیستې. (په کابل کښې د امریکا متحده ایالاتو د سفارت انځور)

### پلټنه 15-12-AR: د افغانستان د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې پولیس

**ولایتي قطعو سره د متحده ایالاتو مرسته په بشپړ ډول نشي تعقیب کیدلی او د دې قطعو د وړتیا رسمي ارزونو ته اړتیا ده**

د افغانستان د تریاکو سره مبارزې پولیس (CNPA) په 2003 کې د افغان ملي پولیس (ANP) مسلکي څواک په توګه رامنځته کړی شو چې د افغانستان په اوږدو کې د تریاکو پروړاندې مبارزه کې تحقیقات او عملیات پرمخ وړي. د امنیت نړدې پیبندونکي لیرد او د افغانستان اقتصادي خطراتو له امله، د افغان دولت د تریاکو سره مبارزې وړتیا تقویت کولو لپاره د متحده ایالاتو هڅې ترهګرۍ ته د مالي او سیاسي ګټو راټیټولو کې حیاتي دي.

د CNPA مرکزي قوماندانی په کابل کې ده چې شپږ ریاستونه یا ځانګې لري په شمول د ولایتي او مسلکي واحدونو. د 2013 تر نومبر پورې دې څواک 2,850 پرسونل درلودل، چې 1,100 یا 39% یې د ولایتي قطعو لپاره و. سیګار دا پلټنه پرمخ وړې چې مشخص کړي تر کوم حد پورې (1) د بهرنیو چارو وزارت، د امریکا دفاع وزارت او د عدلیه وزارت (DOJ) د مخدره توکو پلي کولو اداري (DEA) د CNPA ولایتي قطعو ته ملاتړ چمتو کړی؛ (2) د CNPA ولایتي قطعو ته د امریکا دفاع وزارت مستقیم مرستي تمویل تعقیب کیدی شي؛ او (3) د CNPA ولایتي قطعو عملیاتي وړتیاوې او چمتووالی په رسمي توګه ارزول شوی او راپور شوی دی.

د متحده ایالاتو حکومت بهرنیو چارو وزارت، د امریکا دفاع وزارت او DEA د CNPA څخه ملاتړ اساسا د CNPA قوماندانیو او د دې مسلکي قطعو باندې متمرکز و. ولایتي قطعو یوڅه ملاتړ ترلاسه کړی، لکه د لوړ ګواښ شپږ سیمو کې د ودانی تازه کول او ترمیم (د 1.21 ملیون ډالرو په لګښت) او د ابتدایی تحقیق کونکو روزنې رامنځته کول (د خورا لوی هڅې یوه برخه چې 161.4 ملیون ډالر لګښت یې درلود) مګر په ټوله کې CNPA ته د متحده ایالاتو مالي سرچینو دوی ته یوازې سرسري ګټه رسولې. د تیرو څو کلونو مطالعات ښيي چې د CNPA ولایتي قطعې له پامه غورځول شوي او د دوی د واحد پرمختیا او وړتیاو پورې اړوند ستونزې دوام لري.

د امریکا دفاع وزارت د افغان حکومت ملي بودیجې ته هم مستقیم مرسته چمتو کوي. دا فنډونه زیربنا، عملیات او ساتنه (O&M) او معاشات ملاتړ کوي، پشمول د CNPA ولایتي قطعو لپاره. که څه هم د افغانستان مالي مدیریت معلوماتو سیسټم (AFMIS) چې د دولت یو محاسب سیسټم دی تمویل یا فنډ برابرول تعقیبوي، دا د CNPA مخارجو معلومات د تمویل سرچینې، تمویل کوډ او موقعیت پراساس نه ساتي. د یوې پایلې په حیث، سیګار ونشو کولی چې د CNPA ولایتي قطعو ته چمتو کړی شوي مستقیم مرستي مقدار په بشپړ ډول مشخص کړي. په حقیقت کې سیګار وکولی شو د افغانستان په اوږدو کې د متحده ایالاتو د تریاکو پروړاندې مبارزې لپاره چمتو کړي مستقیم مرستي یوازې 13,529 ومومي. نور سیګار وموندل چې د راپور ورکولو غبرګ جوړښت په کوم کې چې د تریاکو پروړاندې مبارزې لپاره د کورنیو چارو وزارت معین د CNPA لپاره د مدیریت او څار مسؤلیت لري پداسې حال کې چې امنیتي معین یې د CNPA ملاتړ کونکې سرچینو کنټه کوي، د ولایتي قطعو

د تمویل او محولاتو لاسته راوړو ورتیا اغیزمنه کړي. د مثال په توګه سیګار د CNPA درې ولایتي قطعي وموندلي چې د امریکا دفاع وزارت تازه شوي ودانیو ساتنې لپاره هیڅ بسپنې لاسته نه راوړي، پداسې حال کې چې نورې قطعې د تاکل شوي وخت چوکاټ کې کابل ته د مخدره توکو ځانګړي بندیانو انتقال لپاره فنډ نلري.

سیګار وموندل چې د CNPA ولایتي قطعو عملیاتي وړتیاوې پدې وروستیو کې رسما ندي ارزول شوي او راپور شوي. د ارزونې رسمي سیسټم پرته چې روزنه، رهبري، ثبات او عملیاتي پرمختګ سنجوي، د متحده ایالاتو حکومت نشي کولی مشخص کړي چې ایا CNPA ولایتي قطعو کې پانګونې یې دوی سره مرسته کړې چې ورږ، پرځان متکي او قوي ځواک شي که نه. د افغان ملي امنیتي ځواکونو سیمه ایزي قوماندې دریځ راپور (RASR) کوم چې ځانګړي اقدامات ارزوي لکه روزنه، پاینت او د قانون پلي کولو عملیات، د افغان ملي امنیتي ځواکونو وړتیاو ارزولو لپاره کارول شوی مګر د CNPA ولایتي قطعو ارزولو لپاره ندی کارول شوی. بلکه د CNPA تاکتیکي عملیاتو مرکز د ولایتي قطعو عملیاتي پرمختګ د یوه متراکم بنسټ او RASR څخه مختلف معیارونو پراساس اندازه کوي.

سیګار وړاندیز کوي چې د امریکا دفاع وزارت د بهرنیو چارو وزارت او DEA په مرسته د افغانستان مالیه او کورنیو چارو وزارتونو او CNPA سره کار وکړي ترڅو (1) د مستقیم مرستي تمویل مقدارونه معلوم او په AFMIS کې د CNPA ولایتي قطعو O&M تمویل ټاکلو او تعقیب لپاره توضیحي کوډونه رامنځته او وکاروي؛ (2) هغه امکانات او لارې روښانه او تطبیق کړي چې د CNPA ولایتي قطعي یکې وکولی شي د خپل ماموریت پرمخ وړو لپاره د O&M تمویل لاسته راوړي؛ (3) د ANP ولایتي قوماندانانو ته د دغه قطعو لپاره چمتو کیدونکي ملاتړ مقدار او اولویت پورې اړوند لارښود چمتو کړي؛ (4) مناسب معیارونه رامنځته کړي چې د CNPA تاکتیکي عملیاتو مرکز ته لاره هواره کړي د CNPA ولایتي قطعو عملیاتي وړتیاوې او چمتووالی لانور د قطعو پراساس په بشپړتیا سره وارزوي؛ (5) یو رسمي او منظم مهالویش شوی د ارزونې او راپور ورکوونې اړتیا رامنځته کړي: او (6) د CNPA ولایتي قطعو چمتووالي ارزونو راپورونه د متحده ایالاتو شریکانو سره په غیرمتراکم بڼه شریک کړي نو دوی به وکولی شي چې د خپلې پانګوونې اثر او ارزښت په غوره توګه وټاکي.

## پدې ربع کې د فعالیت نوې پلټنې اعلان شوې

پدې ربع کې سیګار د فعالیت دوه نوې پلټنې پیل کړې. دا د افغانستان ملکي هوای چلند وړتیاو د پراختیا لپاره د متحده ایالاتو هڅې او افغان حکومت ته د لیږدول شوي زیربنایي پروژو اړوند د امریکا دفاع وزارت نظارت وارزوي.

### د نویو فعالیتونو پلټنې

- د افغانستان ملکي هوای چلند پراختیا لپاره د متحده ایالاتو هڅې
- افغان دولت ته لیږدول شوي د زیربنا پروژو باندې د امریکا دفاع وزارت څارنه

### د افغانستان ملکي هوای چلند پراختيا لپاره د متحده ايالاتو هڅې

له 2002 راهيسي، د متحده ايالاتو ادارو او وزارتونو په شمول د امريکا دفاع وزارت، ټرانسپورټيشن وزارت (DOT)، د فدرال هوای چلند اداري (FAA) او USAID افغان ملکي هوای چلند سره د هوای چلند زيربنا بيارغولو، د هوای چلند قوانينو او عملياتي پروتوکولونو د پراختيا نظارت، د خوديتوب څار موداوم وړتيا رامنځته کولو لپاره ملاتړ چمتو کولو، د هوای ترافيک کنټرولونکي او رادار تخنيکي کارکونکو روزني او د مقرراتو پاليسي جوړولو کې افغان ملکي هوای چلند سره مرسته کړې.

دا پلټنه به د متحده ايالاتو حکومت د هڅو بياکتنه وکړي چې د ملکي هوای چلند خوندي او مؤثر پروګرام په لاره اچولو او ساتلو لپاره د افغانستان وړتياوې پياوړي کوي. په ځانګړي توګه سيګار پلان لري چې: (1) مشخص کړي چې ترکوم حد پورې د متحده ايالاتو حکومت د ملکي هوای چلند پروګرام په لاره اچولو او ساتلو لپاره د افغان حکومت وړتيا پياوړي کولو لپاره هڅو په نښه شوي اهداف لاسته راوړي؛ (2) هغه ننګوني وپيژني چې په افغانستان کې د ملکي هوای چلند مسلکي، فعال او مؤثر پروګرام رامنځته کولو او ساتلو کې شتون درلود او هغه ګامونه چې د دې ننګونو راکمولو لپاره اخيستل شوي؛ او (3) د افغان حکومت وړتيا وارزوي چې په خپلواک توګه له 2014 دسمبر وروسته خپل د هوای چلند پروګرام تمويل او پرمخ وبسي.

### د امريکا دفاع وزارت د هغه زيربنايي پروژو څار چې افغان حکومت ته ليږدول شوي.

له FY 2002 راهيسي، کانګريس د امريکا دفاع وزارت ته شاوخوا 66 مليارد ډالر د بيلابيل فنډونو له لارې چمتو کړي چې د افغانستان بياجوړولو کې مرسته وکړي. د دې فنډونو د پام وړ برخه يې د زيربنايي پروژو ترسره کولو لپاره کارول شوې په شمول د نظامي بيسونو، روغتونونو، او سړکونو وغيره. کله چې پروژې بشپړې شوي ملکيت يې افغان دولت ته سپارل شوی. د دا ډول پانګو له ليږد وروسته د څار لپاره د امريکا دفاع وزارت پاليسياني مسؤل اداري او ليږدول شوي ځانګړې پانګې پورې تړلي دي. په ډيری مواردو کې د پروژې اندازې او بنې اړوند، د امريکا دفاع وزارت اړتيا لري چې افغان حکومت څخه خبرتيا ترلاسه کړي چې ايا کولی شي د ليږد وروسته د متحده ايالاتو تمويل شوي پروژو ساتنه او حفاظت وکړي.

سيګار او د څار نورو ادارو په ليږدول شوي پانګو راپور ورکړی چې د ناسم استعمال، پاينت نه شتون يا دواړو له امله ناترميمي حالت کې دي. دا اوضاع د زيربنا نورو پروژو د پلي کولو مؤثريت تر پوښتني لاندې راولي کله چې متحده ايالات دمخه ليږدول شوي پانګو د افغان دولت مديريت لړترلړه څارنه کوي.

دا پلټنه به د امريکا دفاع وزارت هغه هڅو بياکتنه وکړي چې افغان دولت ته ليږدول شوي زيربنا پروژو نظارت پرمخ وړي. سيګار پلان لري چې وارزوي (1) تر کوم حد پورې افغان دولت د امريکا دفاع وزارت څخه ي ته ليږدول شوي پانګو استعمال او ساتنه کوي او (2) هغه ننګوني چې د امريکا دفاع وزارت ورسره د دې زيربنا استعمال او ساتني نظارت کې مخ شوی کوم چې افغان دولت ته ليږدولي دي.

## مالي پلټنې

سیګار په 2012 کې د مالي پلټنو پروګرام وروسته لدې پیل کړ کله چې کانګرس او د نظارت ټولنې د قراردادونو او نغدو پیسو چې د بهرنیو عملیاتو ملاتړ لپاره ورکول کیږي د نظارت د واټونو او د تحمیل شوي لګښتونو پلټنې په اړه اندیښنه وښودله. سیګار په سیالۍ کې د محاسبي خپلواک شرکتونه غوره کړي ترڅو مالي پلټنې ترسره کړي او دا وګوري چې د پلټنې کار د امریکا حکومت ستندردونو په اساس ترسره شوي. مالي پلټنې د فدرال عمومي مفتش ټولنې سره همغږي شوي ترڅو د مالي پلټنې پوښښ ډیر او دوه ځلي هڅو مخنیوی وشي.

پدې ربع کې سیګار د افغانستان بیاجوړولو لپاره د متحده ایالاتو تمویل شوي قراردادونو شپږ مالي پلټنې بشپړې کړي. سیګار د امریکا سویابین نهاد سره د متحده ایالاتو تمویل شوي تعاوني تړون نوی مالي پلټنه هم اعلان کړه. لکه څنګه چې په 2.1 جدول کې ښودل شوي د سیګار مالي پلټنو پروګرام د پلټنې وړ لګښتونو کې له 2.9 ملیارد ډالرو څخه ډیرو پیسو ټولټال 31 مالي پلټنې بشپړې کړې او 35 نورې رواني مالي پلټنې لرې چې 3 ملیارد ډالرو په ارزښت د پلټنې وړ لګښتونو لپاره دي. دا پلټنې مرسته کوي چې د متحده ایالاتو حکومت او مالیه ورکونکي مناسب ډاډ ترلاسه کړي چې دې ګمارنو باندې مصرف شوي بسپنې د نومول شوي هدف لپاره کارول شوي. پلټنې هغه مخارج ترپوښتنې لاندې راولي چې د بررسی کیدو نه وي یا په قوي توګه جواز ونلري.

سیګار د هرې مالي پلټنې راپور هغه تمویل کونکي ادارې ته تکثیر کوي چې یاده ګمارنه (ګمارنې) یې کړې وي. تمویل کونکي اداره مسؤل ده چې د پلټنې موندنو راپور کې پیژندل شوي تر پوښتنې لاندې مقدارونو باندې نهایي پریکړه وکړي. د پروګرام د تفتیش راهیسې، د سیګار مالي پلټنو له 83 ملیون ډالرو څخه ډیر تر پوښتنې لاندې لګښتو او 197,494 ډالرو د فدرال دمخه فندونو په ناګرځیدونکې ته کې پیژندلي. کله چې تمویل کونکي اداره وټاکي چې ترپوښتنې لاندې مقدار غیر مجاز دی نو نوموړې اداره یې د بیرته راټولولو لپاره رسید خپروي. ترنن نیټې پورې ادارو ترپوښتنې لاندې مقدارونو کې له 8.3 ملیون ډالرو څخه ډیرو بیرته لاسته راوړو ته د 17 بشپړ شوي پلټنو لپاره د راټولولو بیلونه تکثیر کړي. د تمویل کونکو ادارو لپاره د پلټنې موندنو په دقت سره کټل وخت نیسي. د بوې پایلې په حیث، د سیګار ډیرې خپرې شوي مالي پلټنو لپاره نهایی مشخصات پاتې دي. د سیګار مالي پلټنو پلټل کیدونکو او تمویل کونکو ادارو ته هم 135 د اجابت موندنې او 151 د داخلي کنټرول موندنې پیژندلې او خبرې یې پرې کړې.

د سیګار مالي پلټنې ځلور ځانګړې موخې لري:

- پدې د اند بیانول چې ایا د ګمارنې لپاره د ځانګړې هدف مالي بیان په منصفانه ډول وړاندې کیږي، د ټولو موادو په پام کې نیولو سره، لاسته راغلي عواید، پیښ شوي لګښتونه، د متحده ایالاتو حکومت لخوا غیرمستقیم پیرودل شوي توکې، او د ګمارنې شرایطو سره په مطابقت کې د پلټل شوي دورې لپاره بیلانس او د محاسبې عموما منل شوي اصول یا د محاسبې نور جامع اساسات.
- تر پلټنې لاندې بنسټ د قرارداد په اړه د کورنیو کنټرولونو ارزونه ترسره شي او په پوره توګه پوهه ترلاسه شي؛ د کنټرول خطر ارزونه وشي؛ د مهمو نیمګړتیاوو په اړه پشمول د موادو کورنې کنټرول نیمګړتیاوې وپیژندل شي او راپور ورکړ شي.

جدول 2.1

| د سیګار د مالي پلټنې پوښښ (په ملیارد ډالر) | |
|---|---|
| 31 بشپړې شوي پلټنې | $2.9 |
| 35 رواني پلټنې | 2.9 |
| **ټولټال** | **$5.8** |

یادونه: شمیرې محاسبه شوي پدې پوښښ کې د افغانستان د بیارغونې قراردادونه، نغدو پیسو، او همکارۍ قراردادونو اخیستونکو له لورې ترسره شوي لګښتونه شامل دي

سرچینه: د سیګار د پلټنو او تفتیشونو ریاست.

**تر پوښتنې لاندې مقدارونه:** په وده شوي فدرالي فندونو کې د احتمالا غیرمجاز ترپوښتنې لاندې لګښتونو او نالیرل شوي کټو مجموعه.

**ترپوښتنې لاندې لګښتونه:** هغه لګښتونه چې غیرمجاز بیژندل شوی. د تر پوښتنې لاندې لګښتونو دوه ډولونه د نه منلو وړ لګښتونه (د قانون، مقرراتو، قرارداد، مرستې، همغږي تړون رغړونه وغیره یا د فندونو غیر لازم او نامناسب مصرف) او ناملاتړ شوي لګښتونه (هغه چې د مناسب اسنادو په واسطه نه ملاتړ کیږي یا د پلټنې پرمهال سم تصدیقونه) دي.

**د راټولول لپاره بیل:** یوه پوروړې ته د ټاکلي مقدار لپاره د لیک یا فارم لیرل، پشمول د ګټې، اداري لګښتونو، او ځنډ جریمې که د پلي کیدو وړ وي.

**د ځانګړې هدف مالي بیان:** یو مالي بیان چې لاسته راوړل شوي ټول عواید، پیښ شوي لګښتونه، او کوم ډول پاتې بیلانس پکې د ورکړل شوي مودې په جریان کې د ورکړل شوي ګمارنې لپاره شامل وی.

- آزموينې ترسره شي ترڅو دا وټکل شي چې آيا تر پلټنې لاندې بنسټ د موادو په اساس، د قرارداد اړتياوو او اړوندو قوانينو او مقرراتو اطاعت کړی؛ او د قرارداد له شرطونو او اړوندو قوانينو او مقرراتو سره د موادو نه اطاعت وپيژندل شي او راپور ورکړ شي.
- وټکل شي او راپور ورکړ شي چې آيا تر پلټنې لاندې بنسټ په مناسبه توګه د سمون ګامونه اخيستي ترڅو د تيرو کارونو موندنو او سپارښتنو لپاره د حل لار پيدا شي.

د دې درې مياشتنى راپور په ج ضميمه کې د بشپړ شوي، نوي، او روانو مالي پلټنو لست موندلی شی.

## مالي پلټنې خپرې شوي

پدې ربع کې سيګار د افغانستان بياجوړوني لپاره د متحده ايالاتو تمويل شوي قراردادونو، بلاعوضه مرستو او تعاوني ترونونو شپږ مالي پلټنې مکمل کړې. د داخلي کنټرول نيمګړتياوو او نه اطاعت کولو مسلو له کبله، دغو مالي پلټنو تر پوښتنو لاندې نږدې 5.6 ميليونه امريکايي ډالر پيژندلي دي. د نورو شيانو سره د تشو او غيراجابت دې مسلو کې د نه منلو وړ سوداګريز طبقې سفري لګښتونه، د غيرمصرفي تجهيزاتو او ملکيت ناتصويب شوی پيرود، د غير مستقيم لګښتونو زياته ورکړه، د اسعارو تبادلې ناسمې محاسبې، د فرعي لاسته راوړونکو نامناسب نظارت، د غيرمصرفي تجهيزاتو نادرست سمبالښت، د ملاتړي اسنادو نه شتون، د ريکارډ ضعيف ساتنه، او د پلورونکي د تعليق او مختنيوي د ازمولو پرمخ وړو کې ناکامي شامل دي.

### مالي پلټنه 14-91-FA: د USAID د افغانستان شمالي او لويديزو سيمو کې د ځايی حکومتولی او تولنې پراختيا پروژه: د ARD شرکت لخوا پيښ شوي لګښتونو پلټنه.

USAID د ARD بنسټ سره د يوه قرارداد کاري امر ته ورداخل شوه. (ARD)د افغانستان شمالي او سويلي سيمو کې د ځايی حکومتولی او تولنې پرمختيا (LGCD) پروژه ملاتړ کوله. د ARD د LGCD کاري امر هدف دا و چې افغان حکومت سره مرسته وکړي ترڅو بې ثبات سيمو ته خپل لاسرسی وغزوي او د ولايتي او ځايی حکومتي چاروکو ظرفيت جوړوني له لارې د خطر سره مخ نفس کې ښکيل شي ترڅو خدمات وړاندې او د اوسيدونکو اړتياوې په ګوته کړي، داسې يو چاپيريال رامنځته کړي کوم چې ځايی تولنې وهڅوي پخپله پرمختيا کې فعال ونډه واخلي او د ترهګرۍ لپاره ملاتړ او تاوتريخوالي مهم علتونو په نښه کولو سره ثبات ته وده ورکړي. د سيګار مالي پلټنه چې د کراو هاروات ايل ايل پي (کراو هاروات) لخوا سرته رسيدلې د 2006 اکتوبر 9 څخه تر 2009 اکتوبر 8 پورې موده او د LGCD لپاره 55,981,242 ډالرو لګښتونه پوښتي.

## د سيګار ځانګړی پروژه

د سيګار مالي پلټنې کار د دې لامل شو چې د ځانګړې پروژو دفتر د USAID/افغانستان وروستی پريکړې په اړه د انديښنو بيانولو لپاره د پوښتنو يو مکتوب واستوي چې د سيګار مالي پلټنو کې تر پوښتنې لاندې د پلي کونکي ملګرو تولو لګښتونو نه راټولولو پريکړه وه. د تر پوښتنې لاندې دا لګښتونه د ماليه ورکونکو ډالر وړاندې کوي چې که چيرې د افغانستان بيارغونې څخې ملاتړ کولو کې ونه کارول شی لکه څنګه چې ټاکل شوی، نو بيرته بايد د متحده ايالاتو حکومت ته ستانه شي. د لانورو معلوماتو لپاره د دې برخې 48 مخ وګورئ.

## بشپړې شوې مالي پلټنې

- مالي پلټنه 14-91-FA: د USAID د افغانستان شمالي او لويديزو سيمو کې د ځايی حکومتولی او تولنې پراختيا پروژه: د ARD شرکت لخوا پيښ شوي لګښتونو پلټنه.
- مالي پلټنه 14-93-FA: په افغانستان کې د تولنې ميشته تعليم پرمخ وړو لپاره د USAID ملګرتيا: د هغه لګښتونو پلټنه چې د پاملرنې نړيواله موسسې لخوا مصرف شوي
- مالي پلټنه 14-94-FA: د USAID د افغانستان تولنې ته اطلاع رسولو پروګرام: د AECOM نړيوالې پرمختيا شرکت لخوا پيښ شوي لګښتونو پلټنه.
- مالي پلټنه 14-95-FA: په افغانستان کې د امريکا بهرنيو چارو وزارت د ماين پاکولو فعاليتونه: د ماين پاکونې پلانولو اداري لخوا پيښ شوي لګښتونو پلټنه.
- مالي پلټنه مالي پلټنه 14-100-FA: د USAID د افغانستان ښاروالیو پياوړې کولو پروګرام: د نړيوال ښار/کاونټي مديريت سازمان لخوا پيښ شوي لګښتونو پلټنه
- مالي پلټنه 15-7-FA: د USAID افغانستان وچرونه په کرنه کې د ډير شوي توليد لپاره: د هغه لګښتونو پلټنه چې د نړيواله سوکالي او پرمختګ شرکت (IRD) لخوا مصرف شوي دي.



**د USAID د** LGCD پروژې څخه یوې بلاعوضه **مرستي** په واسطه ملاتړ شوي د خوست ځوانانو ملي شورا په خوست ښار کې د 60 وزګار ځوانانو لپاره د بایسکل ترمیم مسلکي مهارتونو کورس په لاره واچاو. (د USAID تصویر)

کراو هاروات د ARD داخلي کنټرول کې درې د موادو ضعفونه او پنځه د پام وړ تشې موندلي. دې د قرارداد ګمارلو او پلي کېدو وړ قوانینو او مقرراتو سره د ARD د مطابقت نه درلودو شپږ موارد هم موندلي. د مثال په توګه کراو هاروات موندلي چې ARD د یوې سرچینې تدارکاتو د تایید لپاره د تدارکاتو لاربښوونو په تعقیب کې پاتې راغلی او د LGCD پروژې لپاره د لګښتونو مناسبت ټاکلو کې هم. په ځانګړې توګه د ARD د یوې سرچینې تدارکاتو تصدیقونه ناکافي و یا په نامناسب ډول ملاتړ شوي و، او په فرعي قراردادونو کې یې د کارګرانو لګښت د بازار له نرخه وچت شوی و. برسېره پردې ARD ونشو کولی داسې اسناد چمتو کړي چې پکې ښودل شوي وي چې USAID د غیرمصرفي تجهیزاتو او ملکیت پیرود تصویب کړی و کوم چې ممکن د فدرال نورو تمویل شوي پروژو لپاره شتون ولري. په اخر کې کراو هاروات موندلي چې ARD د پروژې غیر مستقیم لګښتونو محاسبه کولو کې ناسم نرخونه کارولي دي. څکه نو USAID یې په تعقیب دې شرکت ته د کار لپاره ډېره تادیه کړې. د دې موندنو یوې پایلې په حیث، کراو هاروات 463,957 ډالر په لګښتونو کې تر پوښتنې لاندې راوستي چې پدې کې 337,677 ډالر په ناملاتړ شوي لګښتونو (لګښتونو کافي اسناد نه درلودل چې له مخې یې کراو هاروات کولی شو د دغه لګښتونو درستي او د منلو وړتیا وټاکي) کې 126,280 ډالر په غیرمجاز لګښتونو (لګښتونه د قرارداد، پلي شوي قوانینو یا مقرراتو لخوا منع شوي) کې شامل دي.

سربېره پردې کراو هاروات وموندل چې د متحده ایالاتو حکومت ARD ته دمخه چمتو کېدو کې د ګټې عوایدو محاسبه شوي 102 ډالر له لاسه ورکړي. کراو هاروات له ARD او USAID څخه د LGCD پروژې پورې اړوند مخکینۍ پلټنې راپورونو او نورو ارزونو غوښتنه وکړه خو اړوند راپورونه یې ترلاسه نه کړل.

د کراو هاروات په اند د ARD ځانګړي هدف مالي بیان په ټولو موادو، لاسته راغلي عوایدو، پیش شوي لګښتونو او بیلانس کې د سیګار لخوا رامنځته شوي اړتیاو سره په مطابقت کې د په نښه شوي دورو لپاره سم وړاندې شوي.

د پلټنې د پایلو پربنسټ، سیګار د USAID/افغانستان د ماموریت رییس ته وړاندیز کوي چې:

1. د 463,957 ډالرو په اړه چې په راپور کې مشکوک مصارف ښودل شوي څېړنه وکړي او د غیرقانوني مصارفو په صورت کې بیرته لاسته راوړي.
2. دمخه ورکړو څخه له لاسه تللي ګټې عوایدو 102 ډالر بیرته لاسته راوړي.
3. ARD ته مشوره ورکړي چې د راپور د داخلي کنټرول اته موندنې په نښه کړي.
4. ARD ته مشوره ورکړي چې د راپور د غیراجابت کولو شپږ موندنې په نښه کړي.

### مالي پلټنه 14-93-FA: په افغانستان کې د ټولنې میشته تعلیم پرمخ وړو لپاره د USAID ملګرتیا: د هغه لګښتونو پلټنه چې د پاملرنې نړیواله موسسې لخوا مصرف شوي

USAID د پاملرنه نړیوال (CARE) سره یوه تعاوني تړون ته دننه شوه چې په افغانستان کې د ټولنې میشته تعلیم په لاره اچولو لپاره ملګرتیا پلي کړي. نوموړی پروګرام د دې لپاره ټاکل شوی و چې د ملاتړي جوړښتونو او پروسو ته وده ورکولو، د کیفیت ښه کولو او د ټولنې میشته تعلیم او افغانستان د پوهنې وزارت ښوونځیو ترمنځ همکاري رامنځته کولو له لارې د ټولنې میشته تعلیم پراخه کړي. د کراو هاروات لخوا ترسره شوي د سیګار مالي پلټنې د 30,973,141 ډالرو لګښتونه بیاکتلي چې د 2006 اپریل 10 او 2011 اکست 31 ترمنځ پیښ شوي.

کراو هاروات کوم د داخلي کنټرول تشې یا غیراجابت موارد د پلي کیدونکي قوانینو، مقرراتو او د تعاوني تړون شرایطو او اوضاع سره په افغانستان کې د ټولنې میشته تعلیم رامنځته کولو لپاره د ملګرتیا تر پروګرام لاندې د CARE لخوا پیښ شوي لګښتونو پلټنه کې ندي موندلي. کراو هاروات کوم غیرمجاز لګښتونه (هغه لګښتونه چې د قرارداد، پلي شوي قوانینو یا مقرراتو لخوا منع شوي) یا ناملاتړ شوي لګښتونه (هغه لګښتونه چې د کافي اسنادو په واسطه نه و ملاتړ شوي چې کراو هاروات پرې وکولی شي درستي او د منلو وړتیا یې وټاکي) ندي پیژندلي.

کراو هاروات د افغانستان پروګرام کې د ټولنې میشته تعلیم رامنځته کولو لپاره ملګرتیا پورې اړوند موندنو راپور ندی ورکړی. د همدې لپاره سیګار دې پلټنې پورې اړوند کوم وړاندیزونه نلري.

## مالي پلټنه 14-94-FA: د USAID د افغانستان ټولنې ته اطلاع رسولو پروګرام: د AECOM نړیوالې پرمختیا شرکت لخوا پیښ شوي لګښتونو پلټنه.

د 2009 جولای په 5، USAID د AECOM نړیوالې پرمختیا شرکت سره یو قرارداد لاسلیک کړ. (AECOM) باید د ولسوالیو په کچه د ټولنې (*شوراګانې*) رامنځته کړې او د افغان حکومت او ټولنو ترمنځ ارتباطاتو او همکارۍ ته وده ورکړې. د افغانستان ټولنې ته اطلاع رسونې پروګرام (ASOP) ته دا ملاتړ دې ته نومول شوی و چې د سنتي شوراګانو رول پراخه کړي، په فساد غالب شي، او د ښځو، ځوانانو او نورو حاشیه وي ډلو لخوا سیاسي پروسه کې برخه اخیستنه ډیره کړي. د کیرنې او کمپنۍ (Kearney) لخوا سرته رسیدلې د سیګار مالي پلټنې د 2009 جولای 5 څخه تر 2012 جنوري 31 پورې د ASOP قرارداد ته ورکړل شوي لګښتونو 34,458,220 ډالرو بیاکتنه کړې.



د **USAID ASOP** برنامې د ولسوالیو د ټولنې شوراګانې رامنځته کړې، لکه په لوګر ولایت کې د دې غونډې په څیر، ترڅو د افغان دولت او ټولنو ترمنځ خبرو اترو او همغږۍ ته وده ورکړي. (د USAID تصویر)

کيرني د داخلي کنټرول موادو کې يو ضعف، داخلي کنټرولونو کې دوه د پام وړ تشې او د قرارداد شرايطو سره د اجابت نه درلودو دوه موارد موندلي. په ځانګړې توګه کيرني موندلي چې د AECOM داخلي پروسې د اسنادو له لاسه وتلو مخه نه نيسي يا د افغانستان ټولنې ته اطلاع رسووني پروګرام لپاره د ليږدونو بيک اپ ريکارډونو لپاره اسناد چمتو کړي. پدې ليږدونو کې معاشات، نور مستقيم لګښتونه، د پروګرام لګښتونه، فرعي قراردادونه، سفر او ورځني لګښتونه شامل دي. AECOM فرعي قراردادونو او نورو مستقيم لګښتونو پورې اړوند بياکتنو او تصويبونو د مديريت کافي اسناد چمتو نشو کړی. دې د USAID لخوا غيرمصرفي ملکيت پيرود لپاره د تصويب کافي اسناد هم چمتو نشو کړی، يا د غيرمصرفي ملکيت سمبالښت پورې اړوند کافي اسناد ندي چمتو کړي يا ساتلي. د يوې پايلې په حيث، کيرني 455,084 ډالر ناملاتړ شوي لګښتونو کې موندلي (هغه لګښتونه چې د کافي اسنادو لخوا ندي ملاتړ شوي ترڅو پلټونکي وکولی شي درستي او د منلو وړتيا يې وټاکي). کيرني کوم غيرمجاز لګښتونه ندي موندلي (هغه لګښتونه چې د قرارداد، پلي شوي قوانينو يا مقرراتو لخوا منع شوي وي).

علاوه لدې، کيرني د پلټنې يوه مخکيني راپور کې شپږ موندنې هم په نښه کړې چې د AECOM ځانګړې هدف مالي بيان باندې يې اغيز کولی شو. ځکه چې AECOM کوم شواهد ندي وړاندې کړي چې پدې اړه د سمون ګامونه اخيستل شوي وي، کيرني پايله کړې چې AECOM د دغه مخکينی پلټنې موندنو په نښه کولو لپاره د سمون مناسب ګامونه ندي اخيستي. کيرني د AECOM ځانګړې هدف مالي بيان باندې د اند يوه خبرتيا خپره کړې چې معنی يې دا ده چې کيرني د بيان سم وړاندې کولو باندې نظر بيانولو څخه منع کړی شوی و او دا چې ايا دا د توکو غلط بيان څخه پاک و. په ځانګړې توګه که څه هم AECOM د استازيتوب يو ليک لاسليک کړی، خو ليک اړين استازيتوب نه په نښه کوي چې له مخې يې کيرني د نظر په وړاندې کولو تکيه وکړي. د مثال په توګه AECOM د بيان ترتيب او سم وړاندې کولو پورې اړوند داخلي کنټرولونو سيستم لپاره د هغه مسؤليت نه تاييدوي.

د پلټنې د پايلو پربنسټ، سيګار د USAID/افغانستان د ماموريت رييس ته وړانديز کوي چې:

1. د 455,084 ډالرو په اړه چې په راپور کې مشکوک مصارف ښودل شوي څېړنه وکړي او د غيرقانوني مصارفو په صورت کې بيرته لاسته راوړي.
2. AECOM ته مشوره ورکړي د راپور د داخلي کنټرول درې موندنې په نښه کړي.
3. AECOM ته مشوره ورکړي د راپور غيراجابت دوه موندنې په نښه کړي.

### مالي پلټنه 14-95-FA: په افغانستان کې د امريکا بهرنيو چارو وزارت د ماين پاکولو فعاليتونه: د ماين پاکونې پلانولو اداري لخوا پيښ شوي لګښتونو پلټنه.

د 2008 اپريل 1 څخه د 2013 مارچ تر 31 پورې د بهرنيو چارو وزارت د وسلو لرې کولو او کمولو سياسي – نظامي چارو دفتر (PMWRA) ماين پاکووني اداري (MCPA) ته پنځه بلاعوضه مرستې کړې ـ په افغانستان کې د ماين پاکولو فعاليتونو لپاره افغانستان کې ميشته د ماين پاکولو نړيوال بشر دوستانه سازمان. دا بلاعوضه مرستې چې له 13 مليون ډالرو څخه ډيرې وې، په افغانستان کې د ځمکې ماينونو او ناچاوديدلې توکو لرې کولو لپاره ملاتړ چمتو کاوه. د RMA اسوشيټز LLC (RMA) لخوا سرته رسيدلې د سيګار مالي پلټنې د 2008 اپريل 1 څخه د 2013 مارچ تر 31 پورې پنځه بلاعوضه مرستو ته مخارجو کې 13.4 مليون ډالرو بياکتنه کړې.



**د پروان ولایت** ماین ساحي پاکولو کې په کار بوخت د MCPA څخه یو ماین پاکونکی. (د یوناما عکس)

RMA د MCPA لخوا پیښ شوي لګښتونو پلټنه کې څلور د داخلي کنټرول تشې او غیراجابت یو مورد موندلی. د مثال په توګه MCPA اسناد نه درلودل چې د پرتله ایز نرخ څېرنې او پیرود غوښتنو ملاتړ وکړي، د پیرود –غوښتنې اسناد یې نه درلودل او د سوداګرۍ تحویل کونکي شناخت یې ندی چمتو کړی. په ځانګړي توګه د درې بلاعوضه مرستو لاندې پیښ شوي لګښتنو لپاره MCPA د تجهیزاتو پنځه تدارکاتو لپاره د فدرال لاسته راوړنې قانون سره اجابت کې د نرخ څېرنو لپاره د داخلي کنټرول پروسه نده بشپړه کړې. د دې پروسې بشپړول به باور رامنځته کړي چې د متحده ایالاتو حکومت خپلو پیسو لپاره غوره ارزښت ترلاسه کوي. په اته مواردو کې MCPA د غوښتنې اسناد نه لرل چې له مخې یې تایید شي مدیریت یې لاسلیک او/یا د مخارج په سمه کوډ شوي بیانات لري. MCPA د تدارکاتو څلور لیږدونو لپاره د پیرود غوښتنې فارمونه هم چمتو نشو کړی. په نهایت کې MCPA د تحویل کونکو څخه اړین سوداګرۍ ثبت معلومات یا د څلور تدارکاتو لپاره ملي شناخت (شناسنامه) ندی راټول کړې. دا د شناخت منل شوي فارمونه دي چې دا ډاډ ورکوي چې پلورونکی معتبر دی او د متحده ایالاتو حکومت فنډونه به په مناسب ډول استعمال کړي.

د یوې پایلې په حیث، RMA ناملاتړ شوي لګښت کې 688,206 ډالر موندلي (هغه لګښتونه چې د کافي اسنادو لخوا نه وي ملاتړ شوي چې پلټونکو ته لاره هواره کړي د دې لګښتونو درستې او د منلو وړتیا یې وټاکي). RMA کوم غیرمجاز لګښتونه ندي موندلي (هغه لګښتونه چې د قرارداد، پلي شوي قوانینو یا مقرراتو لخوا منع شوي وي). د فنډونو تلفیق د 50,337 ډالرو کره بیلانس ښودلی کوم چې MCPA په 2012 دسمبر 31 بهرنیو چارو وزارت ته راپور کړي. د 2014 می کې – د پنځه بلاعوضه مرستو پای ته رسیدو له یو کال څخه ډیرې مودې وروسته – MCPA غوښتنه وکړه چې State د دې پاتې فنډونه د استعمال لپاره تصویب کړي. په هرصورت، سیګار دغه مقدار ترپوښتنې لاندې راولي ځکه چې غوښتنه، ممکن تصویب یې او د فنډونو کوم ډول استعمال به د پلټنې چوکاټ او د بلاعوضه مرستو د فعالیت دورې څخه بهر شي.

د پلټنې د پایلو په حیث، سیګار د بهرنیو چارو وزارت بلاعوضه مرستو افسر ته وړاندیز کوي چې:

1. په راپور کې پیژندل شوي غیرملاتړي لګښتونو 688,206 ډالرو د جواز وړتیا وټاکي او که مناسب وي بیرته یې لاسته راوړي.
2. د بهرنیو چارو وزارت لپاره له MCPA څخه 50,337 ډالر راټول کړي.
3. MCPA ته مشوره ورکړي چې د راپور څلور داخلي کنټرول موندنې په نښه کړي.
4. MCPA ته مشوره ورکړي چې د راپور غیراجابت یوه موندنه په نښه کړي.

## مالي پلټنه 14-100-FA د USAID د افغانستان ښاروالیو پیاوړي کولو پروګرام: د نړیوال ښار/کاونټي مدیریت سازمان لخوا پیښ شوي لګښتونو پلټنه

د 2007 می په 1، USAID نړیوال ښار/کاونټي مدیریت سازمان (ICMA) ته یو تعاوني تړون ورکړ چې د افغانستان د ښاروالۍ تقویت کولو پروګرام پلي کړي. په پروګرام کې ICMA غوښتل چې د عامه کارونو او ګټورو پروژو، له ښار څخه ښار سره ملګرتیاو او د بشري پلازمیني پرمختیا په څیر فعالیتونو له لارې د ولایاتو مرکزونو کې د عامه خدماتو وړاندې کولو ته وده ورکړي. د ویلیامز آډلي او کمپنې - DC LLP (ویلیامز آډلي) لخوا سرته رسیدلي د سیګار مالي پلټنې د 2007 می 1 څخه تر 2010 اګست 31 پورې د 25,124,306 ډالرو لګښتونو بیاکتنه کړې.

ویلیامز آډلي د USAID د افغانستان د ښاروالی تقویت کولو پروګرام پلي کولو کې د ICMA لخوا پیښ شوي لګښتونو پلټنه کې پنځه د داخلي کنټرول تشي او غیراجابت موارد موندلي. په ځانګړي توګه ویلیامز آډلي موندلي چې د ICMA داخلي کنټرول پروسي مستقیم لګښتونو، سفر او ټرانسپورټیشن، او د فعالیتونو لګښت کټګوریو پورې اړوند لیږدونو لپاره د کافي ملاتړي اسنادو د ساتلو ډاډ نه ورکوي. پدې کې له 1.4 ملیون ډالرو څخه ډیرو پیسو په ارزښت د USAID یوه امنیتي تړون تصویب شامل دی. ویلیامز آډلي دا یادونه هم کړې چې د ICMA له سفر پلي شوي قوانینو څخه ناسمه پوهه د دې لامل شوه چې په ناسمه توګه د USAID څخه د سوداګری طبقې سفر لګښتونو کې اوه سفرونو لپاره 40,000 ډالر واخلي. ویلیامز آډلي نور موندلي چې ICMA د ښاروالی فضلاتو مدیریت تجهیزاتو او د کنړ ولایت مرکز اسداباد کې یوې ودانیزې پروژې پورې اړوند سیالیز تدارکاتو لپاره خپلو پالیسیو پلي کولو کې پاتې راغلي.

د دې تشو او غیراجابت مواردو یوې پایلې په حیث ویلیامز آډلي 2,056,308 ډالر په ټولټال تر پوښتنې لاندې لګښتونو کې پیژندلي، چې 1,951,122 ډالر یې ناملاتړ شوي لګښتونه – او 105,186 ډالر یې غیرمجاز لګښتونه دي – غیرمجاز هغه لګښتونه دي چې د تړون، پلي شوي قوانینو یا مقرراتو لخوا منع شوي وي. ویلیامز آډلي پنځه مخکیني وړاندیزونه پیژندلي چې کولی یې شو د ICMA ځانګړې هدف مالي بیان باندې د توکو اغیز ولري. دې وموندل چې ICMA ټولو پنځه وړاندیزونو باندې د سمون ګام اخیستی. د تړپوښتنې لاندې لګښتونو کې له 2 ملیون ډالرو څخه ډیرو پورې تړلي د توکو اغیزو له امله ویلیامز آډلي د ICMA ځانګړي هدف مالي بیان باندې یو د شرایطو وړ اند ارایه کړی.

د پلټنې د پایلو پربنسټ، سیګار د USAID/افغانستان د ماموریت رییس ته وړاندیز کوي چې:

1. د 2,056,308 ډالرو په اړه چې په راپور کې د مشکوک مصارف ښودل شوي ځیرنه وکړي او د غیرقانوني مصارفو په صورت کې بیرته لاسته راوړي.
2. ICMA ته مشوره ورکړي چې د راپور داخلي کنټرول پنځه موندنې په نښه کړي.
3. ICMA ته مشوره ورکړي چې د راپور پنځه د غیراجابت موندنې په نښه کړي.

### مالي پلټنه 15-7-FA: د USAID افغانستان وچرونه په کرنه کې د ډیر شوي تولید لپاره: د هغه لګښتونو پلټنه چې د نړیواله سوکالي او پرمختګ شرکت(IRD) لخوا مصرف شوي دي.

د 2008 سپتمبر په 1، USAID نړیوال هوساینه او پرمختیا شرکت ته یو تعاوني تړون ورکړ. IRD په کرنیز پروګرام کې د ډیر محصول لپاره د افغانستان وچرونه پلي کوي. دا پروګرام دې ته نومول شوی و چې په افغانستان کې د خوراکي محصلاتو تولید ډیر کړي او بزګرانو ته د لاسرسي وړ او شوني کرنیز توکي چمتو کولو له لارې د هیواد خواړو اړتیاوې پوره کړي، نو د همدې لپاره د کار پروګرامونو لپاره نقدو پیسو له لارې د ټولنې او اقتصادي پرمختیا سره مرسته کوي. د کراو هاروات لخوا سرته رسیدلي د سیګار مالي پلټنې له 2008 سپتمبر 1 څخه تر 2013 اپریل 22 پورې ګمارل شوي لګښتونو 503 ملیون ډالرو بیاکتنه کړې.



**په افغانستان کې** د اساسي خوارو فصلونو ډیرولو لپاره د USAID برنامو کې د غنمو د تخمونو د توزیع په څیر فعالیتونه شامل دي. (د USAID تصویر)

کراو هاروات په داخلي کنټرولونو کې 14 د توکو ضعفونه او د پام وړ تشې او 12 د توکو غیر اجابت د تعاوني تړون شرایطو سره موندلي. کراو هاروات موندلي چې IRD د کرنې پروګرام ډیر محصول لپاره د افغانستان وچرونو لپاره لیږدونو او مالي ریکارډونو ملاتړ ته د کافي اسنادو چمتو کولو ورتیا نه درلوده. د مثال په توګه IRD ونشو کولی د دریې زره داره وسایطو لپاره مناسب ملاتړي اسناد چمتو کړي چې له مخې یې د USAID غیرمصرفي ملکیت سمبالښت اړتیاو سره اجابت پورې اړوند ټاکنه شوې وی. برسیره پردې، د IRD غیر مستقیم لګښتونه چې تړون ته اوښتي له تصویب شوي مقدار څخه تر 929,103 ډالر ډیر شوي. لانور، IRD د پیسو د تبادلې نامسه محاسبه او ثبت کړی چې د نامناسب لګښت پایله یې درلوده چې د متحده ایالاتو حکومت ته پیښ شوی. په نهایت کې IRD هغه 11,657 ډالر په پروګرام کې ندي پانګولي چې له پروګرام څخه یې په عاید کې ترلاسه کړي.

د دې تشو او غیراجابت یوې پایلې په حیث کراو هاروات 1,893,484 ډالر په ټولټال ترپوښتنې لاندې لګښتونو کې پیژندلي چې 294,513 ډالر ناملاتړ شوي لګښتونه دي ـ هغه لګښتونه چې د مناسب اسنادو لخوا ندي ملاتړ شوي یا دمخه اړین تصویب یې نه درلود ـ او 1,598,971 ډالر په غیرمجاز لګښتونو کې ـ هغه لګښتونه چې د تړون، پلې شوي قوانینو یا مقرراتو لخوا منع شوي.

کراو هاروات دا هم مشخص کړي چې IRD دمخه ډېر نقد بيلانسونه هم کړي چې د متحده اياالتو حکومت ته يې د 5,754 ډالرو تاوان پايله درلوده. کراو هاروات د IRD مخکيني پلټنې هم بياکتلي مګر مشخص کړې ده چې موندني دې پلټنې سره ارتباط نه درلود. کراو هاروات د څانګړي هدف مالي بيان باندې د اند يوه خبرتيا خپره کړې. په ځانګړي توګه کراو هاروات وړ نه و چې په بيان کې موجود معلومات تاييد کړي د همدې لپاره د اند خپرولو څخه منع کړی شوی و ځکه چې (1)IRD وړ نه و د پلټنې کافي شواهد توليد کړي ترڅو وټاکل شي چې ايا د ترون لاندې لاسته راغلي عوايد لکه څنګه چې په بيان کې راپور شوي د توکو له پلوه درست او بشپړ معتبر و، او (2) ځينې د فرعي قرارداد او فرعي تضمين ليږدونې په مالي ثبتونو کې په متناقص ډول ثبت شوي وې.

د پلټنې د پايلو پربنسټ، سيګار د USAID/افغانستان د ماموريت رييس ته وړانديز کوي چې:

1. د 1,893,484 ډالرو په اړه چې په راپور کې مشکوک مصارف بنودل شوي څېړنه وکړي او د غيرقانوني مصارفو په صورت کې بېرته لاسته راوړي.
2. له IRD څخه USAID ته د ورکړې وړ ګټې کې 5,754 ډالر لاسته راوړي.
3. IRD ته مشوره ورکړي چې د راپور د داخلي کنټرول 14 موندنې په نښه کړی.
4. IRD ته مشوره ورکړي چې د راپور د غيراجابت 12 موندنې په نښه کړی

## معايني

### د تفتيشاتو رپوټونه خپاره شول

پدې ربع کې سيګار د تفتيش يو راپور خپور کړی. دې په پل چرخي زندان کې غير مناسب کارونه پېژندلي او د قرارداد اړتياو پر اساس کارونه ندي بشپړ شوي. دا يې هم موندلي چې زندان کارول کېږي خو ډيره ګنه ګوڼه پکې ده.

#### بشپړ شوي تفتيشات

- تفتيش IP-11-15: د پل چرخي زندان: د ترميم او بياجوړولو پروژه د 5 کالو او 18.5 مليون ډالرو مصرف وروسته هم نده بشپړه شوې

#### تفتيش IP-11-15: د پل چرخي زندان

**د جوړونې پروژه د 5 کالو او 18.5 مليون ډالرو مصرف وروسته هم مکمل کيدو څخه خورا لرې پاتې ده**

پلی چرخي زندان چې د افغانستان ترټولو لوی توقيفي ودانی ده په 1973 کې د شاوخوا 5,000 زندانيانو د ساتلو لپاره جوړ شوی و. په 2009 جون کې، د بهرنيو چارو وزارت د نړيوالو ترياکو او قانون پلي کولو چارو بيورو (INL) الوطن ساختماني شرکت (AWCC) ته د 20.2 مليون ډالرو په ارزښت يو اصلاح شوی قرارداد ورکړ چې د زندان د بلاک ساحې انفرادي بند خونو باندې واړوي او د زندان زيربنا ترميم کړي پشمول د نلدوانی، برېښنا او سپټيک سيستمونو. د 2010 نومبر په 26 د بهرنيو چارو وزارت د اسانتيا لپاره قرارداد پای ته ورساو. د بهرنيو چارو وزارت د پانګې پرمختيا دې پروژې هم تمويل کړې چې 5.3 مليون ډالرو په لګښت يو څښاک اوبو ټانکر، د سوداګريزې برېښنا وده او د کارمندانو نوې بارکونه و. دا درېواړه پروژې د افغانستان زندانونو چارواکو ته ليږدول شوي. سيګار ارزولې چې ايا (1) کار د قرارداد غوښتنو او د ودانيز معيارونو سره په مطابقت کې بشپړ شوی که نه، او (2) د زندان ودانی لکه څنګه چې ټاکل شوي کارول کيږي.



**د فضا څخه** یوه منظره یا عکس د پل چرخي زندان ودانۍ ښيې. (د INL تصویر)

د ترمیم او نوي کولو کار د پیل څخه پنځه کاله وروسته، د پل چرخي زندان ندی بشپړ شوی او قرارداد د اسانتیا لپاره پای ته رسول شوی. INL د قرارداد ارزښت 20.2 ملیون ډالرو څخه 18.5 ملیون ډالر AWCC ته ورکړي که څه هم AWCC د غوښتل شوي یوازې 50% بشپړ کړی. لدې هاخوا یوه خپلواک شرکت د ناسم کار موارد موندلي په شمول د چټلو ګودالونو ناکامي، د بامونو ناسم پټول او د خاورې ځای پرځای کولو مسلې. سیګار وموندل چې AWCC د قرارداد اړتیا سره سم ټول کار ندی بشپړ کړی. خورا د یادونې وړ، AWCC د چت فلزي سیخونو پرځای پرته له اجازې لرګي کارولي او د 30 کالو پخواني لرګو ستنې یې د چت نوي موادو سره پوښلي پرځای د دې چې د اړتیا سره سم یې بدل کړي وی. د AWCC کار د قراردادي یوه افسر پلاوي لخوا نظارت کیده – چې د بهرنیو چارو وزارت کارمند و ـ څوک چې وروسته بیا متحده ایالاتو کې د مختلف قراردادونو څخه د بډو اخیستو په تور محاکمه شو.

د بهرنیو چارو وزارت پلان لري چې د ترمیم او نوي کولو کار پاتې برخې بشپړولو لپاره د اټکل له مخې 11 ملیون ډالرو قرارداد ورکړي او بل د 5 ملیون ډالرو قرارداد د فاضل اوبو د تصفیه کارځای جوړولو لپاره. فاضل اوبه د دوه سیپټیک/جالیو ځاینو سطح باندې بهیږي چې AWCC د ترمیم او نوي جوړونو قرارداد پراساس نصب کړي سره لدې چې د نصب دمخه ټیسټونه سرته رسیدلي و ښیې چې دا ډوب بهیدنه کیدی شي د خاورې پوست والي امله رامنځته شي. د INL چاراوکي پلان لري چې دوه نوي قراردادونه د 2014 نومبر کې ورکړي، مګر INL د مځکې پرسر ذخیرې باندې تمرکز کوي د دې پرځای چې مصرف یې کم وي یا نور په اسانه ساتل کیدونکي بدیلونه شتون ولري. دواړه پروژې به نظارت کیدو ته اړ وي چې د اوضاع له تکرار څخه مخنیوی وشي چې د ترمیم او نوي جوړونې اصلي کار کې رامخته شوي. یو توکی چې باید ونه ځنډیږي د ډیزل جنراتورونو شپږ بیک اپه دي چې نصب شوي ول خو هیڅ کله د زندان بریښنا سره وصل کړی شوي ندي.

د ترمیم او نوي جوړوني قرارداد لاندې موندل شوي مسلو په پرتله کې، سیګار وموندل چې درې د پانګې پرمختیا پروژې – د اوبو ټانکر، سوداګریزه بریښنا او د کارمندانو بارکونه – په مجموع کې د قرارداد غوښتنو سره په مطابقت کې بشپړې شوې. لدې هاخوا، د پل چرخي زندان کارول کیږي خو ډیر زیات زندانیان یکې ځای پرځای کړی شوي چې په دهلیزونو کې هم بندیان میشته کړي. نوموړی زندان د 5,000 بندیانو لپاره ډیزاین شوی و خوا دا مهال یکې 7,400 نفر ځای پرځای شوي. په وړو خونو کې د زنداني ساتلو امنیتي ګټه چې د ترمیم او نوي جوړوني ابتدایی اساسات و چې کولی شو حد اکثر امنیت او نور زندانیان سره جلا کړي له لاسه وتلي. د ډیرې ګڼې ګوڼې برسیره سیګار موندلي چې زندان په ورته توګه ښه ساتل شوی.

سیګار وړاندیز کوي چې د بهرنیو چارو وزیر INL ته لارښوونه وکړي چې (1) وټاکي ترکوم حد پورې AWCC د اجازې پرته د فلزي ستنو لپاره لرګي کارولي یا پوښلي یې دي د دې پرځای چې موجود د لرګو ستني بدل کړي او له قراردادي څخه د فنډونو بیرته لاسته راوړو لپاره ګامونه پورته کړي؛ (2) د معلوماتو پوښتنه پرمخ ویسې چې ایا د قرارداد کولو افسر د AWCC سره د عادلانه حل او فصل توافق ندی مزاکره کړی، د سریع شوي ودانیز مهالویش تادیات مستند کړي او که مناسب وي نو فنډونو بیرته لاسته راوړو لپاره ګامونه پورته کړي؛ (3) د فاضل اوبو د مدیریت سیستمونو بدیل د لګښت ګټې څیرنې په لاره واچوي، او که چیرې تضمین شو د وړاندیز شوي حلونو درلودونکي معلوماتو لپاره غوښتنه وکړي ترڅو د زندان د فاضل اوبو مدیریت سیستم اداره شي؛ (4)د ترمیم او نوي جوړوني کار تعقیب او د فاضل اوبو ذخیرې جوړولو پیل څخه مخکې ډاډ ترلاسه کړي چې دا یو لیکلی د نظارت پلان لري ترڅو د دغه دوه قراردادونو کار پکې وڅارل شي؛ او (5) او د یوه جلا قرارداد ورکولو د لګښت ګټې څیرنې په لاره واچوي او د کار ښه په ښه کړي د تسریع پر بنسټ – ترڅو د زندان د بریښنا شپږ ډیزلي جنراتورونو بیک اپ سرته ورسوي.

## پدې ربع کې د سیګار نوي اعلان کړي تفتیشونه

پدې ربع کې سیګار درې نوي تفتیشونه پیل کړي. هر تفتیش به دا ارزونه وکړي چې آیا (1) ساختماني کار د قرارداد د ارتیاو او اړوندو ساختماني ستندردونو په اساس بشپړیږي، او (2) د تاسیساتو یوه برخه که هره یوه وي، چې ورڅخه کار اخیستل کیږي، د موخو لپاره ورڅخه کار اخیستل کیږي او په مناسبه توګه یې ساتنه کیږي. دا تفتیشونه به لاندې موارد وارزوي:

- د کندهار هوای ډګر سویل پارک سیمه کې د ګودام ودانۍ
- کندهار هوای ډګر کمپ براون کې د ځانګړي عملیاتو کاري ځواک – سویل قوماندانۍ او د کنټرول ودانۍ
- د مخدره موادو ضد عدلي مرکز

نوی تفتیشات

- د کندهار هوای ډګر د سویل پارک سیمه کې د ګودام ودانۍ
- کندهار هوای ډګر کمپ براون کې د ځانګړي عملیاتو کاري ځواک – سویل قوماندانۍ او د کنټرول ودانۍ
- د مخدره موادو ضد عدلي مرکز

## د سیګار د وړاندیزونو څرنګوالی

د ځانګړي عمومي پلټونکي 1978 کال لایحه، لکه څنګه چې اصلاح شوی، د سیګار څخه غواړي تر څو د خپل سپارښتنو د وضعیت په هکله ریوټ ورکړي. پدې ربع کې سیګار 29 وړاندیزونه تړلي چې د پلټنې 11 راپورونو کې و. د وړاندیزونو څخه ځلورو یې په غیرمجاز او نامالتړ شوي لګښتونو کې د 1,978,151 ډالرو بیرته لاسته راوړو پایله درلوده چې د متحده ایالاتو حکومت لخوا ورکړل شوي. (مالي پلټنې FA-13-09، FA-14-18 او FA-14-23) له 2009 څخه تر 2014 پورې سیګار 150 پلټنې، د خبرتیا لیکونه او د تفتیش راپورونه خپاره کړي 453 وړاندیزونه یې د فنډونو بیرته لاسته راوړو، د ادارو ځار ته وده ورکولو او د پروګرام مؤثریتونو ډیرولو لپاره کړي.

سیګار د دغه وړاندیزونو له 81% ډیر ترلي. د یوې سپارښتنې ترل دا معنا ورکوي چې یوې اداري د سیګار سپارښتنه پلي کړې ده او یاهم موضوع ته په مناسبه توګه پاملرنه شوې ده. په ځینو قضیو کې، یوه ترل شوې سپارښتنه د پلټنې په راتلونکي کارونه کې کتل کیږي.

د 1978 عمومي پلټونکي قانون، لکه څرنګه چې تعدیل شوی، دا غوښتنه هم کوي ترڅو سیګار د تیر راپور مهمو سپارښتنو په اړه راپور ورکړي چې په اړه یې د سمون ګامونه ندي اخیستل شوي. پدې ربع کې، سیګار پروړاندیزونو د اداري فعالیتونو نظارت ته په 29 پلټنو او پنځه تفتیش راپورونو کې دوام ورکړ. پدې ربع کې د 12 میاشتو پورې زاړه کوم وړاندیزونه و چې اداري یې کوم د سمون پلان رامنځته کړی وی چې سیګار باور درلود دا پیژندل شوې ستونزې یې هغه له مخې حل کړي وی. په هرصورت د 12 میاشتو زاړه شپږ د پلټنې راپورونه شتون لري چې سیګار پکې اړوند ادارو ته انتظار باسي د سمون فعالیتونو لپاره د دوی توافق بشپړ کړي.

سیګار پدې وروستیو کې د دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو او USAID کې د اداري د حل پروسې پلټنې پیل کړي. پلټنې پدې ادارو کې د پلټنې حل ته رسیدو لپاره د پروسې دریځ او څار ازموینه کوي. سیګار د بهرنیو چارو وزارت لپاره تیرې ربع کې نهایی راپور خپور کړ او نږدې 75% پلي کیدل یې پکې وموندل. پدې ربع کې سیګار د USAID لپاره نهایی راپور خپور کړ او 80% پلي کیدل یې پکې وموندل. تمه کیږي چې د دفاع وزارت کې ترسره شوې کار لپاره راپور وروسته پدې کال کې خپور شي.

## ځانګړې پروژې

د عمومي پلټونکي د ځانګړي پروژو دفتر د پیښیدونکي مسلو ازمولو او فدرالي ادارو او کانګریس ته د ګړندي، تعقیب وړ راپورونو وړاندې کولو لپاره رامنځته کړی شوی و. دا ډله بیلابیلې ارزونې کوي او د افغانستان د بیارغونې په ټولو برخو کې راپورونه جوړوي. په دې څانګه کې پلټونکي، تحلیل کونکي، محققین، قانونپوهان، د اړوند مسایل ماهرین، او نور متخصصین راټول شوي او کولی شي د رابرسیره کیدونکي مسایلو او پوښتنو په مقابل کې بیړنی او په ګډه سره د حل لارې ومومي.

د سیګار ځانګړي پروژو دفتر د متحده ایالاتو اردو د انجینرانو قل اردو (USACE)، USAID، د امریکا دفاع وزارت، IRD، DynCorp، د ملګرو ملتونو پراختیایی پروګرام (UNDP)، CSTC-A، د متحده ایالاتو هوای ځواک، د متحده ایالاتو مرکزي قومانده (CENTCOM)، او د امنیت نړیوال مرستندویه ځواک (ایساف) ته د معلوماتو پوښتنو مکتوبونه استولي. دې مکتوبونو د یولړ مسلو په اړه اندیښنې بیان کړي، په شمول د کمپ شاهین کې د سونګ توکو د ذخیره کولو ناخوندي ټانکرونه، د کندهار برېښنا رسولو د حل لپاره د پلانونو درستي، په سرې پل کې د یوه خطرناک بنوونځي رالویدل، د فساد پر ضد هڅې، د مخابراتي ستنو په اړه د معلوماتو غوښتنې ته نامکمل ځواب، د معلوماتو شریکولو محافظت معلوماتو په اړه ستونزمن ځواب، د TCNs د احتمال له مخې استثماریدونکی کار ګمارنه، د LOTFA ضعیف نظارت، د پل چرخي ولسوالی کې ANA لپاره غیر اړین دوهم مسلخ، د 16 G222 الوتکو پرزه کول، د USAID تر پوښتنې لاندې لګښتونو بیرته لاسته راوړل، د امنیتي لګښت لوړیدو له امله د قرارداد فسخ کیدل، د امریکا دفاع وزارت د ډیرو تجهیزاتو د توزیع پروسې نامکمل اسناد، او احتمالا په ناکارول شوي مخاراتي وسیلو بې ځایه مصارف. دې دفتر د CSTC-A، بهرنیو چارو وزارت او USAID لخوا افغان حکومت ته مستقیم مرستې چمتو کولو کې کارول شوې پروسې او کنټرولونو بیاکتنه هم سرته رسولې. د ځانګړي پروژو دفتر یو ځانګړی راپور هم خپور کړی چې د تریاکو سره مبارزې کې د متحده ایالاتو 7 ملیارد ډالرو پانګوونې برسیره، له هر وخت څخه د تریاکو لوړ کښت ازموي.

### بشپړې شوې ځانګړې پروژې

- ځانګړې پروژه SP-14-86: د پوښتنې مکتوب: د سونګ توکو د ذخیره کولو ټانکرونه
- ځانګړې پروژه SP-14-87: د پوښتنې مکتوب: د کندهار پلین حل
- ځانګړې پروژه SP-14-88: د پوښتنې مکتوب: د امریکا دفاع وزارت د فساد سره مبارزې هڅې
- ځانګړې پروژه SP-14-89: د پوښتنې مکتوب: په سر پل کې د کورک ازبکې ښوونځي راولیدل
- ځانګړې پروژه SP-14-90: د پوښتنې مکتوب: د مخابراتي ستنو ځواب
- ځانګړې پروژه SP-14-92: د پوښتنې مکتوب: د IRD د معلوماتو شریکول خوندیتوب ځواب
- ځانګړې پروژه SP-14-96: د پوښتنې مکتوب: په افغانستان کې د کار لپاره د دریم هیواد اتباعو ګمارنه
- ځانګړې پروژه SP-14-97: د پوښتنې مکتوب: په افغانستان کې د کار لپاره د دریم هیواد اتباعو ګمارنه
- ځانګړې پروژه SP-14-98: د پوښتنې مکتوب: د LOTFA د UNDP د څار ځواب
- ځانګړې پروژه SP-14-99: د پوښتنې مکتوب: د CSTC-A د UNDP د LOTFA د نظارت او مالي مدیریت رول
- ځانګړې پروژه SP-14-101: د پوښتنې مکتوب: د افغان د بودیجې غوښتنه
- ځانګړې پروژې SP-78: د ANSF د ارتباو معتبریت
- ځانګړې پروژه SP-15-02: د پوښتنې مکتوب: په کابل نړیوال هوای ډګر کې د 16 G222 الوتکو پرزه کول
- ځانګړې پروژه SP-15-03: د پوښتنې مکتوب: په پل چرخي ولسوالی کې د ANA مسلخ خونه
- ځانګړې پروژه SP-15-04: د پوښتنې مکتوب: په رامسټن هوای ځواک بیس، المان کې د څلور G222 الکوتکو حالت
- ځانګړې پروژه SP-15-05: د پوښتنې مکتوب: د USAID ترپوښتنې لاندې لګښتونه
- ځانګړې پروژه SP-15-06: د پوښتنې مکتوب: د امنیتي بدلونو له امله د قرارداد پای ته رسول
- ځانګړې پروژه SP-15-08: په افغانستان کې د متحده ایالاتو تر ملکیت لاندې د اضافي تجهیزاتو سمبالښت
- ځانګړې پروژه SP-15-09: د پوښتنې مکتوب: د بهرنیو چارو وزارت مخابراتي وسایل
- ځانګړې پروژه SP-15-10: ځانګړی راپور: په افغانستان کې تریاکو کښت
- ځانګړې پروژه SP-15-14: بیاکتنه: مستقیمه مرسته: د CSTC-A، بهرنیو چارو وزارت او USAID لخوا کارول شوې پروسو او کنټرولونو بیاکتنه

**د معلوماتو مکتوب 14-86-SP: د سونګ توکو د ذخیره کولو ټانکرونه**
د 2014 د جولای په 31 سیګار د USACE قوماندان ته ولیکل چې په ترڅ کې یې کمپ شاهین ته د بریښنا چمتو کولو لپاره د بریښنا تولید ځای کې د سونګ توکو ذخیرو په تړاو د خوندیتوب چټکي اندیښنې خبرداری ورکړ شو. د سونګ توکو دغه عمده ذخیره په درستی سره نه دي جوړې شوي چې د اوبه او کچړه ککړتیا) ترې لرې کول ممکن وي. که چیرې اوبه او ککړتیا دي ټانکرونو کې ځای ونیسي نو د بریښنا هغه تولید چې لدې لارې کیږي د تخنیکي پلوه ناکامی سره مخ کیږي. دې ورته، د سونګ توکو ټانکرونو لپاره د عملیاتو او ساتنې قراردادونه په هر شپږ میاشتې کې یوځل د اوبو او ککړتیا لرې کولو غوښتنه کوي. د ګردیز په کمپ تندر کې د سونګ توکو ککړتیا دمخه د بریښنا تولید ناکامی لامل شوې.

**د معلوماتو مکتوب 14-87-SP: د کندهار پلین حل**
د 2014 جولای په 30 سیګار د امریکا دفاع وزارت، بهرنیو چارو وزارت او USAID چاراواکو ته ولیکل چې د کندهار برښنا وصلولو او د 2014 دسمبر وروسته کندهار ته د بریښنا چمتو کولو لپاره متحده ایالاتو حکومت پلانونو په اړه د سیګار د جون 10 نیټې پوښتنې مکتوب ته ځوابونه په نښه کړي. دغه ځوابونو سیګار ته یوځه اعتماد ورپه برخه کړ چې په کندهار کې د بریښنا وړاندې کولو مهم اهداف او د بنسټیز خدماتو چمتو کولو او د ژوند اوضاع ته وده ورکولو لپاره د افغان حکومت وړتیا څرګندول به ترلاسه شي. سره لدې سیګار اندیښمن دی چې متحده ایالات افغان حکومت سره مرسته کولو ته اوس هم ریالیستیک پلان نه لري چې د کندهار بریښنا وصلولو حل او داسې ټکي ترمنځ د بریښنا مداوم سرچینه رامنځته کړي په کوم کې چې د بریښنا تولید پایداره سرچینه شتون ولري.

**د معلوماتو مکتوب 14-88-SP: د امریکا دفاع وزارت د فساد سره مبارزې هڅې**
سیګار د 2014 جولای په 31 د متحده ایالاتو ځواکونو – افغانستان (USFOR-A) قوماندان ته ولیکل چې د 2014 پای کې د متحده ایالاتو محاربوي عملیاتو پای ته رسیدو وروسته په افغانستان کې د فساد سره مبارزې ته د پروګرامونو او کاري ځواکونو لپاره د متحده ایالاتو نظامي ملاتړ ساتلو لپاره پلانونو په اړه پوښتنه وکړي. فساد د افغانستان بیارغونې ته د خورا جدي موانع څخه یو ګڼل کیږي، او که څه هم متحده ایالات د فساد پروړاندې مبارزې لپاره جامع ستراتیژي نه درلوده، د متحده ایالاتو اردو ادارو ډیری کاري ځواکونه رامنځته کړي چې پراخه فساد په نښه او مبارزه ورسره وکړي. سیګار اندیښنه لري چې د فساد له منځه وړو لپاره د دې کاري ځواکونو او نورو نوښتونو ساتل به ډیریدونکې پیچلتیا رامنځته او ستونزمن شي ځکه چې د متحده ایالاتو نظامي په شا تګ ګړندی کیږي او افغان حکومت ډیری مسؤلیتونه په خپله غاړه اخلي.

د 2014 سپتمبر په 18 په ايساف کې د ادارو ترمنځ ګډ کاري ځواک ځواب ورکړ چې دا د نوي رهبريت لاندې له سره تنظيم کېدو په حال کې و. ايساف نوي نهادي مسؤليتونه شرح کړل او دا څرګندوالی چې هريو به يې څنګه د ګډ او ائتلاف عملياتي ځيرنو د فساد پروړاندې مبارزې راپور موندنې حلونه ولټوي کوم چې پايله کړي "د هڅو يووالي نه شتون د CAC عملياتو اغيزمنتيا کموي" او "د GIRoA (افغان دولت) لخوا د سياسي ليوالتيا نه شتون د فساد پروړاندې کابو ټولې هڅې د بحث وړ کړي."

### د معلوماتو مکتوبSP-89-14: د کورک ازبکي ښوونځی په سری پل کې راولوېد

سيګار د 2014 سپتمبر په 9 د USAID افغانستان لپاره ماموريت رييس ته يو د معلوماتو مکتوب واستاو چې د دې ادارې لخوا ملاتړ شوي يو پروګرام تمويل شوی يو ښوونځی چې پدې وروستيو کې راوليدلی، په اړه د رسنيو راپورونو ته د USAID ځواب په اړه معلومات وړاندې وکړي. د رسنيو راپورونو ښودلې چې د ښوونځي د چت راوليدو پرمهال تر 32 پورې زده کونکي او يو ښوونکی ټپي شوي. يوه افغان چاراواکي وويل چې دغه ښوونځی ځلور کاله وړاندې د ملي پيوستون پروګرام (NSP) لخوا جوړ شوی و. NSP د افغانستان ځواړخيز بيارغونې وجهي صندوق له لارې افغان حکومت ته ورکړل شوي فنډونه اداره کوي کوم ته چې USAID د مستقيم بوديجې مرسته چمتو کوي.

د 2014 سپتمبر په 22 وروسته د USAID افغانستان لپاره ماموريت سرپرست رييس ځواب ورکړ چې دې ادارې د کورک ازبکي ښوونځي لپاره هيڅ فنډ ندی ورکړی چې د USAID وينا له مخې دا د نړيوال بانک فنډونو سره جوړ شوی و. د ادارې د ځواب په وينا، " USAID نړيوال بانک سره اړيکه ونيوله ترڅو دې پيښې پورې اړوند شرايطو په اړه نور معلومات ترلاسه کړي."

### د معلوماتو مکتوب SP-90-14: د مخابراتي ستنو ځواب

د 2014 سپتمبر په 9 سيګار د بهرنيو چارو وزير جان کيري ته وليکل چې په افغانستان کې جوړې شوې د مخابراتو شپږ ستنو پورې اړوند د سيګار 2014 فبروري 25 نېټې ليک ته د بهرنيو چارو وزارت ځواب په نښه کړي. د بهرنيو چارو وزارت ځواب پراساس، سيګار انديښمن دی چې د 6.5 مليون ډالرو پروژه هيڅ کله د نومول شوي هدف لپاره نه کارول شوی، د پروژې پلانولو او اجرا کولو لپاره مسؤل چاراواکو سره بيرغونه په پام کې نه و نيولې چې د پروژې معتبريت په اړه يې انديښنې راپورته کولې. د بهرنيو چارو وزارت سيګار ته ځواب هم د مخابراتي ستنو پروژې پورې اړوند کليدي قراردادي او نور اسناد شاملولو کې پاتې راغلی. د بهرنيو چارو وزارت د سيګار پوښتنې مکتوب ته د اکتوبر په 9 نيټه ځواب ورکړ او سيګار دا مهال توضيحي ځواب ځيري.

**د معلوماتو مکتوب SP-92-14: د IRD د حقایقو راسپړلو خوندیتوب پروګرام**

د 2014 جولای په 30 سیګار IRD ته د سیګار د اصلي پوښتنې لیک په اړه د کمپنۍ ځواب په نښه کولو لپاره ولیکل چې د 2014 مې په 20 استولی و. د سیګار د IRD کارمندانو لخوا لاسلیک شوي 81 جلاکولو تړونونو بیاکتنه کې ټاکلې چې له دغه تړونونو 48 یې د نه منلو وړ محدودیت طرحې لري چې د پخواني کارمندانو د حقونو محدود کولو هڅه کوي. علاوه لدې، د IRD لخوا 48 مخکیني کارمندانو ته لیږل شوي بریښنا لیکونه هم پدې کې پاتې راغلي چې صریحا وښیي د محدودیت دا شرایط د احتمالي معلوماتو شریکونکو په حیث د زړو کارمندانو د حقونو په پام کې نیولو سره باطل او بې اثر دي.

د احتمالي معلوماتو شریکونکو په حیث د زړو کارمندانو د حقونو څخه د هغوی خبرولو لپاره د IRD ورکړل شوي مداوم مقاومت، سیګار غوښتنه کړې چې IRD خپلو 48 پخوانیو کارمندانو ته چې د محدودیت شرایطو جلا کولو تړونونو لاسلیک کولو ته یې اړ ایستلي و، لیک واستوي او هغوی د غلط ادعاو قانون او 41 U.S.C. § 4712 پراساس د هغوی د حقونو څخه خبر کړي. سیګار دا غوښتنه هم کوي چې IRD خپل د راتلونکي جلا کولو ټولو تړونونو کې 41 U.S.C. § 4712 پورې اړوند مناسب ژبه شامل کړي. دا ډول ژبه باید یو روښانه بیان شامل کړي چې د جلاکولو تړون کوم شرط به د 41 U.S.C. § 4712 یا د معلوماتو شریکولو محافظت کوم بل قانون لاندې د دوی د حقونو باطل کونکي په حیث تعبیر نشي.

د سیګار لیک دا هم غوښتلي چې IRD شواهد وړاندې کړي چې خپل اوسني کارمندان یې د 41 U.S.C. § 4712 لاندې د دوی له حقونو څخه خبر کړي او د دولت ټولو هغه دفترونو لیست یې ورته چمتو کړی چې د محفوظ معلوماتو شریکول ورسره مجاز دي. په نهایت کې د پوښتنې لیک له IRD څخه غوښتلي چې خپل د سوداګرۍ اخلاق او پرمخ وړو اصلاح شوی کوډ ولیږي، په بیله بیا د دې د زوړ سوداګرۍ اخلاقو او پرمخ وړو کوډ بیاکتنې پایلې.

سیګار له IRD څخه یو لیکلی ځواب ترلاسه کړ چې د شرکت هغه ګامونه پکې توضیح شوي و چې د معلوماتو شریکولو حقونو په محافظت د سیګار غوښتنې په نښه کوي. سیګار د ځواب څیړلو په حال کې دی.

**د پوښتنې مکتوبونه SP-96-14 او SP-97-14: په افغانستان کې د کار لپاره د دریم هیواد اتباعو ګمارنه**

د 2014 سپتمبر په 12 سیګار DynCorp نړیوال شرکت (DynCorp) او د متحده ایالاتو اردو د ثبات او قراردادکولو قوماندې ته ولیکل چې د دریم هیواد اتباع (TCNs) د ناسم ګمارنې په اړه یې د راپور ورکوونې تیرې دورې پرمهال استولي د پوښتنو دوه مکتوبونو کې بیان شوي اندیښنې یې پکې منعکس کړې.

دا اندیښنې وروسته له هغه پیدا شوې چې د سیګار ځانګړي اجنټانو د دریم هیواد اوسیدونکي کارکونکو سره مرکې وکړې چې دوی بیا وویل معمولا اړ وي چې په خپلو هیوادونو کې د لوړ سود سره پور واخلي ترڅو د کارګمارنې فیسونه تادیه کړي. په ځینې قضیو کې، د دغه مقدارونو بیرته ورکړه د دوی د کار ډیرې میاشتې نیسي چې TCN کارکونکي یې د فیسونو په توګه ورکړې لپاره پور کوي. د پور دا لوړې کچې ډیرې وختونه TCNs ته دا ستونزه ورپیښه کوي چې دوی نشي کولی له امله یې خپلې دندې پریږدي.

د متحده ایالاتو نظامي بیسونو کې په کار بوخت دریم هیواد اوسیدونکو د ناسم ګمارنې کړنو او ناوړه چلند په اړه خپل تحقیق ته د دوام ورکولو لپاره د سیګار لیکونه د دې مواردو په اړه اضافي معلومات او ریکارډونه غواړي: (1) د DynCorp نړیوال مطابقت د ډیری قوانینو، پالیسیو او قرارداد شرایطو سره چې د انسان تجارت منع کوي؛ او (2) د متحده ایالاتو د اردو ثبات او قرارداد کولو قوماندې د انسان تجارت پروړاندې د حکومت د صفر زغم پالیسي پلې کولو لپاره طرزالعملونه.

د 2014 سپتمبر 30 نیټې یوه لیک کې، د متحده ایالاتو اردو د موادو قومانده چې د ثبات قومانده او د قرارداد کولو قومانده یې یوه برخه ده، د امریکا دفاع وزارت د انساني تجارت مقرراتو ته خپله ژمنتیا تکرار کړه او دا چې د جګړې په وخت کې ټولو قراردادونو کې د تجارت ضد اړوند فقرې شامل کړی شوي، په شمول د LOGCAP. قوماندې په نښه کړي چې دا به په نږدې نیټه کې د سیګار د معلوماتو غوښتنې لیک په واسطه په نښه شوي د انسان تجارت نورو ځانګړې مسلو باندې اضافي معلومات چمتو کړي.

## د معلوماتو مکتوب SP-98-14: د LOTFA د UNDP د څار ځواب

سیګار د 2014 سپتمبر په 12 د UNDP اداره کونکې ته یو لیک ولیږه چې د UNDP د LOTFA اداره کولو په اړه د سیګار د 2014 د می 13 نیټې اصلي پوښتنې ته د UNDP د جون 6 ځواب وښیي. سیګار یادونه کوي چې د څار مسؤلیتونو پورې اړوند د UNDP ځواب د LOTFA مالي ټرون کې موجود ژبې سره تناقص لري او د هغه ستونزو په اعلامولو کې پاتې راغلی چې د پروګرام زیانمنولو ته دوام ورکوي. پدې مسلو کې د ANP په جعلي توګه پرسول شوي معاشاتو احتمالي ورکړه، د MOI معاش کسرونو پورې اړوند ممکن درغلي، د LOTFA پروړاندې ناملاتړ شوي لګښتونه، غلط کوډ شوي او غیرمجاز مخارج، منحرف شوي فنډونه، او MOI او د ANP پرسونل ته مستقیم نقدي مخارج شامل دي.

لدې هم مشکل د UNDP ښکاره ادعا ده چې ګویا دا نهاد مسؤل ندی چې ډاډ ورکړي چې د LOTFA فنډونه یوازې د مشروع اهدافو لپاره کارول کیږي، او دا چې د UNDP د فنډونو د استعمال څرنګوالي جامع حساب غوښتنه نشي کولی. LOTFA ته تر نن نیټې پورې 3.17 ملیارد ډالر اعانې په پام کې نیولو سره، دا خورا مهم دي چې د سیګار اندیښني جدي ونیول شي او دا چې دغه مسلې په نښه شي ځکه چې د LOTFA د تمویل بل پړاو لپاره مزاکرات پیل شوي. نوي مزاکرات د نوي مالي ټرون د لیکلو فرصت وړاندیز کوي چې د بشپړ څار لاسرسي او حساب ورکووني تضمین کونکي شرایط پکې شامل وي.

د 2014 سپمتبر 29 او 2014 اکتوبر 7 نیټو دوه جلا لیکونو کې UNDP د خپل LOTFA مدیریت کې لانوره لوی او مفصل طرح وړاندیز کړه په شمول د 16 مخونو ضمیمه دویم لیک ته. ضمیمه کې د LOTFA تمویل په اړه د سیګار ځانګړې پوښتنې په نښه شوي. دې د پولیس معاشاتو څخه مشکوک کسرونو د پرې کولو هڅې ښودلي او په نښه کړي یې دي چې UNDP پلان لري د معاشاتو پروسې د بڼې مطالعه کولو لپاره یو خصوصي نهاد ښکیل کړي ترڅو ممکن تخنیکي پرمختګونو باندې وړاندیزونه چمتو کړي. د UNDP چاړواکو سیګار سره هم وکتل چې د سمون لازمي ګامونو یا LOTFA او د ډونر مرستو پورې اړوند اصلاحاتو د منلو لپاره خپل قصد له سره تایید کړي.

### د معلوماتو مکتوب SP-99-14: د CSTC-A د UNDP د LOTFA څار او مالي مدیریت نقش

د 2014 سپتمبر په 17 سیګار CSTC-A ته ولیکل چې د ANP تمویل لپاره د LOTFA پروګرام په اړه مداوم اندیښني بیان کړي. لګه څنګه چې د پوښتنې تیرو لیکونو کې مفصل شوي، سیګار باور لري چې د UNDP چاروکي دمخه فعال ډول باندې هغه ډیرې ستونزې نه په ګوته کوي چې پروګرام زیانمن کوي، دې ادعا په کولو سره چې دوی واک نلري د دې څوملیارد ډالرو پروګرام هراړخیزه څار سرته ورسوي. د سیګار د پوښتنې لیک د CSTC-A د LOTFA لپاره حساب ورکوونې پراختیا هڅو ستاینه کوي، او د دې اداري لپاره د نوي مالي ترون غوښتنه کوي چې د UNDP او ټولو مرستندویه هیوادونو لپاره د بشپړ څار لاسرسي او حساب ورکوونې لپاره شرایط ولري څکه چې د LOTFA د تمویل نوي پړاو لپاره مزاکرات شوي.

د 2014 د اکتوبر 7 نیټې د یوه لیک په ځواب کې د CSTC-A عمومي قوماندان لیکلي چې د قوماندانۍ موقف دا دی چې " UNDP د LOTFA د فنډونو د مصرف د څارلو دنده او واک لري. CSTC-A به دې غوښتنې ته دوام ورکړي چې UNDP د LOTFA اداره کولو لپاره خپل د څار رول او مسؤلیتونه پرمخ ویسي. نور، CSTC-A به تاکید وکړي چې UNDP مناسب شرایط رامنځته کړي چې د LOTFA د تمویل نوې مرحلې د پراختیا برخې په حیث د دې بشپړ څار او حساب ورکوونه پکې طرح شوي وي."

### د معلوماتو مکتوب SP-101-14: د افغانستان د بودیجې غوښتنه

سیګار د 2014 سپتمبر په 26 د بهرنیو چارو وزارت ته د پوښتنې یو لیک ولیږه چې د هغه مطبوعاتي راپورونو په اړه پکې معلومات غوښتل شوي و چې د افغانستان مالیه وزارت د هغه FY 1393 (2013 د دسمبر 21 – 2014 د دسمبر 20) کال بودیجې تشو او د حکومت معاشاتو ورکړې پوښلو لپاره د سمدستي 537 ملیون ډالرو غوښتنه کړې وه. پداسې حال کې چې راپور ورکړل شوې غوښتنه نوې وه، په افغانستان کې د مالي ثبات مسله نوې نده. مالي خلا – د دولت عوایدو او مخارجو ترمنځ اختلاف – تر 2018 پورې په اوسطه ډول 7.7 ملیارد ډالر اټکل شوی، چې دا به د احتیاطي خدماتو لپاره ورکړې کې د افغانستان وړتیا محدوده او پرڅان تکیه یا خودکفایي پرمختګ به د څنډ سره مخ کړي. دې مسلو نه یوازې د افغانستان مالي ثبات په اړه اندیښني راپورته کړي، بلکه د دې په اړه هم چې ترکوم حد پورې افغان دولت په مجموع کې او MOF په څانګړي ډول د متحده ایالاتو او نړیوال ډونرانو بیارغوني مرستو کې ملیاردونه ډالر اداره کړي.

د 2014 د اکتوبر 10 نیټې یوه لیک کې د بهرنیو چارو وزارت ځواب ورکړی چې "دلته یو پراخه باور شتون لري چې اوسنی تشه د اوږد سیاسي لیږد سره تړلي اقتصادي جبر او د افغان دولت غیر ریالیستیک بودیجې جوړښت له امله رامنځته شوې." لیک دا هم ویلي دي چې "دواړه ولسمشر غني او اجرایي رییس عبدالله عبدالله په راتلونکي کې د ورته وضعیت بدلولو ته اړ اصلاحاتو پلي کولو لپاره ژمن دي." د بهرنیو چارو وزارت وروسته اضافه کړي چې د اضافي فنډونو لپاره رسمي غوښتنه تراوسه نده شوې، او دا روښانه نه وه چې دا 537 ملیون ډالر به د اړین اضافي مرستې څانګړی مقدار وي، سربیره د پراخه رسنیز راپورونو څخه.

**ځانګړې پروژې SP-78: د ANSF د اړتیاو معتبریت**
د 2014 اکتوبر په 1 نیټه لیږل شوي یوه لیک کې سیګار د امریکا دفاع وزارت د هغه پروسې په اړه خپلې بیاکتنې څخه خبر کړ د کومې له لارې چې د امریکا دفاع وزارت نهادونه د ANSF لپاره د تجهیزاتو اړتیا تصدیق او پوره کوي. د بیاکتنې هدف دا دی چې د ANSF لپاره وسایطو، وسلو سیستمونو، مخابراتي سیستمونو او *تشکیلونو* کې نورو توکو د پیرود لپاره پریکړو ملاتړ کې کارول شوې د اړتیاو تصدیق پروسه مستند کړي او وڅیړي. د افغان دولت محدود عاید او دولت ضد عناصرو لخوا دوام لرونکي ننګونو له امله، ANSF به د راتلونکي کلونو په موده کې د تمویل او تجهیز لپاره متحده ایالاتو او نورو نړیوال ډونرانو باندې تکیه ولري. د همدې لپاره، د امریکا دفاع وزارت د نهادونو د ANSF لپاره ریالیستیک اړتیاو پیژندلو او پوره کولو وړتیا د دغه ځواکونو راتلونکي وړتیا او مؤثریت ډاډمنولو کې کلیدي فاکتور دی.

**د معلوماتو مکتوب SP-15-03: په پل چرخي ولسوالی کې د ANA مسلخ خونه**
د 2014 اکتوبر په 2 سیګار CENTCOM، ایساف او USACE ته د پل چرخي ولسوالی کې د ANA مسلخ خوني تفتیش بشپړولو سره مرستې ته د معلوماتو غوښتنې لپاره لیکلي. تر نن نیټې پورې سیګار د خپل راپور مکمل کولو څخه منع کړی شوی و ځکه چې مفتشین وړ نه و چې دې نوې مسلخ خونې جوړولو لپاره پریکړې د ملاتړ مناسب اسناد لاسته راوړي، چې دا د کابل په ساحه کې دوهمه ورته ودانی ده.

د نوې مسلخ خونې دا پروژه د دې لپاره پیل شوې وه چې په اصلي ودانی کې ناکافي ظرفیت په ګوته کړي، بیا وروسته ناڅاپي پای ته ورسیده کله چې CSTC-A وویل چې لومړی ودانی په حقیقت کې کولی شو د ANA اړتیاوې پوره کړي. که څه هم نوې مسلخ خونه یوازې 10% بشپړه شوې وه او یوازې 1.4 ملیون ډالر لګښت پرې شوی و، قراردادي د "عادلانه او نهایی جوړجاړي" لپاره د 4.2 ملیون ډالرو غوښتنه وکړه.

د نوې مسلخ خونې پروژې د تفتیش پرمخ وړو هڅې پرمهال د سیګار کار د محدود اسنادو، د نظامي او ملکي پرسونل مکرر ګردش، د قوماندو ترکیب او مسؤلیتونو بدلیدو له امله پیچلی و. د دې تفتیش بشپړولو اسانتیا ته د معلوماتو غوښتنې لپاره د سیګار پوښتنې لیک وروسته د 4.2 ملیون ډالرو جوړجاړي په اړه هم اندیښنې راپورته کړې چې د قراردادي لخوا غوښتل شوي او ناسم پوښل شوي ځاه خطر چې کیدی شي د ککړتیا او زهرو څخه ډک شي چې د شاوخوا ټولنې اوبو باندې به اغیز وکړي.

**د پوښتنې مکتوبونه SP-15-02 او SP-15-04: د G222 Fleet حالت**
سیګار له ډیرې مودې راهیسې د 486 ملیون ډالرو پروګرام په اړه اندیښنه لري چې په افغانستان کې د استعمال لپاره د 20 G222 (یا C-27A) فلیټ الوتکې پیرود لپاره دی، او پدې ربع کې دوه د پوښتنو لیکونه ولیکل چې پکې یې د اضافي معلوماتو غوښتنه کړې. د سیګار اندیښنو او اخیستل شوي ګامونو توضیحي شرحې لپاره، په 47 مخ درې میاشتنې مهم ټکي وګورئ.

**د معلوماتو مکتوب SP-05-15: د USAID ترپوښتنې لاندې لګښتونه**
د 2014 اکتوبر په 7 سیګار USAID ته ولیکل چې د USAID/افغانستان اخرنی پریکړې په اړه اندیښنه بیان کړي چې د سیګار مالي پلټنو کې د ترپوښتنې لاندې د پلې کونکي ملګرو ټول لګښتونه نه راټولوي. د ترپوښتنې لاندې دا لګښتونه د مالیه ورکونکو ډالر وړاندې کوي چې که چیرې د افغانستان بیارغونې هڅې ملاتړ کولو کې ونه کارول شی لکه څنګه چې ټاکل شوي، نو بیرته باید د متحده ایالاتو حکومت ته ستانه شي. پداسې حال کې چې سیګار د ترپوښتنې لاندې لګښتونو جواز او بیرته لاسته راوړو ټاکلو لپاره د USAID د واک خبرتیا ورکوي په پریکړو کې اخرنې تمایلاتو ځینې اندیښنې راپورته کړې.

په ځانګړې توګه سیګار په ډیری مواردو کې موندلې چې د لګښتونو په تاییدولو کې له حد ډیر وخت او ترجیح د قرارداد کولو او ټرون افسر لخوا پلې کیدونکې ملګرو ته چمتو کیدل چې سیګار تر پوښتنې لاندې راوستي. د متحده ایالاتو حکومت پرځای د پروژو او پروګرامونو پلې کولو لپاره د ملیونونه ډالرو منلو وروسته پلې کونکې ملګري باید وړ وي چې په ورته وخت کې د یوې پلټنې ملاتړ لپاره اسناد چمتو کړي. پلې کونکې ملګرو ته د پیښ شوي لګښتونو اثبات لپاره له حد څخه ډیر شوي مقدار وخت ورکول دا خطر ډیروي چې ممکن اسناد تحریف شوي وي.

**د معلوماتو مکتوب SP-06-15: د امنیتي بدلونونو له امله د قرارداد ختمول**
سیګار د 2014 اکتوبر 7 باندې USACE او USAID ته د سویل ختیځ بریښنا سیستم (SEPS) پروګرام ته د کار پورې اړوندتیا لپاره د پیرني مدیریت خدماتو (Perini) سره د USACE قرارداد په اړه معلوماتو غوښتنې لپاره ولیکل. سیګار د USAID چاراوکو لخوا خبر کړی شوی و چې د اضافي 30 ملیون ډالرو لپاره د Perini لخوا غوښتنه ترڅو د امنیت اضافي لګښتونه وپوښي ممکن د قرارداد پای ته رسول هڅولي وي. په افغانستان کې پرامنیت او بیارغونې هڅو د ائتلاف سرتیرو وتلو اغیز له اوږدې مودې راهیسي یوه اندیښنه ده. سیګار پدې اړه د معلوماتو لټون ته دوام ورکړي چې څنګه د امنیت ډیر شوي لګښتونه د بیارغونې پروګرامونو ملاتړ کونکي قراردادونو پای ته رسیدو لامل کیږي.

**د معلوماتو مکتوب SP-08-15: په افغانستان کې د متحده ایالاتو ترملکیت لاندې د اضافي تجهیزاتو سمبالښت**
د 2014 اکتوبر په 14 سیګار د امریکا دفاع وزارت ته ولیکل ترڅو په افغانستان کې دننه د متحده ایالاتو نظامي بیسونو کې د اضافي تجهیزاتو سمبالښت لپاره د امریکا دفاع وزارت روانو هڅو په اړه معلومات ترلاسه کړي. سیګار د اخرني راپورونو په اړه اندیښمن دی چې د متحده ایالاتو مالیه ورکونکو ملیاردونه ډالرو باندې لاسته راغلي تجهیزات دا مهال افغان سوداګرو ته د اصلي لګښت یوې برخې په قیمت بیرته پلورل کیږي. لدې هاخوا، د 2012 GAO راپور ښیي چې د امریکا دفاع وزارت وړ نه و په پوره توګه مستند کړي چې څنګه په افغانستان کې د متحده ایالاتو د تجهیزاتو سمبالښت پورې اړوند پریکړې شوي. نظامي خدماتو هم ونشو کولی چې د تجهیزاتو تخریب ته د پریکړې کولو لپاره د لګښت ګټې څیړنې چمتو کړي، دا د امریکا دفاع وزارت نورو موقعیتونو ته انتقال کړي، یا دا د متحده ایالاتو بلې اداري یا بل هیواد ته انتقال کړي.

# د 486 ملیون ډالرو په ارزښت د G222 پروګرام په اړه د سیګار رواني اندیښني

د 2013 نومبر پرمهال افغانستان څخه په لیدنه کې ځانګړی عمومي مفتش ساپکو د دفاع وزارت (د امریکا دفاع وزارت) لخوا په کابل نړیوال ډګر کې ساتل شوي G222 الوتکو څخه خبر شو. وروسته لدې د سیګار د ځانګړي پروژو دفتر د 486 ملیون ډالرو په ارزښت د G222 پروګرام پلټنه پیل کړه، چې بیا د 2013 مارچ کې د جدي فعالیت، ساتنې او پرزو یا سپیرپارټ ستونزو د موندلو وروسته پای ته ورسیده.

افغان هوای ځواک ته د 20 G222s الوتکو چمتو کولو پروګرام په 2008 کې پیل شو. G222s په ایټالیه کې جوړې شوي د غبرګ وزر نظامي ټرانسپورټ الوتکې دي. د 2013 جنوري کې د DOD OIG یوه راپور په ګوته کړي چې د پروګرام دفتر د الوتکو پرواز ته وړ کولو لپاره اړین سپیرپارټ لاسته راوړو کې هڅې په درستۍ سره ندي اداره کړي. د DOD OIG دا هم په نښه کړي چې ممکن د ASFF نور اضافي 200 ملیون ډالر د الوتکو کاریدو وړ کولو لپاره سپیر پارټ باندې ولګول شي، او دا چې د 2012 جنوري څخه تر سپتمبر پورې G222s د اړین 4,500 پروازونو څخه یوازې 234 ترسره کړي. د 2013 په مارچ کې د G222 پروګرام په مؤثر ډول هغه مهال پای ته ورسید چې اعلان شوه AAF به خپل د اوږدې مودې مینځني هوای چلند اړتیا پوره کولو لپاره بدیل الوتکې وکاروي. د دغه الوتکو شپاړس یې کابل هوای ډګر کې درول شوې وې، پداسې حال کې چې نورې څلور یې رامسټین هوای ډګر، المان ته وړل شوې وې.



**په کابل هوای** ډګر کې پریښول شوي G222s. (د سیګار انځور)



**په کابل هوای** ډګر کې 16 G222s پدې وروستیو کې پرزه کړی شوې. (د DLA عکس)

سیګار ته پدې وروستیو کې خبر ورکړل شو چې د دفاع لوژستیک ادارې (DLA) په کابل نړیوال هوای ډګر کې درول شوي 16 الوتکې پرزه کړي. یوه افغان ساختماني شرکت د پرزه شوي الوتکو لپاره في پونډ شاوخوا شپږ.ه سینټ ورکړي چې ټولټال 32,000 ډالر شوي. دا په پروګرام د لګول شوي فنډونو یوه برخه ده، او پدې ربع کې د متحده ایالاتو هوای ځواک لیږل شوي د پوښتنې یوه مکتوب کې سیګار اندیښنې څرګندې کړي چې د الوتکو د پرزه کولو پلانونکي او اجرا کونکي چارواکو ممکن د مالیه ورکونکو ډالرو د خوندي کولو لپاره بل ممکن بدیل نه وي پام کې نیولی.

DLA تراوسه په المان کې پاتې څلور G222s په اړه نهایی پریکړه نده کړې. پدې ربع کې بل د پوښتنې مکتوب کې سیګار غوښتنه کړې چې د امریکا دفاع وزارت د پاتې څلور G222s دریځ په اړه کوم بدلون کې دمخه خبرتیا چمتو کړي ترڅو د سیګار رواني پلټنې مکمل شي.

**په G222 پروګرام کې د مهمو پیښنو مهالویش**

2014
- اکتوبر – د سیګار د ځانګړي پروژو دفتر د G222 لړلیک د دریځ ټاکلو لپاره پوښتنلیکونه استوي

2013
- دسمبر ـ د سیګار د ځانګړي پروژو دفتر د G222 پای ته رسیدلي پروګرام بیاکتنه پیلوي
- نومبر ـ سیګار د کابل نړیوال هوای ډګر کې منع شوی eet– G222 څاري
- مارچ ـ د G222 پروګرام په مؤثر ډول هغه اعلان سره پای ته ورسید چې AAF به د G222 بدیلونه وکاروي
- جنوري ـ DOD OIG د پلټنې راپور خپروي چې د G222 ساتلو لپاره د اړین سپیر پارټ لاسته راوړو هڅې ښیي چې ممکن په درستۍ سره ندی اداره شوی؛ د امریکا دفاع وزارت د AAF منځني ظرفیت الوتکو اندیښنې په نښه کوي چې د 2014 پای کې د څلور C-130s په تحویلۍ سره پای ته رسي

2012
- دسمبر – د افغانستان د دفاع وزارت د AAF لپاره د څلور C-130 الوتکو غوښتنه کوي
- اګست ـ د متحده ایالاتو د هوای ځواک یو ټیم په افغانستان کې وګمارل شو چې د G222 پروګرام ناکامي وڅیړي او ایساف ته د AAF راتلونکي هوای لیږد او احتمالي بدیلونو باندې لنډیز وړاندې کړي

2011
- دسمبر ـ NAT-C د ساتنې او سپیرپارټ ستونزو له امله د AAF G222 الوتکې کښینولې

2008
- سپتمبر ـ متحده ایالاتو هوای ځواک AAF ته د 20 G222s شرایطو لپاره قرارداد لاسلیک کوي

سیګار SP-19، سیګار SP-02-15، او سیګار SP-04-15.



**په جولای 2014** کې افغانستان ته وړل شوي د مخابراتو وسایل اوس هم د 2014 تر سپتمبر پورې په ترپالونو پوښل شوي بیکاره پراته دي. (د بهرنیو چارو وزارت OIG عکس)

**د معلوماتو مکتوب SP-15-09: د بهرنیو چارو وزارت د مخابراتو وسایل**

د 2014 اکتوبر په 15 سیګار د بهرنیو چارو وزارت جان کیري ته د افغانستان بیلابیل تلویزیوني شبکو ته اهدا لپاره د موبایل تلویزیون – تولید وسایل پیرودلو لپاره د بهرنیو چارو وزارت قرارداد په اړه لیکلي. سیګار اندیښنه لري چې وسایل دوه کاله وروسته په لوړ لګښت تحویل شوي او په کابل کې د استعمال پرته پراته دي.

**ځانګړې راپور SP-15-10: د تریاکو کښت په افغانستان کې: د یوې لسیزې بیارغونې او تریاکو پروړاندې مبارزې هڅو کې 7 ملیارد ډالرو دېره مصرف وروسته د تریاکو کښت کچه له هروخت څخه لوړه ده**

د 2014 اکتوبر په 14 سیګار یو ځانګړی راپور خپور کړ چې په افغانستان کې د تریاکو کښت کې اخرنې تمایلاتو باندې د سیګار څېړنې چمتو کړې. د ملګرو ملتونو مخدره توکو او جرمونو دفتر (UNODC) په وینا، افغان بزګرانو په 2013 کې بې ساري 209,000 هیکتاره ځمکه باندې تریاک کرلي، چې په 2007 کې د 193,000 هیکتاره مخکیني حد څخه ډېر و.

د تهیه کیدو وړ ژور ځاه ټیکنالوژي په سویل لویدیز افغانستان کې 200,000 هیکتاره ځمکه د تیرې لسیزې په اوږدو کې خړوب کړې. په ورته توګه د تریاکو لوړ قیمت او ارزان، مهارت لرونکي او ګرځنده کاري ځواک ډېریدو له امله د دغه نوي خړوب شوي ځمکو ډېری یې د تریاکو کښت لپاره وکارول شوه. د تریاکو تولیدوونکي هغه ولایتونه چې یوځل "له تریاکو پاک" اعلام شوي و بیا ځلې یې د کوکنارو کښت پیل کړی. نور، UNODC اټکل کوي چې په افغانستان کې تولید شوي د تریاکو او مشتقاتو ارزښت په 2013 کې نږدې 3 ملیارد ډالر و، چې په 2012 کې له 2 ملیارد ډالرو څخه ډېر دی - د 50%ډېروالي سره.

د تریاکو کښت سره مبارزه او د تریاکو پروړاندې مبارزه کې د افغان حکومت ظرفیت جوړولو کې د 7 ملیارد ډالرو مصرفولو سربیره، د تریاکو کښت کچه په افغانستان کې په 2013 کې له هرکله څخه لوړه وه. د افغانستان په ډېرې برخو کې د امنیت خرابیدو او د کوکنارو د پټو له منځه وړو ټیټې کچې سره په 2014 کې د کښت ډېروالي احتمال شتون لري.

سیګار د دې ستونزمنو تمایلاتو په اړه اندیښمن پاتې دی ځکه چې د تریاکو تجارت د افغانستان مالي سیکتور زهرجن کوي او د فساد ډېرولو، جرمي شبکو رامنځته کولو او طالبانو او نورو ترهګرو ډلو ته د پام وړ مالي ملاتړ چمتو کولو په واسطه د افغان دولت مشروعیت تړپوښتنې لاندې راولي.

**بیاکتنه SP-15-14: مستقیمه مرسته: د CSTC-A، بهرنیو چارو وزارت او USAID لخوا کارول شوي پروسو او کنټرولونو بیاکتنه**

سیګار افغان دولت ته د مستقیم مرستې چمتو کولو لپاره د امریکا دفاع وزارت، بهرنیو چارو وزارت او USAID لخوا کارول شوي سیسټمونو بیاکتنه کړې. د دې بیاکتنې لپاره، سیګار د هرې اداري لخوا کارول شوي پروسې او کنټرولونه پیژندلي ترڅو د مستقیم مرستې فنډونو سم استعمال ډاډمن کړي.

سیګار وموندل چې د امریکا دفاع وزارت، بهرنیو چارو وزارت او USAID د افغان عامه مالي مدیریت او تدارکاتو سیسټمونو په کارولو سره د مختلف پروسو له لارې مستقیم مرسته چمتو کوي. په ځانګړي توګه د امریکا دفاع وزارت مستقیم مرستې د ANA او ANP ملاتړ ته د افغانستان امنیتي ځواکونو صندوق له لارې فنډونه چمتو کړي او افغان حکومت ته درې میاشتني اساساتو یا د اړتیا سره سم ورکړل شوي او CSTC-A یې څارنه کړې. د بهرنیو چارو وزارت د خپل نړیوال تریاکو او قانون پلي کولو بیورو له لارې د تریاکو پروړاندې مبارزې وزارت ته د غوره فعالیت نوښت او والي په مشرۍ د له منځه وړو پروګرام ته د لګښت بیرته ورکړې اساساتو باندې مستقیم مرسته چمتو کوي. USAID هم د افغان دولت سره خپل ځلور د مستقیم مرستې پروګرامونو ته فنډ ورکولو لپاره د ورکړې لګښت یو بیرته لاسته راوړو میتود کاروي.

سیګار دا هم موندلې چې ادارو د دې فنډونو مناسب استعمال څخه ډاډ ترلاسه کولو سره مرستې لپاره مختلف کچو کنټرولونه رامنځته کړي. د مستقیم مرستې له لارې افغانانو لپاره غوره حکومتولي، اقتصادي پرمختیا او امنیت برابرولو ته د افغان حکومت ظرفیت جوړول د متحده ایالاتو حکومتي ادارو او نړیوال ډونرانو د کلونو لپاره لومړیتوب و. په هرصورت له نهادي پلوه د افغان دولت ضعیف وزارتونو ته د مستقیم مرستې چمتو کول یوه اندېښنه پاتې ده او د متحده ایالاتو له ادارو غواړي چې د دې فنډونو د درغلۍ، ضیاع او ناوړه ګټه اخیستنې څخه مخنیوي لپاره جامع کنټرول سیسټم رامنځته او قوي څارنه په لاره واچوي.

## تحقیقات

د سیګار تحقیقاتو د 14 نیولو، دريو تورونو، څلور جرمي معلوماتو، دوه د جرم اقرار او یوه محکومیت پایله درلوده. د دې سره 24 افراد د متحده ایالاتو نظامي بنسټونو څخه منع او نهه کارمندان له دندو ایستل شوي. د سیګار تعلیق او مخنیوي پروګرام په افغانستان او متحده ایالاتو کې پرمخ وړل شوي تحقیقاتو څخه لاسته راغلي شواهدو پراساس 44 افراد او 13 شرکتونه د تعلیق یا مخنیوي لپاره راجع کړي. دا ترنن نیټې پورې د راجع کولو ټرټولو لوی شمیر ښیي چې په کومې ربع کې د سیګار د تعلیق او مخنیوي پروګرام پیل راهیسې. د سیګار روانو تحقیقاتو د متحده ایالاتو له 1 ملیون ډالرو دېره خوندي کړي. جرمي جریمې او جبران د 25,000 ډالرو اضافي مقدار لامل شوي. د سیګار تحقیقاتو پدې ربع کې د متحده ایالاتو حکومت ټولټال سپمونه تر 500 ملیون ډالرو رسولې چې د پام وړ هدف وړاندې کوي. سیګار 36 نوي تحقیقونه پیل کړي او 33 یې تړلي، چې لدغو سره د ټولو روانو تحقیقونو شمیره 322 ته رسیږي، لکه څرنګه چې په 2.1. عکس کې ښودل شو

**جرمي معلومات:** یو لیکلی تور چې د عامه څارنوال لخوا کیږي، او پدې کې د قاضیانو ډله برخه نلري. د جرمي معلوماتو فعالیت د مدافع پروړاندې لګول شوي تورونو د څرنګوالي څخه د هغه خبرول دي او هغه عمل چې دا ډول تور پکې لګول شوی وي نو هغه کولی شي چې ځان محکمې ته اماده کړي او ورته جرم کې د بیاځل محکمه کیدو څخه یې مخ ونیول شي.

سرچینه: د تور قانون قاموس.

## د پیسو مینځلو تحقیقاتو د تور او محکمه کیدو پایله درلوده

د 2014 جولای په 16 د ټینسي لویدیزي ولسوالۍ جیری واینې ډینیس د پیسو مینځلو لپاره جرمي معلوماتو پراساس ګرم کړ. ډینیس په یوه شخصي ضمانت ازاد شو چې محکمه کیدل یې د 2014 نومبر 20 ته مهالویش شول.

د 2014 سپتمبر په 8 د ټینسي ختیځې ولسوالۍ کې جیمس سي. پیټمین د 12 میاشتو په حبس د پیسو مینځلو لپاره محکوم شو، چې د نظارت لاندې یوکال لپاره ازاد شو. پیټمین د 25,000 ډالرو جریمې حکم هم پرځای کړ.

د جیمس پیټمین، جیری ډینیس او جیمی ډینیس (څوک چې د 2014 مې کې ګرم وګڼل شو) تحقیقات د بګرام هوای ډګر بشردوستانه مرستې یارډ (HA Yard) پورې اړوند د دولت قراردادونو لپاره راګرځولو کې د متحده ایالاتو اردو درې غړو د افغان قراردادیانو بډو باندې متمرکز و. HA Yard د افغانانو لپاره بشردوستانه ملاتړ کې د کالو، خواړو، ښوونځي محولاتو او نظامي قطعو کې موجود نورو توکو لوی مقدار لپاره د ذخیرې په حیث فعالیت کوی.

عکس 2.1

**د سیګار تحقیقات: د 2014 د سپتمبر تر 30 پورې د خلاصو تحقیقاتو شمیر**




سرچینه: د سیګار د تحقیقاتو ریاست، 10/7/2014.

## د متحده ایالاتو اردو غړي د اختلاس سکیم کې تعقیب شوي

د 2014 د جون په 30 د متحده ایالاتو اردو لومړی بریدمل (NC) کلیو اوټري او د متحده ایالاتو اردو SFC ډیریک هارپر په فایټیویل، NC، فورټ براګ نظامي بیس کې نیول شوي و. تورن د 2014 جولای په 1 نیټه د شمالي کارولینا ختیځې ولسوالی کې د متحده ایالاتو فدرال محکمې ته وړل شوي و، او وروسته د دولت ملکیت په غلا یو مورد کې او د درغلی لپاره دسیسي یو مورد کې محکمې ته وړاندې کړی شو.

د 2014 جولای په 1 ویلیام ټوډ چامبرلین، د متحده ایالاتو اردو څخه تقاعد شوی و، د شمالي کارولینا په ختیځې ولسوالی کې د متحده ایالاتو فدرالي محکمه کې خپل ځان راوګرځاو. هغه د دولت ملکیت په غلا یو مورد کې او د درغلی لپاره دسیسې یو مورد کې محکمې ته وړاندې کړی شوی و.

د 2014 جولای په 7 د شمالي کارولینا ختیځې ولسوالی کې د متحده ایالاتو اردو SFC جیفري ارتور کوک پروړاندې د درغلی دسیسي لپاره جنای معلوماتو عریضه وشوه.

د 2014 سپمتبر په 8 د متحده ایالاتو اردو SFC بیري لي والس د شمالي کارولینا ختیځې ولسوالی کې د فدرال یوه قاضي پروړاندې څرګند شو او د فنډونو اختلاس یوه غیر قانوني سکیم کې د دسیسي لپاره په 2014 جولای 7 د هغه پروړاندې عریضه شوي جرمي معلوماتو ته ګرم وپیژندل شو. د هغه جزا د 2014 دسمبر 9 لپاره مهالویش شوې.

د 2008 اکتوبر او 2012 اپریل ترمنځ د تحقیقاتو لاندې تورن افراد د افغانستان، جلال اباد مخکښ عملیاتي بیس (FOB) کې د ځانګړي عملیاتو ګډ کاري ځواک (CJSOTF) لاندې د ځانګړي قواو ډلې سره ګمارل شوي و. د دوی د ګمارنې په جریان کې، دوی د قوماندانانو بیړني غبرګون فنډ او د اردو "1208" فنډونو څخه اختلاس لپاره دسیسه وکړه چې د ځانګړي ځواکونو ډلو لخوا د تروریزم پروړاندې مبارزې عملیاتو په ملاتړ کې کارېدل. د وخت په تیریدو سره دوی نقدې پیسي غلاکړې، د 1,000 ډالرو د پیسو غوښتنتو یو اساسي شمیره یې وپیرودله، او پیسې یې خپلو میرمنو ته ولیږلې، بریښنایی بانکونو ته یا بیلابیل پلورونکو ته.

## د متحده ایالاتو پخوانی غړی د تیلو غلا سکیم کې محکمه شو

د 2014 اګست په 25 د متحده ایالاتو اردو پخواني متخصص الیکساندر سویم پروړاندې شمالي کارولینا ختیځې ولسوالی کې د جرمي معلوماتو دوسیه جوړه شوه. سویم د عامه ملکیت غلا او بدلولو یو مورد او مرستې لپاره محاکمه شو.

د 2012 جنوري څخه د 2012 تر اکتوبر پورې سویم په افغانستان کې د CJSOTF قوماندې لاندې شرنه FOB کې ګمارل شوی و. د هغه د ګمارنې په جریان کې، سویم د پرمختللي عملیاتي مرکز میکانیک په حیث خدمت کړی چې د وسایطو د محافظت د نظارت او د ځانګړي عملیاتو ځواکونو ته د تیلو توزیع لپاره مسؤلیت درلود. د هغه د ګمارنې په جریان کې په ډیری موقو کې سویم د شرنه FOB څخه د دولت اړوند تیلو غلاکولو لپاره دسیسه کې برخه اخیستې چې د تیلو افغاني ټانکری یې د بیس ته ننوتو او وتلو لپاره ایسکورټ کولې. د دې اعمالو له امله د متحده ایالاتو حکومت په تیلو کې څه دپاسه 400,000 ډالرو زیان سره مخ شو.

## نهه نفر د کانټینرونو غلا لپاره نیول شوي

نهه پاکستاني اتباع د 2014 اپریل په 16 د غلا لپاره نیول شوي و او د متحده ایالاتو حکومت د ملکیت نږدې 260,000 ډالر ترې بیرته لاسته راغلي.

اوه مایرسک کانټینرونه له پاکستان څخه بګرام هوای ډګر (BAF) ته ټرانزیټ کې غلا شوي و. د ټرک ډرایوران د BAF څخه لرې بهر نیول شوي و او کانټینران د لنډې مودې لپاره د بګرام پولیسو ریاست په ولکه کې و. دا مشخص شوي چې څلور کانټینرونه د متحده ایالاتو ټرانسپورټیشن قوماندې پورې تړلي و او درې یې د اردو او هوای ځواک تبادلي خدمت پورې. د کانټینرونو تعقیبي لیست د ټولو توکو لپاره محاسبه او تایید شو چې مجموعي ارزښت یې نږدې 260,000 ډالر و.

د 2014 اګست په 11 ، ANP پروان ولایت د اوه ټرک ډرایورانو، د شرکت اداري مرستیال او د شرکت بل کارمند نیول تایید کړل. د تحقیقاتي هڅې پربنسټ، د متحده ایالاتو اردو ډګروال سټیفني ګراډفورډ، په BAF کې د ګارنیزون قوماندان څلور ډریورانو ته د ممانعت لیکونه تکثیر کړل چې له مخې یې دوی د تل لپاره په افغانستان کې د متحده ایالاتو ټولو مرکزونو څخه منع کړی شوي.

> **د مخنیوي لیک:** هغه اداري ثبت دی چې د یولړ فعالیتونو له امله چې جرم وي یا ښه نظم او انضباط ته زیان اړوي اړوند شخص ته وړاندې کیږي او په پایله کې یې نوموړی شخص په افغانستان کې د USFOR-A یا ایساف تاسیساتو ته ننوتو څخه منع کیږي. د ممانعت له لارې له نظامي تاسیساتو څخه اخراج د قرارداد ګمارنې مخه نه نیسي.
>
> سرچینه: د سیګار د تحقیقاتو ریاست.

## افغان ټرک ډریوران د تیلو غلا سکیم لپاره نیول شوي

په BAF کې د تیلو غلا سکیم کې دخیل درې افغانان نیول شوي؛ بیرته لاسته راغلي تیلو ارزښت نږدې 76,000 ډالر و. برسیره پردې، د 81,500 ډالرو په ارزښت څلور افغان د تیلو ټانکرې ضبط او د پروان چارواکو لاسته ورکړل شوي.

د 2014 اګست په 2 د متحده ایالاتو اردو مشر افسر بریټ نیلسن، څوک چې د دفاع لوژستیک اداره (DLA) کې د مسؤل افسر په حیث کار کوي، سیګار ته راپور ورکړ چې دوه ټرک ډرایورانو د جعلي اسنادو په کارولو سره هڅه وکړه BAF کې د ننوتلو کنټرول څخه تیل غلا کړي.

نیلسن ده ځای جعلي اسناد لیدلي چې د افغان ډرایورانو لخوا د افغان ملي بار وړنې قرارداد لاندې تیلو ډکولو او انتقال لپاره کارولي. دغه جعلي اسناد د ټرانسپورټیشن حرکت غوښتنو (TMRs) قانوني اسنادو څخه په درغلی رامنځته او د 5,000 ګیلن تیلو ډکولو لپاره کارول شوي. د نلسن د موندلو دمخه یو ډرایور خپل ټانکر ته په بریا سره 5,000 ګیلن تیل ډک کړي و خو لا بهر ته وتلی نه و. نلسون وکولی شو چې د تیلو ډکولو سایټ سره تماس ونیسي او د دوهم ټرک ډکول رد کړي. په تعقیب کې یې، سیګار او د دفاع جنایي تحقیقاتو خدمت دواړه ټانکرې ضبط او ډرایوران او یو دسیسه کونکی یې ونیول. د پروان او بګرام قانون پلي کونکو پرسونل تورن کسان ونیول او ځایی توقیف خونو ته یې انتقال کړل.

د 2014 می څخه جولای پورې میاشتو لپاره د DLA ریکارډونو د سیګار بیوې پلټنې د 1.3 ملیون ډالرو په ارزښت، د TMRs جعلي اسنادو په کارولو سره د شاوخوا 90,000 ګیلن تیلو غلا تایید کړې. تر نن نیټې پورې، 10 افغان د ټانکرو ډرایوران په غلا کې د برخه اخیستونکو په حیث پیژندل شوي؛ د هریو لپاره یې د ممانعت لیکونه تکثیر شوي.

## د قرارداد کارمند ګرم ګڼل شوی

د 2014 جولای په 30، د اريزونا ټوکسن کې روبرټ بيرتولينې د دسيسې يو مورد لپاره ګرم ګڼل شوی چې د تارونو درغلې يې کړې او غيرقانوني بډې يې ترلاسه کړې. بيرتولينې د 59,975 ډالرو جريمې سره هم موافقه وکړه، د پيسو دا مقدار په جرم کې دخيل و. د هغه جزا 2014 اکتوبر 27 لپاره مهالويش شوې.

د 2010 دسمبر کې، د متحده ايالاتو اردو د انجينرانو قل اردو يو قرارداد لاکشور انجينرنګ خدماتو شرکت (لاکشور) ته په کابل، افغانستان کې د ANA لپاره FOB Rocco ډيزاين او جوړولو لپاره ورکړ. د 2011 مارچ کې، لاکشور د FOB Rocco پروژې لپاره د موادو، ډيزاين خدماتو، تجهيزاتو، کارمندانو او نورو فرعي قرارداد خدماتو چمتو کولو لپاره د شمس ګروپ نړيوال (شمس) ته يو فرعي قرارداد ورکړ. په 2010 جنورې کې لاکشور بيرتولينې د FOB Rocco پروژې لپاره د پروژې مدير په توګه په کار وګماره. په 2011 مې کې بيرټولينې د شمس سره د لاکشور قرارداد کې دوه اصلاحات تصويب کړل. دغه تنظيم چې لاکشور يې اجازه ورنکړه، د پروژې لګښت نږدې 1.7 مليون ډالرو پورې ډير کړ. د دوه اصلاحاتو په بدل کې شمس 59,975 ډالر د اوهايو بانک يو حساب ته واستول چې د بيرټولينې د څوی حساب و.

## قراردادي کارمند د درغلۍ لپاره ونيول شو

د 2014 جولای په 6، ANP د USAID يو افغان قراردادي کاروکونکی، معروف لعل زاده د سيګار په مرسته ونيو.

شيمونيک، د USAID تمويل شوې پروژې لپاره يو قراردادي د لعل زاده داخلي تحقيقات پرمخ وړې. تحقيقات د هغه شکاياتو پربنا و چې د شيمونيک نورو کارمندانو لخوا شوي و چې لعل زاده شيمونيک ته غلط غوښتنې سپارلي چې افغان کارګرانو ته اضافي معاشات ورکړل شوي، په بيله بيا "خيالي" کارګرانو پورې اړوند غوښتنې. د هغه درغليز فعاليتونو د 8,342 ډالرو زيان پايله درلوده. دا قضيه د افغانستان لوی څارنوالی (AGO) ته راجع او وروسته له څو هڅو لعل زاده ونيول شو. د نيول کيدو وروسته کله چې لعل زاده د ANP مرکز ته راوړل کيده، د تيښتې هڅه وکړه خو ANP توقيف کړ.

AGO به د لعل زاده عدلي تعقيب پورې اړوند راتلونکې تازه معلومات وړاندې کړي.

## د سیګار له تحقیق څخه 150,000 ډالر بیرته راوګرځیدل

د افغانستان د قانوني مرستې سازمان (LAOA) ته په افغانستان کې د قضا سیکتور پرمختیا لپاره د INL مرستو کې د نړیوالې پرمختیا قانون سازمان (IDLO) څخه فرعي مرسته ورکړل شوې وه. یو شکایت کونکي سیګار ته راپور ورکړ چې د LAOA مدیریت د بیرته تادیه کولو لپاره IDLO ته د جعلي رسیدونو جوړولو وروسته وړاندې کولو سره د فرعي مرستې لاندې مخارجو لپاره ډیرې پیسې اخلې.

تحقیق د یوې خپلواکې پلټنې په څنګ کې دغه تورونه تایید کړل چې فنډونو کې اختلاس شوی. د 2014 اګست په 3 نیټه LAOA د IDLO 150,000 ډالر بیرته لاسته راوړل.

## د تیلو د غلا سکیم مخه ونیول شوه

سیګار د 2014 مارچ کې وروسته له معلوماتو لاسته راوړو څخه تحقیق پیل کړ چې په BAF کې ډیر زیات تیل ټانکرو کې ډکیږي او بیا بهرته ایستل کیږي او افغان بازار کې پلورل کیږي.

کله چې ټانکر د ډیرو تیلو لرلو سره ولیدل شو، نو په تعقیب یې یولړ مرکې او پوښتنې سرته ورسیدې. د پوښتنې کولو پرمهال، د فلیور نړیوال یوه افغان کار کونکي د تیلو د غلا دسیسې اقرار وکړ. هغه شېر نور افغانان او یو هندي چې ټول د فلیور کارمندان و. دغه افراد وروسته له دندو و ایستل شو او د متحده ایالاتو ټولو نظامي ودانیو څخه د تل لپاره منع کړی شو.

د تحقیقاتو پرمهال دا وموندل شو چې د اضافي تیلو ډکولو لپاره د بای پاس والونه کارولي چې هیڅ کله سنجش څخه نه تیریده. د دې موندنو پر اساس، د دفاع قرارداد مدیریت اداری فلیور ته د تخنیکي لارښود یو لیک تکثیر کړ چې د ټولو بای پاس والونو پرې کولو غوښتنه ترې پکې شوې وه. اضافه لدې تحقیقاتو د شاوخوا 20,000 ډالرو په ارزښت 1,350 ګیلنه تیل بیرته لاسته راوړې.

د DLA او د فلیور د تیلو ریکارډونو یوه پلټنه چې د تیرو پنځه میاشتو دوره پوښې، رابرسیره کړې چې شاوخوا 240,000 ګیلنه تیل نه شو محاسبه کیدی. د ورکو تیلو ارزښت نږدې 2.4 ملیون ډالر دی.

## پټ عملیات د درې نفرو نیول کیدو پایله درلوده



**د متحده ایالاتو** بیس کې د ریسټورانټ افغان مالک څخه ضبط شوي نقدي پیسې په پروان ولایت کې ANP ته ورکړل شوې. (د متحده ایالاتو د اردو CID عکس)

په BAF کې پټ عملیاتو د درې افغانانو نیول کیدو، د متحده ایالاتو نظامي تاسیساتو څخه د نهه ممانعتونو او د سوداګرۍ د تعلیق پایله درلوده.

د 2014 سپټمبر په 30 د نړیوال قرارداد د فساد کاري ځواک (ICCTF) په BAF کې د جرمي خلاف کارۍ پیښیدو په اړه د دریم هیواد تبع (TCN) څخه پوښتنې وکړې. د TCN لخوا وړاندې شوې معلومات د وړو تجهیزاتو غلا څخه تر د فساد او درغلۍ لوې پیښو پورې اړوند و چې د متحده ایالاتو پرسونل پکې دخیل و. د احتمالي اهدافو ترمنځ یو عزیز عبدالعزیز د عزیز ریسټورانټ او یو بازار مالک و چې هغه وپیژانده، څوک چې په BAF کې د تور له مخې ډیرې جرمي جرګو کې ښکیل و په شمول د وسایطو غلا. TCN وویل چې په تیرو وختونو کې عزیز د هغه سره هم د غلاشوي وسایطو لاسته راوړو لپاره غوړ نږدې کړی.



**د سیګار ځانګړي** اجنټان د CID او DCIS اجنټانو سره له عزیز څخه ضبط شوی نقدې پیسې په پروان ولایت کې د ANP غړو ته ورکوي. ( د امریکا د پوځ انځور)

د معلوماتو پراساس، ICCTF یو لړ پټ عملیات پیل کړل چې پدې کې یو ځانګړي اجنټ د غلاشوي وسایطو په عزیز باندې د پلورلو لپاره اکت کاوه. TCN عزیز ته تلیفون وکړ او خبر یې ورکړ چې په BAF کې یوڅوک دی چې یوه واسطه لري چې غواړي وی پلوري. عزیز TCN ته وویل چې هغه به دا واسطه په 2,700 ډالرو واخلي. په تعقیب یې عزیز د TCN او پټ ځانګړي اجنټ سره لیدنه وکړه او 2,500 ډالر یې ورته د هغه څه لپاره ورکړل چې هغه باور درلود د دولت غلا شوی واسطه ده. د پیسو د تبادلې په تعقیب د ICCTF غړو عزیز توقیف او 15,813 ډالر ترې ضبط کړل چې د هغه سره و. د عزیز ریسټورانټ دوه نور کار کونکي چې د عزیز سره یې ملتیا کوله هم ونیول شو، پوښتنې ترې وشوې او بیا افغان چارواکو ته وسپارل شو.

د عملیاتو پایلې په حیث، دا اعلام شوه چې عزیز بګرام ته د ننوتو استعلام (کارت) درلود چې له مخې یې کولی شو آزادانه د بیس دننه او بهر تګ را تګ وکړي او خپل ریسټورانټ ته خوراکي مواد برابر کړي. د نیول کیدو په وخت کې عزیز دغه کارت له ځان سره درلود او داسې ښکاریدل چې هغه به یې د BAF څخه د دې غلا شوي واسطې لپاره وکاروي. د متحده ایالاتو ځواکونو – افغانستان د بیړني خدماتو/پروګرام مدیریت دفتر رییس سره په تعقیبي ناسته کې رییس ویل چې هغه به د BAF ګارنیزون قوماندان ته بریف وړاندې کړي او عزیز او نور نهه کارمندان به ورته وړاندیز کړي چې د متحده ایالاتو نظامي تاسیساتو څخه منع کړی شي او د ریسټورانټ کار ودرول شي.

**سیګار او FBI د تروریست د شناخت معلوماتو شریکولو لپاره د پوهاوي لیک لاسلیک کړ**

د اکتوبر په 3، د تحقیقاتو لپاره معاون عمومي مفتش او همکار عمومي مفتش د تحقیقاتو ریاست کارمندانو سره په ګډه د تحقیقاتو فدرال بیورو (FBI) د تروریزم معلوماتو مرکز (TSC) رییس کریستوفر ایم. پیهوټا او د هغه د کارمندانو غړو سره لیدنه وکړه. سیګار او FBI د پوهاوي یولیک لاسلیک کړ چې له مخې به یې د افغانستان بیارغونې پروګرامونو ګواښلو یا پکې برخه اخیستو څخه پیژندل شوي یا د شک لاندې تروریستانو مخنیوي په واسطه د متحده ایالاتو د تروریزم پروړاندې مبارزې هڅې د پام وړ لوړې شي.

د 2014 فبروري راهیسې، د سیګار د تحقیقاتو ریاست د FBI's TSC سره د دې MOU رامنځته کولو کې کار کاوه ترڅو د سیګار د تحقیقاتو قضیې مدیریت سیسټم (ICMS) او تروزریم د معلوماتو ډیټابیس (TSDB) ترمنځ د معلوماتو شریکول وړ کړي. د MOU هدف د دې باور رامنځته کول دي چې په افغانستان کې د جنایی تحقیقاتو لاندې افرادو یا شرکتونو په اړه راټول شوي معلومات خوندي شي او اړوند ادارو ته لاسرسي وړ شي چې د پیرودونکي ارزولو، مالي ګواښ مخه نیولو، د نړیوال پیسو مینځلو په نښه کولو، د ویزې او سفر نورو اسنادو ورکولو کارونو کې بوختې وي، په بیله نور دولتي فعالیتونه چې TSDB ته لاسرسی کاروي. سربیره پردې، MOU به سیګار ته لاره هواره کړي چې هغه افراد وښیې دا ورسره د خپلو تحقیقاتي فعالیتونو برخې په توګه مخ شوی ترڅو وټاکل شي چې ایا دوی افغان ترهګرو ډلو،

د ترياکو قاچاق ډلو ته ملاتړ چمتو کړی یا د القاعده او دې پورې اړوند سازمانونو سره تړاو لري.



**د اکتوبر په 3** نیټه، د سیګار د عمومي پلټونکي معاون جین الویز (ښیې اړخ ته ناست)، د FBI د تروریست معلوماتو مرکز رییس کریستوفر پیهوټا (کیڼ اړخ ته ناست) او د دوی د کارمندانو غړو د معلوماتو شریکولو په اړه د پوهاوي لیک (MOU) لاسلیک کړ چې افغانستان بیارغونې پروګرامونو کې د برخه اخیستو یا ګواښلو څخه پیژندل شوي یا ترشک لاندې تروریستانو مخه ونیسي. ډوګلاس ډومین، د تحقیقاتو لپاره د عمومي مفتش همکار (له کیڼ اړخه څلورم ولاړ) د دې MOU مزاکره کولو کې مرسته وکړه. (د FBI عکس)

## تعلیق او مخنیوني

پدې ربع کې د سیګار تعلیقونو او بندیز پروګرام 44 انفرادي کسان او 13 شرکتونه تعلیق یا بندیز ته د هغو شواهدو په اساس راجع کړي چې سیګار په افغانستان او امریکا کې د تحقیقونو ترسره کولو برخې په ترڅ کې ټول کړي دي. لدې 57 قراردادیانو څخه، پنځه افراد او شپږ شرکتونه د 398,445,878 ډالرو په ارزښت قراردادونو د برخې په حیث هغه تورونو پربنسټ تعلیق او مخه یې ونیول شوه چې ګویا درغلی او فعالیت نه کولو کې ښکیل و. اته نور افراد په افغانستان کې دومتحده ایالاتو تاسیساتو څخه د تیلو غلا په اړه د سیګار د تحقیقاتو په پایله کې د جرمي تورونو پراساس تعلیق ته اجع شوي. د دې کسانو په راجع کولو سره د هغه کسانو او شرکتونو شمیر چې د سیګار لخوا د 2008 کال څخه راهیسې راجع شوي دي 547 ته رسیږي- پدې کې 292 کسان او 255 شرکتونه شامل دي، لکه څنګه چې په 2.2 شکلکې ښودل شوي دي.

د 2014 جون تر پای پورې، په افغانستان کې د درغلی، فساد او ضعیف فعالیت په نښه کولو لپاره د تعلیق کارولو ته د سیګار هڅو ټولټال 84 تعلیقونو او 218 د افرادو او شرکتونو نهایی شوي مخنیوی یا ممانعت پایله درلوده چې د متحده ایالاتو د بیارغونې تمویل شوي پروژو کې ښکیل و. اوو اضافي انفرادي کسانو او شرکتونو له قرارداد کولو څخه د منع کیدلو لپاره د امریکا له حکومت سره د اداري اطاعت موافقې کړې دي.

عکس 2.2

**د سیګار تحقیقات: د تعلیق او بندیز لپاره ټولټال رجوعات، Q2 FY 2011–Q4 FY 2014**




سرچینه: د سیګار د تحقیقاتو ریاست، 10/7/2014.

تعلیقات او مخنیوني دا ډاډه کوي چې اداري خپل قراردادونه یوازې مسولو کسانو ته ورکړي. د سیګار پروګرام په افغانستان کې د امریکا د پالیسی او بیړني قرارداد کولو د چاپیریال په وړاندي د ننګونو لپاره د حل لار پیدا کوي: د ډیر ژر عمل کولو لپاره اړتیا، په افغان وګړو او افغان شرکتونو باندې د امریکا محدود قانوني صلاحیت، او هغه ننګونې چې له ډیرو زیاتو فرعي قراردادیانو څخه د کار اخیستنې د ارزونې په اړه دي. سیګار په افغانستان او متحده ایالاتو کې د معلوماتي سرچینو او څیړنیزو شتمنیو ابتکاري کاروني له لارې هڅه کوي څو د دې ننګونو په وړاندې د حکومت غبرګونونو ته وده ورکړي.

سیګار د تعلیقونو او مخنیوي لپاره موارد راجع کوي ـ د متحده ایالاتو ادارو لخوا د خلاف کارۍ له امله د فدرال قراردادونو یا مرستي ترلاسه کولو څخه د شرکتونو یا افرادو ایستلو لپاره ګامونه اخیستل شوي. په اکثرو پیښو کې، سیګار خپله مراجعه هغه وخت وړاندې کوي چې قرارداد کونکی دفتر د تور د څارنوالي تعقیب یا اصلاحي ګام لپاره کوم اقدام ونکړي، بناء د سیګار دغه کار د قرارداد کونکی د بدچلندۍ د بررسي لپاره لومړی غبرګون دی. سیګار د مراجعي پرمهال، ادارو ته د تعلیق او مخنیوني د پریکړې اساس چمتو کوي او همدارنګه ټول هغه مرستندویه اسناد اداري ته سپاري چې کیدای شي د قرارداد کونکي لخوا د پریکړې نه منلو په صورت کې وښودل شي. په افغانستان کې د قراردادکولو چاپیریال وده کونکي طبیعت او د قراردادي د خلاف کارۍ او/یا ضعیف فعالیت موجود شواهدو پراساس سیګار لازمي وموندل چې افراد یا شرکتونه ډیری ځله د اداري تعلیق او مخنیوي چارواکو لخوا ملاحظه کیدو ته راجع کړي.

په تعلیق او مخنیوي د سیګار تاکید پدې حقیقت سره راسپړل کیږي چې ترنن نیټې پورې د اداري لخوا تعلیق او مخنیوي لپاره 547 راجع کونو څخه 461 یې د 2011 دوهمې ربعي راهیسې شوي. د 2014 اکتوبر 1 څخه دمخه د 12 میاشتو دورې په جریان کې، د سیګار د تعلیق او مخنیوي پروګرام لخوا راجع کول د دولت سره قرارداد کولو څخه د 237 افرادو او شرکتونو منع کولو او ایستلو پایله درلوده. پدې دوره کې د سیګار راجع کول د شاوخوا 938,908,042 ډالرو په ارزښت بیارغوني قراردادونو برخي په حیث د غلا، درغلی، ضعیف فعالیت، ترهګرو ته مالي ملاتړ او ناسم مدیریت تورونه وړاندې کوي.

## د افغان ملي اردو په روزنې قراردادونو کې د 53.5 ملیون ډالرو تقلبي ګمارنې سره په تړاو د 15 شرکتونو او افرادو مخنیوی.

د تیرې ربع په جریان کې، د سیګار تعلیق او مخنیوي پروګرام څخه راجع کولو د متحده ایالاتو اردو ډګرمن ډیویډ آنډریو یانګ، د امریکن نړیوال امنیت کارپوریشن کریستوفر هریس او 12 دې پورې تړلي شرکتونو او افرادو مخنیوي پایله درلوده. مخنیوي په 2007 کې د ANA کمانډو روزنې لپاره پنځه قراردادونو تقلبي ګمارنې پراساس چې د بیارغونې هڅې برخې په حیث چمتو کړی شوي د مدیریت محولاتو او تجهیزاتو سټاکونو په پام کې نیولو سره و چې ټولیز ارزښت یې شاوخوا 53.5 ملیون ډالر و.

په ځانګړي توګه د تدارکاتو حساس معلوماتو تهيه کولو لپاره په تبادله کې، يانګ او هغه پورې تړلي څو شرکتونو ته د بډو په توګه شاوخوا 9.4 مليون ډالر د امريکن نړيوال امنيت کارپوريشن لخوا د شرکت د هيواد مدير هريس له لارې ورکړل شوي. د 2013 دسمبر په 13، يانګ د اوتاه ولسوالۍ لپاره د متحده ايالاتو ولسوالۍ محکمه کې د تدارکاتو يووالي قانون څخه سرغړونې او پيسو مينځلو باندې ګرم وګڼل شو او هغه دا جرمونه ومنل چې پسې د 42 مياشتو په بند محکوم شو. د 2013 دسمبر په 9 د اوتاه ولسوالۍ لپاره د متحده ايالاتو ولسوالۍ محکمه کې هريس هم د دولت تدارکاتو د درغلۍ دسيسې او پيسو مينځلو دسيسه کې ګرم وګڼل شو او د 24 مياشتو بند باندې محکوم شو.

د دې محکوميت پربنسټ د اردو د تعليق او مخنيوي چارواکو يانګ، د امريکن نړيوال امنيت کارپوريشن، او 12 نور اړوند شرکتونه او افراد د شپږو کالو او څلور مياشتو مودې لپاره منع کړل، چې د 2020 د دسمبر په 13 پای ته رسې. هريس هم د پنځه کالو مودې لپاره منع کړی شو چې د 2019 د جون 23 باندې پای ته رسي.

## د 22 افرادو وړانديز شوی مخنيوی چې د ژباړونکو تصديق ازموينو تقلب کې برخه اخيستې

د تيرې ربع په جريان کې، د سيګار د تحقيق کونکو او د دې د تعليق او مخنيوي پروګرام هڅو د متحده ايالاتو اردو د ژباړونکو قرارداد لاندې افغانستان ته د دندې لپاره په شرايطو نابرابر ژباړونکو پروسس کولو ته ډيزاين شوې د ازموينې اخيستو تقلبي سکيم موندلو له امله د 22 افرادو مخنيوی وړانديز کولو پايله درلوده. په ځانګړي توګه شواهدو رابرسيره کړه چې د FedSys لپاره کارکونکي د ژباړونکو مستخدمين، د ازانشيل پرسونل LLC يو فرعي قراردادي ازموينه اخيستونکي استخدام کړل ترڅو د نوي ژباړونکو څخه د شفاهي ژبې وړتيا لپاره ازموينه واخلي ترڅو دوی د ماموريت ازانشيل پرسونل د کارګمارنې پروسې دمخه مرکز ته ورواندې کړي. د سکيم سرته رسولو لپاره، مستخدمينو ازموينه اخيستونکو ته د ژباړونکو پورې اړوند شخصي معلومات چمتو کړل چې بيا د هغوی پرځای د ژبې شفاهي وړتيا ازموينه تيره کړي. د پاس کيدو نمرو لاسته راوړو په تعقيب، به اصلي اړوند ژباړونکې افغانستان کې د قرارداد برخې په حيث وګمارل شي. دغه سکيم د FedSys او ماموريت ازانشيل پرسونل لخوا د 2012 جون کې رابرسيره شو او دولت سره په همدغه وخت شريک کړی شو. د اردو د تدارکاتو درغلۍ برخې لخوا د سيګار راجع کولو او څيړنې کې د پيلي تورونو پراساس، اردو ټول 22 افراد د 2014 سپتمبر په 17 د مخنيوي لپاره وړانديز شو چې له قرارداد څخه د دوی د ايستلو لامل شو. پدې اړه د بنديز پای پريکړه اوس له اردو سره په تمه ده.

## پدې ربع کې د سیګار نور څارنیز فعالیتونه

### سیګار ته د CIGIE پنځه جایزې ورکړل شوې

د عمومي مفتش ټولنې د کلني جایزو 17مې لمانځنې برخې په حیث، په یووالي او کفایت د عمومي مفتشینو شورا (CIGIE) سیګار ته پنځه جایزې ورکړې – چې د لومړي ځل لپاره سیګار دومره ډیرې جایزې ترلاسه کړې.

ځانګړي اجنټ جیفري میلسلګل د فداکارۍ او جرآت لپاره د سینټر جایزه لاسته راوړه (لاندې بکس وګورئ). د سیګار ټیم چې د سیګار پلټنې 8-13، *مالیه جاتو په نشر کې برخه اخیستې: افغان دولت په افغانستان* کې د متحده ایالاتو حکومت د هڅو ملاتړ کونکې قراردادیانو باندې ملیاردونه ډالرو سوداګریزه مالیه لګولې، د عالي پلټنې لپاره جایزه ترلاسه کړه. هغه ټیم چې د سیګار 13-13 پلټنې، *د افغان ځانګړي وزر ماموریت نشر کې کار کړی: د امریکا دفاع وزارت د 771.8 ملیون ډالرو په ارزښت د الوتکو پیرود پرمخ وړي چې افغانان یې نشي کولی وکاروي او ساتنه یې وکړي*، هم د عالي پلټنې لپاره جایزه ترلاسه کړه. د سیګار د تعلیق او مخنیوي ټیم د مخنیوي او تعلیق جامع پروګرام رامنځته کولو او پلې کولو غوره فعالیت کې د عالي – ځانګړي عمل لپاره جایزه ترلاسه کړه چې د درې کلونو په موده کې د سلګونه راجع کولو او مخنیوي پایله یې درلوده. د څیړنې او تحقیق ریاست هم د دوی د درې میاشتنې راپورونو په تړاو عالي – ځانګړي عمل لپاره جایزه ترلاسه کړه، کوم چې د افغان بیارغونې نظارت لپاره کانګریس ته اړین جامع او پروخت معلومات چمتو کړي.



**د سیګار ځانګړی** اجنټ جیفري میلسلګل د هرات قونسلګرۍ وسله والي نښتې پرمخ وړو وروسته یوه چورلکه کې سفر کوي. (د متحده ایالاتو دولت عکس)

**ځانګړی اجنټ جیفري میلسلګل د CIGIE جایزه ترلاسه کوي**

د سیګار ځانګړی اجنټ جیفري میلسلګل د سینټر جایزه ترلاسه کوي چې د 2013 سپتمبر کې د هرات قونسلګرۍ باندې یوه ترهګر برید پرمهال له ځانه په دنده کې ښودل شوي زړورتیا، شهامت، او فدایانه عمل لپاره ورته ورکړل شوه. دغه چاودنې ډیری ګاردان ووژل او قونسلګرۍ ته یې درون زیان واړاو. د چاودنې وروسته د ترهګرو یوې ډلې هڅه وکړه چې ودانۍ باندې یرغل وکړي. میلسلګل په چټکۍ سره د امنیت سیمه ایز افسر مرستې ته ورودنګل. هغه وسله وال غبرګون ښود ترڅو داډ ورلاندې کړي چې د متحده ایالاتو ماموریت مشر ټول پرسونلو باندې پرې حساب کیږي او په پای کې هیڅ یو ترهګر ودانۍ ته ونشو ننوتلی. میلسلګل د قربانیانو په وړلو کې هم مرسته وکړه او وسلواله موضع یې وساتله ترڅو د قونسلګرۍ خلاصه چاودل شوې دروازه تر پوښښ لاندې راوړي.

## د عمومي مفتش معاون الويز د CIGIE فدرال پلټنې اجرايوي شورا کلنۍ کنفرانس کې وينا کوي

په سپټمبر کې د عمومي پلټونکي معاون الويز په ويرژينا، اليکساندرا کې د CIGIE فدرال پلټنې اجرايوي شورا کلني کنفرانس کې وينا وکړه. الويز د سيګار ځانګړي اړخونو باندې رڼا واچوله، په شمول د لنډ مهاله پراخه لاسرسي ماموريت، او دا حقيقت چې اداره په ريښتوني توګه د فدرال کومې بلې ادارې پورې وابسطه نده. الويز د سيګار موقتي درېځ تشريح کړ، هغه د ځار لپاره اداره وهڅوله چې يوه نوښتي لاره غوره کړي، په شمول د ځانګړي پروژو دفتر، کوم چې د مسلو ګړندي ليکونه او راپورونه او مکتوبونه خپروي، د GAGAS لخوا کوم بنديز پرته، چې دا عمل د پريکړه کونکو سره مرسته کوي مخکې لدې چې نور زيان راواوړي بدلونونه رامنځته کړي. په نورو نوښتي ميتودونو کې په افغانستان کې د پانګو کنګلولو لپاره کار شامل دی، چې د بيارغونې قرارداديانو د مالي پلټنې پرمخ وړو لپاره نړيوال شرکتونه کاروي او ناوړه او ضعيف فعاليت کې د تعليق او مخنيوي لپاره موارد راجع کوي. الويز د سيګار شفافيت ته ژمنتيا باندې هم تاکيد وکړ، او دا د تبليغاتو د تعقيب لپاره د ادارې ستراتيژي ده چې د دې ادارې د راپورونو مثبت اغيز ډيروي. په نهايت کې هغه د افغانستان راتلونکي بيارغونه کې د سيګار رول باندې خبرې وکړې، او يادونه يې وکړه چې لاهم ډيرکار بايد ترسره شي ترڅو د ماليه ورکونکو پانګه خوندي شي.

## عمومي مفتش ساپکو جورج ټاون پوهنتون کې وينا کوي

عمومي مفتش ساپکو په سپتمبر کې له افغانستان څخه د سيګار زده شوي درسونو په اړه د جورج ټاون پوهنتون کې خبرې وکړې. په خبرو کې په افغانستان کې د بيارغونې پراخه هڅو په اړه يادونه وشوه، او د سيګار ماموريت او جوړښت په اړه وغږيد. ساپکو د ادارو ترمنځ درې لوی ننګونو باندې هم معلومات وړاندې کړل چې د بيارغونې لپاره مهمې دي: ثبات، فساد او د ترياکو قاچاق. برسيره پردې خبرو کې دا هم و چې نظارت ولې بايد يو حياتي ماموريت وي، د سيګار د نظارت او تبليغاتو طريقه يې واضح کړه او پدې اړه يې خبرې وکړې چې څنګه د بيارغونې هڅو ته وده ورکړو.



**په سپتمبر کې** ځانګړي عمومي مفتش ساپکو د جورج ټاون پوهنتون کې وينا وکړه. (د جورج ټاون پوهنتون عکس)

## سیګار د افغانستان هنر او کلتور کلني فیستیوال کې برخه اخلي

د 2014 اکتوبر په 12، سیګار د افغانستان هنراو کلتور کلني فیستیوال کې برخه واخیستله چې د ویرژینا روسلین کې په لاره اچول شوی و. سیګار هلته یوه غرفه درلوده چې پکې د سیګار خپرونې په دري او انګلسي ژبه وړاندې کیدې. د سیګار پرسونل دغه غرفه کاروله او راتلونکو وګړو ته یې معلومات وړاندې کول، په شمول د سیګار لپاره د هاټلاین او فیس بوک اړیکو معلومات او جزوې. د فیستیوال له 2,500 تر 3,000 پورې برخه اخیستونکي د سیګار غرفې ته دریدلي دي. تحقیقاتي څیړونکي شکور صدیقي سره د امریکا غږ لخوا مرکه ترسره شوه او د سیګار ماموریت او په فیستیوال کې د سیګار برخه اخیستو ګټه یې پکې تشریح کړه.




**د سیګار کارمندانو** د اکتوبر په 12 نیټه ویرژینا کې په لاره اچول شوي د افغانستان هنرونو او کلتور کلني فیستیوال کې برخه واخیستله. (د سیګار تصویر د Jamol Brathwaite لخوا)

## د سیګار بودیجه

د 2014 مالي کال لپاره له کانګرس څخه د ګډو تخصیصونو په قانون کې سیګار د 49.65 میلیونو امریکایی ډالرو بودیجه لاسته راوړې. بودیجه د سیګار د نظارت فعالیتونو او د سیګار د پنځو ریاستونو کارونو ملاتړ کوي: (1) پلټنې او تفتیشات، (2) ځانګړې پروژې، (3) تحقیقات، (4) مدیریت او ملاتړ، او (5) څیړنې او تحلیل.

## د سیګار کارکونکي

د سیګار کارمندان کانګریس ته د تیرې ربع پای کې خپل اخرني راپور راهیسي د 197 کارمندانو سره چمتو پاتې دی. د ربع په پای کې، د متحده ایالاتو کابل سفارت کې 29 کارمندان و، اته نور کارمندان له سفارت څخه بهر افغان مقاماتو کې. د سیګار د کارمندانو غړي د هیواد په څلور موقعیتونو کې ځای پرځای شوي و چې پدې کې د کندهار او بګرام هوای ډګرونه، مزار شریف او د متحده ایالاتو کابل سفارتونه شامل دي. سیګار د خپل تحقیقاتو او پلټنو ریاستونو د ملاتړ لپاره په کابل دفتر کې درې ځایی افغانان په دنده ګمارلي. برسیره پردې، سیګار په خپلو کارونو کې له داسې کسانو څخه ګټه اخلي چې د لنډ وخت لپاره یې په افغانستان کې ګومارلی وي. پدې ربع کې سیګار په افغانستان کې ټولټال د 165 ورځو لپاره 14 کارمندان په لنډمهال دندو درلودل.

"لکه څرنګه چې افغانستان په خپل تاریخ کې نوې پړاو ته ورځي، امریکا لیواله ده ترڅو له یوه خپلواکه، متحده، او دیموکراتیک افغانستان سره خپل دوامداره ملګرتیا نوره هم زیاته کړې."

*— د امریکا بهرنیو چارو وزیر، جان کیري*

سرچینه: د امریکا بهرنیو چارو وزارت، مطبوعاتي اعلامیه، د 2014 د سپتمبر 29.

# 3 د بيارغونې نوې خبرونه



# د بیارغونې تازه حالت منځپانګې


**عمومي کتنه** **65**

**د افغانستان بیارغونې لپاره مرسته** **68**

**د مرستو دریځ** **70**

**امنیت** **84**

**حکومتداري** **126**

**اقتصادي او ټولنیزه پرمختیا** **162**


**عکس په تیره پاڼه کې**

د سپتمبر په 30 د دوه اړخیزې امنیتي موافقې له لاسلیک کېدلو وروسته، د امریکا سفیر جیمز کنینګهم د افغانستان د ملي امنیت سلاکار، حنیف اتمر ته لاس ورکوي، او د افغانستان نوی اجراییه ریس عبدالله عبدالله، په مرکز کې، او نور چارواکي هم شتون لري. د افغانستان نوي حکومت له ناټو سره د ځواکونو دریځ موافقه هم لاسلیک کړه.
(د بهرنیو چارو وزارت تصویر)

# د بيارغونې نوي معلومات

## عمومي کتنه

د 2014 د سپتمبر په 29، له ستونزمنو ټولټاکنو وروسته د 2014 د سپتمبر په 29، اشرف غني د ولسمشرۍ د لوړې مراسم ترسره کړل. د اشرف غني د لوړې له مراسم سره د افغانستان په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره واک په ديموکراتيکه توګه وسپارل شو.

د افغانستان ولسمشرۍ له ټولټاکنو وروسته کړکيچ د دې ربع مهمې خبرې وې. پداسې حال کې چې د ټولټاکنو خپلواک کميسيون لومړنۍ پايلې اعلان کړې او احتمال دا و چې غني ګټونکی و، د جون د دويم پړاو له ټولټاکنو وروسته، د ولسمشرۍ نوماند عبدالله يو ځل په جولای او بيا په سپتمبر کې د بريا ادعا وکړه. ولسمشر بارک اوباما او د امريکا بهرنيوچارو وزير جان کيري، د پام وړ مداخلې وکړې، او نوماندان يې وهڅول ترڅو په يوه تفتيش موافقه وکړي او د ملي يووالي حکومت جوړ کړي. د جون 14 دويم پړاو له ټولټاکنو وروسته، ولسمشر اوباما له دواړو نوماندانو سره شپږ ځلې تيلفوني خبرې وکړې، جان کيري 30 ځلې له نوماندانو سره تيلفوني خبرې وکړې او دوه ځلې يې دې هيواد ته سفر وکړ، او د امريکا سفير جيمز کنينګهم له دواړه نوماندانو سره 81 ځلې غونډې وکړې. د اروپايي ټولنې د ټولټاکنو ارزونې ټيم (EU EAT) وويل چې د تفتيش پروسه د "رضايت وړ نه وه" او ادعا يې وکړه چې تفتيش ښکاره شواهد رابرسيره کړل چې په پراخه توګه درغلي او په ځانګړې توګه د صندقونو ډکول ترسره شوي. EU EAT اټکل کړی چې په دويم پړاو کې له دوو تر دريو ميليونو رايې تقلبي وې.

د 2014 د سپتمبر په 30، د ولسمشرۍ لوړې مراسمو څخه يوه ورځ وروسته، د افغانستان او امريکا چارواکو د ډيرې مودې لپاره ځنډيدلې دوه اړخيزه امنيتي موافقه (BSA) چې په رسمي توګه د امريکا او د افغانستان اسلامي جمهوريت ترمنځ د امنيت همکارۍ او دفاعي موافقې په توګه پيژندل کيږي لاسليک کړه. د افغانستان نوي حکومت له ناټو سره د ځواکونو دريځ موافقه هم لاسليک کړه. په يوه اعلاميه کې، د نړيوال امنيت مرستندويه ځواک (آيساف) ويلي، دواړه موافقې د امريکا، ناټو او نورو ملګرو هيوادونو لپاره يو قانوني کاري چوکاټ جوړوي ترڅو د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو (ANSF) سره د روزنې، مشورې او مرستې لپاره خپلو ژمنو ته دوام ورکړي.

پدې ربع کې د آيساف عمومي قوماندانی هم له جنرال جوزف ډنفورډ څخه جنرال جان کمپبل په غاړه واخسته. جنرال کمپبل به د آيساف اخرنی قوماندان وي، ځکه چې د 2015 په پيل کې به دغه سازمان د مشورې په ماموريت بدل شي. پر دې برسيره، په ويلز کې د يوې غونډې په ترڅ کې، د ناټو متحدينو او د آيساف ملګرو بيا خپله ژمنه اعلان کړه ترڅو له 2014 وروسته د افغانستان امنيتي ځواکونو روزنې، مشورې او مرستې ته دوام ورکړي.

سيګار د امنيتي سکتور په برخه کې پرمختګونه تعقيبوي. سيګار پدې اړه انديښنه لري چې آيساف د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو ارزونې راپور لنډيز، د امريکا دفاع وزارت قرارداد کولو حساب ورکول، د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو لوړې کچې ځواکونو کميډل، د افغانستان حکومت پلان په اړه دوامداره نامعلومتيا ترڅو د امريکا او نړيوال کارکوونکو لپاره د ساحې او کاروان امنيت برابر کړي، او په هيواد کې د تاوتريخوالي ډيريدلو په اړه چې په تير کې دا معلومات محرم نه و اوس محرم کړی.

افغانستان د بودجي له ډير کموالي څخه رنځ وړي او دا د ملکي خدماتو کارکوونکو معاشونه، تقاعد معاشونه، او د عملیاتونو او پراختیایي لګښتونه له ګواښ سره مخامخ کوي. د افغانستان د 1393 مالي کال په لومړنیو اوو میاشتو کې (د 2013 دسمبر 21 – د 2014 دسمبر 20)، کورنیو عوایدو د مالیې وزارت د بودجې نښې تر 22% ندې پوره کړې او دا د تیر کال له ورته مودې څخه نږدې 3.8% کموالی ښیي. د نړیوال بانک د وړاند وینې په وینا، په عین وخت کې، تمه کیږي چې د افغانستان حکومت لګښتونه په 2016 کې د کورنیو ناخالصو تولیداتو 30.5% د 2014 د 27.3% په پرتله لوړیدل يې دوام وموم‌ي. دا به د افغانستان هغه وړتیا محدوده کړي ترڅو د مرستندویانو له ملاتړ پرته د اختیاري خدمتونو لګښتونه تادیه کړي. د مالیې وزارات له مرستندویانو سره د اضافي پیسو لپاره خبري کوي ترڅو د 1393 مالي کال پاتې برخې لپاره د بودجې کموالی پوره کړي.

له لوړې ورسته پخپل یوه رسمي ګام کې، ولسمشر غني د افغانستان حکومت چارواکو ته لارښوونه وکړه ترڅو ډیر ژر د کابل بانک قضیه بیرته پرانیزي، غلا شوي پیسې بیرته لاسته راوړي، او له هغو کسانو څخه چې 982.6 میلیونه امریکایي ډالر يې غلا کړي حساب واخلي، او د نوي کابل بانک خصوصي کیدلو لپاره ګامونه پورته کړي. د فساد ضد نظارت او ارزونې ګډې خپلواکې کمیټې په وینا، تر اوسه یووازې 175.2 میلیونه امریکایي ډالر بیرته لاسته راوړل شوي او دا د ټولو هغو پیسو چې باید بیرته لاسته راوړل شي له 18% څخه کم دي. د راپورونو په اساس اوه اصلي متهمین بیرته نیول شوي دي، مګر نور اوس په افغانستان کې شتون نلري.

د ملګرو ملتونو مخدره توکو او جرمونو دفتر (UNODC) او د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت (MCN) د کوکنارو د له منځه وړلو د تایید لپاره د کال خپل راپورونه خپاره کړي. د 2013 په پرتله، 63% کموالی لیدل کیږي: په 2014 کې 2،692 هکتاره له منځه وړل شوي. د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت دا کموالی د ټولټاکنو د امنیت لپاره د سرچینو د ټاکلو له کبله ګڼي. د ائتلاف شتون کموالي سره پدې ربع کې د مخنیوی پایلي هم کمې شوي. د امریکا دفاع وزارت په وینا، د مخدره توکو لابراتوارونه، د ساتنې ساحې، او د قاچاق کولو شبکې په سیمه ایزو ساحو کې ځای لري او د آیساف ځواکونو کمیدلو او د امنیت خرابیدلو له کبله، د افغانستان ځواکونه دغو ساحو ته تر ډیرې کچې لاس رسی نلري.

د 2014 د سپتمبر تر 30 پورې، له 2002 څخه د افغانستان د سوکالی او بیارغونې لپاره نږدې 104.1 میلیارده امریکایي ډالر تخصیص شوي دي، او نږدې 14.5 میلیارده امریکایي ډالر اوس هم د مرستو په چینل کې د توزیع کولو لپاره پاتې دي. د 2014 د سپتمبر په 19، ولسمشر اوباما د 2015 د دوامدارو تخصیصونو فرمان لاسلیک کړ، او دا به حکومت ته د 2014 د دسمبر تر 11 مرسته برابره کړي، چې د 2014 مالي کال د فرمان له کچې سره برابر دی. پداسې حال کې چې د 2015 مالي کال لپاره د افغانستان د بیارغونې مرستو کچې نشي کیدلای تر هغه وخته څرګنده شي ترڅو چې د ټول کال تخصیصونو مسوده نه يې تایید شوې، که تایید شي د 2015 مالي کال بودجې غوښتنه به د بیارغونې شپږو مهمو مرستو لپاره نور 5.8 میلیارده امریکایي ډالر کړي. د امریکا دفاع وزارت د 2015 مالي کال لپاره د افغانستان د زیربنا وجهي صندق (AIF) لپاره د اضافي مرستو غوښتنه نه کوي.

امریکا د افغانستان لپاره د مستقیمو تادیاتو له لارې د بودجې په اساس مرسته برابروي یا د څو هیوادونو په وجهي صندقونو کې د برخې اخیستنې له لارې د افغانستان بنسټونو لپاره مرسته برابروي. امریکا له 2002 څخه د بودجې په اساس 7.7 میلیارده امریکایي ډالر مرسته برابره کړې ده. پدې کې د افغانستان حکومت وزارتونو او بنسټونو لپاره نږدې 4.1 میلیارده امریکایي ډالر او نږدې 3.6 میلیارده امریکایي ډالر د څو هیوادونو د دریو وجهي صندقونو، د نړیوال بانک د افغانستان د بیارغوني وجهي صندق (ARTF)، د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام د افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهي صندق (LOTFA)، او د آسیا پراختیایي بانک د افغانستان د زیربنا وجهي صندق (AITF) شامل دي. 3.1 جدول د افغانستان حکومتي نهادونو لپاره د مستقیم بودجې په اساس د امریکا مرسته ښیي.

3.1 جدول

**د افغانستان سره د متحده ایالاتو د مستقیم بودجې مرسته، له 2002 راهیسې (میلیونونه ډالر)**

| **له حکومت څخه حکومت ته** | |
|---|---|
| د امریکا دفاع وزارت | $2،905 |
| بهرنیو چارو وزارت | 92 |
| USAID | 1،152 |
| **څو اړخیزه وجهي صندق** | |
| LOTFA | $1،446 |
| ARTF | 2،039 |
| د افغانستان زیربنا وجهي صندق | 105 |

یادونه: له حکومت څخه حکومت ته شمیرې هغه مرستې دي چې امریکا یې د بودجې په اساس ژمنه کړې ده، او پدې کې څو اړخیزه وجهي صندقونه شامل ندي. د څو اړخیزو وجهي صندقونو پیسو اندازه هغه اندازه پیسې ښیي چې امریکا هر وجهي صندق ته تادیه کړې دي.

سرچینه: د سیګار پلټنې راپور 14-32-AR، مستقیمه مرسته: *USAID* مثبت *ګامونه اخیستې ترڅو د مرستندویانو د مرستو مدیریت لپاره د افغانستان د وزارتونو توان ارزونه ترسره کړي، مګر کمزوری اوس هم شته*، 1/2014؛ د سیګار ځانګړې پروژې راپور14-12-SP ، د *افغانستان دفاع او کورنیو چارو وزارتونو د مالي مدیریت ظرفیت هر اړخیز خطر ارزونې کولای شي له 4 میلیاردو څخه د زیاتو امریکایي ډالرو مرستو نظارت ښه کړي*، 12/2013؛ د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته د USAID ځواب، 10/9/2014؛ نړیوال بانک، *ARTF: د 2014 د سپتمبر تر 22 پورې د مالي دریځ په اړه اداري راپور* ، مخ 5؛ UNDP، د *افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهي صندق (LOTFA) د 2014 دوهم ربع د پروژې پرمختګ راپور*،" 9/24/2014، مخ 33؛ د UNDP د دري میشاتني او د LOTFA کلني راپورونو په اړه د سیګار تحلیل، 10/19/2014.

## د افغانستان بیارغونې لپاره مرسته

له 2002 راهیسې، کانګریس د افغانستان هوساینې او بیارغونې لپاره نږدې 104.1 میلیارد ډالر مختص کړي. لدغو پیسو څخه، 87.7 ملیارده امریکایي ډالر (84%) د بیارغونې اوو مهمو وجهي صندقونو ته تخصیص شوي، لکه څرنګه چې په جدول3.2 کې ښودل شوي.

تر 2014 کال د سپتمبر 30 پورې، د تخصیص شوي فنډونو شاوخوا 14.5 میلیارد ډالر د ممکن مصرف کولو لپاره پاتې دي، لکه څنګه چې په شکل 3.1 کې ښودل شوي. دا فنډونه به د لوی زیربنا روانو پروژو بشپړولو لپاره وکارول شي، لکه د AIF او ESF په واسطه فنډ ورکړل شوي؛ د ANSF روزنه، مجهز کول، او پاینېت؛ د تریاکو تولید او قاچاق سره مبارزه؛ او د قانون حاکمیت ته وده ورکول، د قضا سیکټور پیاوړي کول، او بشري حقونو ته وده ورکول. د مرستو نږدې 40% چې تر اوسه مکلف شوي ندي په چینل کې دي. له 14.5 میلیارد امریکایي ډالرو څخه نږدې 8.7 میلیارد امریکایي ډالر اوس هم پاتې دي ترڅو مکلف شي.

| د امریکا دفاع وزارت | **ASFF:** د افغانستان د امنیتي ځواکونو فنډ |
|---|---|
| | **CERP:** د قوماندان د بیړني غبرګون پروګرام |
| | **AIF:** د افغانستان د زیربنا فنډ |
| | **TFBSO:** د ثبات او سوداګریزو عملیاتو لپاره کاري ځواک |
| | **د امریکا دفاع وزارت CN:** د DOD د مخدره توکو سره مبارزې او د مخدره توکو د مخنیوي فعالیتونه |
| **USAID** | **ESF:** د اقتصادي ملاتړ فنډ |
| **بهرنیو چارو وزارت** | **INCLE:** نړیوال مخدره توکو کنترول او د قانون حاکمیت |

شکل 3.1

**پاتې مجموعي مقدار چې باید مصرف شي** (ملیاردونه ډالر)




جدول 3.2

**له 2002 تر 2014 مالي کال پورې، زیاتیدونکي اندازه پیسې چې تخصیص شوي، مکلف شوي، او توزیع شوي** (ملیاردونه ډالر)

| | اختصاص شوي | مکلف شوي | توزیع شوي | پاتې دي |
|---|---|---|---|---|
| ASFF | $57.33 | $51.77 | $48.94 | $7.26 |
| CERP | 3.67 | 2.28 | 2.26 | $0.02 |
| AIF | 1.04 | 0.75 | 0.30 | $0.65 |
| TFBSO | 0.81 | 0.77 | 0.60 | $0.19 |
| DOD CN | 2.70 | 2.62 | 2.62 | $0.09 |
| ESF | 17.72 | 16.43 | 12.25 | $5.04 |
| INCLE | 4.44 | 4.16 | 3.15 | $1.23 |
| **تول 7 مهم وجهي صندقونه** | **$87.72** | **$78.78** | **$70.11** | **$14.47** |
| د بیا رغونې نورې مرستې | 7.36 | | | |
| ملکي عملیاتونه | 9.00 | | | |
| **تولټال** | **$104.08** | | | |

یادونه: شمیرې ګردې شوي وروسته لدې چې نږدې 3.1 ملیارد امریکایی ډالر چې له مکلف کیدلو وړاندې پای ته رسیدلي منفي شي، پاتې پیسې د اوو مهمو بیارغونې وجهي صندقونو ټولو توزیعاتو امکانات ښیي. د DOD CN مکلف شوي او توزیع شوي مرستې پیسو اندازه هغه اندازه ښیې چې د اردو خدمتونو او دفاع ادارو ته لیږل شوي ترڅو د افغانستان لپاره ولګول شي.

سرچینه: د امریکا دفاع وزارت، بهرنیو چارو وزارت او USAID په واسطه چمتو کړی شوي د تخصیص کولو قانون او دري میاشتني مکلفیت او مصرف معلوماتو د سیګار څیړنې، 10/21/2014.

د ولسمشر د 2015 مالي کال بودجې غوښتنه، که تخصیص شي، د بیارغونې اوو مهمو وجهي صندقونو لپاره به نور 5.8 ملیارده امریکایي ډالر اضافه کړي. لدغو څخه د څلورو وجهي صندقونو، ESF، DOD CN، ASFF او INCLE لپاره غوښتل شوي پیسې، د 2015 مالي کال غوښتنې له 99% څخه ډیرې دي. د دواړو CERP او TFBSO لپاره یوازې د 20 میلیونو امریکایي ډالرو غوښتنه شوې. د AIF لپاره د اضافي مرستې غوښتنه نده شوې. د سیګار لخوا د AIF پلټنه، چې د 2012 په جولای کې خپره شوې، دا اندیښنې راپورته کړې چې د AIF ډیرې پروژې تر مهال ویش له 6 تر 15 میاشتو شاته دي، او کیدای شي د یاغیانو پر وړاندې د پروژو ګټې یې محدودې کړې وي او د کندهار ښار د بریښنا د جنراتورونو د ډیزل تیلو لپاره په یوه کال کې له 80 تر 100 میلیونو امریکایي ډالرو دوامداره تمویلولو ته اړتیا ده. کله چې د USAID د زیربنا پروژو لپاره د ESF پروژې شاملې شي له 1.3 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه چې د افغانستان زیربنا وجهي صندق لپاره له 2011 څخه مکلف شوي نږدې 943 میلیونه امریکایي ډالر د توزیع لپاره پاتې دي.

کانګریس د 2013 مالي کال لپاره د بیارغونې اووه لوي فنډونو ته نږدې 8.1 میلیارد ډالر مختص کړي و. لدې مقدار څخه، تر 2014 کال د سپتمبر 30 پورې 3.8 میلیارد ډالر د ممکن مصرف کولو لپاره پاتې دي، لکه څنګه چې په جدول 3.3 او شکل 3.2 کې ښودل شوي.

کانګرس په 2014 مالي کال کې له 6.2 ملیاردو امریکایي ډالرو څخه زیات د زیربنا اوو مهمو وجهي صندقونو ته تخصیص کړي. لدې مقدار څخه، تر 2014 کال د سپتمبر 30 پورې 6 میلیارد ډالر د ممکن مصرف کولو لپاره پاتې شول، لکه څنګه چې په جدول 3.4 او شکل 3.3 کې ښودل شوي.

جدول 3.3

**د 2013 مالي کال لپاره هغه اندازه پیسې چې تخصیص شوي، مکلف شوي، او توزیع شوي**
**(میلیونونه ډالر)**

| | اختصاص شوي | مکلف شوي | توزیع شوي | پاتې دي |
|---|---|---|---|---|
| ASFF | $4،946 | $4،946 | $3،621 | $1،325 |
| CERP | 200 | 42 | 36 | 6 |
| AIF | 146 | 137 | 37 | 100 |
| TFBSO | 138 | 136 | 103 | 33 |
| DOD CN | 256 | 256 | 256 | 0 |
| ESF | 1،803 | 1،748 | 1 | 1،747 |
| INCLE | 594 | 594 | 42 | 552 |
| **ټول 7 مهم وجهي صندقونه** | **$8،082** | **$7،858** | **$4،095** | **$3،762** |

یادونه: شمیرې ګردي شوي پاتې مقدار د اووه لوی بیارغونې فنډونو ټولټال احتمالي مصرف کول منعکس کوي وروسته د شاوخوا 224 میلیون ډالرو د کمولو څخه چې د مکلف کیدو مخکې یې نیټه تیره شوه. د DOD CN مکلف شوي او توزیع شوي مرستې پیسو اندازه هغه اندازه ښیې چې د اردو خدمتونو او دفاع ادارو ته لیږل شوي ترڅو د افغانستان لپاره ولګول شي.

سرچینه: د امریکا دفاع وزارت، بهرنیو چارو وزارت او USAID په واسطه چمتو کړی شوي د تخصیص کولو قانون او دري میاشتني مکلفیت او مصرف معلوماتو د سیګار خیرنې، 10/21/2014.

3.2 شکل

**د FY 2013 پاتې مقدار چې باید مصرف شي**
(ملیونونه ډالر)

ټولټال مختص شوي: 8،082 ډالر




3.4 جدول

**د 2014 مالي کال لپاره هغه اندازه پیسې چې تخصیص شوي، مکلف شوي، او توزیع شوي**
**(میلیونونه ډالرو)**

| | اختصاص شوي | مکلف شوي | توزیع شوي | پاتې دي |
|---|---|---|---|---|
| ASFF | $4،727 | $302 | $162 | $4،565 |
| CERP | 30 | 7 | 2 | 4 |
| AIF | 199 | 0 | 0 | 199 |
| TFBSO | 122 | 109 | 39 | 83 |
| DOD CN | 86 | 1 | 1 | 85 |
| ESF | 852 | 0 | 0 | 852 |
| INCLE | 225 | 3 | 3 | 222 |
| **ټول 7 مهم وجهي صندقونه** | **$6،241** | **$420** | **$206** | **$6،011** |

یادونه: شمیرې ګردي شوي پاتې مقدار د اووه لوی بیارغونې فنډونو ټولټال احتمالي مصرف کول منعکس کوي وروسته د شاوخوا 23 میلیون ډالرو د کمولو څخه چې د مکلف کیدو مخکې یې نیټه تیره شوه. د امریکا دفاع وزارت CN مکلف شوي او توزیع شوي مرستې پیسو اندازه هغه اندازه ښیې چې د اردو خدمتونو او دفاع ادارو ته لیږل شوي ترڅو د افغانستان لپاره ولګول شي.

سرچینه: د امریکا دفاع وزارت، بهرنیو چارو وزارت او USAID په واسطه چمتو کړی شوي د تخصیص کولو قانون او دري میاشتني مکلفیت او مصرف معلوماتو د سیګار خیرنې، 10/21/2014.

3.3 شکل

**د FY 2014 پاتې مقدار چې باید مصرف شي**
(ملیونونه ډالر)

ټولټال مختص شوي: 6،241 ډالر



# د بسپنو د وضعیت منځپانګې


د افغانستان د بیارغونې لپاره
د امریکا مرستې 72

د افغانستان امنیتي ځواکونو وجهي صندق 74

د ASFF بودیجوي فعالیتونه 75

د قوماندان بیړني
غبرګون پروګرام 76

د افغانستان زیربنا وجهي صندق 77

د سوداګرۍ او ثبات عملیاتونو
لپاره کاري ځواک 78

د امریکا دفاع وزارت د مخدره توکو مخنیوی
او مخدره توکو په وړاندې مبارزې فعالیتونه 79

اقتصادي ملاتړ وجهي صندق 80

نړیوال مخدره توکو کنترول
او قانون پلې کول 81

د افغانستان لپاره
بیارغونې نړیواله مرسته 82

# د بسپنو حالت

د افغانستان د بيارغوني لپاره د ځانګړی عمومی پلټونکی لپاره په قانون کښی د رامنځ ته شوو تعديلاتو د پلی کولو په موخه، دا برخه د امريکا د ځانګړو شوو، تعهد شوو مرستو او د افغانستان د بياروغوني د مرستو په اره توضيح ورکوی. د 2014 کال د سپتمبر تر 30 پورې، له 2002 مالي کال څخه امريکا د افغانستان سره د مرستي او بيا رغوني لپاره نږدې 104.08 ميليارد امريکايي ډالر تخصيص ورکړي دي. دا ټولي پيسي په لاندي توګه ټاکل شوي دي:

- د امنيت لپاره 61.54 ميلياردہ امريکايي ډالر (د مخدره توکو سره د مبارزې نوښتونو لپاره 4.07 ملياردہ امريکايي ډالر)
- د حکومتوالي او پراختيا لپاره 30.65 ملياردہ امريکايي ډالر (د 3.69 ملياردہ امريکايي ډالر د مخدره توکو سره د مبارزې نوښتونو لپاره)
- 2.89 ميليارد ډالر د بشري مرستو لپاره
- 9.00 ملياردہ امريکايي ډالر د ملکي عملياتونو لپاره

شکل 3.4 د امريکا هغه مهم فنډونه ښيي چې پدغو هڅو کې برخه اخلي.

3.4 شکل

د ټاکنو لپاره د هغه بسپني چې د افغانستان د بيارغوني هڅې ملاتړ کوي
(مليارډونه ډالر)




يادونه: شميرې ګردي شوي. د DOD CN تمويل کي کمښت له امله پدې ربع کې ټولټال تمويلونه کم شوي. د امريکا دفاع وزارت له FY 2013 AIF څخه 179.5 مليون ډالر ESF ته د USAID د شمال بريښنا سيستم پروژې لپاره ليږدولي.

[a] په ډيرى ادارو کې DOJ،State ، د امريکا دفاع وزارت، USAID ، خزانه،BBG، DEA ، USDA او سيګار شامل دي.

د امريکا دفاع وزارت ، د سيګار معلوماتو غوښتني ته ځواب، 10/20/2014، 10/16/2014، 10/6/2014، 10/22/2012، 10/14/2009 او 10/1/2009؛ State، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/20/2014، 10/17/2014، 4/15/2014، 6/27/2013، 10/5/2012 او 6/27/2012؛ Treasury، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/9/2014؛ OMB، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/14/2014، 7/19/2013 او 1/4/2013؛ USAID، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/9/2014، 10/15/2010، 1/15/2010 او 10/9/2009؛ DOJ، د سيګار معلوماتو غوښتني ته ځواب، 10/17/2014 او 7/7/2009؛ USDA، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/2009؛ CRS د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 1/8/2014؛ DFAS، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/17/2014؛ P.L.
113-76، 1/17/2014؛ P.L. 113-6، 3/26/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011؛ P.L. 111-212، 10/29/2010؛ P.L.
111-118، 12/19/2009؛ د دفاع د FY 2010 توضيحي بيان.

**ASFF:** د افغانستان د امنيتي ځواکونو فنډ
**CERP:** د قومندان د بيړني غبرګون پروګرام
**AIF:** د افغانستان د زير بنا فنډ
**TFBSO:** د ثبات د عملياتو او سوداګرى لپاره عملياتي ځواک
**DOD CN:** د امريکا دفاع وزارت د مخدره توکو سره مبارزې او د مخدره توکو د مخنيوی فعاليتونه
**ESF:** د اقتصادي ملاتړ وجهي صندوق
**INCLE:** نړيوال مخدره توکو کنټرول او د قانون حاکميت
**نور:** نور مالي تمويل




**له 2002 مالي کال څخه په افغانستان کې د بیارغونې ټولو مرستو څخه، هغه اندازه مرستې چې د امریکا اوو مهمو وجهي صندقونو لپاره برابرې شوې د نږدې 84.3% (نږدې 87.72 میلیاردو امریکایي ډالرو) استزیتوب کوې. لدغو پیسو څخه، له 89.8% څخه زیات (له 78.78 میلیارد امریکایي ډالرو څخه زیات) مکلف شوي دي، او له 79.9% څخه زیات (له 70.11 میلیارد امریکایي ډالرو څخه زیات) توزیع شوي دي. لدې څخه فنډونو ته د اټکل شوې 3.14 میلیارد ډالرو مقدار تاریخ تیر شوی.**

## د افغانستان د بیارغونې لپاره د امریکا مرستې

د 2014 کال د سپتمبر تر 30 پورې، د افغانستان د سوکالی او بیارغونې سره د مجموعي ترسره شوو مرستو مجموعه تقریبا هغه ډول چې په شکل 3.5 کې ښودل شوي 104.08 میلیارد ډالرو ته رسیږي. دا ټولې مرستې کیدای شي د بیارغونې په څلورو مهمو برخو وویشل شي: امنیت، حکومتوالي او پراختیا، بشري مرستې، او بلاخره څارنه او عملیات. د دغو مرستو نږدې 7.76 ملیارده امریکایي ډالر د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د نوښتونو ملاتړ کوي چې په دواړو امنیت (4.07 ملیارده امریکایي ډالر) او حکومتوالي او پراختیا (3.69 میلیونه امریکایي ډالر) برخو کې شاملې دي.

د امریکا دفاع وزارت (د امریکا دفاع وزارت) د امریکا دفاع وزارت مخدره توکو له منځه وړو او مخدره توکو پرضد فعالیتونو صندوق لپاره په تیر ربع کې راپور ورکړ شوي له 2.93 ملیارد ډالرو څخه د بشپړ تمویل 225.58 ملیون ډالر کمښت راپور کړی چې 2.70 ملیارد ډالر کیږي. د دې لامل د روسي Mi-17 هلیکوپترونو لپاره د پرزو تحویلي د بندیز سره مخ کیدو ګواښ و چې د افغان هوایي ځواک څانګړي وزر لخوا کارول کیدې په بیله بیا د افغانستان تاریاکو پروړاندې مبارزې عملیاتي ملاتړ بشپړ دریځ کې له تیرو کلونو کمښتونه. د امریکا لخوا د تخصیص شوو مرستو په اړه د بشپړو معلوماتو لپاره B ضمیمې ته ستانه شی.

3.5 شکل

د 2014 د سپتمبر 30 پورې د تمویل کتګورۍ پر اساس مجموعي تخصیصات (ملیاردونه ډالر)




یادداښت: شمیرې ګردي شوي. د DOD CN تمویل کې کمښت له امله پدې ربع کې تولټال تمویلونه کم شوي. د امریکا دفاع وزارت له FY 2013 AIF څخه 179.5 ملیون ډالر ESF ته د USAID د NEPS لینونو لیرد پروژې لپاره لیږدولي. د امریکا دفاع وزارت له FY 2011 ASFF څخه 1 ملیارد ډالر بیا پروګرام کړي. د امریکا دفاع وزارت له FY 2012 ASFF څخه 1 ملیارد ډالر بیا پروګرام کړي. P.L. 113-6 له FY 2012 ASFF څخه 1 ملیارد ډالر فسخ کړي. د امریکا دفاع وزارت له FY 2013 ASFF څخه 178 ملیون ډالر بیا پروګرام کړي. د امریکا دفاع وزارت له FY 2011 AIF څخه FY 2011 ESF ته 101 ملیون ډالر د زیربنا پروژې تمویل لپاره لیږدولي چې USAID يې پلي کوي.

سرچینه: د امریکا دفاع وزارت، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/17/2014، 10/20/2014، 10/16/2014، 10/6/2014، 10/22/2012، 10/14/2009 او 10/1/2009؛ State، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/20/2014، 4/15/2014، 6/27/2013، 10/5/2012 او 6/27/2012؛ Treasury، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/9/2014؛ OMB، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/14/2014، 7/19/2013 او 1/4/2013؛ USAID، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/9/2014، 10/15/2010، 1/15/2010 او 10/9/2009؛ DOJ، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/17/2014 او 7/7/2009؛ USDA، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/2009؛ CRS د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 1/8/2014؛ DFAS، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/16/2014 او 7/17/2014؛ 1/17/2014 ،P.L. 113-76؛ 3/26/2013 ،P.L.113-6؛ 12/23/2011 ،P.L.112-74؛ 4/15/2011 ،P.L.112-10؛ P.L.111-212، 10/29/2010؛ P.L.

111-118، 12/19/2009؛ د FY 2010 د دفاع توضیحي بیان.

د يو کړی شوي تخصيصونو قانون، 2014، د 2014 مالي کال لپاره اضافي 7.44 میلیارد ډالر برابر کړي، لکه څنګه چې په شکل 3.6 کې ښودل شوي لدغو پيسو څخه، نږدې 4.73 ميليارده امريکايي ډالر د افغانستان د امنيتي ځواکونو د وجهي صندق لپاره مکلف شوي.[91]

د 2014 د سپتمبر په 19، ولسمشر اوباما د 2015 د دوامدارو تخصيصونو فرمان لاسليک کړ، او دا به حکومت ته د 2014 د دسمبر تر 11 مرسته برابره کړي، چې د 2014 مالي کال د فرمان له کچې سره برابر دی. د بيارغوني اوو مهمو وجهي صندقونو لپاره د 2015 مالي کال بودجي غوښتنه د 2014 مالي کال د مرستو له تخصيصونو څخه نږدې 5% کمه ده. د 2015 مالي کال لپاره د امريکا دفاع وزارت د افغانستان د بيارغوني وجهي صندق لپاره د مرستو غوښتنه نه کوي او د افغانستان د سوداګرۍ او ثبات عملياتو کاري ځواک لپاره يوازې د 5 ميليونو امريکايي ډالرو غوښتنه کوي، لکه څرنګه چې پدغه جدول 3.5 کې ښودل شوي.

لکه څرنګه چې په تيرو ربعونو کې راپور ورکړ شوی، د بيارغوني مرستي ډيرې برخه اوس هم پر لارې ده. نږدې 14.47 ملیارده امریکایي ډالر د احتمالي توزيع لپاره پاتي دي. د هغو مرستو چې پر لار دي د لا نورو معلوماتو لپاره 68–69 پاڼه وګورئ.

3.5 جدول

**د 2014 مالي کال تخصيصونه د 2015 مالي کال د بودجې غوښتنې په پرتله** (میلیونونه ډالر)

| | **مالي کال 2014** | **2015 مالي کال (غوښتنه)** |
|---|---|---|
| ASFF | 4,726 ډالر | 4,109 ډالر |
| CERP | 30 | 15 |
| AIF | 199 | 0 |
| TFBSO | 64 | 5 |
| DOD CN | 86 | 148 |
| ESF | 852 | 1,225 |
| INCLE | 225 | 325 |
| **ټول** | **6,182 ډالر** | **5,827 ډالر** |

يادونه: شميرې محاسبه شوي د TFBSO په مرستو کې د دغه کاري ځواک عملياتي لګښتونه شامل ندي.

سرچينه: OMB ، "د امريکا دفاع او کورنيو چارو وزارتونو او نورو نړيوالو پروګرامونو لپاره (State/OIP) " د ولسمشر د 2015 مالي کال په بهر کې د بيړنيو عملياتونو تعديلونو غوښتنه، 6/26/2014؛ د سيګار معلوماتو غوښتنې په اړه د امريکا بهرنيو چارو وزارت ځواب، 4/15/2014؛ OMB، د سيګار معلوماتی غوښتنی ته ځواب، 7/16/2014.

شکل 3.6

د مالي کال، مقدار او کټګورۍ پر اساس تخصیصات




يادداښت: شميرې ګردې شوي. د DOD CN تمويل کې کمښت له امله پدې ربع کې ټولټال تمويلونه کم شوي. د امريکا دفاع وزارت له FY 2013 AIF څخه 179.5 مليون ډالر ESF ته د USAID د NEPS لينونو ليږد پروژې لپاره ليږدولې. د امريکا دفاع وزارت له FY 2011 ASFF څخه 1 مليارد ډالر بيا پروګرام کړي. د امريکا دفاع وزارت له FY 2012 ASFF څخه 1 مليارد ډالر بيا پروګرام کړي. P.L. 113-6 له FY 2012 ASFF څخه 1 مليارد ډالر فسخ کړي. د امريکا دفاع وزارت له FY 2013 ASFF څخه 178 مليون ډالر بيا پروګرام کړي. د امريکا دفاع وزارت له FY 2011 AIF څخه FY 2011 ESF ته 101 مليون ډالر د زيربنا پروژې تمويل لپاره ليږدولي چې USAID يې پلي کوي.

سرچينه: د امريکا دفاع وزارت، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/20/2014، 10/16/2014، 10/6/2014، 10/22/2012، 10/14/2009 او 10/1/2009؛ State، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/20/2014، 10/17/2014، 4/15/2014، 6/27/2013، 10/5/2012 او 6/27/2012؛ Treasury، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/9/2014؛ OMB، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/14/2014، 7/19/2013 او 1/4/2013؛ USAID، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/9/2014، 10/15/2010، 1/15/2010 او 10/9/2009؛ DOJ، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/17/2014 او 7/7/2009؛ USDA، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/2009؛ CRS د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 1/8/2014؛ DFAS، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/16/2014 او 7/17/2014؛ P.L. 113-76، 1/17/2014؛ P.L. 113-6، 3/26/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011؛ P.L. 111-212، 10/29/2010؛ P.L. 111-118، 12/19/2009؛ د FY 2010 د دفاع توضيحي بيان.




**د افغانستان امنیتي ځواکونو وجهي صندق ترمینالوژي**

د امریکا دفاع وزارت د ASFF وجهي صندوق لپاره د تخصیص شوي، مکلف شوي او توزیع شوي مرستو راپور ورکړی

**تخصیصات:** د ژمنو لپاره تولي شته پیسې

**تعهد کړل شوي مرستې:** د پیسو د تادیاتو ژمنې

**مصارفات:** هغه پیسې چې لګول شوي دي

سرچینه: د امریکا دفاع وزارت، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/13/2010.

## د افغانستان د امنیتي ځواکونو بودجه

کانګریس د افغانستان امنیتي ځواکونو فنډ (ASFF) رامنځته کړ ترڅو ANSF ته تجهیزات، تحویلی، روزنه او فنډ ورکول چمتو کړي، په بیله بیا د ودانیو او زیربنا ترمیم، بیا نوي کول، او ودانول.[92] د ANSF جوړولو لپاره بنسټیز مسؤل نهاد د شمالي اتلانتیک تړون سازمان د روزنې ماموریت – افغانستان/ د ګډ امنیتي لیږد قومانده – افغانستان دی.[93] مخکې لدې چې د ASFF فنډونه مکلف شي یو مالي او د فعالیت پلان باید د افغانستان سرچینو د څار شورا (AROC) لخوا تصویب شي.[94]

د مدغم تخصیصونو قانون، 2014، په 2014 مالي کال کې د ASFF لپاره نږدې 4.73 میلیارد امریکایي ډالر تخصیص ورکړي، چې د فنډ ورکولو مجموعه نږدې 57.33 میلیارد امریکایي ډالرو ته زیاته شوي.[95] د 2014 د سپتمبر تر 30 پورې، د ASFF له ټول فنډ څخه نږدې 51.77 میلیارد امریکایي ډالرو ژمنه شوې ده، چې لدې څخه 48.94 میلیارد امریکایي ډالر تادیه شوي دي.[96] شکل 3.7 په هر مالي کال کې د ASFF لپاره ورکړ شوی پیسې ښیي.

د امریکا دفاع وزارت راپور ورکړی چې مجموعي مکلفیتونه په ربع کې له 1.74 میلیارد ډالرو څخه ډیر شوي، او مجموعي مصارف نږدې 712.11 میلیون ډالر ډیر شوي.[97] شکل 3.8 د ASFF لپاره چمتو کړی شوي، مکلف شوي او مصرف شوي مقدار مجموعي پرتله کول ښیي.

شکل 3.7

**د ASFF د مالي کال پر اساس مختص شوي بسپنې** (ملیاردونه ډالر)




شکل 3.8

**د ASFF بسپنې، مجموعي پرتله** (ملیاردونه ډالر)




یادونه: شمیرې ګردې شوي.
د امریکا دفاع وزارت [a] د FY 2011 ASFF 1 ملیارد ډالر بیا پروګرام کړي.
د امریکا دفاع وزارت [b] د FY 2012 ASFF 1 ملیارد ډالر بیا پروګرام کړي؛ نور 1 ملیارد ډالر په P.L 113-6. کې فسخ شوي.
د امریکا دفاع وزارت [c] د FY 2013 ASFF 178 ملیون ډالر بیا پروګرام کړي.

سرچینه: DFAS، "د AR(M) 1002 تخصیص دریځ د مالي کال پروګرام او د 2014 سپتمبر فرعي حسابونو پر اساس،" 10/16/2014؛ د امریکا دفاع وزارت، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/17/2014؛ 1/17/2014، P.L. 113-76؛ 3/26/2013، P.L. 113-6.

## د ASFF د بودیجې فعالیتونه

د امریکا دفاع وزارت پدغه وجهي صندق کې د بودجې درې فعالیتونو ته مرسته تخصیص کوي:

- دفاعي ځواکونه (د افغانستان ملي اردو، ANA)
- کورني ځواکونه (د افغانستان ملي پولیس، ANP)
- اړوند فعالیتونه (تر ډیري کچې د توقیف شوي کسانو عملیاتونه)

د هر **بودجي فعالیتي گروپ** لپاره بودجه بیا په خپل وار سره په څلورو **فرعي فعالیتي گروپونو** باندې ویشل شوې ده: زیربنا، تجهیزات او ټرانسپورټیشن، روزنه او عملیات، او ثبات.[98] AROC باید په کلني ډول له 50 میلیونه ډالرو څخه ډیر د اړتیاو خدمت او 100 میلیونه ډالرو څخه ډیر د غیر - معیاري تجهیزاتو اړتیا لپاره د اړتیا او لاسته راوړلو پلان تصویب کړي.[99]

د 2014 د سپتمبر تر 30 پورې، د امریکا دفاع وزارت د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو نوښتونو لپاره نږدې 48.94 میلیارده امریکایي ډالر تادیه کړي دي. لدې مقدار څخه، د 32.40 میلیارد امریکایي ډالرو څخه ډیر ANA لپاره تادیه شوي، او له 16.17 میلیارد امریکایي ډالرو څخه ډیر ANP لپاره تادیه شوي؛ او پاتي نږدې 364.49 میلیونه امریکایی ډالر اړوندو فعالیتونو ته تللي دي.[100]

لکه څرنګه چې پدغه شکل 3.9 کې ښودل شوي، د افغانستان ملي اردو لپاره د مرستو لویه توزیع شوي برخه، چې نږدې 12.45 میلیارده امریکایي ډالر ده، د افغانستان د ملي اردو ځواکونو دوام ملاتړ لپاره وه. د افغانستان ملي پولیسو لپاره توزیع شوي مرستو لویه برخه، له 6.31 میلیارده امریکایي ډالرو څخه زیاته، هم د افغانستان ملي پولیسو د ځواکونو د دوام ملاتړ لپاره وه، لکه څرنګه چې پدغه شکل 3.10کې ښودل شوي.[101]

**د بودجوي فعالیتونو گروپونه:** کټګوریاني هر تخصیص دننه او یا هم د هغه مالي حساب چې د اړونده موخو، پروژو،او یا هم د تخصیص فعالیت په ګوته کوي

**فرعي فعالیتي گروپونه:** حسابي ګروپونو ویش په مالي سیمو باندې د تعهد کړل شوو مرستو مصارف په ډاګه کوي

سرچینه: د امریکا دفاع وزارت، "7110.1-M منول د دفاع وزارت د بودجوي لاربښود منول"، چې په 9/28/2009 لاس رسی ورته شوی دی؛ د بحري ځواکونو ریاست، " د روغتیایی اسانتیا مدیر لاسی کتاب"، 5 پانه، چې په 10/2/2009 باندي لاس رسی ورته شوی دي.

شکل 3.9

**د ANA لپاره د فرعي فعالیت گروپ پر اساس د ASFF مصرفونه، مالي کال 2005 – سپټمبر 30، 2014** (ملیاردونه ډالر)




شکل 3.10

**د ANP لپاره د فرعي فعالیت گروپ پر اساس د ASFF مصرفونه، مالي کال 2005 – سپټمبر 30، 2014** (ملیاردونه ډالر)




یادونه: شمیرې ګردي شوي.

سرچینه:DFAS، " د AR(M) 1002 تخصیص دریځ د مالي کال پروګرام او د 2014 سپټمبر فرعي حسابونو پر اساس،" 10/16/2014.




**د CERP د وجهي صندوق ترمینالوژي**
د امریکا دفاع وزارت د CERP مرستې لکه څرنګه چې تخصیص شوي، مکلف شوي او توزیع شوي.

**تخصیصات:** د تعهداتو لپاره موجوده پیسې

**تعهد کړل شوي مرستې:** د پیسو د تادیاتو ژمنې

**مصارفات:** پیسې چې باید مصرف کړل شي

سرچینه: د امریکا دفاع وزارت، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/14/2010.

## د قوماندان بیړني غبرګون پروګرام

د قوماندان د بیړنی غبرګون پروګرام په افغانستان کښی امریکایی قوماندانانو ته توان او موقع ورکوی تر څو په بیړنیو حالاتو کښی په بشری او بیارغونیزو برخو کښی د خپل ماموریت په سیمه کښی د محلی خلکو سره مرسته او کمک تر سره کړی. تر دې پروګرام لاندې پانګونه ورو پروژو ته ځانګړې شوې ده، چې لګښت يې تر 500,000 ډالرو کم دی.[102] پروژو ته، چې لګښت يې تر 1 میلیون ډالرو تېرې نه کوي، اجازه ورکړل شوي ده؛ خو دا د متحده ایالتونو د مرکزي قوماندې د قوماندان تصویب غواړي. له 5 میلیون ډالرو څخه زیاتي پروژې د AROC لخوا تایید ته اړتیا لري. د CERP تمویل کړل شوي پروژې ممکن تر 20 میلیون ډالرو تجاوز ونکړي.[103]

د بوکریشوي تخصیصاتو قانون 2014، د CERP لپاره 30 میلیون ډالر تخصیص کړي چې پدغه سره د ټولو مرسته شوو مجموعه 3.67 میلیاردو ډالرو ته رسیږي.[104] چې د دغه مقدار څخه د امریکا د دفاع وزارت د راپور پر اساس نږدې 2.28 میلیارد ډالر مکلف شوي، چې د 2014 کال د سپتمبر تر 30مه پورې یې نږدې 2.26 میلیارد ډالر مصرف کړل شوي دي.[105] شکل 3.11 د مالي کال په اساس د CERP لپاره تخصیصات ښيئ او شکل 3.12 په مقایسوي ډول د CERP پروژو لپاره د تخصیص، منل شوو او مصرف شوو ارقامو ښکارندوی کوي.

شکل 3.11

**د CERP تخصیصات د مالي کال پر اساس**
(ملیونونه ډالر)




شکل 3.12

**د CERP بسپنې، مجموعي پرتله**
(ملیاردونه ډالر)




یادونه:شمیرې ګردي شوي. په معلوماتو کې د ادارو ترمنځ لیږدول شامل دي.

سرچینه: د امریکا دفاع وزارت، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځوابونه، 10/20/2014 او 7/17/2014؛ OMB، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځوابونه، 1/4/2013؛ P.L.
113-76، 1/17/2014؛ P.L. 113-6، 3/26/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011.




**د AIF وجهي صندوق ترمينالوژي**
د امریکا دفاع وزارت د AIF وجهي صندوق لپاره، د تخصیص شوي، مکلف شوي او توزیع شوي مرستو راپور ورکړی.

**تخصیصات:** د تعهداتو لپاره موجوده پیسې

**تعهد کړل شوې مرستې:** د پیسو د تادیاتو ژمنې

**مصارفات:** هغه پیسې چې لګول شوي دي

سرچینه: د امریکا دفاع وزارت، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/13/2012.

## د افغانستان د زیربنا فنډ

د افغانستان زیربنا فنډ (AIF) په 2011 مالي کال کې د لوړ اهمیت لرونکو-سترو زیربنایي پروژو لپاره رامنځته شوی چې د امریکا ملکي-نظامي هڅې ملاتړ کوي. د کانګرس غوښتنه ده چې د AIF لخوا تمویل شوي پروژې به د امریکا د دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو لخوا په ګډه غوره او اداره کیږي. AROC باید د AIF لخوا د پروژو تمویل او پروژو بشپړولو پلان تایید کړي، او د امریکا دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو وزیران باید کانګرس د وړاندیز شوي پروژو له جزییاتو، پشمول د پروژې دوام، او دا چې دا پروژه څرنګه په افغانستان کې د یاغیانو پر وړاندې له ستراتیژۍ څخه ملاتړ کوي، خبر کړي.[106]

د 2014 متحدو تخصیصونو قانون، د افغانستان زیربنا فنډ لپاره 199 میلیونه امریکایي ډالر تخصیص کړي. پدغه ربع کې، د امریکا دفاع وزارت د افغانستان زیربنا فنډ د 2013 مالي کال له مرستو څخه 179.5 میلیونه امریکایي ډالر د اقتصادي ملاتړ وجهي صندق د USAID د شمال ختیځ بریښنا د لیږد لینونو سیستم پروژې ته لیږلي، چې لدې سره د افغانستان د زیربنا فنډ زیاتیدونکي تخصیصونو اندازه چې په تیر ربع کې 1.22 میلیارده امریکایي ډالر راپور ورکړ شوې، 1.04 میلیارد امریکایي ډالرو ته کمه شوې. تر اوسه، USAID ته 280.5 میلیون امریکایي ډالر لیږل شوي دي ترڅو د افغانستان زیربنا فنډ تمویل شوي پروژې بشپړې کړي. دغه[107] شکل 3.13 د هر مالي کال لپاره د افغانستان زیربنا فنډ تخصیصونه ښیي. د 2014 د سپتمبر تر 30 پورې، نږدې 751.63 میلیونه امریکایي ډالر د افغانستان زیربنا فنډ له ټولو مرستو څخه مکلف شوي دي، لدغو څخه له 296.91 میلیونه امریکایي ډالر توزیع شوي دي، لکه څرنګه چې پدغه شکل 3.14 کې ښودل شوي.[108]

شکل 3.13

**د AIF تخصیصات د مالي کال پر اساس**
(میلیونونه ډالر)




شکل 3.14

**د AIF بسپنې، مجموعي پرتله**
(میلیونونه ډالر)




یادونه:شمیرې ګردې شوي.
[a] د FY 2011 ارقامو څخه 101 ملیون ډالر خارج دي چې USAID ته د AIF پلي کولو لپاره لیږدول شوي.
[b] د FY 2013 ارقامو څخه 179.5 ملیون ډالر خارج دي چې USAID ته د AIF پلي کولو لپاره لیږدول شوي.

سرچینه:DFAS، "د AR(M) 1002 تخصیص دریځ د مالي کال پروګرام او د 2014 سپتمبر فرعي حسابونو پر اساس،" 10/16/2014؛ DFAS، "د AR(M) 1002 تخصیص دریځ د مالي کال پروګرام او د 2014 جون فرعي حسابونو پر اساس،" 7/18/2014؛ P.L.113-76، 1/17/2014؛ P.L. 113-6، 3/26/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011.

## د سوداګرۍ او ثبات عملیاتو لپاره کاري ځواک

په 2010 کال کې د سوداګرۍ او ثبات عملیاتو لپاره کاري ځواک (TFBSO) په افغانستان کې د بې کارۍ د کچې د کمولو، افغانانو لپاره د اقتصادي فرصتونو د رامنځ ته کولو او همدا ډول د اقتصادي لاملونو د رامنځ ته شوي تاوتریخوالي سره د مبارزې له لارې د افغانستان د ثبات په موخه خپل فعالیت پدغه هیواد کې پیل کړ. د TFBSO پروژو کې خصوصي پانګونه، صنعتي پرمختګ، بانک داري او د مالي سیستم وده، کرنیزه تنوع او بیا راپیدا کول، او د بریښنا پرمختګ شامل دي.[109]

د 2014 د سپتمبر تر 30 پورې، د 2014 مالي کال لپاره TFBSO ته له 122.24 میلیونو امریکایي ډالرو څخه زیات تخصیص شوي، او لدې سره دې کاري ځواک ته زیاتیدونکي تخصیصونه نږدې 814.83 میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیدلي.[110] لدغو پیسو څخه، د 767.78 میلیونو امریکایي ډالرو څخه زیات مکلف شوي او له 595.12 میلیونو امریکایي ډالرو څخه زیات توزیع شوي دي.[111] دغه شکل 3.15 هغه تخصیصونه ښیي چې د TFBSO پروژو لپاره د مالي کال پر اساس تخصیص شوي، او دغه شکل 3.16 د TFBSO پروژو لپاره د شته، مکلف شوي او توزیع شوي پیسو پرتله کیدونکي اندازه ښیي.




**د TFBSO وجهي صندوق ترمینالوژي**

د دفاع وزارت TFBSO وجهي صندوق لپاره د تخصیصونو، مکلفیتونو او توزیع شوي مرستو راپور ورکړی.

**تخصیصات:** د تعهداتو لپاره موجوده پیسې

**تعهد کړل شوې مرستې:** د پیسو د تادیاتو ژمنې

**مصارفات:** هغه پیسې چې لګول شوي دي

سرچینه: د امریکا دفاع وزارت، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/13/2010.

شکل 3.15

**د TFBSO تخصیصات د مالي کال پر اساس**

(ملیونونه ډالر)




شکل 3.16

**د TFBSO بسپنې، مجموعي پرتله**

(ملیونونه ډالر)




یادونه:شمیرې ګردي شوي.د TFBSO لپاره مختص شوي 814.83 ملیون ډالرو څخه، 358.03 ملیون ډالر د اردو عملیاتو او ساتنې حساب څخه د متحده ایالاتو پانګو، ملکي کارمندانو، سفر، امنیت او نورو عملیاتي لګښتونو پاینښت لپاره دي.

سرچینه: د امریکا دفاع وزارت ، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/6/2014، 7/8/2014 او 10/4/2011؛ P.L. 113-76, 1/17/2014; P.L. 113-6, 3/26/2013; P.L. 112-74, 12/23/2011; P.L. 112-10, 4/15/2011. DOD CN

## د امريکا د دفاع وزارت د مخدره توکو د مخنيوی او مخدره توکو سره د مبارزې فعاليتونه

د امريکا دفاع وزارت د مخدره توکو د مخنيوی او مخدره توکو پر وړاندې د فعاليتونو وجهي صندق (DOD CN) د هغو هڅو ملاتړ کوي ترڅو د مخدره توکو د قاچاق او اړوندو فعاليتونو مخنيوی سره افغانستان ته ثبات راوړي.[112] د DOD CN مرستې د اردو ټولو خدمتونو لپاره د يوې واحدې بودجې پر اساس د کانګرس لخوا تخصيص ورکول کيږي. د امريکا دفاع وزارت د مخدره توکو سره د مبارزې د سپارلو له مرکزي حساب (CTA) څخه د اردو د خدماتو او د دفاع ادارو ته فنډونه بېرته پروګراموي چې د فنډونو ژمني تعقيبوي. د هر مالي کال لپاره د امريکا دفاع وزارت د افغانستان لپاره د DOD CN د حسابونو په اړه د يو لګښت په توګه راپور ورکړی.[113]

د 2014 د سپتمبر تر 30 پورې، له 2004 څخه د DOD CN لپاره 2.70 ميليارده امريکايي ډالر تخصيص شوي دي. لدغو پيسو څخه، نږدې 2.62 ميلياردہ امريکايي ډالر د DOD CN د پروژو لپاره د اردو خدمتونو او نورو اداره ته ليږل شوي دي. د امريکا دفاع وزارت د DOD CN په ټولو مرستو کې د 225.58 ميليون امريکايي ډالرو ورکړی راپور کموالي چې په تير ربع کې 2.93 ميلياردہ امريکايي ډالر و او اوس 2.70ميلياردہ امريکايي ډالر دي، او دا د روسيې د Mi-17 هليکوپترونو د فالتو سامونونو د برابرونکي پر وړاندې د تحريم له کبله و، چې لدې هليکوپترونو څخه به د افغانستان هوايي ځواک د ځانګړې وزر ماموريت لپاره کار اخيستل کيدای او له تير کال څخه د افغانستان د مخدره توکو پر وړاندې د عملياتونو د ملاتړ په توله کچه کې د کموالي له کبله و.[114] دغه شکل 3.17 د هر مالي کال پر اساس د DOD CN تخصيصونه ښيي، او دغه شکل 3.18 د DOD CN CTA څخه د زياتيدونکو تخصيصونو پرتله کيدل ښيي.




**د DOD CN وجهي صندوق ترمينالوژي**

د دفاع وزارت د DOD CN وجهي صندوق لپاره د تخصيصاتو، منل شوو او مصرف شوو مرستو راپور ورکړی.

**تخصيصات:** د تعهداتو لپاره موجوده پيسې

**تعهد کړل شوي مرستې:** د پيسو د تاديااتو ژمني

**مصارفات:** هغه پيسې چې لګول شوي دي

سرچينه: د امريکا دفاع وزارت، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/13/2010.

شکل 3.17

**د DOD CN تخصيصات د مالي کال پر اساس**
(مليونونه ډالر)




شکل 3.18

**د DOD CN بسپنې، مجموعي پرتله**
(مليارډونه ډالر)




يادونه: شميرې ګردي شوي. د تير کال تنظيمات په دوره ای توګه د نه منل کيدو لپاره سرته رسيدلي او/ يا د څو کلونو د پيرود تمويل بيا ترتيب لپاره. د FY14 مختص شوي بسپنو لازميتونه له پلان شوي 317.7 مليون ډالرو څخه خورا ټيټ و. د اجرا په فاکتورونو کې د DoD CN چاروواکو نړيواله لنډمهاله لويدنه او نور يې لکه FY14 مداوم حل نه شتون، د متحده ايالاتو او روسيه ترمنځ سياسي شخړه او د Mi-17 پرزو د پلورونکو پرووړاندې د تحريم ګواښ، او د افغانستان بشپړ عملياتي ملاتړ کې له تيرو کلونو څخه کموالی شامل و ځکه چې د متحده ايالاتو شتون په ټوليزه توګه کم شو.

[a] د امريکا دفاع وزارت د منل کيدو او مصرف لپاره د اردو خدماتو او دفاع ادارو ټول فنډونه بيا پروګراموي.

سرچينه: د امريکا دفاع وزارت، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/20/2014 او 7/3/2014.

## د اقتصادي ملاتړ بودیجه

د اقتصادي ملاتړ د بودیجې (ESF) پروګرامونه هڅوادونو سره د هغوی په لنډمهاله او اوږدمهاله سیاسي، اقتصادي، او امنیتي اړتیاو کې په مرستو کولو سره د متحده ایالاتو ګټې پر مخ بوځي. د ESF پروګرامونه د تروریزم پر وړاندې د پروګرامونو ملاتړ کوي؛ ملي اقتصادونه ځوکمن کوي؛ او د لا ډیر شفاف او حساب ورکوونکي حکومت لپاره د اغیزمن، د لاس رسي وړ، او خپلواک قانوني سیستم د پراختیا لپاره مرسته کوي.[115]

د ESF لپاره 852 میلیون ډالر د 2014 کال لپاره تخصیص شوي. پدغه ربع کې، د امریکا دفاع وزارت د افغانستان زیربنا وجهي صندق د 2013 مالي کال له مرستو څخه 179.5 میلیون امریکایي ډالر د ESF د USAID د شمال ختیځ بریښنا لیرد لینونو سیستم پروژې ته لیږلي، چې لدې سره د ESF مرستي له 17.72 میلیارد امریکایي ډالرو څخه زیاتیږي. لدې پیسو څخه، نږدې 16.43 میلیارد امریکایي ډالرو ژمنه شوې، چې لدې څخه 12.25 میلیارد امریکایي ډالر تادیه شوي.[116] شکل 3.19 د هر مالي کال لپاره د ESF تخصیص ښیي.

USAID راپور ورکړی چې د 2014 د سپټمبر تر 30 پورې، د تیر ربع له راپور ورکړ شوي اندازې څخه، د زیاتیدونکي تخصیصونو اندازه نږدې 1.74 میلیارد امریکایي ډالر راپور ورکړی. د 2014 د سپټمبر تر 30 پورې، زیاتیدونکي تادیاتو نږدې 157.31 میلیونه امریکایي ډالر د 2014 د مارچ 30 تر زیاتیدونکو تادیاتو زیات شوي.[117] شکل 3.20 د اقتصادي ملاتړ وجهي صندق پروګرامونو لپاره د تخصیص شویو، مکلف شویو او تادیه شویو زیاتیدونکي پرتله کول ښیي.




**د ESF وجهي صندوق ترمینالوژي**
USAID د ESF وجهي صندوق لپاره د تخصیصونو، مکلفیتونو او توزیع شوو مرستو راپور ورکړی.

**تخصیصات:** د تعهداتو لپاره موجوده پیسې

**تعهد کړل شوې مرستې:** د پیسو د تادیاتو ژمنې

**مصارفات:** هغه پیسې چې لګول شوي دي

سرچینه: د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 4/15/2010.

شکل 3.19

**د ESF تخصیصات د مالي کال پر اساس**
(ملیاردونه ډالر)




شکل 3.20

**د ESF بسپنې، مجموعي پرتله**
(ملیاردونه ډالر)




یادونه: شمیرې ګردې شوي. د FY 2011 ارقامو کې 101 میلیون ډالر شامل دي چې ESF ته د افغانستان د زیربنا صندوق (AIF) څخه لیږدول شوي. د FY 2013 ارقامو کې 179.5 میلیون ډالر شامل دي چې ESF ته د AIF څخه لیږدول شوي.

سرچینه: USAID، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/9/2014 او 7/10/2014؛ د بهرنیو چارو وزارت State، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/15/2014.

## د مخدره توکو نړيوال کنټرول او د قانون پلي کول

د امريکا د نړيوال مخدره توکو او قانون پلي کولو چارو بيورو (INL) د قانون حاکميت بنه کولو او مخدره توکو توليد او قاچاق سره مبارزې حساب اداره کوي، چې د نړيوال مخدره توکو کنټرول او قانون پلي کولو (INCLE) حساب دی. INCLE د INL د ځو پروګرامونو، پشمول د پوليسو، مخدره توکو سره مبارزې، او د قانون حاکميت او عدالت ملاتړ کوي.[118]

د امريکا بهرنيو چارو وزارت راپور ورکړی چې په 2014 مالي کال کې د INCLE لپاره 225 ميليون امريکايي ډالر تخصيص شوي، او لدې سره د INCLE زياتيدونکي مرستې 4.44 ميليون امريکايي ډالرو ته رسيدلي. لدغو پيسو څخه، له 4.16 ميلیارد امريکايي ډالرو څخه زيات مکلف شوي دي، او لدغو څخه له 3.15 ميليارد امريکايي ډالرو څخه زيات توزيع شوي دي.[119] 3.21 دغه شکل د هر مالي کال پر اساس د INCLE تخصيصونه ښيي.

د امريکا د بهرنيو چارو وزارت په وينا، د 2014 کال د سپتمبر 30 سره سم، د 2014 کال د جون د 30 په تناسب د منل شوو مرستو مجموعه 600.55 ميليون ډالره زياته کړل شوې ده. د 2014 د سپتمبر تر 30 پورې زياتيدونکي تاديات، د 2014 د جون تر 30 په زياتيدونکو تادياتو له 150.55 ميليون امريکايي ډالرو څخه ډېر زيات شوي.[120] شکل 3.22 د INCLE لپاره د تخصيصونو، مکلفيتونو او تادياتو زياتيدونکي پرتله کول ښيي.




**د INL وجهي صندوق ترمينالوژي**

INL د INCLE او نور INL فنډونو لپاره د تخصيصونو، مکلفيتونو او توزيع شوو مرستو راپور ورکړی

**تخصيصات:** د تعهداتو لپاره موجوده پيسي

**تعهد کړل شوې مرستې:** د پيسو د تادياتو ژمنې

**مصارفات:** هغه پيسې چې لګول شوي دي

سرچينه: د سيګار د 4/9/2010 معلوماتي غوښتنې ته د بهرنيو چارو وزارت ځواب.

شکل 3.21

**د INCLE تخصيصات د مالي کال پر اساس**

(مليونونه ډالر)




شکل 3.22

**د INCLE بسپنې، مجموعي پرتله**

(مليارډونه ډالر)




يادونه:شميرې ګردې شوي. په معلوماتو کې د ادارو ترمنځ ليږدوني شامل دي.

سرچينه:State، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/17/2014 او 7/16/2014.

## د افغانستان لپاره
## د بيا رغوني نړيواله مرسته

د امريکا پر برابره شوې مرستو برسيره، نړيواله ټولنه د افغانستان د بيارغوني او هوسايني لپاره د مرستو ډيره برخه برابروي. لکه څرنګه چې د سيګار د تير ربعو په راپورونو کې راغلي، د نړيوالې ټولنې ډيرى برابر شوې مرسته د وجهي صندقونو له لارې اداره کيږي. د باوري پانګو له لارې چمتو شوې اعانې يوځاى شوې او وروسته د بيارغونې کړنو باندې لګول شوې. د باوري فنډ د ډلې څخه دوه لوى فنډونه د افغانستان د بيارغونې باوري فنډ (ARTF) او د افغانستان لپاره د قانون او نظم باوري فنډ (LOTFA) دي.[121]

## د افغانستان د بيا رغوني وجهی صندوق سره مرستې

د افغانستان عملياتي او پرمختګ بوديجو ته د نړيوالو مرستو خورا لوى سهم د ARTF له لارې راځي. له 2002 څخه د 2014 د سپتمبر تر 22 پورې، نړيوال بانک راپور ورکړى چې 33 مرستندويانو د نږدې 7.92 ميليارد امريکايي ډالرو ژمنه کړې ده، لدغو پيسو څخه نږدې 7.26 ميليارد امريکايي ډالر تاديه شوي دي.[122] د نړيوال بانک په وينا، د افغانستان د 1393 مالي کال لپاره چې د 2013 د دسمبر له 21 څخه د 2014 د دسمبر تر 20 پورې دی مرستندويانو د ARTF لپاره له 1.01 ميليارد امريکايي ډالرو څخه زياتو ژمنه کړې ده.[123] دغه شکل 3.23 د 1393 مالي کال لپاره د ARTF تر ټولو لوى 11 مرستندويان ښيي.

شکل 3.23

**د 2014 د سپتمبر تر 22 پورې، د ډونر (تمويل کونکي) په واسطه د FY 1393 لپاره د ARTF مرستې** (مليونونه ډالر)




يادونه:شميرې ګردې شوي. FY 1393 = 12/21/2013–12/20/2014.

شکل 3.24

د ډونرانو لخوا د ARTF ورکړل شوي مرستي، SY 1381 (2002) – د 2014 د سپتمبر تر 22 پورې (سلنه)

تولټال ورکړل شوي: 7.3 ملیارد ډالر




یادونه: شمیرې ګردي شوي. په "نورو" کې 29 ډونران (تمویل کونکي) شامل دي.

سرچینه: نړیوال بانک، *ARTF* : د 2014 *د سپتمبر تر 22 پورې په مالي دریځ اداري راپور*، 5 مخ.

د 2014 د سپتمبر تر 22 پورې، له 2002 راهیسې امریکا له 2.39 میلیارد ډالرو څخه ډیرو ژمنه کړې وه او نږدې 2.04 میلیارد امریکایي ډالر یې ورکړي. 124 امریکا او انګلستان د ARTF دوه لوی مرسته کوونکي هیوادونه دي، لکه څنګه چې پدغه شکل 3.24کې ښودل شوې، هغوی یو ځای د ټول فنډ 45% ورکړې.

په ARTF کې برخې اخیستنې د مرستو په دوو چینلونو چې د روان لګښتونو (RC) کړکی او د پانګونې کړکی دې، ویشل شوي. [125] د 2014 سپتمبر تر 22 پورې، د نړیوال بانک په وینا، د ARTF له مرستو څخه نږدې 3.14 میلیارده امریکایي ډالر د افغانستان حکومت ته د روانو لګښتونو له لارې تادیه شوي ترڅو د روانو لګښتونو لکه د ملکي کارکوونکو معاشونه ورکړ شي. [126] د روانو لګښتونو کړکی د افغانستان د عملیاتي لګښتونو ملاتړ کوي ځکه چې د افغانستان کورني لګښتونه اوس هم کافي ندي ترڅو د روانو لګښتونو ملاتړ وکولای شي. ترڅو دا وکتل شي چې د روانو لګښتونو کړکی په پوره اندازه مرستې ترلاسه کوي، کیدای شي ARTF ته مرسته کوونکي هیوادونه له نیمي څخه ډیره برخه اخیستنه د پام وړ پروژو لپاره و نه "غواړي" (په نښه نکړي). [127]

د پانګې اچونې فرصت د پرمختیایي پروګرامونو لګښت پرغاړه لري. د 2014 د سپتمبر تر 22 پورې، د نړیوال بانک په وینا، د پانګونې د کړکی له لارې له 3.64 میلیاردو ډالرو څخه ډیرو ژمنه شوې ده، لدغه څخه نږدې 2.70 میلیارده ډالر تادیه شوي دي. نړیوال بانک د 22 روانو پروژو راپور ورکړی چې ټول ژمنه شوی ارزښت یې نږدې 2.33 میلیارد امریکایي ډالر دي، لدغه څخه نږدې 1.39 میلیارد امریکایي ډالر تادیه شوي دي. [128]

## د افغانستان لپاره د قانون او نظم د باوري فنډ سره مرستې

شکل 3.25

**د 2014 د جون تر 30 پورې له 2002 راهیسې LOTFA ته د ډونر مرستې** (سلنه)

تولټال ورکړل شوي: 3.6 ملیارد ډالر




یادونه: شمیرې ګردي شوي. EU = د اروپا اتحادیه په "نورو" کې 18 ډونران شامل دي.

سرچینه: UNDP، د افغانستان لپاره د قانون او نظم صندوق (LOTFA) د 2014 د دوهمې ربعې د پروژې د پرمختګ راپور، 9/24/2014، 33 مخ؛ د سیګار د UNDP د LOTFA درې میاشتني او کلني راپورونو څیړنه، 10/19/2014.

د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام (UNDP)، LOTFA) اداره کوي ترڅو د افغانستان ملي پولیسو معاشونه تادیه شي او د افغانستان کورنیو چارو وزارت ظرفیتونو ته وده ورکړ شي. [129] د وروستیو شته معلوماتو پر اساس، له 2002 څخه، مرستندویانو د LOTFA لپاره د نږدې 3.83 میلیاردو امریکایي ډالرو ژمنه کړې ده، لدغو څخه نږدې 3.63 میلیارده امریکایي ډالر تادیه شوي دي. [130] د LOTFA د ملاتړ شپږمه دوره د 2011 د جنوری په 1 پیل شوې. VI برخه لمړی پلان شوې وه ترڅو د 2013 د مارچ په 31 پای ته ورسیږي، مګر له دوو غزیدلو وروسته، اوس د پای پلان شوې نیټه د 2014 د دسمبر 31 نیټه ده. [131] په 42 میاشتو کې د VI برخې له پیل څخه، UNDP نږدې 1.76 میلیارده امریکایي ډالر له LOTFA څخه د افغانستان حکومت ته لیږلي ترڅو د افغانستان ملي پولیسو او مرکزي بندیخانې د ریاست کارکوونکو معاشونو ورکړې او نږدې 47.10 میلیونه امریکایي ډالر د ظرفیت لوړولو او LOTFA نورو نوښتونو ته ورکړي. [132]د 2014 د جون تر 30 پورې، د LOTFA د VI برخې لپاره مرستندویانو نږدې $2.30 میلیارده امریکایي ډالرو ژمنه کړې ده. لدغو پیسو څخه، امریکا د 967.10 میلیونه امریکایي ډالرو ژمنه کړې ده، او جاپان له 744.76 میلیونه امریکایي ډالرو څخه ډیره ژمنه کړې ده. د دوی مشترک تعهدات د LOTFA شپږم فاز د مجموعي تعهداتو نږدې 75% برخه جوړوي. د دې وجهي صندق له پیل څخه، امریکا LOTFA ته له 1.52 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه زیاتو ژمنه کړې او نږدې 1.45 میلیاره امریکایي ډالر یې تادیه کړي دي. [133]د وروستیو شته معلوماتو پر اساس دغه شکل 3.25 له 2002 څخه د LOTFA تر ټولو څلور لوی مرستندویانو ښیي.

# د امنیت منځپانګې


پدې ربع کې مهمې مسلې او پیښې 85

په افغانستان کې د امریکا ځواکونه 91

د قرارداد کولو پر کمزوریو برسیره چې دوه کاله وړاندې پیژندل شوې وې، د امریکا دفاع وزارت حساب ورکول اوس هم یوه اندیښنه ده 91

د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو شمیر 92

د افغانستان دفاع او کورنیو چارو وزارتونو ارزونې تر جنوری میاشت په تمه دي 96

د افغانستان سیمه ایز پولیس 98

د افغانستان ملي اردو 98

د افغانستان ملي پولیس 106

د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو طبي/روغتیایي پاملرنه 109

د هغو مهماتو لړې کول چې چاودلې نه وي 110

د مخدره توکو په وړاندې مبارزه 112

# امنيت

د 2014 د سپتمبر تر 30، د امريکا کانګريس 61.5 ميلیارده امريکايي ډالر د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو د ملاتړ لپاره تخصيص کړي دي. د دغو مرستې ډېره (57.3 ميلیارده امريکايي ډالر) برخه د افغانستان د امنيتي ځواکونو د وجهي صندق له لارې ليږل شوي او د افغانستان د امنيت د سپارلو ګډې قوماندانی (CSTC-A) يا د دفاع د امنيتي همکاری اداري لخوا مکلف شوي. کانګريس ASFF د دې موخې لپاره رامنځته کړ چې د افغانستان ملي اردو ځواکونه جوړ، روزنه، او دوام ورکړي، چې د افغانستان له ملي اردو (ANA) او د افغانستان له ملي پوليسو (ANP) څخه ترکيب شوي. ASFF ته د ځانګړي شويو 57.3 ميليارد ډالرو له جملې د شاوخوا 51.8 ميليارد ډالرو ژمنه شويده او له هغې جملې د 2014 کال د سپتمبر تر 30 پورې 48.9 ميلیارده ډالر لګول شويدي.[134]

دا برخه د امريکا د مرستو په اړه يو عمومي نظر وړاندي کوي چې د افغانستان امنيتي ځواکونو د جوړولو، تجهيز، او روزني لپاره کارول شوي؛ او د هغو هڅو په اړه نوي معلومات وړاندي کوي ترڅو په افغانستان کې د غير قانوني مخدره توکو له کرني او سوداګرۍ سره مبارزه وشي. دا برخه د دغه کال په پای کې د افغانانو په مشرۍ د امنيت سپارلو په اړه هم خبري کوي.

## پدې ربع کې مهمې مسلې او پيښې

د دې ربع په مهمو مسلو او پيښو کې د امريکا او افغانستان تر منځ د دوه اړخيزې امنيتي موافقې (BSA) لاسليک کيدل، د نړيوال امنيت مرستندويه ځواک (ISAF) د قوماندانۍ بدليدل، د افغانستان د راتلونکي په اړه په ويلز کې د ناټو په غونډه کې د نړيوالې ټولنې نوې ژمنې، د آيساف د ملاتړ نوي ماموريت بدليدل، د افغانستان د عامه خونديتوب له ځواک (APPF) څخه د کاروانونو او تاسيساتو امنيت مسوليتونو سپارل، او د افغانستان د امنيتي ځواکونو د کميدلو کچې په اړه رواني انديښني شاملې دي. پردې برسيره، ملګرو ملتونو په افغانستان کې د تاوتريخوالي د ډيريدلو راپور ورکړی.

## دوه اړخيزه امنيتي موافقه په نهايت کې لاسليک شوه

له اوږد مهالي نامعلومتيا او خبرو وروسته، امريکا او افغانستان دوه اړخيزه امنيتي موافقه لاسليک کړه چې د نورو شيانو په منځ کې به له 2014 وروسته په افغانستان کې د امريکا ځواکونو قانوني دريځ تعريف کړي. BSA – يا په رسمي توګه د امريکا او افغانستان اسلامي جمهوريت ترمنځ د امنيتي همکارۍ او دفاعي موافقه، د 2014 د سپتمبر په 30، يعني يوه ورځ د افغانستان د نوي ولسمشر اشرف غني له لوړې وروسته لاسليک شوه. ولسمشر غني او نوی تعين شوی اجراييه ريس عبدالله حاضر و ترڅو د امريکا سفير جيمز کنينګهم او د افغانستان د ملي امنيت مشاور محمد حنيف اتمر لخوا د موافقې لاسليک کيدلو شاهد اوسي.[135]

که څه هم BSA دا نده څرګنده کړې چې څومره امریکایي ځواکونه به په افغانستان کې پاتې شي، مګر د هغوی لپاره دا یو اړین حالت دی ترڅو له 2014 وروسته پاتې شي.[136] ولسمشر اوباما په می کې ووېل چې د 2015 تر پیل پورې به د امریکا ځواکونه 9,800 ته راکم شي.[137] په BSA کې د امریکا دفاع وزارت اردو کارکوونکو او ملکي کارکوونکو لپاره د خوندیتوب جزییات لیکل شوي. لکه د 2003 د ځواکونو د دریځ موافقې پر اساس، د BSA تر لاندې قرارداد کوونکې د افغانستان قضایي سیستم له محاکمې څخه معاف ندي، مګر د امریکا عسکران معاف دي.[138] د ډیرو مسلو په منځ کې چې په BSA کې تر پوښښ لاندې راغلي، دا موافقه:[139]

- د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو د جوړولو، تجهیز، او د ملاتړ لپاره د مرستو پیدا کولو لپاره د امریکا پر مکلفیتونو ټینګار کوي
- هغه موافقه تاسیسوي ترڅو له دفاعي او امنیتي سرچینو څخه د افغانستان کار اخیستنې تحلیل لپاره ګامونه واخیستل شي
- له دفاعي او امنیتي سرچینو څخه د افغانستان کار اخیستنې حقیقي فعالیت باید په هرو شپږو میاشتو کې ارزونه ترسره شي
- هغه پروسه جوړوي ترڅو د افغانستان پر وړاندې د کورنې او بهرنې ګواښونو لپاره پر وخت د همکارۍ ارزونې ترسره شي
- لاربنوونه کوي ترڅو د معلوماتو ډیریدلو او استخباراتو شریکولو لپاره ځانګړې سپارښتنې وشي
- د امریکا ځواکونو لپاره له فیس څخه پرته تاسیسات او ساحې وړاندې کوي او دغو ځواکونو ته اجازه ورکوي ترڅو دغو تاسیساتو او ساحو ته د ننوتلو لارې کنټرول کړي
- اجازه ورکوي ترڅو د امریکا ځواکونه له فیس څخه پرته پر ځمکه، اوبو او هوا کې په آزاده توګه حرکت وکړي
- امریکا ته فرصت ورکوي ترڅو په افغانستان کې قرارداد وکړي او دواړو هیوادونو ته لاربنوونه کوي ترڅو د "شفافیت ډیریدلو، حساب ورکولو، او په افغانستان کې د قرارداد کولو پروسو اغیز بنه کولو لپاره یو ځای کار وکړي او موخه دا وي ترڅو د ناوړې ګټې اخیستنې او د قرارداد خرابو کارونو مخه ونیول شي."

نوې BSA پداسې وخت کې راځي چې ډیرې بهرنې ځواکونه وځي او طالبان په هیواد کې ساحې تر برید لاندې نیسي ترڅو بیرته کنټرول په لاس کې ونیسي. د امریکا دفاع وزارت په وینا، له 2014 وروسته په افغانستان کې د امریکا اردو دوامداره شتون به نړیواله ټولنه وهڅوي ترڅو د بیارغونې پروګرامونو لپاره مالي مرسته برابره کړي، او دا به افغانستان ته اجازه ورکړي ترڅو په امنیت، حکومتوالۍ او اقتصادي سکتورونو کې خپل پرمختګونو ته دوام ورکړي.[140]

د BSA له لاسلیک کیدلو وروسته، د دفاعي دریځ موافقه د افغانستان د ملي امنیت مشاورو او په افغانستان کې د ناټو ملکي نماینده، موریتس آر یوخیمز لخوا لاسلیک شوه.[141] دغه موافقې د امریکا او ناټو او ملګرو هیوادونو لپاره یې حقوقي کاري چوکاټ برابروي ترڅو د افغانستان امنیتي ځواکونو د روزنې، مشورې او مرستې لپاره خپلو ژمنو ته دوام ورکړي. تمه کیږي ترڅو ناټو له 2,700 څخه تر 2,900 پورې ځواکونه برابر کړي، لدې سره به له 2014 وروسته د نړیوالو ځواکونو شمیره له 12,500 څخه تر 12,700 پورې ورسیږي. دغه شمیره به په راتلونکې کال کې کمه شي.[142]

## د آیساف قوماندان بدلیدل

د 2014 د اګست په 26، د امريکا اردو جنرال جان اف کمپبل د امريکا د بهرې قول اردو له جنرال جوزف اف دنفورد څخه د نړيوال امنيت مرستندويه ځواک (ISAF) قوماندانی مسوليت واخيست. د افغانستان، ناټو او امريکا لوړ پوړو چارواکو، په شمول د امريکا لوی درستيز، د اردو جنرال مارتين اي ډيمپسي په غونډه کې برخه واخيستله.[143] جنرال کمپبل، هغه کس چې په افغانستان کې خپله دريمه دنده ترسره کوي، وړاندې تر دې چې ناټو د کلک ملاتړ ماموريت (RSM) ته بدلون کوي د آيساف د پای قوماندان په توګه به خدمت وکړي.[144] د 2014 د جولای په 23 د امريکا سنا جنرال دنفورد د امريکا د بهرې قول اردو د 36 قوماندان په توګه تاييد کړ.[145]

## د ویلز د غونډې اعلاميه

د 2014 د سپتمبر په 4، د انګلستان د ويلز په ښار کې د ناټو متحدينو او د آيساف ملګرو خپله ژمنه بيا تکرار کړه ترڅو له 2014 وروسته په افغانستان کې له جګړې پرته د روزنې، مشورې او مرستې ماموريت ترسره کړي.[146] په يوه اعلاميه کې، د برخه اخيستونکو هيوادونو او حکومتونو مشرانو د RSM او د افغانستان امنيتي ځواکونو دوام لپاره د مالي ملاتړ او د اوږد مهال لپاره د ناټو او افغانستان ملګرتيا لپاره خپله ژمنه تکرار کړه.[147] لکه څرنګه چې د آيساف ماموريت د دغه کال په پای کې ختميږي، د افغانستان امنيتي ځواکونه د هيواد امنيت ټول مسوليت پر غاړه واخلي.[148] نړيوالې ټولنې 2012 د شيکاګو د غونډې خپله ژمنه بيا تکرار کړه ترڅو تر 2017 د افغانستان امنيتي ځواکونو دوام لپاره په هر کال کې له 1 ميليارډو امريکايي ډالرو څخه زيات برابر کړي.[149] برخه اخيستونکو خپله هغه موخه هم تکرار کړه ترڅو د افغانستان حکومت تر 2024 پورې د خپل امنيتي ځواکونو ټول مالي مسوليت په غاړه واخلي.[150]

## د کلک ملاتړ ماموريت (RSM)

د ناټو د RSM مشورې نوی ماموريت به د 2015 په پيل کې پيل شي. RSM به امنيتي وزارتونو، ملي اردو، قول اردوګانو، د زون په کچه پوليسو ته، په تکتيکي کچه د افغانستان د ځانګړو ماموريتونو ځواکونو ته مشوره ورکوي. له جګړې پرته دغه ماموريت به په پيل کې 12,000 ځواکونه ولري. د ناټو غړو موافقه کړې ترڅو "د کاري چوکاټ هيوادونو" په توګه خدمت وکړي: ترکيه به د کابل په پلازمينه کې مشري ولري، جرمني به په شمال، ايټاليا به په لويديځ، او امريکا به په سويل او ختيځ کې مشري په غاړه واخلي.[151]

آيساف د امنيتي ځواکونو د مرستې يو کاري چوکاټ جوړ کړی چې د دفاع او کورنيو چارو وزارتونو او اړوندو بنسټونو د ظرفيتونو په ښه کولو باندې ټينګار کوي ترڅو اته مهمې دندې ترسره کړي:[152]

- پلان کول، پروګرام جوړول، بوديجې جوړول، او کارونو ترسره کول
- د شفافيت ډاډ لپاره کورني کنټرولونه، حساب ورکول، اونظارت
- د قانون حاکميت او حکومتولي
- د ځواکونو استخدامول
- د ځواکونو دوام
- قومانده او اداره
- استخبارات
- ستراتيژيک خبرې

لکه څرنګه چې په راتلونکي کال کې RSM خپل کار پيلوي، سيګار به يې د افغانستان د حکومت او امنيتي ځواکونو د ملاتړ لپاره پرمختګ تعقيب کړي.



**د 2014** د اګست په 26، د امريکا اردو جنرال جان کمپبل د آيساف قوماندانی مسؤليت په غاړه اخلي. (د امريکا هوايي ځواک عکس)

"سبا به لکه نن پيل شي او لکه څرنګه چې هغوی د افغانستان خلک خوندي کوي، د آيساف نارينه او ښځينه به د افغانستان امنيتي ځواکونو ته روزنه، مشوره او مرسته برابره کړي. سبا به لکه نن پيل شي، د ايتلاف او افغان ځواکونه جګړه د ګډ دښمن په لور وړي. "

*—جنرال جوزف اف ډانفورډ*

سرچينه: د آيساف د قوماندانی بدلون غونډه، "جنرال کمپبل له جنرال دنفورد څخه د آيساف قوماندانی مسوليت اخلي،" 8/26/2014.

## د افغانستان عامه خوندیتوب ځواک ته د ساحي امنیت مسولیتونو سپارل اوس هم حل شوي ندي

په 2010 کي د ولسمشر کرزي له فرمان څخه وروسته چي د خصوصي امنیتي شرکتونو عملیاتونه یي منع کړل، د افغانستان عامه خوندیتوب ځواک (APPF)، چي د حکومت په ملکیت یوه تصدی ده او د کورنیو چارو وزارت په چوکاټ کي ده، د دې لپاره تاسیس شوې ترڅو په افغانستان کي د قرارداد پر اساس د تاسیساتو او کاروانونو لپاره امنیتي خدمتونو برابر کړي.[153] مګر، د 2014 د فبروری په 17، د وزیرانو شورا چي د پخواني ولسمشر کرزي په لارښوونه یي عمل کاوو، هدایت ورکړ ترڅو APPF له منځه یوړل شي او د محافظینو دندې یي د افغانستان ملي پولیسو ته وسپارل شي.[154] امریکا د APPF ملاتړ لپاره 51 میلیونه امریکایي ډالر برابر کړي، چي د امریکا لخوا تمویل شوي ډیریو پروګرامونو او پروژو لپاره یي امنیت برابر کړی و.[155]

د سیګار د معلوماتو له غوښتني وروسته چي ولي APPF له منځه یوړل شو، په افغانستان کي د ناټو روزنیز ماموریت (NTM-A) وویل چي د 2014 د جون په 10 د کورنیو چارو وزیر آیساف ته وویل چي APPF د "کار ور و،" مګر ولسمشر کرزی "یي له شتون څخه خوشهاله نه و."[156] دا معلومه نه وه چي ولي ولسشمر کرزی له هغه پروګرام څخه خوشهال نه و چي جوړ کړی یي و. د NTM-A په وینا، ملي اردو ته د APPF د عملیاتونو د سپارلو لپاره څلورو کمیټو ته دنده ورکړ شوې ترڅو پلان جوړ کړي. که څه هم راپور ورکړ شوی چي کمیټو خپل کارونه بشپړ کړي، د کورنیو چارو وزیر چي د ولسمشر کرزي تر ډیر فشار لاندې و، د سپارلو له پرمختګ څخه خوشهاله نه و، او د 2014 د می په 22 یي هدایت ورکړی ترڅو د APPF د کاروانونو امنیتي عملیاتونه د افغانستان ملي پولیسو ته وسپارل شي.[157]

د پولیسو د خدمتونو لپاره د امریکا بیارغوني له مرستو څخه کار اخیستل او پدې برخه کي د حقوقي محدودیتونو په اړه د امریکا اندیښنو پایله دا وه ترڅو د کورنیو چارو وزارت خپل پلان تعدیل کړي.[158] پدغو اندیښنو کي یوه دا وه چي کیدای شي امریکا د افغانستان ملي پولیسو خدمتونو لپاره دوه ځلي پیسي تادیه کړي: یوځل د هغو شرطونو پر اساس چي د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د قانون او نظم د وجهي صندق (LOTFA) لخوا تاسیس شوي، او بیا د کاروانونو د مستقیم امنیت فیسونه تادیه کړي.[159] د کورنیو چارو وزارت او په افغانستان کي د امریکا ځواکونو (USFOR-A)، او USAID ترمنځ له خبرو وروسته، د کورنیو چارو وزارت خپل امنیتي خدمتونه په دریو برخو کي تنظیم کړل:

- د کاروانونو امنیت به د کاروانونو د ترانسپورت خوندیتوب لیوا (CTGB) لخوا برابر شي. CTGB، د کورنیو چارو وزارت په چوکاټ کي به د کاروانونو د مرستي خدمتونو لپاره فیس برابر کړي، او له یونیفورم لرونکو قرارداد شوي ملکی کارکونکو څخه به کار اخلي. د NTM-A په وینا، د جولای په پای کي CTGB 70% کارکوونکي درلودل. مګر د آیساف د حقوقي مشورې په وینا، د هغي طریقي پر اساس چي د ترانسپورت کاروانونو محافظین به تنظیم شي او هغوی ته به فیس تادیه شي اوس هم نا څرګنده ده.[160]
- APPF به د ساحو تاسیساتو امنیت برابرولو ته دوام ورکړي.[161]
- د APPF لخوا د کاري عملیاتونو ملي مرکز به د امنیتي خدمتونو لپاره د مهال ویش او بیلونو برابرولو کارونو ته دوام ورکړي، مرستي به راټولي کړي، او CTGB او APPF ته به تر هغه وخته د محافظینو د معاشونو او عملیاتونو لګښتونه ورکړی ترڅو چي بدیل یي تاسیس شي. NTM-A راپور ورکړی چي د افغانستان ملي امنیت شورا د کورنیو چارو وزارت هغه وړاندیز رد کړی ترڅو د خطر اداري کولو یو شرکت غوره کړي ترڅو دغه کارونه ترسره کړي.[162]

د 2014 تر اګست پورې، APPF د آيساف دوو عملياتي مخکنيو پايګاو لپاره امنيت برابر کړی: د کابل نوی انګړ (د 2.26 ميليونو امريکايي ډالرو په ارزښت) او کمپ مور هيد (704,600 امريکايي ډالر). د امريکا د مرکزي قوماندانی (CENTCOM) په وينا، خصوصي امنيتي شرکتونو د 36 مخکنی عملياتي پايګاه امنيت نيول و. [163]

د NTM-A په وينا، د APPF کارکوونکو رسمي شميره ناڅرګنده ده ځکه چې په تشکيل کې بدلونونه راغلي، د کورنيو چارو وزارت د ملکي کارکوونکو پايګاو مسوليت اخلي، او ملي پوليسو دندې پر غاړه اخلي. د APPF وروستی غير رسمي شميره چې اجازه لري 16,981 او 16,015 په دندو ګمارل شوي. [164]

NTM-A ويلي، "له خبرو داسې ښکاري چې د کورنيو چارو وزارت کار کوي ترڅو يوه داسې پروسه تاسيس کړي چې APPF ته ورته وي ترڅو انديښنې کمې کړي. [165]" دا بيا هم دا پوښتنه راپورته کوي چې ولې APPF له منځه وړل کيږي.

**تشکيل:** د هغو اړينو کارکوونکو او تجهيزاتو لست چې د افغانستان دفاع او کورنيو چارو وزارت ورڅخه کار اخلي چې د تاييد شويو بستونو او تجهيزاتو معلومات ښيي. دا کلمه په دري کې د "سازمان" معنی لري.

سرچينه: GAO, GAO-08-661، *افغانستان امنيت*, 6/2008، مخ 18.

## د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو کارکوونکو کميدل يوه انديښنه ده

د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو د کارکوونکو کميدل اوس هم يوه لويه ننګونه ده. د 2013 د سپتمبر او د 2014 اګست تر منځ، له 36,000 څخه زيات د ملي اردو کارکوونکي د ملي اردو له شمير څخه کم شوي. [166] پردې برسيره، ملي اردو اوس هم په جګړه له ډيرو لاس ورکوونکو څخه رنځ وړي. د 2012 د مارچ او د 2014 د اګست ترمنځ، د افغانستان ملي اردو له 2,850 څخه زيات پرسونل په جګړه کې وژل شوي او 14,600 په جګړه کې ټپيان شوي. [167]

د ملي پوليسو لپاره د پرسونل کميدل د جولای مياشت له 2.35% څخه د اګست په مياشت کې 1.68% کم شوي، دا هغه موده ده چې د وروستي ځل لپاره سيګار ته معلومات ورکړ شوي. ملي پوليس لکه ملي اردو د خپلو هغو پرسونل چې په دنده کې حاضر دي، له رخصتی پرته غير حاضر دي، او يا په جګړه کې وژل شوي يا زخمي شوي راپور نه ورکوي. ملي پوليس خپلې هغې موخې ته ندي رسيدلي ترڅو په هره مياشت کې 1.4% کموالی وساتي. [168]

## ملکري ملتونه راپور ورکوي چې په افغانستان کې تاوتريخوالی د ډيريدو په حال کې دی

د ملګرو ملتونو د عمومي منشي په وينا، په افغانستان کې جګړه د ډيريدو په حال کې ده. د ملګرو ملتونو د امنيت شورا د سپتمبر 9 په راپور کې، عمومي منشی ويلي چې د ياغيانو ډلو، نړيوال تروريستانو، او اړوندو شبکو د ټولټاکنو له اوږد مهاله کړکيچ او سياسي نامعلومتيا څخه ګټه واخيستله ترڅو د هيواد په شاوخوا کې لوی بريدونه ترسره کړي. [169] لکه څرنګه چې پدغه جدول 3.6 کې په راتلونکي پاڼه کې ويل شوي، د امنيتي پيښو شميره د ډيريدو په حال کې ده، او د طالبانو له منځه تلو وروسته، دغه دوره کې له 2011 وروسته د تاوتريخوالي دويمه لوړه کچه ښودله. [170]

يو ځل بيا د پيښو ډيره برخه په سويل، سويل ختيځ او ختيځ کې شوي. [171] ملګرو ملتونو 211 وژنې او 30 د وژنو ناکامې هڅې ثبت کړي، او دا د 2013 د ورته مودې سره 7.1% زياتوالی ښيي. [172] وسله واله جګړه (47.3%) او د سړک غاړې چاوديدونکي توکو پيښې (29.1%) د ټولو امنيتي پيښو 76.4% جوړوي. [173] ملګرو ملتونو راپور ورکړی چې ځينو ياغيانو هڅه کړی چې نه يوازې ساحې ونيسي مګر د "ډله ايزو بريدونو" له لارې ساحې په خپله ولکه کې وساتي، چې څو سوو بريد کوونکو پدې بريدونو کې لاس درلود او هڅه يې کوله ترڅو د ولسواليو اداري مرکزونو او امنيتي پوستې د خپلو بريدونو تر اغيز لاندې راوړي. [174]

جدول 3.6

| د امنیتي پېښو شمېره | | | |
|---|---|---|---|
| د وخت موده | د پېښو شمېر | د ورځو شمېره | هره ورځ د پېښو منځنۍ شمېره |
| د 2013 د نومبر 16 – د 2014 د فبرورۍ 15 | 4,649 | 92 | 50.5 |
| د مارچ 1– د مې 31،د 2014 کال | 5,864 | 92 | 63.7 |
| د جون 1– د اګست 15،د 2014 کال | 5,456 | 76 | 71.8 |
| **ټولټال** | **15,969** | **260** | **61.4** |

سرچينه: د ملګرو ملتونو امنیت شورا، *د افغانستان وضعیت او د نړیوالې سولې او امنیت لپاره یې پایلې*، 9/9/2014، مخ 6، 6/18/2014، مخ 5، او 3/7/2014، مخ 5.

افغان او امریکايي قوماندانان وايي چې د افغانستان امنیتي ځواکونو مهمو ښارونو ته نږدې خپل دريځ ساتلی، مګر په هغو لرو پرتو ولسوالیو کې چې د لویو بریدونو لاندې نیول کیږي تر آزموینې لاندې راغي.[176] د کورنیو چارو وزیر د افغانستان د پارلمان په وړاندې شهادت ورکړ چې تیرې شپږ میاشتې د 13 کلونو جګړې په موده کې مرګوني وې، او د افغانستان د اوسني کال له پیل څخه د ملي پولیسو 1,368 پرسونل وژل شوي او 2,370 ټپیان شوي. د جګړې په ډېره موده کې د پولیسو قرباني د افغانستان د اردو د قربانیانو په پرتله دوه چنده وې.[177]

### د تورن جنرال هارولد جوزف 'هري' ګرین په ویاړ

د اردو تورن جنرال هارولد جې ګرین، د CSTC-A د قوماندان معاون، د اګست 13 د خاورو سپارلو په غونډه کې وویاړل شو. تورن جنرال ګرین د یوه افغان عسکر لخوا هغه وخت ووژل شو کله چې هغه په کابل کې د اګست په 5 د مارشال فهیم له ملي دفاع پوهنتون څخه لیدنه کوله. په پنتاګون باندې د 9/11 د تروریستانو له برید وروسته، د دوو ستورو دغه جنرال د امریکا په اردو کې لوړ پوړی افسر و چې د دښمن په عمل کې ووژل شو، او هغه د ویتنام له جګړې وروسته هغه لوړ پوړی افسر و چې د جګړې په فعاله ساحه کې ووژل شو. د امریکا سفیر جیمز کننګهم، د سفیر معاون پي مایکل مککنلي، جنرال جوزف اف دنفورد، د افغانستان دفاع وزیر بسم الله خان محمدي، افغان جنرال شیر محمد کریمي، افغان جنرال محمد ایوب سالنګي، او د آیساف او سیکار چارواکو په دغه غونډه کې برخه اخیستې وه.



( د امریکا د پوځ انځور)

د اګست په 24، په کابل کې د آیساف په قرارګاه کې د تورن جنرال هارولد جې ګرین ودانۍ د څو هیوادونو د ایتلاف خدمت غړو او ملکیانو د استوګنې تاسیساتو په توګه وټاکل شوه. دغه جنرال د اردو له ټولو ویاړونو سره د آرلینګټن په ملي هدیره کې خاورو ته وسپارل شو.[175]

"په هره دنده کې ما هغه کارونه ترسره کړل چې زما په آند زمونږ اردو یې ښه کوله، او دا کارونه د نورو لخوا ترسره کیدل. هغه څه چې ما ترسره کول په سمه لار خلکو ته لارښوونه وه او هغوی دباندې ولاړل او ښه کارونه یې ترسره کړل".

*—تورن جنرال هارولد جې ګرین*

سرچینه: " WJLA د اردو تورن جنرال، هارولډ ګرین، په افغانستان کې وژل شوی، له ویاړونو سره د آرلینګټن په هدیره کې خاورو ته وسپارل شو،" 8/14/2014.

## په افغانستان کې د امریکا ځواکونه

د آیساف په وینا، د 2014 د سپتمبر تر 29 پورې، 25,000 امریکايي ځواکونو په افغانستان کې خدمت کاوو، او دا د 2014 د جولای له لومړی څخه 7,800 کموالی دی.[178] نږدې 12,154 د ایتلاف ځواکونو د 2014 د سپتمبر تر 3 پورې خدمت کاوو.[179] د 2014 د مې په 27، ولسمشر اوباما اعلان وکړ چې د 2015 تر جنورۍ به په افغانستان کې د امریکا ځواکونه نږدې 9,800 ته را کم شي او د 2015 په اوږدو کې به نور هم کم کړی شي.[180] په 2001 کې د عملیاتونو له پیل څخه، د 2014 د اکتوبر تر 1 پورې په افغانستان کې د امریکا ټول 2,208 اردو کارکوونکي وژل شوي، او 83% یې په جګړه کې وژل شوي، او 19,890 ټپیان شوي.[181]

**د ایتلاف ځواکونه وځي**

**د 2014 د سپتمبر په 22 د کندهار په هوايي ډګر کې په افغانستان کې د سلواک ماموریت د یوې غونډې په ترڅ کې پای ته ورسید. سلواکیانو د افغانستان ملي اردو ضربتي ځواک یوه کنډک لپاره یې مشوره ورکوله او د پایګاه لپاره یې دفاع برابروله.**

سرچینه: د آیساف خبرونه، "د سلواک ځمکني ځواکونه په افغانستان کې خپل ماموریت پای ته رسوي،" 9/24/2014.

## سره لدې چې په قرارداد کولو کې دوه کاله وړاندې کمزورۍ پیژندل شوي، د امریکا دفاع وزرات حساب ورکول اوس هم یوه ننګونه ده

د 2012 په جنورۍ کې، د امریکا مرکزي قوماندانۍ، د USFOR-A، آیساف ګډې قوماندانۍ، د قرارداد کولو سازمانونو، او نورو له 100 څخه زیاتو استازو په کابل کې د قرارداد کولو یوه *شورا* یا کنفرانس جوړ کړ.[182] دغه کنفرانس په قرارداد کولو کې کمزورۍ په شمول د "ټولو هغو بنسټونو لخوا چې په افغانستان کې د فیدرال په قرارداد کولو کې شامل دي د اوسنیو ستندردونو، پالیسیو او طرزالعملونو نه پلې کول" وموندل.[183] د امریکا دفاع وزارت د 2012 په جون کې کانګریس ته راپور ورکړی چې شورا پیژندلي او موافقه یې کړې ترڅو 26 عملي ګامونه تعقیب کړي ترڅو د قرارداد نظارت او مدیریت ښه کړي، "او ویلي چې عملي ګامونه پیل شوي."[184] سیګار څو ځلې د شورا لپاره د تعقیبي ګامونو غوښتنه کړې ده، چې د شورا د لنډیز په یادښت هم د ستندردونو، پالیسیو او طرزالعملونو د " کمزورۍ حساب" ورکولو په اړه ویل شوي.[185]

لکه څرنګه چې د 2014 د جولای *درې میاشتني راپور کې د امریکا کانګریس* ته ویل شوي، د امریکا دفاع وزارت سیګار ته د هغو ګامونه په اړه توضیحات ورکړي چې اخیستي یې دي ترڅو د 2012 د قرارداد کولو کنفرانس موندنو لپاره د حل لار پیدا کړي. مګر سیګار نشي کولای ترڅو هغه بیلګې پیدا کړي چیرته چې انفرادي کسان یا بنسټونه د قرارداد کولو د ستندردونو د نه پوره کولو په اړه مسؤل ګڼل شوي.[186] پردې برسیره، د پنټاګون یوه چارواکي د سیګار د 2014 د اکتوبر په یوه مرکه کې ویلي چې د امریکا دفاع وزارت د تعقیبولو له کومو میکانیزمونو یا اندازه کولو چې شتون ولري خبر نه و ترڅو دا وګوري چې آیا 26 تعقیبونکي ګامونه که تطبیق شوي، د غوښتنې وړ پایلې یې لاسته راوړي دي.[187] دې چارواکي وویل چې نور معلومات به هم راټول کړي، او دا یې وویل چې د امریکا دفاع وزارت په افغانستان کې له قرارداد کولو سره له یو شمیر ننګونو سره مخامخ دی، چې پدې کې د دندو کم وخت، ډیر ژر بدلیدل، او په هیواد کې د کارکوونکو دوامداره کمیدل شامل دي.

سيګار د جګړې په ساحه کې د قرارداد مديريت او نظارت ستونزې مني او د امريکا دفاع وزارت له نوښت څخه درناوی کوي ترڅو تعقيبونکي ګامونه واخلي، مګر په تعقيبولو، د ارزونې پايلې، او حساب ورکولو کې ښکاره کمزوری غيرمناسبه او د انديښنې وړ ګڼي. لکه څرنګه چې د امريکا دفاع وزارت د عملي ګامونو پلان وايي، "د عملياتي قرارداد ملاتړ (OCS) د دفاع مرکزي وړتيا ده او د ټولو ځواکونو د چمتوالي يوه اړينه برخه ده؛" د کمزوريو لپاره د حل لار او د وړتياو بدلول د "هر کار لپاره يوه مالک" ته او "دوامداره نظارت ته اړتيا لري."[188] دا د هغې مسلې په اړه يو ښه قضاوت دی چې د اردو په دوکتورين پورې اړه نلري. د بېلګې په توګه، "د پروژې اداره کولو 101 "په اړه د ماساچوست د ټيکنالوژۍ انستيټيوټ لوست د تعقيبولو، کنټرول، راپور او ارزونه، د پروژې د اداري د اساسي ګام په توګه په لست کې راوړي.[189]په افغانستان کې په قرارداد کوونکو باندې ډيره تکيه او لګښتونو او ماموريت اهميت ته په پام سره او د OCS ښې پايلو تعقيبولو او نه اطاعت لپاره د حساب ورکولو نظارت لپاره د امريکا دفاع وزارت د ټولو ځواکونو پلان کول، د ډيرې انرژۍ وړ او په ځير سره تعقيبولو ته اړتيا ليدل کيږي.

## د ANSF ځواک

د ISAF په وينا، پدې ربع کې، د افغانستان امنيتي ځواکونو شمير 349,546 و.[190] دا د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د پرسونل د پای 352,000 شميرې د موخې 97% ده. د امريکا دفاع وزارت هغه موخه ترڅو تر د 2014 پورې د افغانستان امنيتي ځواکونه 352,000 شمير ته ورسيږي (د 2012 تر دسمبر پورې 187,000 ملي اردو، د 2013 تر فبرورۍ پورې 157,000 د ملي پوليسو، او د 2014 تر دسمبر پورې 8,000 د هوايي ځواک) موخه پوره شوې.[191] ملي اردو 4%، ملي پوليس 2.5%، او هوايي ځواک (تمه کيږي ترڅو د کال په پای کې موخې ته ورسيږي) 6% خپلې موخې ته رسيدو لري دي، لکه څرنګه چې پدغه جدول 3.7 کې ښودل شوي.

### د سيګار پلټنه

د سيګار يوه روانه پلټنه د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو د تاييد شويو، ګمارل شويو او روزل شويو کارکوونکو شمير په اړه د معلوماتو د ګټې او اعتبار ارزونه کوي.

جدول 3.7

**د افغانستان ګمارل شوي ځواکونو شميره، د 2014 د اګست 20**

| د ANSF برخې | اوسنی هدف | د 8/2014 پورې درېځ | | د اوسنی شمير او د پای په نښه شوي شمير تر منځ توپير | |
|---|---|---|---|---|---|
| افغان ملي اردو | د 2012 تر دسمبر پورې 187,000 پرسونل | 181,439 | (97%) | -5,561 | (-4.1%) |
| افغان ملي پوليس | د 2013 تر فبرورۍ پورې 157,000 ځواکونه | 152,123 | (97%) | -4,877 | (-2.4%) |
| افغان هوای ځواک | د 2014 تر دسمبر پورې 8,000 کارکوونکي | 6,731 | (84%) | -1,269 | (-5.9%) |
| **ټولټال ANSF** | **352,000** | **340,293** | **(97%)** | **-11,707** | **(-3.4%)** |
| د ANA ملکيان | 8,004 تاييد شوي کارکوونکي | 8,749 | (109.3%) | 745 | (8.5%) |
| د AAF ملکيان | 278 تاييد شوي کارکوونکي | 227 | (81.7%) | 51 | (-22.5%) |
| **له ملکيانو سره د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو ټوله شميره** | **360,282** | **349,546** | **(97.0%)** | **10,736** | **(-3.1%)** |

سرچينه: د امريکا دفاع وزارت، *په افغانستان کې د امنيت او ثبات په لور د پرمختګ راپور*، 12/2012، مخ 56؛ د سيګار معلوماتو غوښتنې لپاره د CSTC-A ځواب، 10/2/2014؛ د سيګار تحليل 10/2/2014.

## د افغانستان ملي اردو تایید شوي ملکي کارکوونکي د ملي اردو له شمیر څخه بېل شوي

سیګار له اوږدي مودي اندیښني لري چي ملکیان د ملي اردو د ځواکونو په شمیر کي شمیرل کیږي. څو کلونه کیږي چي CSTC-A ځیني وختونه په ملي اردو کي ملکیان د ځواک په شمیر کي شمیرلي او ځیني وختونه يي شمیرلي ندي، لکه څرنګه چي په دغه جدول 3.8کي ښودل شوي.

جدول 3.8

**د افغانستان په ملي اردو کي شمیرل شوي ملکیان**

| | Q2 2012 | Q3 2012 | Q4 2012 | Q1 2013 | Q2 2013 | Q3 2013 | Q4 2013 | Q1 2014 | Q2 2014 | Q3 2014 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د ځواکونو په شمیر کي ملکیان شامل دي؟ | هو | نه | نه | نه | هو | هو | هو | هو | هو | نه |
| د ملکیانو شمیر شامل دی؟ | NA | NA | NA | NA | 7,806 | 8,698 | 9,336 | 9,486 | 9,647 | 0 |

یادونه: د تقویمي کال ربعونه ښيي؛ NA = نامعلوم.

سرچینه: د سیګار معلوماتو غوښتني په اړه د CSTC-A ځواب، 10/2/2014، 7/1/2014، 3/31/2014، 1/6/2014، 10/1/2013، 7/2/2013، 4/1/2013، 1/2/2013، 10/1/2012، او 7/2/2012.

د 2012 په فبروری کې، د امریکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر (DOD OIG) په یوه راپور کي د ملي اردو په شمیر کي د ملکیانو شمیرل د خطر په توګه پیژندلي و. په دغه راپور کي، DOD OIG موندلي چي د ANA مالي افسرانو ملکي پرسونل د نظامي یا مسلح ځواکونو پرسونل په توګه "کوډ کړي" او د CSTC-A په واسطه د تادیي لپاره يي شامل کړي، د NTM-A/CSTC-A او دفاع وزارت (MOD) ترمنځ د یوه تړون سربیره چي فقط نظامي پرسونل ته به جبران یا مصرف ورکول کیږي. پدغه وخت کي، د CSTC-A مالي پرسونل خبر نه و چي ملکیان د نظامي تادیي لپاره شامل کړی شوي و. [192]

د بحري ځواکونو د تحلیل مرکز (CNA) د خپلواکي ارزوني په وینا چي د دغه کال په پیل کي خپره شوي، د دفاع او کورنیو چارو په وزارتونو کي د افغانستان په ملي امنیتي ځواکونو کي له یونیفورم پرته بستونه باید ملکي شي. که چیري د دغه پوستونو لپاره ملکیان د مناسب تجربي سره نشي استخدام کیدی یا روزل کیدی نشي ـــ یا که چیري د ANSF فعال-دندې پرسونل ملکي خدمت ته نشي لیږدول کیدی ـــ نو بیا به د ANSF ځواک جوړښت ډیروالي ته اړتیا وي چي دغه میشته کړي." [193]

په دغه ربع کي، CSTC-A د ملي اردو د نظامي او ملکیانو بیل بستونو راپور ورکړی: [194]

- نظامي: 195,000
- ملکي: 8,004
- **تول: 203,004**

**ملکي بستونه:** یو ملکي چي د افغانستان ملي اردو د پای تایید شوي په شمیرې کي شامل وي.

سرچینه: CSTC-A، د سیګار د ارزوني په اړه ځواب، 4/10/2014.

په دي ربع کي، CSTC-A په ملي اردو او هوایي ځواکونو کي د 8,976 ګمارل شوي ملکیانو راپور ورکړی، او دا د ملکیان له تایید شوي کچي څخه 12% لوړه ده. [195]

## د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د ارزوني محرم کيدنه، د شفافيت او نظارت لپاره انديښنه راپورته کوي

د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو وړتيا ارزوني چي د آيساف ګډې قوماندانی (IJC) لخوا چمتو کيږي، په دغه وروستيو کي محرم شوي، او لدي کبله سيګار له يوې مهمي وسيلي محروم شوی ترڅو د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د پرمختګ په اړه عامو خلکو ته راپور ورکړي.[196]

دا يو لوی بدلون دی. سيګار د امريکا او ايتلاف هڅو د اغيزمنتيا د نبنو په توګه تر څو د افغانستان ملي امنيتي ځواکونه جوړ کړي، ورروزي، تجهيز کړي او دوام ورکړي، د ملي اردو او ملي پوليسو ارزونو په اړه په منظمه توګه راپور ورکړی دی. دغه ارزوني دواړو امريکا او د افغانستان ادارو ته پشمول د امريکا ماليه ورکوونکو ته هغه کسان چي د استخداملو، روزني، خواړو، استوګن ځايونو، تجهيزاتو، او د افغانستان عسکرو ته د موادو برابرولو د لګښتونو پيسي ورکوي، لکه څرنګه چي سپارل دوام لري او افغانستان د خپل امنيت مسوليت پر غاړه اخلي، د دغو ځواکونو د درېځ په اړه نوي معلومات برابر کړي.

آيساف د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو له سيمه ايز درېځ راپور (RASR) څخه کار اخلي ترڅو د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو ته درجه ورکړي.[197] د IJC په وينا، RASR په هره مياشت کي د ملي اردو او ملي پوليسو د عملياتي کچي د چمتو والي، اوږد مهاله دوام، او اړونده کموالي په اړه نوي معلومات برابروي.[198] د RASR اجرايي لنډيز، چي په لوړې کچي د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د قول اردوګانو په قطعو کي د يو شمير عملياتي کچي اغيزمنتيا په اړه عمومي نظر برابروي، محرم شوی. د RASR پاتي برخه، چي انفرادي قطعي يي په تخصصي او په جزيياتو سره ارزولي، محرم شوی. د RASR له مقدمي څخه: "[په تير کي غير محرم] له ځانونو او پيژندل شوي کمزوريو څخه د EXUM توليد شوي تحليلونه، هغه مهمي مونډني او مهمي مسلي ښيي چي د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو اوږد مهاله دوام له خنډ سره مخامخ کوي."[199]

د سيګار راپور ورکول له اجرايي لنډيز له عملياتي يا تکتيکي کچي څخه چي کيدای شي د افغانستان ياغيانو بريدونو پلان کولو ته ګټور وي اخيستل شوي ندي، دغه معلومات د قول اردو له کچي څخه اخيستل شوي. دا ښکاره نده چي دغه د امنيت موخي لپاره څه ګټه لري ترڅو د امريکا عام خلک د لوړې کچي له معلوماتو څخه محروم شي. سيګار به د محرموالي بدلون د توضيحاتو لپاره ټينګار ته دوام ورکړي او د بيارغوني د امنيت په برخه کي د دغه اداری د نظارت په ونډه کي به د دغه مهم خنډ لپاره د بدلون غوښتنه وکړي. تر هغه وخته چي د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د ارزوني برخي بيرته غير محرم کيږي، سيګار به له نورو سرچينو څخه د پرمختګ او/يا کمزوريو په اړه راپور ورکړي.

## د افغانستان روزني پرمختګونه

په سپتمبر کي، د ګرځنده بريد ځواک (MSF) روزني لاسته راوړنو په موخه، د فارغينو دوی غونډي ترسره شوي. د افغانستان ملي اردو عسکرو وړاندي تر دې چي MSF 7 ته وګمارل شي، د دريو مياشتو لپاره سختي دوامداره روزني بشپړي کړي. په دغه پروګرام کي هغوی آخرني فارغين و؛ او د دغه کال په پای کي د روزني نوی پروګرامونه جوړيږي ترڅو د افغانستان ځواکونه په ښه توګه چمتو شي او د جګړې ماموريت مسوليت پخپله واخلي. نوې روزني به پراخي وړتياوي برابري کړي او د ګډي وسلوالي قطعي په توګه به د روزني، تجهيز، او ګمارلو لپاره ټولي زرهي، توپچي، او پياده ځانګي سره يوځای کړي.[200]

بيا هم په سپتمبر کي، 51 افغان عسکر د مينونو پر وړاندي او بريدونو پر وړاندي خونديي (MRAP) وسايطو او MRAP کيبل کولو وسايطو (MRV) چلونکي د لومړي ځل لپاره فارغ شول. دغه کورس د MRAP عمليات، د مخنيوی ترميم او ډريوري تر پوښښ لاندي راوړل. پدغه روزنه

کې د MRVs عملیات هم شامل و، دا هغه لویه واسطه ده چې چپه شوي MRAPs راپورته کوي یا هغه وسایط چې تخریب شوي بیرته یې د ترمیم لپاره پایګاه ته ترانسپورت کوي.[201]

تر بل دوبي پورې، د افغانستان ملي اردو پلان لري ترڅو د افغانستان د 200 MRAPs او 20 MRVs عملیاتو لپاره له 500 څخه زیات روزل شوي سرتیري ولري. په دغه کورس کې د غوره شوي افغانانو لپاره د MRAP/MRV روزنې کورسونه هم شامل دي ترڅو په راتلونکې کې افغان عسکرو ته روزنه ورکړي.[202]

## د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه به د سواد زده کړې په روزنې پیل وکړي مګر پلان کول یې ځنډنې دي

په اپریل کې دواړو د افغانستان دفاع او کورنیو چارو وزارتونو موافقه وکړه ترڅو د 2015 د جنورۍ په 1 د سواد زده کړې خپل پروګرامونه پیل کړي.[203] د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو باید د NTM-A په مشورې او مرستې د 2014 د جولای تر 31 د پروګرام او قرارداد کولو پلانونه بشپړ کړي وای، یانې شپږ میاشتې وړاندې تر دې چې د NTM-A قراردادونه پای ته ورسیږي.[204]مګر د پرمختګ کوم راپور ندی لاسته راغلی. د افغانستان دفاع او کورنیو چارو وزارتونه به دغه کارونه ترسره کړي:[205]

- د نویو استخدام شویو لپاره د روزنې په سیمه ایز مرکز کې د مرکزي بنسټیزې سواد زده کړې روزنه
- د استادانو د روزنې له لارې د سواد زده کړې اصلي وړتیا

NTM-A به د سواد زده کړې روزنې قرارداد کولو ملاتړ مرستې ته دوام ورکړي. مګر، د افغانستان دفاع او کورنیو چارو وزارتونو د تدارکاتو سلاکاران به د 2015 په جنورۍ کې د آخرنې سپارلو لپاره مشرې په لاس کې واخلي.[206]

د NTM-A سواد زده کړې پروګرام باید د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو ته د اساسي زده کړې روزنه برابره کړې وای (د درې/پښتو لوستل او لیکل) او د اساسي سواد زده کړې روزنې لپاره یې باید اصلي وړتیا ته وده ورکړې وای.[207] NTM-A خپلې هغې اصلي موخې ته رسیدلې ترڅو د 2014 تر دسمبر پورې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو 100,000 (د واړو ملي اردو او ملي پولیسو) هغه کارکوونکې ولري چې په عملي توګه سواد زده کړه لري. پردې برسیره NTM-A نشې کولای د افغانستان په ملي امنیتي ځواکونو کې د کارکوونکو د تعقیبولو نشتون وړتیاو له کبله دا تایید کړي چې له روزل شوي کارکوونکو څخه څومره اوس هم د افغانستان په ملي امنیتي ځواکونو کې شته.[208] NTM-A اټکل کړی "چې د کارکوونکو شمیر کمیدلو له کبله د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو له 30% څخه کم به د 2014 دسمبر تر پایه عملي سواد زده کړه /[سواد زده کړه 3 درجه] ولري."[209]

NTM-A د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو د هغو کارکوونکو د شمیر په اړه راپور ورکړی چې د 2014 د اګست تر 1 یې د سواد زده کړې هره درجه بشپړه کړې ده، چې پدغه جدول 3.9کې ښودل شوي.

جدول 3.9

**د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو د سواد زده کړې روزنه، د 2014 د اګست تر 1 پورې.**

| سواد زده کړه کې روزل شوي | د افغانستان ملي اردو | د افغانستان ملي پولیس | د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو ټوله شمیره | موخه د 2014 پای |
|---|---|---|---|---|
| 1 درجه | 185,030 | 100,908 | 285,938 | تر 300,000 پورې |
| 2 درجه | 68,556 | 64,749 | 133,305 | 130,000–120,000 |
| 3 درجه | 64,426 | 43,909 | 108,335 | 110,000–100,000 |

سرچینه: د سیګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د CSTC-A ځواب، 10/6/2014.

د 1 سويې په سواد کې زده کوونکی کولی شي يووستوي لغتونه ولولي يا وليکي، تر 1,000 پورې وشميري او ټولي شميرې سره جمع او منفي کړي. په 2 درجه کې، يو انفرادي کس کولای شی کلمې ولولي او وليکي، ساده ضرب او تقسيم وکړي، او د اندازه کولو واحدونه وپيژني. په 3 درجه کې، يو انفرادي کس فعاله سواد زده کړې ته رسيدلی او کولای شي "چاپ شوي او ليکل شوي مواد وپيژني، وربانډې پوه شي، وژباړي، جوړ کړي، اړيکه ونيسي، په کمپيوټر کار وکړي، او ورڅخه کار واخلي." 210

له 2010 څخه تر 2013 پورې، امريکا د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د سواد زده کړې روزني قراردادونه تمويل کړي دي. له 2014 څخه د ناټو وجهي صندق د سواد زده کړې قراردادونو لپاره 24.6 ميليونه امريکايي ډالر مرسته برابره کړې. د دغو کاري فرمايشونو لپاره د پای قراردادونه به د 2014 د دسمبر په 31 کې پای ته ورسيږي، او پدغه وخت کې به د سواد زده کړې پروګرام د افغانستان حکومت ته وسپارل شي. دا به د افغانستان حکومت مسوليت وي ترڅو خپل قراردادونه تاسيس کړي او د دغو قراردادونو لپاره له ناټو څخه د مرستو غوښتنه وکړي. 211 د USFOR-A په وينا د افغانستان ملي اردو ناټو وجهي صندق د 2015 لپاره د افغانستان ملي اردو د سواد زده کړې ته مرستي ټاکلي دي. 212

په جنوری کې د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د سواد زده کړې د سيګار يوې پلټنې د NTM-A ناتوانی ته اشاره کړې چې د خپلواکې ارزونې نشتون له کبله د آزموينې يا کارکوونکو تعقيبولو لپاره د سواد زده کړې پروګرام اغيزمنتيا په پوره توګه اندازه کړي. 213 NTMA-A د يوه ډير ښه پروګرام وړانديز کړی، او پدې کې يې د افغانستان دفاع او کورنيو چارو وزارتونو لپاره د پنځو کلونو په ترڅ کې زده شوي لوستونه شامل کړي. NTM-A سپارښتنه کړې چې د افغانستان ملي امنيتي ځواکونه د کارکوونکو تاييد او تعقيب لپاره د افغانستان زده کړې له وزارت څخه ګټه واخلي او د زده کړې وزارت د استادی روزني له طبيعي وړتيا څخه چې اوس د جوړولو په حال کې ده، کار واخلي. 214

## د افغانستان دفاع او کورنيو چارو وزارتونو ارزونې تر جنوری پورې په تمه دي

د افغانستان وزارتونو ارزونې پروسې تر جنوری پورې په تمه دي. د افغانستان دفاع وزارت په دغه ربع کې راپور ورکړی چې د دفاع او کورنيو چارو وزارتونو د وزارت پراختيايي پلان کولو پروسه تر بشپړ بيا ليکنې لاندې تيريږي. 215موخه دا ده ترڅو د 2014 د اکتوبر – دسمبر دورې وزارتونو ارزونې لپاره نوې پروسه بشپړه شي. 216

لکه څرنګه چې په تير ربع کې راپور ورکړ شوی، د وړتيا موخې (CM) درجې سيستم د پای ارزونو پر اساس، د مهمو دندو ترسره کولو لپاره د افغانستان دفاع او کورنيو چارو وزارتونو په ظرفيت کې د پرمختګ کومه درجه نده ليدل شوې، لکه څرنګه چې په دغه شکل 3.26کې ښودل شوي. د وزارتونود عملياتي وړتيا درجې ورکولو لپاره، NTM-A له دغه سيستم څخه کار اخيستی ترڅو د کارکوونکو برخو (د مرستيالانو او د وزير معاونينو په مشری دفترونه) ارزونه ترسره کړي) او د څو اړخيزو دندو ساحو (لکه د ستر درستيز دفترونه) لپاره له څلورو اصلي او دوو فرعي درجو څخه کار اخيستی: 217

- CM-1A: د خپلواکو عملياتونو وړتيا لري
- CM-1B: هغه وړتيا لري ترڅو د ايتلاف له نظارت سره دندې ترسره کړي
- CM-2A: د ايتلاف په لږه مرسته کولی شي کارونه ترسره کړي
- CM-2B: کولای شي ماموريت ترسره کړي مګر د ايتلاف ځينو مرستو ته اړتيا لري
- CM-3: د ايتلاف له ډيرې مرستي پرته نشي کولای ماموريت ترسره کړي
- CM-4: شتون لري خو خپل ماموريت سرته نشي رسولی

عکس 3.26

**د MOD او MOI د وړتیا ارزولو دري میاشتنی درېځ**




یادونه: د 6/30/2014 پورې MOD.د 6/14/2014 پورې MOI.د MOI د مخدره توکو پروړاندې مبارزې معینیت له CM-1B څخه CM-2A ته راټیټ شوی.ربعونه د تقویمي کال دي.
سرچينه:CSTC-A، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 3/31/2014، 7/1/2014، 7/3/2014 او 9/22/2014.

د CM د اخرنې ربع په درجې ورکولو کې د افغانستان دفاع وزارتونو 35 کارکوونکو برخو او څو اړخیز دندو ساحو لپاره وې، او دا د تيرو ربعونو له 37 څخه کمې وې.[218] د دفاع وزارت شپږو دفترونو د CM-1B دويمه لوړه درجه لاسته راوړه.[219] د افغانستان د کورنيو چارو په وزارت کې د کارکوونکو يو ديرش برخې وارزول شوې. دريو د CM-1A تر ټولو لوړه درجه لاسته راوړه: د عامه اړیکو د کارکوونکو د دفتر رییس، د امنیتي دفتر لپاره د افغانستان د ملي عامه نظم پولیسو معین، او د امنیتي ځواکونو د چمتووالي لپاره د معین دفتر. پردې برسیره، د کورنيو چارو وزارت د کارکوونکو 15 برخو د CM-1B درجې لاسته راوړې دي.[220]

امريکا د هر یوه د افغانستان دفاع او کورنيو چارو وزارتونو پراختیا لپاره 1.2 میلیونه او 1.5 میلیونه امریکایي ډالر برابر کړي دي.[221] آیساف د دفاع وزارت مشورې ملاتړ لپاره 191 او د کورنيو چارو وزارت لپاره 231 کارکوونکي ګمارل دي.[222]

## د سیګار څانګړې پروژه

د څانګړې پروژې په هغه راپور کې چې تیر کال خپور شوی، سیګار موندلي چې CSTC-A د افغانستان دفاع او کورنيو چارو وزارتونو د وړتیا د خطر هر اړخیزه ارزونه نده کړې ترڅو وکولای شي د امریکا د مستقیمې مرستې ډالرونو مديريت او حساب وکړي، چې نږدې 4.2 میلیارده امریکایي ډالر ژمنه شوي او نږدې 3 میلیارده امریکایي ډالر توزیع شوي دي.

## د سیګار پلټنه

سیګار د افغانستان د سیمه ایزو پولیسو پروګرام په افغانستان کې د ګډو ځانګړو عملیاتونو کاري ځواک تطبیق په اړه یوه روانه پلټنه لري.

## افغان سیمه ایز پولیس

د افغانستان سیمه ایز پولیس (ALP) د افغانستان د کورنیو چارو وزارت تر صلاحیت لاندې دي او د افغانستان د ولسوالی د یونیفورم پولیسو تر لارښووني لاندې دندې ترسره کوي(AUP). د افغانستان د سیمه ایزو پولیسو غړي د کلیو د مشرانو یا د سیمه ایزو زورواکوانو لخوا غوره کیږي ترڅو خپلې ټولنې د طالبانو له برید څخه خوندي کړي، د تاسیساتو پهره وکړي، او په سیمه کې د یاغیانو پر وړاندې ماموریتونه ترسره کړي. [223] په افغانستان کې د ناټو د ځانګړو عملیاتونو د برخې د قوماندان (NSOCC-A) په وینا، د 2014 د سپتمبر تر 14، د افغانستان په سیمه ایزو پولیسو کې 28,814 کارکوونکو شتون درلود، لدغو څخه یووازې 4,298 پوره روزل شوي نه و. اوسنی موخه دا ده ترڅو د 2014 د دسمبر تر پایه په 150 ولسوالیو کې 30,000 کارکوونکي ولرو، چې په 29 ولایتونو کې په 3,120 تلاشي پوستو کې په دنده ګمارل شوي. [224]

د 2014 تر 29 سپتمبر پورې، د افغانستان ملي پولیسو ملاتړ لپاره د ASFF 409.2 میلیونه امریکایي ډالر مکلف شوي او توزیع شوي دي. [225] د NSOCC-A په وینا، کله چې ملي پولیس ټاکل شوې موخې شمیر ته ورسیږي، په هر کال کې به د دوام لپاره 121 میلیونو امریکایي ډالرو ته اړتیا ولري. [226]تر اوسته امریکا د افغانستان ملي پولیسو ته تجهیزات لکه ټوپکونه، ماشیندارونه، سپکې لارۍ، موټر سایکلونه، او مخابرې برابرې کړې دي. [227]

د NSOCC-A په وینا، د 2013 د اکتوبر 1 او 2014 سپتمبر 30 ترمنځ د ALP د ساتنې درجه 93% وه. پدغه موده کې، NSOCC-A د 1.6% ځواکونو کموالي راپور ورکړی (پدغه کموالي کې قرباني شاملې ندي) پداسې حال کې چې د ځواکونو 6.4% په جګړه کې یا وژل شوي یا ټپیان شوي. [228]

د افغانستان حکومت تر اوسه د افغانستان ملي پولیسو د پای بنې یا د تمویل سرچینې په اړه پریکړه نده کړې. مګر، NSOCC-A ویلي چې له سپارلو وروسته مرستې به کله چې سپارل ترسره کیږي اړه ولري. [229]د امریکای دفاع وزارت په وینا، د افغانستان ملي پولیسو تمویل لپاره تر اوسه د امریکا حکومت پالیسي په اړه پریکړه نده شوې. [230] د یوې خپلواکې ارزونې په وینا چې په تیر ربع کې خپره شوې، په ټولیزه توګه د ټولنې لپاره د ملي پولیسو ارزښت په اړه د عامو خلکو نظر مثبت دی، که څه هم د پرمختګ لپاره ځای شتون لري. [231]یوه دویمه ارزونه، چې د NSOCC-A لخوا ترسره کیږي، په ولسوالیو کې د ملي پولیسو په اړه د یوریکا تحقیق او ارزونې کاري ډلې لخوا د برابر شوي معلوماتو پر اساس ده. [232]د دغې دویمې ارزونې یوه برخه به هغه ارزونه ترسره کړي چې آیا په لمړنی ارزونه کې د سپارښتنو په اړه عملي ګامونه اخیستل شوي او د پام وړ اغیز یې درلود. دغه سپارښتنې وې: [233]

- د افغانستان د ملي پولیسو لخوا ملاتړ او لارښوونه
- د استخدام شفافه او د سیمې په ملکیت پروسه
- د قومونه انډولیز استازیتوب
- د ټولنې د مشرانو او د سیمه ایزو پولیسو د قوماندانانو ترمنځ د معلوماتو منظم شریکول

## افغان ملي اردو

د 2014 د سپتمبر تر 30 پورې، امریکا د ASFF له مرستو څخه د افغانستان ملي اردو د جوړولو، روزنې، تجهیز او دوام لپاره 34.4 میلیارده امریکایي ډالر مکلف کړي او 32.4 میلیارده امریکایي ډالر توزیع کړې دي. [234]



**د افغانستان ملي** دفاع پوهنتون، **تر ساختماني کار لاندې، کابل د** 2014 سپتمبر. (د USACE تصویر)

## د افغان ملي پوځ قوت

د آيساف په وينا، 2014 د اګست تر 20 پورې، د افغانستان ملي اردو ټوليز شمير 195,257 کارکوونکي و (187,427 اردو او 7,830 هوايي ځواک).[235] مګر، لکه څرنګه چې په تير کې ويل شوي، پدې ربع کې آيساف د ملي اردو د نظامي او ملکي کارکوونکو د بيلا بيلو شميرې تاييد په اړه راپور ورکړی:[236]

- نظامي: 195,000
- ملکي: 8,004
- **ټول: 203,004**

د پای پورتنی په شميرې کې ټول 8,976 ملکيان شامل دي (8,749 ملي اردو او 227 هوايي ځواک).[237] په ټوليزه توګه، د پای ګډې موخې ټوله ګمارل شوي شميره 96.5% ده. مګر، د افغانستان ملي اردو د ملکيانو شمير له تاييد شوي موخې څخه تر 9% زيات دي، دې جدول 3.10 ته مراجعه وکړی. د ځانګړو عملياتو له ځواکونو (SOF) پرته د ټولو برخو به د شمير په تاييد کې لږ زياتوالی راغلی دی. مګر د ډيری برخو د ګمارل شوي کارکوونکو په شمير کې کموالی راغلی، لکه څرنګه چې په دغه جدول 3.10کې ښودل شوي. د هغه کارکوونکو شمير چې له رخصتی پرته غير حاضر (AWOL) دي له 5,746 څخه په تير ربع کې، 8,610 ته په دغه ربع کې زيات شوي، مګر تر هغه څه چې د 2013 په آخرې ربع کې راپور ورکړی شوی و چې 10,292 و، ډير کم و.[238]

جدول 3.10

**د ANA قوت، درې مياشتنی بدلون**

| د ANA برخه | مجاز | | | ګومارل شوي | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | **Q2 2014** | **Q3 2014** | **درې مياشتنی بدلون** | **Q2 2014** | **Q3 2014** | **درې مياشتنی بدلون** |
| 201 قل اردو | 18,130 | 18,205 | 75 | 17,606 | 17,401 | (205) |
| 203 قل اردو | 20,798 | 22,520 | 1,722 | 22,114 | 21,057 | (1,057) |
| 205 قل اردو | 19,097 | 19,116 | 19 | 18,534 | 18,128 | (406) |
| 207 قل اردو | 14,879 | 15,089 | 210 | 14,204 | 13,761 | (443) |
| 209 قل اردو | 15,004 | 15,214 | 210 | 14,674 | 14,566 | (108) |
| 215 قل اردو | 17,555 | 18,329 | 774 | 16,999 | 17,106 | 107 |
| 111 مرکزي فرقه | 9,174 | 9,410 | 236 | 8,356 | 8,866 | 510 |
| د ځانګړي عملياتو ځواک | 11,013 | 10,746 | (267) | 10,649 | 9,827 | (822) |
| له قول اردو څخه پورته مقام[a] | 36,002 | 37,713 | 1,711 | 36,610 | 38,248 | 1,638 |
| TTHS[b] | - | 13,359 | 13,359 | 12,299 | 10,908 | (1,391) |
| ملکيان | - | 7,726 | 7,726 | 9,394 | 8,749 | (645) |
| **د ANA ټولټال شمير** | **161,652** | **187,427** | **25,775** | **181,439** | **178,617** | **(2,822)** |
| افغان هوايی ځواک (AAF) | 7,370 | 7,552 | 182 | 6,478 | 6,695 | 217 |
| د AAF ملکيان | - | 278 | 278 | 253 | 227 | (26) |
| **ANA + AAF ټولټال** | **169,022** | **195,257** | **26,235** | **188,170** | **185,539** | **(2,631)** |

يادونه: ربعونه د تقويمي کال پر اساس دي؛ د 5/31/2014 پورې د Q2 2014 معلومات؛ د 8/2014 پورې د Q3 2014 معلومات.
[a] پدې کې دفاع وزارت، لوی درستيز، او لنډ مهاله قوماندانی شامل دي
[b] تر روزنې لاندې، لنډ مهاله، په تمه، او زده کوونکي؛ دغه د تاييد شوي ځواکونو په شميره کې شامل ندي؛ په Q2 کې ګمارل شوي 4,701 زده کړيالان شامل دي؛ په Q3 کې 5,157 ګمارل شوي زده کړيالان شامل دي

سرچينه: CSTC-A، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/1/2014 او 10/2/2014.

د SOF په شمير کې کموالی بڼه خبره نده، مګر که په ساده توګه يووازې د SOF شمير زياتول نشي کولای د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو ورتيا ښه کړي، ترڅو ځانګړې عملياتونه ترسره کړي. د بهري ځواکونو تحليل مرکز (CNA) د امريکا دفاع وزارت لخوا په يوه ټاکل شوې ارزونه کې چې د دغه کال په پيل کې خپره شوې ويلي، "افغانستان د SOF لپاره ډېره اړتيا لري، مګر د افغانستان ملي امنيتي ځواکونه نشي کولای د نورو SOF ملاتړ وکړي. "[239] HEARTدا هم ويلي چې په اوس وخت کې د افغانستان ملي اردو SOF د لوژستيک،استخباراتو، او هوايي حرکت لپاره پر امريکا او آيساف تکيه لري. د ملاتړ دغه اړتياو په نښه کولو پرته فقط د ANA SOF پرسونل شمير ډېرول به د ترهګرۍ او تروريست شبکو له منځه وړلو لپاره د SOF وړتيا ډيره نکړي." [240]

### د افغانستان ملي اردو ځواکونو کميدل

د افغانستان ملي اردو د کارکوونکو کميدل اوس هم يوه لويه ننګونه ده. د 2013 سپتمبر او د 2014 اګست ترمنځ، د افغانستان ملي اردو له شمير څخه 36,000 کارکوونکي کم شوي. [241] د افغانستان ملي اردو اوس هم په جګړه کې له ډيرو قربانيو څخه رنځ وړي. د 2012 د مارچ او د 2014 د اګست ترمنځ، د افغانستان ملي اردو له 2,850 څخه زيات کارکوونکي په جګړه کې وژل شوي او 14,600 په جګړه کې ټپيان شوي. [242]

## د افغان ملي پوځ پايښت

د 2014 د سپتمبر تر 30 پورې، امريکا د افغانستان ملي اردو ساتنې لپاره د افغانستان امنيتي ځواکونو وجهي صندق له مرستو څخه 13.4 ميلياړده امريکايي ډالر مکلف کړي او 12.4 ميلياړده امريکايي ډالر توزيع کړي دي. [243]

## د ANA معاشات، خواړه او جايزې

د 2014 د سپتمبر تر 30 پورې، CSTC-A راپور ورکړی چې امريکا د ASFF له لارې 2.5 ميلياړده امريکايي ډالر برابر کړي دي ترڅو له 2008 راهيسې د افغانستان ملي اردو معاشونه، خواړه او مکافاتو لپاره پيسې ورکړې. CSTC-A دا اټکل هم کړی چې د ملي اردو د اساسي معاشونو، اضافي معاشونو، او مکافاتو لپاره 693.9 ميليونو امريکايي ډالرو مرستو ته اړتيا ده. دغه اټکل له تير ربع څخه بدلون ندی کړی، مګر د معاشونو په اړوند تخصيصونه تر 85.5 ميليونه امريکايي ډالره پورې زيات شوي او مکافات په ورته اندازه کم شوي. مګر، CSTC-A ويلي چې مرستې د افغانستان ملي اردو د 100% شوي شمير پر اساس برابريږي. د 2013 د دسمبر له 21 څخه، CSTC-A نور د خواړو لپاره مرسته نه برابروي. [244]

## د ملي اردو تجهيزات، ترانسپورټ، او مهمات

له ننګونکي دوره وروسته کله چې د افغانستان ملي اردو لپاره د اخيستل شوي تجهيزاتو ثبت شوی قيمت څو ځلې اصلاح شوی، CSTC-A په ټول قيمت کې له 5.5 ميلياردو امريکايي ډالر څخه 5.8 ميلياردو امريکايي ډالرو زياتوالي راپور ورکړی. [245] د ملي اردو وسلو، وسايطو، او مخابرې تجهيزاتو په قيمت کې توپير پدغه جدول 3.11 کې ښودل شوي.

پردې برسيره، CSTC-A راپور ورکړی چې د افغانستان ملي اردو د پاته تجهيزاتو قيمت چې بايد واخيستل شي 82.9 ميليونه امريکايي ډالر دي، او دا له تير ربع څخه يو څه کموالی دی. [246]

### د سيګار پلټنه

د افغانستان ملي اردو ضربتي ځواک (MSF) په اړه د تير ربع پلټنې موندلي چې: د امنيت چاپيرال قراردادي د روزنې او ساتنې خدماتو له برابرولو څخه محدود کړی؛ له کابل څخه دباندې د MSF له موقعيتونو څخه د امريکا حکومت نظارت کارکوونکو محدوده وړتيا درلوده؛ د فالتو سامانونو نشتون له وسايطو څخه کار اخيستنه له خنډ سره مخامخ کړې؛ د MSF وسايطو چلوونکي ارزونې ته اړتيا لري؛ او د ملي اردو د فالتو سامانونو د توکو برابرولو فرمايش او توزيع په برخه کې ستونزې منځ ته راغلي.

جدول 3.11

| د افغانستان ملي اردو د تجهيزاتو اخيستلو لپاره د امريکا زياتيدونکي لګښتونه (ميليونونه امريکايي ډالر) | وسلې | نقليه وسايط | مخابرات | ټولټال |
|---|---|---|---|---|
| د 2013 اپريل | $878.0 | $5,556.5 | $580.5 | **$7,015.0** |
| د 2013 جولای | 622.8 | 5,558.6 | 599.5 | **6,780.9** |
| د 2013 اکتوبر | 447.2 | 3,955.0 | 609.3 | **5,011.5** |
| د 2013 دسمبر | 439.2 | 4,385.8 | 612.2 | **5,437.2** |
| د 2014 مارچ | 461.2 | 4,385.8 | 670.3 | **5,517.3** |
| د 2014 جولای | 461.2 | 4,385.8 | 670.3 | **5,517.3** |
| د 2014 کال تر سپتمبر | 522.3 | 4,638.9 | 688.2 | **5,849.4** |

سرچينه: د سيګار د معلوماتو غوښتني په اړه د CSTC-A ځواب، 4/1/2013، 7/2/2013، 10/1/2013، 12/30/2013، 3/31/2013، 7/1/2014 او 9/29/2014.

د 2014 د سپتمبر تر 30 پورې، امريکا د افغانستان ملي اردو د تجهيزاتو او ترانسپورت لپاره د ASFF 11.5 ميلیارده امريکايي ډالر مکلف کړي او 11.4 ميلیارده امريکايي ډالر توزيع کړي دي.[247] د دغو مرستو ډيرى برخه د وسايطو، وسلو او اړوندو تجهيزاتو، مخابرو تجهيزاتو، الوتکو، او هوايي چلند اړوندو تجهيزاتو لپاره کارول شوي. پدې برخه کې د امريکا له 79% څخه زياته مرسته د وسايطو او ترانسپورت اړوندو تجهيزاتو لپاره وه، لکه څنګه چې پدې جدول 3.12 کې ښودل شوي.

جدول 3.12

| د امريکا لخوا تمويل شوي د افغانستان ملي اردو لپاره د وسلو، وسايطو، او مخابري تجهيزاتو لګښت | | |
|---|---|---|
| **د تجهيزاتو ډول** | **اخيستل شوي** | **بايد واخيستل شي** |
| وسلې | $522,336,282 | $13,803,951 |
| نقليه وسايط | 4,638,861,237 | 38,124,578 |
| مخابرات | 688,157,101 | 31,010,799 |
| **ټولټال** | **$5,849,354,620** | **$82,939,328** |

سرچينه: د سيګار د معلوماتو غوښتني په اړه د CSTC-A ځواب، 9/29/2014.

امريکا د 1.6 ميلیاردو امريکايي ډالرو مهمات، د 4.6 ميلیاردو امريکايي ډالرو الوتکي، او د 9.6 ميلیاردو امريکايي ډالرو په ارزښت تجهيزات او توکي اخيستي هم اخيستي ترڅو د افغانستان ملي اردو وساتي. مګر، يو څه سيګار اندېښنه لري چې د 9.6 ميلیاردو امريکايي ډالرو په ارزښت د نورو تجهيزاتو او توکو پريکړه څرنګه شوې. د CSTC-A په وينا، دا پريکړه د تجهيزاتو، او دوام له توليز لګښتونو څخه د وسلو، وسايطو، مخابري تجهيزاتو، الوتکو، او مهماتو لګښتونو منفي کولو پر اساس شوي، يا په بل عبارت، د پاتې توکو په توګه حساب شوي، نه دا چې د شته توکو د لست يا حقيقي ثبت پر اساس وي.[248]

> **د سيګار خارنه**
>
> سيګار د متحده اياالاتو فنډ ورکړ شوي MOD قوماندانيو جوړوني يو تحقيق پيل کړی ترڅو معلوم کړي چې جوړونه د قرارداد ارتياو سره سم بشپړه کيږي او ايا د قوماندانيو کومې اشغال شوي برخې په سمه ساتل کيږي او لکه څنګه چې نومول شوي هماغسې کارول کيږي.

## د افغان ملي اردو زيربنا

د CSTC-A په وينا، د 2014 د سپتمبر تر 30 پورې، امريکا د افغانستان ملي اردو د زيربنا لپاره د ASFF 6.2 ميلیارده امريکايي ډالر مکلف کړي او 5.3 ميلیارده امريکايي ډالر توزيع کړي دي.[249] پدغه وخت کې، امريکا د زيربنا 329 پروژې (د 4.3 ميلیاردو امريکايي ډالرو په ارزښت) بشپړې کړي، او 46 نورې پروژې (د 950 ميليونو امريکايي ډالرو په ارزښت) تر کار لاندې دي او نهه پلان شوي دي (97.8 ميليونو امريکا ډالرو).[250]



**په کابل کې** د فاع وزارت قرارګاه ودانی تر ساختماني کارونو لاندې ده، د 2014 سپتمبر (د CSTC-A عکس)

په دغه ربع کې د افغانستان ملي اردو تر ټولو لویې تر کار لاندې د زیربنا پروژې په کندهار کې د 205 قول اردو 3 لوا (91 میلیونه امریکایي ډالر) او په نیمروز کې د 215 قول اردو 2 لوا (د 78.7 میلیونو امریکایي ډالرو په لګښت)، او د افغانستان دفاع وزارت د قرارګاه او ګارنیزیون دریمه برخه وه (58.6 میلیونه امریکایي ډالر). [251] پردې برسیره، په دغه ربع کې پنځه پروژې د 61.7 میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت وړاندې شوې، د 226.6 میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت 16 پروژې بشپړې شوې، او د 182.1 میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت د شپږو قراردادونو، پشمول د په کنر کې د 201 قول اردود 2 لوا ګارنیزیون (چې اصلي لګښت يې 115 میلیونه امریکایي ډالر و) او د 31.3 میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت یو قرارداد فسخه شوی. [252] CSTC-A راپور ورکړی چې د جولای له پای څخه د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو ته 18 تاسیسات سپارل شوي؛ پر دې برسیره 13 تاسیسات به د 2015 د جنوری په پای کې وسپارل شي. [253]

د CSTC-A په وینا، له 2015 مالي کال څخه تر 2019 مالي کال پورې د افغانستان ملي اردو د اټکل شوي عملیاتونو او ساتنې (O&M)، دوام، ترمیم، او وړو ساختماني کارونو لګښت په یوه کال کې 168 میلیونه امریکایي ډالر دي، چې ټول 840 میلیونه امریکایي ډالر کیږي. [254]

د امریکا دفاع وزارت په وینا، تر څو چې ډېر وړتیا پیدا شي، د نوي ساختماني کارونو د پلان، ډیزاین، قرارداد، او ترسره کولو لپاره د افغانستان دفاع وزارت د ساختماني کارونو او ملکیتونو اداري ریاست وړتیا په هر کال کې تر 20 میلیونو امریکایي ډالر محدوده ده. [255]

## د ANA اوMOD روزنه او عملیاتونه

د 2014 د سپتمبر تر 30 پورې، د افغانستان ملي اردو او دفاع وزارت د عملیاتونو او روزنې لپاره امریکا د 3.2 ASFF میلیارده امریکایي ډالر مکلف کړي او توزیع کړي دي. [256] د سواد زده کړې څخه پرته چې د دې برخه په تیر کې ورباندې خبرې وشوې، په نورو روزنو کې د انګلیسي ژبې، افسرانو، او عملیاتونو ځانګړې روزنې لکه توپچي، پیاده، لوژستیک او روغتیا شامل دي. [257] د دغه ربع لپاره سیګار د عملیاتونو او روزنو لپاره نیمګړې ځوابونه لاسته راوړل.

## په ANA او افغان هوایی ځواک کې ښځې

د استخدام او ساتلو پر اوسنی موخې برسیره چې د 2013 په سپتمبر کې خپور شوی د ځواک 10% به میرمنې یې، په اوس وخت کې میرمنې د افغانستان ملي اردو له 1% څخه کم جوړوي. د دې موخې ترلاسه کولو لپاره، ANA استخدام مستثنی کړی چې د ښځو ګمارنه دې د افغانستان مختلف قومي ډلو ترمنځ بیلانس شي. پردې برسیره، د ګمارلو موقعیتونه تر کتنې لاندې دي ترڅو هغه موقعیتونه وټاکل شي چې د میرمنو لپاره استوګن ځای، لکه جلا تشنابونه ولري. د افغانستان ملي اردو د استخدام قوماندانی په تلویزیونو کې هم د میرمنو لپاره اعلانونه خپروي او تر روزنې 20 ورځې وړاندې پیلیږي. [258]

آیساف ویلي ایتلاف باور لري لکه څرنګه چې ډیرې میرمنې د افغانستان په امنیتي ځواکونو کې خدمت کوي، نارینه به پدې پوه شي ترڅو د کار په ځای کې میرمنې ومني او احترام یې وکړي. د میرمنو په استخدامولو کې د کورنیو او ټولنو شاملولو ډیر مهم دي. ISAF په اردو او پولیسو کې د میرمنو یوځای کیدلو د اړتیا لپاره په رسنیو کې د اعلانونو او د عامو خلکو د روزنې لپاره یې د مرستې غوښتنه کړې. [259]

پدې ربع کې، د افغانستان ملي اردو ISAF ته راپور ورکړی چې 833 میرمنې په ملي اردو کې خدمت کوي: 785 په اردو کې او 48 په هوایي ځواک کې. لدغو څخه، 291 افسران، 324 واړه ظابطانو افسران (NCOs)، 140 نوي استخدام شوي، 29 په روزنه کې، او 49 زده کړیالان و. پردې برسیره، د افغانستان ملي اردو CSTC-A ته راپور ورکړی چې 413 ملکي میرمنې د ملي اردو ملاتړ کوي.[260] د ملي اردو د 12 اونیو د اساسي محاربي روزنې په کورس کې د نارینه عسکرو چې په ملي اردو کې له میرمنو سره کار کوي د چلند په اړه روزنه شامله ده. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د افغانستان امنیتي ځواکونو لپاره د دوو ورځو سیمینار جوړوي چې پدې سیمینار کې د میرمنو پر وړاندې د تاوتریخوالي له منځه وړلو روزنه شامله ده.[261]

د 2014 مالي کال لپاره د ملي دفاع صلاحیت قانون، عامه قانون 66-113، 25 میلیونو امریکایي ډالرو ته صلاحیت ورکوي ترڅو د هغو پروګرامونو او فعالیتونو لپاره وکارول شي چې د افغانستان په ملي امنیتي ځواکونو کې د میرمنو د استخدام، یوځای کیدلو، ساتلو، روزنې او روغتیا ملاتړ وکړي.[262] په دغه ربع کې سیګار په ملي اردو او هوایي ځواک کې د میرمنو په اړه خپلو پوښتنو ته نیمګړي ځوابونه لاسته راوړي.

## د افغانستان هوایي ځواک او د ځانګړې ماموریت وزر

امریکا د افغانستان په هوایي ځواک کې ډیره پانګونه کړې ده. د 2010 او 2014 مالي کلونو ترمنځ، امریکا د افغانستان د 6,922 کسانو هوایي ځواک د جوړولو ملاتړ لپاره له 6.5 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه زیات پشمول د له 3 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه زیات د تجهیزاتو او الوتکو لپاره برابر کړي. پردې برسیره، په 2015 مالي کال کې د امریکا دفاع وزارت د افغانستان هوایي ځواک لپاره له 925 میلیونو امریکایي ډالر څخه زیات پشمول د 21.4 میلیونو امریکایي ډالرو د تجهیزاتو او الوتکو لپاره غوښتنه کړې. مګر، د غوښتل شوي مرستو ډیری برخه د دوام او روزنې لپاره ده، لکه څرنګه چې په دغه جدول 3.13کې ښودل شوي.

سیګار د افغانستان هوایي ځواک د وړتیا په اړه پوښتنه کړې ترڅو وکولای شي په پوره توګه له هغو الوتکو څخه کار واخلي چې امریکا د امریکایانو د مالیه ورکوونکو لپاره د لوړ لګښت پر وړاندې برابرې کړې دي. د بیلګې په توګه، وروسته لدې چې د امریکا دفاع وزارت د افغانستان هوایي ځواک ته د ترانسپورت دوې منځنۍ C-130 الوتکې ورکړې، وروسته لدې چې په یوې پلټنه کې د افغانستان هوایي ځواک د وړتیا په اړه ترڅو وکولای شي له نوې الوتکو څخه کار واخلي اندیښنې راپورته شوې، سیګار د امریکا دفاع وزارت د هغه پلان په اړه پوښتنه وکړه ترڅو دوې نورې C-130Hs برابرې کړي. په پایله کې، د امریکا دفاع وزارت په دغه ربع کې د سیګار له سپارښتنې سره موافقه وکړه ترڅو تر هغه وخته د څلورمې الوتکې برابرول وځنډوي ترڅو چې د افغانستان هوایي ځواک د اړتیا ارزونه بشپړه شي، او کیدای شي 40.5 میلیونه امریکایي ډالر وسپمیږي. دریمه الوتکې به ورسول شي، ترڅو د افغانستان هوایي ځواک د هوایي وړتیاو خطر کم شي، که یوه الوتکه له کار غورځیږي.[263]

جدول 3.13

**د افغانستان هوایي ځواک ملاتړ او جوړولو لپاره د امریکا مرسته، 2010–2015 (میلیونونه ډالر)**

| د فنډ ورکولو کټګورې | مالي کال 2010 | مالي کال 2011 | مالي کال 2012 | مالي کال 2013 | مالي کال 2014 | 2015 مالي کال (غوښتنه) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| تجهیزات او الوتکې | $461,877 | $778,604 | $1,805,343 | $111,129 | $2,300 | $21,442 |
| روزنې | 62,438 | 187,396 | 130,555 | 141,077 | 164,187 | 123,416 |
| ثبات | 143,784 | 537,650 | 571,639 | 469,230 | 520,802 | 780,370 |
| زیربنا | 92,200 | 179,600 | 113,700 | 53,000 | 0 | 0 |
| **ټولټال** | **$760,299** | **$1,683,250** | **$2,621,237** | **$774,436** | **$687,289** | **$925,228** |

سرچینه: د امریکا دفاع وزارت، د 2012 مالي کال بودیجه، د 2012 مالي کال لپاره دلیل، په بهر کې د بیړنیو عملیاتونو دلیل، د افغانستان امنیتي ځواکونو وجهي صندق، 2/2011، مخونه 8، 19، 30، او 44؛ د امریکا دفاع وزارت، د 2013 مالي کال بودیجه، د 2013 مالي کال لپاره دلیل، په بهر کې د بیړنیو عملیاتونو دلیل، د افغانستان امنیتي ځواکونو وجهي صندق، 2/2012، مخونه 5، 13، 19، او 32؛ د امریکا دفاع وزارت، د 2014 مالي کال بودیجه، د 2014 مالي کال لپاره دلیل، په بهر کې د بیړنیو عملیاتونو دلیل، د افغانستان امنیتي ځواکونو وجهي صندق، 5/2013، مخونه 5، 11، 20، او 37؛ د امریکا دفاع وزارت، د 2015 مالي کال بودجه، د 2015 مالي کال لپاره دلیل، په بهر کې د بیړنیو عملیاتونو دلیل، د افغانستان امنیتي ځواکونو وجهي صندق، 6/2014، مخونه 10، 24، 26، او 29.



د 2014 د سپتمبر په 26، **د سوپر توکانو یوه A-29** الوتکه په جورجیا کې د مودي هوايي ډګر ته راځي. (د امريکا هوايي ځواک عکس)

د امريکا مرکزي قوماندانی او په افغانستان کې د ناټو هوايي قوماندانی په وينا، د 2014 د اکتوبر تر 11، د افغانستان هوايي ځواک 101 الوتکې درلودې: [264]

- 56 Mi-17 ترانسپورتي هليکوپترونه (وروسته لدې چې دوې په جګړه کې له لاسه ولاړې دا له 58 څخه دوې کمې دي)؛ او يوه ځانګړې وزر ته په پور ورکړ شوې.
- 26 C-208 سپکې ترانسبورتي الوتکې
- شپږ C-182 د ثابت وزر روزني الوتکې
- پنځه MD-530F څرخي وزر هليکوپترونه
- پنځه Mi-35 د محاربې هليکوپترونه
- درې C-130H د ترانسپورت منځنی الوتکې

دوولس اضافي MD-530F هليکوپترونه چې له هوا ځمکې ته د برید وړتيا لري تر قرارداد لاندې دي او اوسنيو پنځه MD-530F هليکوپترونه چې له هوا ځمکې ته د برید وړتيا لري بدلون ورکول کيږي، ځکه نو د افغانستان هوايي ځواک ته د محاربې 17 هليکوپترونه برابروي. [265]

د 2015 په څلورم ربع کې پيليږي، 20 A-29 سوپر تکانوس، چې د ياغيتوب پر وړاندې د برید سپکې، د نږدې هوايي ملاتړ او هوايي کشف الوتکې دي، د 2015 په پيل کې به افغانستان ته ورکړ شي، او دا به په امريکا کې د کدرونو له روزنې وروسته ترسره شي. [266]څلور سوپر توکانوس به په هرکال کې 2015، 2016 او 2017 کې وسپارل شي؛ او اته به په 2018 کې وسپارل شي. [267]موخه دا ده ترڅو دغې الوتکې د زړو Mi-35 ځای ونيسي.

د افغانستان هوايي ځواک 131 پوره روزل شوي پيلوټان لري. ټول پيلوټان هغه افسران دي چې له هوايي اکادمي فارغ شوي يا ورته روزنه يې لاسته راوړې او له پوهنتون وروسته روزنه يې بشپړه کړې. [268] په تيرو دريو کلونو کې د قربانيانو د ترانسپورت (CASEVAC) ماموريتونو ترسره کول لپاره د افغانستان هوايي ځواک وړتيا په منظمه توګه بنه شوې: [269]

- 2012: 391 ماموريتونه
- 2013: 1,540 ماموريتونه (128/میاشت؛ 394% زیاتوالی)
- 2014: 1,295 ماموريتونه (162 YTD/میاشت)؛ که گمان دا وي چې دغه کار به تر دسمبر دوام وکړي،
- پدغه کال کې د 1,944 ماموريتونو تمه کیږي (150% زیاتوالی)

د CASEVAC په وړتیا کې پر دغه پرمختګ برسیره، د افغانستان هوايي ځواک اوس هم له ننګونو سره لکه د عملیاتونو غوښتنې زیاتول، پرته لدې چې په وړتیا کې ورته پرمختګ لاسته راوړل شي، د CASEVA ډاکټرانو روزنې نشتون، او د CASEVAC له محدودو سرچینو څخه ناوړه ګټه اخیستنې سره مخامخه دي.[270]

د ځانګړي ماموریت وزر (SMW)، پداسې حال کې چې د افغانستان هوايي ځواک برخه نده، د تروریزم او مخدره توکو پر وړاندې عملیاتونو کې د ملاتړ لپاره هوايي کشف، څارنه، او کشف (ISR) وړتیا برابروي، او د هوايي ځواک له دوو پیلوټانو پرته، د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو یوازینی هغه قطعه ده چې د شپې له خوا د هوايي برید لپاره د لید عینکو تخصص او ثابت وزر ISR وړتیا لري.[271] SMW 266 غړي لري، لدغو څخه 76 پیلوټان دي،[272] په 2014 مالي کال کې د SMW له ترسره شوي ماموریتونو څخه، 26% د تروریزم پر وړاندې و، او 74% د مخدره توکو پر وړاندې و.[273]

د افغانستان کورنیو او دفاع وزارتونه، او د ملي امنیت ریاست مشرانو د 2014 د مي په 14 د SMW هوايي منشور لاسلیک کړ، چې د سوق او اداري د همغږۍ ګډ مرکز (JCCC) یې مهمه برخه ده ترڅو د SMW ملاتړ لومړیتوبونو لپاره آسانتیاوې برابرې کړي. دواړو د افغانستان دفاع او کورنیو چارو وزارتونو ځانګړو عملیاتونو ځواکونه به په JCCC کې د اړیکو افسران ولري. د افغانستان هوايي ځواک به SMW ته کارکوونکي، استخدام، او نور اداري (له عملیاتونو پرته) ملاتړ برابر کړي. د SMW قوماندان په هره اونۍ کې د ځانګړو عملیاتونو له مشرانو سره غونډه کوي ترڅو پر راتلونکو عملیاتونو باندې خبري وکړي او ارتباوي او لمړیتوبونه سره همغږي کړي.[274]

لکه څرنګه چې په 2015 مالي کال کې د افغانستان هوايي ځواک بودجه له 900 میلیونه امریکایي ډالرو څخه زیات ده، پدې برخه کې د لګښت ډیر کموالي ته اړتیا وه ترڅو دغه بودجه د تر 2017 مالي کال پورې د مرستندویو هیوادونو له تخمیني 450 ملیون ډالرو مرستي سره برابر کړي، لکه څرنګه چې د 2012 د شیکاګو په غونډه کې موافقه شوې.[275] د نړیوالو چارو د هوايي ځواک د ګډ منشي او د امریکا د دفاع وزارت د اخیستلو، تیکنالوجي او لوجستیک (AT&L) ټیم یوځای شوی ترڅو په افغانستان کې د ناتو د هوايي روزنې له قوماندانۍ سره مرسته وکړي، ترڅو تولیز لګښت کم شي او د افغانستان هوايي ځواک پر ځان بسیا کیدل پرمختګ وکړي.[276] د جګړې په چاپیریال کې له درې ورځنۍ تحقیق وروسته، دغه ټیم په څلور برخو کې د بدلون وړاندیز وکړ:[277]

- د ساتنې روزنې په برخه کې د وړتیا زیاتوالی.
- د غربي هیوادونو د قرارداد لوژستیک ملاتړ (CLS) قرارداد کارکوونکو شمیر کموالی.
- د افغانستان هوايي ځواک هوايي چلند د توکو دیپوګانو سره د هر انفرادي CLS توکو برابرولو سیستم یوځای کیدل.
- د هوايي ترمیم بې اړتیا کارونو کمول.

لدغو طریقو څخه په کار اخیستنې، دغه ټیم د افغانستان هوايي ځواک د Mi-17، Mi-35، MD-530، C-182، C-208، C-130، PC-12، او A-29 د پروګرامونو د ملاتړ په قراردادونو کې د 65 مهمو بدلونونو وړاندیز وکړی. هغوی اټکل کړی که له ټولو وړاندیز شوو 65 وړاندیزونو سره موافقه وشي، چې د 2014-2019 مالي کلونو لپاره پروګرام شوي، 895 میلیونه امریکایي ډالر به وسپمیږي. دغې هڅې، د منځنې هوايي ترانسپورت له احتمالي اخیستلو سره یوځای، او د کابل هوايي ډګر سره د چټک یوځای کیدلو CLS ملاتړ، د آیساف قوماندان لاربنوونه کړې چې د 2017 مالي کال

## د سیګار خبرداری لیک

په یوې روانه ارزونه کې، سیګار موندلې چې د امریکا اردو لوژستیک اداري هغه 16 G222 چې افغانستان ته رسول شوي وې مګر ډیر کم کار ورڅخه واخیستل شو او په پایله کې د خوندیتوب اندیښنو او د عملیاتونو اړتیاو پوره کولو له کبله له الوتنې ولویدلې، په اوسپنو بدلې کړې. د دغو 16 الوتکو اوسپنې، چې اوس توټه شوي مګر په اصل کې د اخیستلو او ساتنې لګښتونو نږدې 390 میلیونه امریکایي ډالر ارزښت درلود، د ټولو 16 الوتکو اوسپنو هر پونډ نږدې په 6 سنتونو یا 32,000 امریکایي ډالرو وپلورل شو. سیګار ته په آلمان کې د پاتې څلورو G222 الوتکو له هغه پریکړې څخه خبر ندی ورکړل شوی چې په پایله کې دغه الوتکې له منځه وړل کیږي. سیګار د خپلو اندیښنو په اړه د امریکا دفاع او هوايي ځواک وزیرانو ته راپور ورکړی. د امریکا دفاع وزارت ویلي چې هغوی لدې موضوع څخه قانون جوړونکي د دوو کلونو لپاره خبر کړي و. د 2014 د ملي دفاع صلاحیت قوانینو پر اساس، کانګریس دا صلاحیت برابر کړ ترڅو هغه تجهیزات چې د افغانستان امنیتي ځواکونه ورته نور اړتیا نلري د امریکا دفاع وزارت تجهیزاتو ته تبدیل شي. وروسته لدې چې پریکړه وشوه چې الوتکې د کار وړ ندي او نیټه یې تیره شوې، د امریکا دفاع وزارت کانګریس ته خبر ورکړ چې دغه وزارت د G222 الوتکې د امریکا دفاع وزارت تجهیزاتو ته وړي او د له منځه وړلو لپاره یې چمتو کوي. د لازیاتو معلوماتو لپاره، 2 برخه، مخ 47 وګورئ.

د افغانستان هوايي ځواک د وړتیا په اړه ترڅو وکولای شي اضافي تجهیزاتو څخه کار واخلي د سیګار د یوې پلټنې لومړنی ارزونه داسې ښیي چې د امریکا دفاع وزارت پلان لري ترڅو دوې نورې C-130 الوتکې برابرې کړي چې کیدای شي ورته اړتیا نه وي یا د افغانانو لخوا وساتل شي. سیګار د امریکا دفاع وزارت، CENTCOM،آیساف، او NTC-A ته د خپلې اندیښنې په اړه راپور ورکړی.

ټوله بودجه به 450 میلیونه امریکايي ډالر وي.[278] د امریکا دفاع وزرات په وینا، دغي پایلي به په هغو پلان کولو کي په پام کي ونیول شي چي په اوس وخت کي تر کار لاندي دي ترڅو د امریکا دفاع وزارت د ساحي الوتکو ساتني اړتیاو په اړه پریکړه وشي. د دغو اړتیاو له ژوري ارزونه وروسته، کیدای شي لګښتونه برابر شي.[279]

CSTC-A چي لدغو پایلو څخه راضي و، یوه طریقه غوره کړه ترڅو د افغانستان ملي اردو د تیر لرونکو وسایطو په پروګرام کي مسلي حل کړي.[280] سیګار به په راتلونکي ربع کي د دغو پایلو په اړه راپور ورکړي.

## افغان ملي پولیس

د 2014 د سپتمبر تر 30 پورې، امریکا د افغانستان ملي پولیسو د جوړولو، تجهیز، روزني، او دوام لپاره د ASFF 17 میلیارده امریکايي ډالر مکلف کړي او 16.2 میلیارده امریکايي ډالر توزیع کړي دي.[281]

## د افغان ملي پولیسو قوت

په دغه ربع کي، د افغانستان ملي پولیسو ټوله شمیره 153,317 کارکوونکي و، پدغه کي 113,515 د افغانستان یونیفورم پولیس (AUP)،21,643 د افغانستان سرحدي پولیس (ABP)، 14,881 د افغانستان ملي عامه نظم پولیس (ANCOP)، 2,492 په روزنه کي زده کوونکي، 786 د ګمارلو "په تمه" کي کارکوونکي شامل دي.[282] په AUP کي له 113,515 کارکوونکو څخه، 25,512 د کورنیو چارو وزارت د کارکوونکو به قرارګاه یا بنستیز ملاتړ کارکوونکي دي.[283] په ټولیزه توګه، د افغانستان ملي پولیسو شمیر له تیر ربع څخه 1,194 زیات شوی، لکه څرنګه چي په دغهجدول 3.14 کي ښودل شوي.

جدول 3.14

**دANP قوت، دری میاشتنی بدلون**

| د افغانستان ملي پولیس برخه | مجاز: Q2 2014 | مجاز: Q3 2014 | مجاز: دري میاشتنی بدلون | ګومارل شوي: Q2 2014 | ګومارل شوي: Q3 2014 | ګومارل شوي: دري میاشتنی بدلون |
|---|---|---|---|---|---|---|
| AUP[a] | 122,644 | 120,003 | (2,641) | 113,385[b] | 113,515[c] | 130 |
| ABP | 23,573 | 22,955 | (618) | 21,667 | 21,643 | (24) |
| ANCOP | 13,106 | 15,223 | 2,117 | 12,731 | 14,881 | 2,150 |
| د ګمارني لپاره په تمه دي | 3,000 | 3,000 | - | 4,313 | 2,492 | (1,821) |
| په تمه دي[d] | - | - | - | 27 | 786 | 759 |
| **د ANP ټولټال شمیر** | **162,323** | **161,181** | **(1,142)** | **152,123** | **153,317** | **1,194** |

یادونه: ربعونه د تقویمي کال پر اساس دي؛ تر 5/2014 پورې د Q2 2014 معلومات؛ تر 8/2014 پورې د Q3 2014 معلومات. AUP = د افغانستان یونیفورم پولیس؛ ABP = د افغانستان سرحدي پولیس؛ ANCOP = د افغانستان ملي عامه نظم پولیس؛ NISTA = د روزنې لپاره په خدمت کې ندي.

[a] پدې کې د کورنیو چارو وزارت قرارګاوې او بنستیز ملاتړ او د CNPA کارکوونکي شامل دي.

[b] پدې کې د کورنیو چارو وزارت قرارګاو 28,092 کارکوونکي شامل دي.

[c] پدې کې د کورنیو چارو وزارت قرارګاو 25,512 کارکوونکي شامل دي.

[d] پدې کې هغه کارکوونکي شامل دي چې د ګمارنې په تمه دي.

سرچینه: CSTC-A، د سیګار معلوماتو غوښتني ته ځواب، 7/1/2014 او 10/6/2014.

د CSTC-A په وينا، د کورنيو چارو وزارت، د ملي اردو په څېر د هغو کارکوونکو په اړه چې رخصت، له رخصتي پرته غير حاضر، ناروغ، يا په لنډ مهالو دندو کې بوخت دي، د خپلو کارکوونکو په راپور کې راپور نه ورکوي. په دغه دليل، د افغانستان ملي پوليسو حقيقي اغيزمنه شميره څرګنده نده.[284]

په دې ربع کې سيګار د افغانستان ملي پوليسو د شمير په اړه د معلوماتو غوښتنې په ځواب کې نيمګړي ځوابونه لاسته راوړل.

## د افغان ملي پوليسو پايښت

د 2014 د سپتمبر تر 30 پورې، د افغانستان ملي پوليسو د دوام لپاره امريکا د ASFF 6.7 ميلياره امريکايي ډالر مرستې مکلف کړي او 6.3 ميلياره امريکايي ډالر توزيع کړي دي.[285] په دغو د افغانستان د قانون او نظم په وجهي صندق (LOTFA) کې 1.3 ميلياره امريکايي ډالرو برخه اخيستنه شامله ده ترڅو د افغانستان ملي پوليسو ملاتړ وشي.[286]

## د ANP معاشونه

CSTC-A راپور ورکړی چې له 2008 څخه د 2014 تر 30 سپتمبر پورې، د امريکا حکومت 1.32 ميلياره امريکايي ډالر برابر کړي، ترڅو د افغانستان ملي پوليسو معاشونه، خواړه، او مکافات (د هغو کارکوونکو لپاره چې په جګړه کې دي يا په ځانګړو ساحو کې کار کوي اضافي معاش) تاديه کړي.[287] له 2010 څخه اضافي 158.5 ميليونه امريکايي ډالر د افغانستان سيمه ايزو پوليسو او د موضوع متخصيصينو معاشونو او مکافاتو لپاره برابر شوي، چې له LOTFA څخه نه تمويليږي.[288]

د CSTC-A په وينا، کله چې ANP د خپلې پای شميرې 157,000 کارکوونکو ته ورسيد، په هر کال کې به نږدې 483 ميليونو امريکايي ډالرو ته اړتيا ولري ترڅو معاشونه (263 ميليونه امريکايي ډالر) او مکافات (220 ميليونه امريکايي ډالر) تمويل شي. دا د تير ربع له 38.2 ميليونو امريکايي ډالرو څخه کموالی دی، چې د يوه امريکايي ډالر پر وړاندې د 56 افغانيو د بهرنيو اسعارو د بدلولو د نرخه پر اساس دي. په 1394 مالي کال (د 2014 دسمبر 21) کې پيليږي، د خواړو لګښت نور د CSTC-A لخوا نه تاديه کيږي.[289]

## د افغانستان ملي پوليس تجهيزات، ترانسپورت، او مهمات

تر سپتمبر 30، 2014 پورې متحده ايالاتو د ANP سمبالښت او ترانسپورتيشن لپاره د ASFF بسپنو 3.6ميليارد ډالر منلي او مصرف کړي.[290] د دې بسپنو ډيری يې د وسلو، تجهيزاتو اړوند، وسايطو او د ارتباط تجهيزاتو پيرودلو لپاره کارول شوي.[291] د متحده ايالاتو يدې کټګورۍ کې بسپنه ورکوونې له 83% څخه ډير د وسايطو او وسايطو اړوند تجهيزاتو لپاره و، لکه څنګه چې په 3.15 جدول کې ښودل شوي.

جدول 3.15

**د امريکا لخوا تمويل شوي د افغانستان ملي پوليس لپاره د وسلو، وسايطو، او مخابرې تجهيزاتو لګښت**

| د تجهيزاتو ډول | اخيستل شوي | بايد واخيستل شي |
|---|---|---|
| وسلې | $187,251,477 | $4,093,066 |
| نقليه وسايط | 2,046,681,026 | 2,385,261 |
| مخابرات | 211,062,672 | 544,573 |
| **ټولټال** | **$2,444,995,175** | **$7,022,900** |

سرچينه: د سيګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د CSTC-A ځواب، 9/29/2014.

### د سيګار ځانګړې پروژې

په دغه ربع کې، سيګار د امريکا بهرنيو چارو وزارت ته د معلوماتو غوښتنې يو مکتوب وړاندې کړی ترڅو د افغانستان حکومت د بودجې کموالي په اړه انديښنې راپورته کړي. په دغه مکتوب کې، سيګار پدې اړه هم انديښنه ښودلې چې د افغانستان پوليسو قطعو په راتلونکو څو کلونو کې د مرستو کموالي له کبله کندهار ته برېښنا بنده کړي. د لازياتو معلوماتو لپاره، 2 برخه، مخ 44 وګورئ.

سيګار په دغه ربع کې UNDP او CSTC-A ته هم د معلوماتو غوښتنې يو مکتوب وړاندې کړی، او په دې اړه يې انديښنه ښودلې چې UNDP د LOTFA د مرستو لګښتونو ځارنه نه کوي، هغوی په فعاله توګه ستونزې نه حلوي، او هغوی ادعا کوي چې د نظارت ترسره کولو لپاره صلاحيت نلري. د لازياتو معلوماتو لپاره، 2 برخه، مخونه 43–44 وګورئ.

د دوو لومړنيو ربعونو لپاره، CSTC-A د افغانستان ملي پوليس لپاره د ټولو اخيستل شوي وسلو او مخابرېِ تجهيزاتو په ټول قيمت کې د کوم بدلون راپور ندی ورکړی. مګر په دغه ربع کې، CSTC-A د افغانستان ملي پوليسو لپاره د ټولو اخيستل شوي وسايطو او مهماتو په ټول لګښت کې په ترتيب سره د 80.6 ميليونو امريکايي ډالرو او 167.6 ميليونو امريکايي ډالرو د زياتوالي راپور ورکړی.[292]

امريکا د افغانستان ملي پوليسو لپاره د 534.3 ميليونو امريکايي ډالرو مهمات هم اخيستي او د افغانستان ملي پوليسو د ساتنې لپاره د 1.3 ميلياردو امريکايي ډالرو نور تجهيزات او مواد هم اخيستي دي. مګر سيګار په دغه اړه انديښنې لري چې څرنګه د نورو تجهيزاتو او توکو د 1.3 ملياردو امريکايي ډالرو لګښت ټاکل شوی. د CSTC-A په وينا، دا د ټولو تجهيزاتو او ساتنې له لګښتونو څخه د وسلو، وسايطو، مخابرېِ تجهيزاتو، او مهماتو لګښت منفي کولو سره ټاکل شوی، نه دا چې د توکو د ليستونو يا حقيقي ساتل شوي سندونو پر اساس ټاکل شوي وي.[293] د دغه راپور د ارزونې مسودې په ځواب کې، USFOR-A ټينګار کړی چې د نورو تجهيزاتو 1.3 ميلياردو امريکايي ډالرو لګښت په دغه توګه ندی حساب شوی، مګر د هغو شميرو حسابولو پر اساس حساب شوی چې شميرې يې سيګار ته برابرې شوي. USFOR-A دا هم ويلي چې "د آيساف قرارګاه هر وخت هڅه کړې ترڅو د مهماتو د وړاندوينې او توکو حسابولو طرزالعملونو په اړه د کورنيو چارو وزارت ته مشوره ورکړي" او دا چې "دا ځواکونو د روزنې، مشورې او مرستې په هڅو کې يو لومړيتوب دی."[294] سيګار به د خپل راتلونکي راپور لپاره د توضيحاتو غوښتنه او دا غوښتنه به وکړي چې راتلونکې راپورونه بايد د هغو تجهيزاتو او توکو حقيقي محاسبه وي چې د افغانستان ملي پوليسو لپاره برابر شوي.

د افغانستان ملي پوليسو لپاره د ځينو اخيستل شوي تجهيزاتو په بيلګه کې پرمختللي توکي لکه د لوړ حرکت، څو موخو ټير لرونکي وسايط (HMMWV)؛ د MRAP وسايط؛ د شپې ليدلو وسيلې؛ د موقعيت پيدا کولو سيستمونه؛ د چاوديدونکو توکو له منځه وړلو تجهيزات؛ او بايو ميتريکس شامل دي؛ او هغه اساسي توکي لکه امبولانسونه، فالتو سامانونه، تومانچې، ماشيندارونه، مخابرې، البسه، د ستوماتولوژي او روغتيايي تجهيزات، او ترانسپورت خدمتونه شامل دي.[295]

## د افغان ملي پوليسو زيربنا

د 2014 د سپتمبر تر 30 پورې، امريکا د ANP د زيربنا لپاره د ASFF له مرستو څخه 3.2 ميلياردە امريکايي ډالر مکلف کړي او 2.9 ميلياردە امريکايي ډالر توزيع کړي دي.[296] د CSTC-A په وينا، په هغه وخت کې، امريکا د زيربنا 685 پروژې بشپړې کړې دي (چې ارزښت يې 3.2 ميلياردە امريکايي ډالر وو)، 45 نورې پروژې تر کار لاندې دي (327.6 مليون امريکايي ډالر) او يو پلان شوي (7 ميليونه امريکايي ډالر).[297]

په دغه ربع کې، د 25.9 ميليونو امريکايي ډالرو په ارزښت درې پروژې وړاندې شوي، د 48.3 ميليونو امريکايي ډالرو په ارزښت 16 پروژې بشپړې شوي، او د 614 ميليونو امريکايي ډالرو په ارزښت فسخه شوې.[298] د افغانستان ملي پوليسو د زيربنا تر ټولو لويه روانه پروژه د افغانستان کورنيو چارو وزارت په قرارګاه کې د ودانيو او لومړنيو خدمتونو پروژې وې (34.3 ميليونه امريکايي ډالر)، په کندهار کې د يونيفورم پوليسو ولايتي قرارګاه (25 ميليونه امريکايي ډالر)، او د کورنيو چارو وزارت په وزارت کې د ملي پوليسو د قوماندانی مرکز او بارکونه (24.1 ميليونه امريکايي ډالر).[299] CSTC-A راپور ورکړی چې د جولای له پای څخه اوه تاسيسات د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو ته سپارل شوي[300].

د CSTC-A په وينا، له 2015 مالي څخه تر 2019 مالي کال پورې د افغانستان ملي پوليسو د زيربنا د کلني عملياتونو، ساتنې، دوام، ترميم، او وړو ساختماني کارونو اټکل شوی لګښت 147 ميليونه امريکايي ډالر ده (د پنځو کلونو په ترڅ کې 735 ميليونه امريکايي ډالر)، او 2,184 مهارت لرونکو کارکوونکو ته اړتيا ده ترڅو تاسيسات وساتي.[301]

**د سرحدي ګزمې کښتی دريځ**

**په 2011 مالي کال کې، CSTC-A د افغانستان ملي پوليسو لپاره د اتو کم وزن، چټکو او له هوا څخه د ډکيدونکو کښتيو غوښتنه کړې وه. د کښتيو د توليد د پروسې پای ته نږدې، CSTC-A د 3 ميليونو امريکايي ډالرو تدارک فسخه کړ. د 2014 د جولای په 25، د امريکا دفاع وزارت کانګريس ته خبر ورکړ چې د ASFF په مرستو اخيستل شوي کښتی ته د افغانستان امنيتي ځواکو نوره اړتيا ندرلوده او د امريکا دفاع وزارت د توکو په توګه به وپيژندل شي. کښتی په ګدام کې دي او د بهري ځواکونو د پريکړې په تمه دي چې آيا ورڅخه کار واخيستل شي، وپلورل شي، يا لرې کړای شي.**

سرچينه: OUSDP، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/6/2014.



**د 2014 په** سپتمبر کې، په کابل کې د کورنيو چارو وزارت قرارګاه تر ساختماني کارونو لاندې ده. (د USACE تصوير)

CSTC-A ویلي چې له سپارلو وروسته د لګښتونو هر اټکل د اوسنيو ظرفيتونو د کچو په اساس دي او د پاليسيو راتلونکی بدلون په پام کې نه نيسي چې کيدای شي د لګښت په اټکل اغيز ولري.[302]

## د افغان ملي پوليسو روزنه او عملياتونه

د 2014 د سپتمبر تر 30 پورې، امريکا د افغانستان ملي پوليس او MOI د عملياتونو او روزنې لپاره د ASFF له مرستو څخه 3.5 ميلیارده امريکايي ډالر مکلف کړي او 3.4 ميلیارده امريکايي ډالر توزيع کړي دي.[303] د 2014 د جنوری له 1 څخه، د ناټو وجهي صندق د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د سواد زده کړې ټوله روزنه تمويل کړې ده. پردې برسيره، جاپان په ترکيه کې د پوليسو د اکاډمی لګښت پر غاړه اخيستي دي چې پخوا د امريکا لخوا تمويل کيدل. د سواد زده کړې له روزنې پرته چې وړاندې په دغه برخه کې ورباندې خبرې وشوې، په نورو روزنو کې د انګليسي ژبې روزنه، ځانګړې عملياتي روزنه، لکه د پوليس کشف، لوژستيک، روغتيا، او د ځانګړو عملياتونو ځواک روزنه شامله ده.[304]

## د افغانستان ملي پوليس اوس هم ستونزه لري ترڅو د پوليس ښځينه شميره پوره کړي

لکه په تير ربع کې، د افغانستان ملي پوليسو کې د ميرمنو شمير زياتيږي، مګر د افغانستان ملي پوليس د 2014 تر پايه د خپلې موخې د 5,000 شمير رسيدو څخه لرې دی. ميرمنې اوس هم د ځواک يوازې 1% جوړوي. د CSTC-A په وينا، په دغه ربع کې، د افغانستان ملي پوليسو په پرسونل کې 2,074 ميرمنې شاملې وې.[305] دا له تير ربع څخه د 103 ميرمنو زياتوالی دی او د 2011 د اګست له 22 څخه 870 ميرمنې ډيرې شوې.[306] مګر، په ملي پوليسو کې د ميرمنو د شمير کميدل لوړ دی او 16% دی.[307] آيساف ويلي چې د افغانستان ملي پوليس پر دې کار کوي ترڅو د ميرمنو لپاره د کار خوندي ځايونه پيدا کړي چې مناسب تاسيسات ولري او داسې ستراتيژۍ جوړوي ترڅو نوې تجربه لرونکې ميرمنې جلب او ساتي.[308]

لکه څرنګه چې په تير کې ويل شوي، د 2014 مالي کال لپاره د ملي دفاع صلاحيت قانون، عامه قانون 66-113، 25 ميليونه امريکايي ډالر برابروي ترڅو د هغو پروګرامونو او فعاليتونو لپاره وکارول شي چې د افغانستان په ملي امنيتي ځواکونو کې د ميرمنو د استخدام، يوځای کيدلو، ساتلو، روزنې او روغتيا ملاتړ وکړي.[309]

## د ANSF طبي/روغتيايي پاملرنه

د 2014 د سپتمبر تر 30 پورې، امريکا د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو لپاره د 181 بشپړ شوي روغتيايي تاسيساتو ساختماني کارونه تمويل کړي چې ارزښت يې 184.5 ميليونه امريکايي ډالر و.[310] په دغه ربع کې په دغه شميره کې د 8.5 ميليونو امريکايي ډالرو په ارزښت د څلورو روغتونونو او تاسيساتو بشپړيدل شامل و. هغه يووازينی ساختماني پروژه چې اوس تر کار لاندې ده د ملي روغتيا روغتون بارکونو بيارغونه ده چې د ميرمنو لپاره د بارکونو ساختماني کارونه هم په دغه کې شامل دي.[311]

په دغه ربع کې، آيساف راپور ورکړی چې د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو روغتيا پاملرنې سيستم 808 ډاکټران درلودل؛ لدغو څخه 464 د افغانستان ملي اردو او 344 د افغانستان ملي پوليس لپاره ګمارل شوي و. دغه په دوو ربعونو کې د ډاکټرانو د شمير کموالي استازيتوب کوي: په تير ربع کې اوو او په دغه ربع کې 151 تللي. د افغانستان ملي اردو د 140 ډاکټرانو کموالی او د افغانستان ملي پوليس د 168 ډاکټرانو کموالی لري.[312] د افغانستان ملي امنيتي ځواکونه 2,826 نرسان، د ډاکټرانو مرستندويان او د روغتيا نور کارکوونکي هم لري؛ که څه هم 950 بستونه اوس هم خالي پاتې دي، د دغه يوه برخه د نوي روغتون لپاره د تاييد شوي کارکوونکو د شمير زياتوالي له کبله ده.[313]

آیساف د هغو هڅو په اړه راپور ورکوي ترڅو د افغانستان ملي اردو او ملي پولیسو د روغتیایي پاملرنې لپاره د لوژستیک عملیاتونه ځواکمن شي. سلاکاران یو سیستم جوړوي ترڅو د جګړې په ساحه کې د ژوند ژغورلو روزنې په اړه راپور ورکړي او پدې کې د قول اردو قوماندانانو لپاره وړتیا شامله ده چې چیرته د ټیپې کیدلو پاملرنې ساحې ته اړتیا ده. [314] پر دې برسیره، سلاکاران د افغانانو په مشرۍ د یوه پروګرام په آخرنی برخه ده چې په انترنت کې به د ډاکټرانو لپاره دوامداره روزنې لاس رسي ته اجازه ورکړي. یو بل نوښت د تجهیزاتو او تاسیساتو رغونه تر کار لاندې ده. سلاکاران د افغانستان له ملي پولیسو سره د افغانستان د عامې روغتیا وزارت او د لوړو زده کړو وزارت سره په همغږۍ کې مرسته کوي ترڅو د روغتیایي پاملرنې فارغین استخدام کړي. [315]

## د ناچاودیدلو موادو لرې کول

د وسلو لرې کولو او له منځه وړلو لپاره د سیاسي نظامي چارو بیورو دفتر (PM/WRA) په وینا، له 2002 مالي کال څخه، د امریکا بهرنیو چارو وزرات، د افغانستان وسلو له منځه وړلو او مین پاکولو مرستې لپاره له 283 میلیونو امریکایي ډالرو څخه زیات برابر کړي. [316]د اساسي وسلو له منځه وړلو پروګرام له لارې، د امریکا بهرنیو چارو وزارت د افغانستان پنځه غیر دولتي سازمانونه، څلور نړیوال غیر دولتي سازمانونه، او د امریکا حکومت یو قراردادي تمویلوي. دا مرستې د هغو ساحو د پاکولو سبب کیږي چې د جنګ (ERW)په وخت کې په چاودیدونکو توکو ککړې شوي او د پرېږ ښودل شویو وسلو لرې کول او له منځه وړلو ملاتړ کوي چې کیدای شي یاغیان ورڅخه د غیر پلان شویو چاودیدونکو توکو په توګه ورڅخه کار واخلي[317] .(IEDs)

د افغانستان د مین پاکۍ د همغږۍ مرکز (MACCA)، چې د ککړو ساحو معلومات ساتي، اټکل کوي چې په هره میاشت د نه چاودل شوي مهماتو (UXO) د چاودیدلو له کبله، 100 کسان قرباني کیږي. دا له 2002 څخه ډېر کموالی دی، کله چې له UXO څخه په هره میاشت 750 کسان قرباني کیدل. [318] د MACCA مشر وایي چې په پروان، خوست، لوګر، ننګرهار، هرات، جوزجان، فاریاب، او نورو ولایتونو کې 4,400 ساحې شته چې باید پاکې شي. د ځمکې د مینونو پلان په وینا، دغه ساحې به تر 2023 پاکې شي. [319] دغه شکل 3.27 د 2014 تر جولای پورې ککړې او پاکې ساحې ښیي.

د 2014 د جون تر 30 پورې، د امریکا بهرنیو چارو وزارت لخوا تمویل شوي ملګرو له 159 میلیونو متر مربع څخه زیاته ځمکه پاکه کړې یا نږدې 7.8 میلیونه د ځمکې مینونه یا نور ERW لکه UXO، پرېښودل شوي مهمات، د مهماتو انبار، په کور کې جوړ شوي چاودیدونکي توکي، لرې کړي یا له منځه وړي، دغه ( 3.16 جدول وګورئ). لکه څرنګه MACCA خپل اټکل تعدیل کړی دی، په ککړو ساحو کې ډېر کموالی راغلی او په دغه کې نور د انداخت ککړې ساحې شاملې ندي. [320] PM/WRA هغې ساحې ته د مین ساحه وایي چې د ځمکې په مینونو ککړه وي، پداسې حال کې چې په یوه ککړه ساحه کې کیدای شي دواړه د ځمکې مینونه او نور ERW شامل وي. [321]

د 2014 مالي کال څلورمي ربع هر اړخیز راپورونه اوس هم شتون نلري. عموماً د هر ربع راپورونه د هر ربع له پای څخه یوه میاشت وروسته شتون لري؛ ځکه نو، د 2014 مالي کال د څلورم ربع (د 2014 د جولای له 1څخه د 2014 د سپتمبر تر 30 پورې) راپور به د سیګار د راتلونکي ربع په راپور کې د 2015 په جنورۍ کې خپور شي. [322]

شکل 3.27

د 2014 د جولای تر 1 پورې د ماین ککړتیا درېځ




سرچینه: د افغانستان د ماین پاکۍ مرکز (MACCA)، د افغانستان د ماین پاکونې پروګرام، خبرپاڼه، اګست 2014.

جدول 3.16

| د 2013 د جنورۍ له 1 څخه د 2014 د جون تر 30، د اساسي وسلو د له منځه وړلو پروګرام اندازې | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د نیټې حد | د منځه وړل شوي AT/AP | د منځه وړل شوي UXO | د منځه وړل شوي SAA | پاک شوې برخې | له مینونو څخه پاکه شوې ساحه (m²) | تخمیني پاتې ککړه ساحه (m²) |
| 1/1–3/31/2013 | 1,984 | 100,648 | 105,553 | 3,722,289 | 7,978,836 | 552,000,000 |
| 4/1-6/30/2013 | 1,058 | 18,735 | 49,465 | 1,079,807 | 5,586,198 | 537,000,000 |
| 7/1–9/30/2013 | 1,243 | 21,192 | 98,306 | 1,673,926 | 4,229,143 | 521,000,000 |
| 10/1–12/30/2013 | 8,211 | 2,460 | 54,240 | 3,064,570 | 5,729,023 | 518,000,000 |
| 1/1–3/31/2014 | 1,780 | 254,734 | 245,380 | 262,750 | 5,473,170 | 638,400,000 |
| 4/1–6/30/2014 | 1,077 | 3,264 | 25,362 | 3,227,697 | 5,163,035 | 519,000,000 |
| **TOTAL** | **15,353** | **401,033** | **578,306** | **13,031,039** | **34,159,405** | **519,000,000** |

یادونه: AT/AP = د ټانک ضد/پرسونل ضد مهمات UXO = نا چاودیدلي مهمات. SAA = د وړو وسلو مهمات. د مهماتو د ټوټو راپور ورکړ شوی څکه چې پاکول یې لکه نور ورته شیان پاملرنې ته اړتیا لري ترڅو چې د هغوی د ماهیت په اړه معلومات ترلاسه شي.

سرچینه: PM/WRAد سیګار معلوماتي غوښتنې ته ځواب، 10/6/2014.

## د سیګار پلټنه

په دغه ربع کې د سیګار یوې پلټنې د امریکا بهرنيو چارو او دفاع وزارتونو او DEA لخوا د افغانستان مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې پولیسو (CNPA) ولايي قطعو لپاره د برابر شوي مالي مرستې ارزونه ترسره کړې. سیګار موندلې چې دا ممکنه نه وه ترڅو په پوره توګه دغو قطعو ته د برابر شوي مستقيمې مرستې اندازه معلومه شي او دا چې د دغو قطعو د عملیاتي وړتیا رسمي ارزونه شتون نلري، ځکه نو د امریکا د مرستې اغیزمنتیا محاسبه کول ستونزمن دی. که څه هم ولايتي قطعو یو څه ملاتړ لاسته راوړی، مګر په ټولیزه توګه هغه مرسته چې د امریکا لخوا CNPA ته برابر شوي دغو قطعو ته یې یووازې څه کټه رسولې. د لازیاتو معلوماتو لپاره، 2 برخه، مخ 25 وګورئ.

## د مخدره توکو پر وړاندې مبارزه

د 2014 د سپتمبر تر 30 پورې، امریکا له 2002 څخه په افغانستان کې د مخدره توکو پر وړاندې د هڅو لپاره 7.8 میلیارده امریکایي ډالر برابر کړي دي. د امریکا کانګریس د دغو مرستو ډیرې برخه د امریکا دفاع وزارت د مخدره توکو د مخنیوی او مخدره توکو پر وړاندې مبارزې فعالیتونو (DOD CN) (2.7 میلیارده امریکایي ډالر) وجهي صندق له لارې تخصیص کړې، د 1.4) ASFF میلیارده امریکایي ډالر)، د اقتصادي ملاتړ پروګرام وجهي صندق (1.4 میلیارده امریکایي ډالر)، د امریکا بهرنیو چارو وزارت د نړیوال مخدره توکو کنټرول او قانون پلي کولو (INCLE) حساب 2.1 میلیارده امریکایي ډالر. [323] د بیارغونې پر مرستو برسیره، د مخدره توکو قانون پلي کولو اداره (DEA) په افغانستان کې د عملیاتونو لپاره مستقیمه مرسته لاسته راوړې. (د ب ضمیمه وګورئ)

له 2009 څخه، د امریکا د مخدره توکو کنټرول پالیسی، له منځه وړلو د مخنیوی او کرنې ډیره پرمختیایي مرستې لور ته حرکت کړی دی چې موخه یې د بزګرانو لپاره د بدیل معیشت برابرول دي. [324] د امریکا د نویوال مخدره توکو او قانون پلي کولو چارو اداره (INL) د 2013 مالي کال پروګرام او بودجې په لارښود کې په افغانستان کې د خپلو پروګرامونو لپاره دغې موخې خپرې کړې: (1) د مخدره توکو/یاغیانو/فساد د شبکو ښنو مخه نیول او له منځه وړل، (2) د افغانستان حکومت د غوښتنې کمولو او معالجې پروګرامونو لپاره ملاتړ ډیرول، (3) په ولایتونو کې د مخدره توکو برابرولو کمولو لپاره ملاتړ، (4) د مخدره توکو پر وړاندې د ستراتیژیکو اړیکو ښه کول، (5) د فساد مخه نیول او قضا ته د لاس رسي ډیریول، (6) د نړیوال ستندردونو سره سم د توقیف سیستم جوړول، او (7) د قضا سکتور د بنسټیزې وړتیا جوړول. [325]

INL په افغانستان کې د امریکا مخدره توکو پر وړاندې ستراتیژۍ پروګرام او د افغانستان ملي مخدره توکو کنټرول ستراتیژۍ، چې د 2013 په اکتوبر کې تایید شوي ملاتړ کوي. [326] د افغانستان مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت (MCN) د نورو وزارتونو کارونه همغږي کوي او د مخدره توکو پر وړاندې د پالیسی د جوړولو مشري کوي. [327]

د مخدره توکو کموالي فعالیتونه د والي په مشرۍ د له منځه وړلو (GLE)، د ښه فعالیت نوښت (GPI)، او د مخدره توکو پر وړاندې د عامه معلوماتو پروګرام پر اساس ترسره کیږي. [328] د مخنیوی فعالیتونه د CNPA لخوا ترسره کیږي او د امریکا دفاع وزارت او آیساف برخې روزنه او ملاتړ برابروي. د څو ادارو د کاري ځواک ګډه شبکه (CJIATF-N) چې ماموریت یې د 2014 په سپتمبر کې پای ته ورسید، او د څو ادارو عملیاتونو همغږي مرکز (IOCC) هم د مخنیوی هڅو ملاتړ کوي. [329]

## د مخدره توکو پر وړاندې هڅې د ځواکونو کمیدلو او ټولټاکنو امنیتي ننګونو څخه له خنډ سره مخامخ شوې.

د ایتلاف د کارکوونکو کمیدل هم د مخنیوی په پایلو باندې په ځانګړې توګه د هیواد په سویلي سیمو کې اغیز کړی دی. د ځواکونو کم شوی شتون د ایتلاف یا امریکا مخدره توکو قانون پلي کولو کارکوونکو او د افغانستان ځواکونو تر منځ د ګډو عملیاتونو شمیر محدود کړی. [330] په ورته توګه، په دغه کال کې د کوکنارو له منځه وړل کم شوي او وجه یې دا وه چې د افغانستان امنیتي ځواکونه له دغې هڅې څخه د ټولټاکنو امنیت ته وړل شوي. [331] د کوکنارو کرنې معلومات لا تر اوسه شتون نلري، مګر د ملګرو ملتونو معلوماتو په وینا، کیدای شي آخرنۍ پایلې د تیر کال له ډیرې کچې څخه هم زیات شي. د ملګرو ملتونو په وینا، په هلمند کې په 2014 تر 2013 ډیره ځمکه په کوکنارو کرل شوې، چې د افغانستان د تریاکو تر ټولو لوی تولید کوونکی ولایت دی. [332] پردې برسیره، په 2014 کې مخنیوی له تیر کال څخه 63% کم شوې، چې MCN تر یوې کچې دا کموالی د ولسمشرۍ ټولټاکنو لپاره د امنیت اړتیا له کبله ګڼي. [333] د ځینو تحلیل کوونکو په وینا، نږدې هرې هغه ولسوالی چې امنیت له آیساف څخه د افغانستان امنیتي ځواکونو ته سپارل شوی په بریدونو کې ډیروالی لیدلی. [334] دغه حالتونه د دواړو بیارغونې او له منځه وړلو هڅې له خنډ سره مخامخ کوي.

د دفاع او استخبارتو اداري (DIA) رييس د دې کال په پيل کې د سنا د دفاعي خدماتو د کميټې په وړاندې ويلي چې د افغانستان امنيتي ځواکونو د ياغيانو پر وړاندې په برياليتوب سره جګړه کړې، مګر نشي کولای تر جګړې لاندې ساحې د اوږد مهال لپاره وساتي.[335] هغه دا هم ويلي چې د طالبانو په مشرۍ ياغيتوب په 2013 کې د کندهار او هلمند په کنټرولولو يو ځل بيا ناکامه شول، دې ډلې د تير کال په پرتله، په ټول هيواد کې د افغانستان پر امنيتي ځواکونو باندې بريدونه ترسره کړل چې ويجاړونکي پايلې يې درلودې.[336] د بيلګې په توګه د ننګرهار سويلي ولسواليو، د 2013 تر دسمبر وړاندې مياشتو کې کله چې د ژمې کرنې بوټي کرل کيږي، په امنيت کې اوضاع کې خرابوالی تجربه کړل.[337]

د ننګرهار کليوالي سيمې د حکومت تر کنټرول لاندې نه وې، لکه څرنګه چې د 2014 په پيل کې په ټول ولايت کې د کوکنارو کرنې په ډيريدلو کې ښودل شوي.[338] په ځانګړې توګه، په پورته آچين کې، د 2013 په دسمبر کې د پوليسو قوماندان له مشرانو سره وکتل ترڅو له هغوی څخه وغواړي ترڅو د کوکنارو له کرنې ډډه وکړي، دې غوښتنې ته بزګرانو پاملرنه ونه کړه.[339] د ننګرهار په کليوالي سيمو کې د حکومت کمزوری په دغو سيمو کې د کوکنارو د کرنې سبب شوې.[340]

د نړيوال بانک د افغانستان اقتصادي وضعيت په اړه په خپل وروستي راپور کې وړاندوينه کوي چې د 2015 تر لمړني نيمې پورې به سياسي او امنيتي بې ثباتي دوام ومومي.[341] دغو محدوديتونو ته په پام سره، کيدای شي په راتلونکي کال کې د کوکنارو تر کرنې لاندې ساحې پراخې شي.

## د والي په رهبرۍ د له منځه وړلو پروګرام

INL په افغانستان کې د والي په مشرۍ د له منځه وړلو پروګرام (GLE) تمويلوي. GLE د تراکتور يا په لاس، چې له لرګي، لور، يا په لاس د بوټي را ايستلو سره کوکنار له منځه وړي.[342] د افغانستان مخدره توکو سره مبارزې وزارت له UNODC سره په ملګرتيا کې د کوکنارو کرنې او له منځه وړلو تاييد مسوليت لري.[343] په دغه ربع کې، په کابل کې د INL دفتر د افغانستان ولايتونو والیانو لپاره له GLE څخه د زده شوي لوستونو يوه کنفرانس کوربه توب وکړ چې د له منځه وړلو ښه کولو طريقو باندې يې کار کاوو. پر دې برسيره، INL د 47 نوي تراکتورونو رسيدلو او توزيع په تمه ده چې په ولايتونو کې د کوکنارو له منځه وړلو لپاره ډيزاين شوي.[344]

UNODC او د مخدره توکو پر وړاندې مبارزې وزارت د دغه کال لپاره د کوکنارو له منځه وړلو تاييدی آخرنی راپور خپور کړی. د 2013 په پرتله، په پايلو کې تر 63% کموالی راغلی: په 17 ولايتونو کې 2,692 هکتاره له منځه وړل شوي، پداسي حال کې چې په 2013 کې په 18 ولايتونو کې 7,348 هکتاره له منځه وړل شوي. د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت دغه کموالی د له منځه وړلو کمپاين او ولسمشرۍ ټولټاکنو مخامخ کيدلو له کبله ګڼي. امنيت هم په ټولو هغو ولايتونو کې چې له منځه وړل ترسره شوي يوه ننګونه وه.[345] راپور وايي چې په دغه کال کې د له منځه وړلو کمزوری کيفيت، په ځانګړې توګه په بدخشان کې، چيرته چې د اراضي له کبله د کوکنارو بوټي په لرګو باندې له منځه وړل شوي. په لاس له منځه وړل، چې يو سنتي کار دی، په ځينو قضيو کې د يوه برخې له منځه وړلو سبب شوی، لکه څرنګه چې له هوا څخه په عکسونو کې ښودل شوي.[346] پردې برسيره، که له منځه وړل د غوټې په وخت کې ترسره شي، کله چې بوټی ځوان وي، کيدای شي دا احتمال زيات وي ترڅو د کوکنارو بوټی بيرته وده وکړي.[347] دغه شکل 3.28 د 2013 او 2014 کلونو لپاره د ولايتونو پر سر د له منځه وړلو کچې پرتله کوي او په دغه کال کې په لاس باندې په له منځه وړلو کې ډير زياتوالی تشريح کوي. دغه شکل 3.29 د ولايتونو پر اساس د له منځه وړلو آخرنی پايلې برابروي.

### د سيګار ځانګړې پروژه

په دغه ربع کې، د سيګار يوې ځانګړې پروژې راپور ورکړی چې سره لدې چې د مخدره توکو پر وړاندې هڅو کې 7 ميليونه امريکايي ډالر لګيدلي، په افغانستان کې د کوکنارو کرنې کچې تر هر بل وخت ډيرې دي. سيګار او د امريکا اردو د جغرافيايي معلوماتو مرکز د هغې پروژې لپاره نقشې جوړې کړې چې د ډير کوکنارو کرنې څخه ښکاره عکسونه برابروي. په افغانستان کې تر کرنې لاندې د ځمکو له جغرافيايي معلوماتو څخه او په ولسواليو کې د کوکنارو کچې اندازو څخه په کار اخيستنې سره، دغه نقشې د کوکنارو کرنې ډيروالی او په هغو ځايونو کې چې د کرنې کچه ډيريږي يا کميږي ښيي. د لازياتو معلوماتو لپاره، 2 برخه، مخ 48 وګورئ.

شکل 3.28

په تارياکو کرل شوي هکتارونه او له منځه وړل شوي، 2008–2013 (زرګونه)




یادونه: یو هکتار 10,000 متر مربع یا شاوخوا 2.5 اکړه کيږي.2014* د کبنت معلومات به لدې وروسته UNODC خپروي.

سرچینه: ، *د افغانستان د تارياکو له منځه وړو د تایید نهایی راپور* ، 8/2014، 4 مخ؛ UNODC، *د افغانستان د تارياکو سروی 2013*، 12/2013، 18، 33–35، 99 مخونه؛ UNODC، *د نړۍ د مخدره توکو راپور*، 6/2014، 21 مخ.

په تیر ربع کې، INL سیګار ته ویلي چې د 2014 لپاره د افغانستان حکومت له منځه وړلو نښه 22,500 هکتاره وه. [348] د کوکنارو له منځه وړلو تاییدی آخرني راپور پر اساس، د افغانستان حکومت تر ډېري کچې دغه موخه نده پوره کړې: په دغه کال کې یووازې 2,692 هکتاره یا د په نښه شوي کچې 12% له منځه وړل شوې. کیدای شي د ولسمشرۍ ټولټاکنو او راپو تفتیش په دغه کې ونډه اخیستې وي او رسمي انرژي یې ګرځولې وي. INL سیګار هم خبر کړی چې د وزارتونو ترمنځ د GLE پلان د فصل تر پایه نه و تایید شوی، څکه نو اغیزمنتیا یې محدوده کړې. INL ویلي چې د والي په مشرۍ د له منځه وړلو پروګرام لپاره په ملي او ولایتي کچه سیاسي ارادې ته اړتیا ده ترڅو دا پروګرام اغیزمن وي. [349]

**د کوکنارو د ودې حالتونه دغه دي:**

1. له ځمکې راپورته کیدلو حالت یا د تخمونو وده
2. د غوټی حالت، کله چې د کوکنارو بوټی په آسانی پیژندل کیږي او د ګلاب ګل په خیر پاڼې او ځانګې جوړوي
3. د تنې اوږدیدلو حالت
4. د ګلانو غوړیدلو حالت
5. د کپسول حالت
6. د نیښ حالت، کله چې محصول اخیستونکي د کوکنارو په غوټی کې نیښ وهي ترڅود تریاکو مایع راووځي او وچه شي. محصول اخیستونکي دغه وچ تریاک راټولوي په سنتي طریقه څو ځلې نیښ وهل ترسره کیږي.

سرچینه: UNODC، *د افغانستان د کوکنارو له منځه وړلو تایید، د پای راپور*، 8/2014، مخونه 3، 16، UNODC، *د مخدره توکو په اړه خپرونه: د کوکنارو کرنې او په شوروي کې د تیلو کوکنار*، 1/1969؛ UNODC، *د نړیوال مخدره توکو راپور طریقه*، 6/2014، مخ 9.

شکل 3.29

**د ولايت پراساس د والي په مشرۍ د تارياکو له منځه وړو پايلې، 2013 او 2014** (هکتارونه)




يادونه:هغه ولايتونه چې له تارياکو پاک اعلان شوي، په ليست کې ندي شامل شوي.

سرچينه:UNODC، د افغانستان د تارياکو له منځه وړو د تاييد نهايي راپور، 08/2014، 16 مخ؛ UNODC، د افغانستان د تارياکو سروی 2013، 12/2013، 33 مخ.

## د ښه فعاليت کونکي نوښت (GPI)

INL د مخدره توکو پر وړاندې مبارزې وزارت ملاتړ هم کوي ترڅو د ښه فعاليت نوښت (GPI) له لارې په ولايتونو کې له کوکنارو خلاص دريځ لاسته راوړل شي او وساتل شي.[350] د GPI پروګرام اوسني شرطونو پر اساس، لکه څرنګه چې د UNODC لخوا تاييد شوی، که په هر کال کې يو ولايت له کوکنارو خلاص دريځ لاسته راوړي، د GPI د 1 ميليونو امريکايي ډالرو پراختيايي پروژو مستحق دی.[351] INL سيګار ته ويلي چې د GPI پروګرام په راتلونکي کال کې د مخدره توکو پر وړاندې مبارزې فعاليت دوام هڅوي. دغه د ولايت مشرۍ او وګړو ته دا هم ښيي چې د کوکنارو مخنيوي کې حقيقي ګټې شتون لري، او په ولايت، ولسوالی او ټولنه کې د حکومت حاکميت ټينګوي.[352]

د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت له UNODC سره په ملګرتیا کې د کوکنارو کرنه او له منځه وړل تاییدوي. د UNODC د *افغانستان کې د 2013* کوکنارو سروې چې په تیر ژمي کې خپره شوې په وینا، د هیواد له 34 ولایتونو څخه 15 له کوکنارو څخه پاک اعلان شوي، او دا له 2012 څخه دوه کم دي. د INL په وینا، په ټولیزه توګه په 2013 کې د کوکنارو کرنه زیاته شوې، او یوه برخه یې د اقتصادي نا امنی او تریاکو لوړ قیمت له کبله ده. INL سیګار ته ویلي لکه څرنګه چې د افغانستان چارواکي زیات مسولیتونه پر غاړه اخلي، کیدای شي په کرنه کې توپیرونه منځ ته راشي. موخه دا ده ترڅو په اوږد مهال کې د کوکنارو په کرنه کې په ټولیزه توګه د کموالی آسانتیا او دوام وهڅول شي.[353]

د 2014 د اګست په 30، GPI II اعلان شو، او دغه پروګرام د "ښه فعالیت کوونکو" لپاره د برخو امتیازونه ډیروي، ترڅو د 2014 – 2015 د کوکنارو کرنې فصل سره، عامه پوهاوی او د قانون پلي کول شامل کړي. د GPI II پراختیایي مرسته به داسې جوړه شي ترڅو د بدیل معیشت پروژو ته د لومړیتوبونو ورکولو له لارې چې بزګران د کوکنارو له کرنې څخه لرې کیږي ملاتړ برابروي، د کلیوالي ټولنو اړتیاوې په ښه توګه پوره کړي. GPI II هغه اندازه پیسې چې کیدای شي یو ولایت یې له کوکنارو څخه د خلاصی لپاره لاسته راوړي تر 500,000 امریکایي ډالر کموي.[354]

د 2014 د اګست تر 31 پورې، د GPI 221 پروژې تایید شوې او ټول ارزښت یې 108 میلیونه امریکایي ډالر و: 132 پروژې بشپړې شوې، 83 پروژې رواني دي، او شپږ پروژې بشپړیدو ته نږدې دي. ټولې 89 رواني پروژې د زیربنا یا ساختماني کارونو پورې اړه لري، او پدې کې د بدیل معیشت زیربنا پروژې لکه د اوبو لګولو جوړښتونه او محافظتي دیوالونه، چې د ځمکې ښویدلو مخه نیسي شامل دي.[355] د دریم ګړې د پلټنې سپارښتنو پر اساس، GPI د دې پر ځای ترڅو د پروژې د داوطلبی په ورځ د اسعارو بدلولو نرخ لپاره د افغانستان بانک له رسمي ویب پاڼې څخه کار واخلي، خپل دغه کار بدل کړي چې د یوه امریکایي ډالر لپاره به یې د اسعارو بدلولو له وړاندې تعین شوي 50 افغانیو نرخ څخه کار اخیست. ځکه نو د تیر ربع په راپور کې د GPI د ټولو پروژو ارزښت د دې راپور له ارزښتونو سره په مستقیمه توګه پرتله کیدلای نشي.[356]

د INL لارښوونې تر لاندې او د آغا خان بنسټ (AKF) د سیمه ایزې حکومتوالی قوي کولو مرستې له لارې، د آغا خان بنسټ د ټولنې، ولسوالی، او ولایتي کچې استازې او د GPI پروګرام اړوندو ادارو ترمنځ د 2013 د سپتمبر او دسمبر تر منځ د ورکشاپونو لپاره آسانتیا برابره کړې. د دغو ورکشاپونو موخه دا وه ترڅو د GPI په اړه معلومات خپاره کړي او د پروګرام، پشمول د سپارښتنو او پرمختګونو په اړه د نظر غوښتنه وکړي.[357] د 2013 هغه راپور چې د آغا خان بنسټ INL ته وړاندې کړی موندلې چې د سیمه ایزو بزګرانو لپاره د GPI پروژې د کوکنارو کرنې پر ځای د پرتله کیدونکې، قانوني بدیل معیشت اړتیاو حلولو کې ناکامه شوې.[358] له کابل څخه د دواطلبی او تدارکاتو پروسې ترسره کول د پروژې ځنډ او لګښتونو ډیروالي سبب شوې، او سیمه ایزو ټولنو ته یې کومه اقتصادي ګټه رسولې نده.[359]پر دې برسیره، د زیربنا پروژو ډیروالي هغه ګټه نده ښودلې ترڅو سیمه ایزې ټولنې د کوکنارو کرنه کمه کړي.[360]

له کوکنارو خلاص ځانګړې سیمې له پامه غورځیدلې، او د دې نظر امکان شته چې بزګران اړتیا لري ترڅو کوکنار وکري چې د GPI مرستو مستحق شي، ځکه نو د پروګرام موخه یې له پامه غورځولې. د کوکنارو له کرنې څخه د خلاصو سیمو د ولسوالیو ولسوالانو سپارښتنه کړې ترڅو د پالیسی او طرزالعملونو بیا کتنه وشي او هغه سیمې شاملې شي چې هلته کوکنار نه کرل کیږي.[361] INL سیګار ته خبر ورکړی چې د GPI د لارښوونو په تطبیق کې هغه سیمې د GPI پروژو مستحق کیدلو نه محرومولې چې له کوکنار نه کري، که څه هم د آغا خان بنسټ سپارښتنه کړې چې د GPI پروژې مستقیماً هغو کلیوالي ټولنو ته ګټه ورسوي چې کوکنار کري.[362]

د ورکشاپ د نظرونو پر اساس، د آغا خان بنسټ په خپل راپور کې INL ته درې سپارښتنې وړاندې کړې. (1) د پروژې د پېژندلو او تطبيق پروسه کې دې د کوکنارو کرنې په ټولنو کې د ولسواليو د ټولنو په کچه د بنسټونو، ميرمنو او نورو ادارو کچه ډېره شي، ترڅو پدغو سيمو کې ډېرو مناسبو پروژو ته لومړيتوب ورکړ شي، (2) د پروژو غوره والی، تدارکات، او قراردادي داوطلبی دې سيمه ايزه شي، ترڅو پروسه سيمه ايزه شي او د مرستو وړاندې کولو پروسې وخت او لګښتونه کم شي، او د کوکنارو کرنې ټولنو ته اقتصادي او کاري غير مستقيم ګټې زياتې شي؛ او (3) د ولايتونو مرکزونو شاوخوا کې د زيربنا له پروژو څخه هغو پروژو ته حرکت وشي ترڅو د کوکنارو کرنې ټولنو ته مستقيمه ګټه ورسيږي او د کوکنارو کرنې پر ځای پرتله کيدونکې او دوامداره سرچينې وړاندې شي.

د INL په وينا، د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت او INL له دغو درېو څخه درې سپارښتنې په GPI II کې راوړې، چې د 2014 – 2015 کوکنارو کرنې فصل سره به پيل شي. د 2014 د GPI مرستې، چې د UNODC د *2014 د افغانستان کوکنارو سروې* له خپريدلو وروسته، چې اوس د 2014 د اکتوبر لپاره ټاکل شوې، وړاندې شي، دا به د GPI د زاړه پروګرام تر لاندې لاسته راوړنو لپاره د پای مرستې وي. د GPI II پر اساس مرستې به د 2015 په منۍ کې وړاندې شي.

INL سيګار ته ويلي چې د GPI II مرستو وړاندې کول به په ولايتي کچه دوام ومومي. د ولايتونو واليان، هغه کسان چې په خپلو ولايتونو کې د سيمه ايز وضعيتونو په اړه ښه پوهه لري، هغوی به د هغو ټولنو غوره کولو ته دوام ورکړي چې د GPI پروژې لاسته راوړي. د پروژې غوره کول به د سيمه ايزې ټولنې د جوړښتونو، لکه د کرنې کوپراتيفونو او ټولنو پراختيايي شوراګانو؛ ولسوالی ادارو، پشمول د ولسوالی ولسوال او د ولسوالی پراختيايی شوراګانو؛ او د ولايتي حکومت په شمول د سيمه ايزې ټولنې د جوړښت د خبرو او معلوماتو پايله وي. چېرته چې د امکان وړ او اړوند وي، سيمه ايز جوړښتونه به د GPI II پروژو د راتلونکې ساتنې مسوليت ولري.[363]

INL سيګار ته خبر ورکړی چې له ډېر غور وروسته، INL او د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت پريکړه وکړه ترڅو د آغا خان بنسټ دريمه سپارښتنه تطبيق نکړي او د GPI تدارکاتو او قرارداد کولو داوطلبی پروسې سيمه ايزې کړي. INL ويلي چې بدلونونه به له پروګرام څخه د INL نظارت کمزوری کړي، او دا امکان لري که د داوطلبی په سيمه ايزو شرکتونو پورې محدود شي، د پروژې لګښتونه به زيات کړي او د پروژې کيفيت به ټيټ کړي. د GPI د اوسني تدارکاتو پروسې پر اساس، د پروژې داوطلبی په ملي کچه ترسره کيږي، او هغه سيمه ايز قرارداد کوونکي چې د داوطلبی اړتياوې لکه تيرې تجربې او مالي سندونه پوره کوي، له داوطلبی څخه نه محروموي. د داوطلبيو پرانيستل د ولايتونو په مرکزونو کې د داوطلبانو، د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت (MCN)، او ولايتي چارواکو په شتون کې ترسره کيږي. کله چې داوطلبی ثبت شي، د داوطلبی وړانديزونه کابل ته ليږل کيږي.

د GPI پروګرام نظارت د یوې برخې او د GPI د بودجې پر اساس د پوهې موافقې اړتیاو پر اساس، INL د دواطلبی د پروسې د ارزونې او پریکړه کې برخه اخلې. مګر د امنیت محدودیتونو له کبله، INL نشي کولای په ولایتونو کې د تدارکاتو په فعالیتونو کې برخه واخلې. په کابل کې د داوطلبی د ارزونې فعالیتونه ترسره کول د امریکا حکومت ته د GPI پروګرام د مدیریت او نظارت په اړه ډیر کنترول برابروي. لکه څرنګه چې له GPI II څخه لوستونه زده کیږي، INL او MCN به د تدارکاتو او داوطلبی په پروسو کې راتلونکې بدلونونه په پام کې ونیسي.[364]

## د کندهار خواړو ساحه

د کندهار خواړو ساحې (KFZ) پروګرام د دوو کلونو پروژه ده او د USAID لخوا تمویلیږي او د دې لپاره ډیزاین شوې ترڅو د مرستو له لارې د ولایت په نښه شوې ولسوالیو کې د کوکنارو کرنې هڅونکې وپیژنې او د حل لار پیدا کړي.[365] د 2014 د سپتمبر تر پیل پورې، د زیربنا یا بدیل معیشت کومه پروژه نده تطبیق شوې، مګر له 5 میلیونو امریکایي ډالرو څخه زیات توزیع شوي دي.[366] د 2014 اګست د میاشتې یوه راپور د پروژې په تطبیقولو کې د USAID ارزونې تایید د یوې ننګونې په توګه په لست کې راوړې. امنیتې بې ثباتې د KFZ د پروژو پر وړاندې یو دوامداره خنډ دی، او د ځنډونو او مخنیوی سبب ګرځې.

د USAID د 18.7 میلیونو امریکایي ډالرو دغه پروګرام دوې برخې لرې: (1) د MCN ظرفیت لوړول او (2) د بدیل معیشت او ټولنې زیربنا برابرول.[367] اوه ولسوالی د USAID، MCN، او ولایت والي لخوا غوره شوې ترڅو په دغه پروګرام کې برخه واخلې. د KFZ تمه کیدونکې موخې ا و پایلې دا دي ترڅو:[368]

- په دریو په نښو شوي ولسوالیو کې له 150 کیلومترو څخه زیات د اوبو لګولو کانالونه بیرته ورغول شي
- د زیربنا او بدیل معیشت له فعالیتونو څخه له 85,000 زیات خلک ګټه واخلي
- نږدې 20,000 هکتاره ځمکه خړوب شي ترڅو د بزګرانو لپاره بدیل قانوني ګټه برابره کړي
- په هغو ساحو کې چې KFZ د اوبو لګولو سیستم بنه کړی د کوکنارو کرنه کمه شي[369]

د USAID په وینا، KFZ په ټولنو کې له جوړ شوي پلان څخه کار اخلي ترڅو د کوکنارو بدیلونو ملاتړ وکړي. پدغه طریقه د کوکنارو کرنې اصلي ریښو پیژندلو لپاره ټولنو ته برخه ورکول کیږي او د حل لارې یې د هغو پروژو لخوا ترسره کیږي چې د ټولنې استازو یا مشرانو، د ټولنو پراختیایي شوراګانو (CDCs)، ولسوالی پراختیایي شوراګانو، ولسوالی ولسوالانو، د KFZ همغږی کمیټې (KFZ-CC)، او ولایت والي لخوا تاییدیږي.[370]

USAID سیګار ته خبر ورکړی چې د KFZ پروګرام لپاره د دوو کلونو مهال ویش لدې کبله ستونزمن دی څکه چې د 2014 او 2015 کلونه د افغانستان ټولټاکنو کلونه دي (ولسمشرۍ ټولټاکنې په 2014 کې او پارلماني ټولټاکنې په 2015 کې). USAID ویلي کیدای شي په دغه موده کې د افغانستان حکومت او ولایتي دفترونه د کوکنارو له منځه وړلو لپاره کمه لیوالتیا ولري. پردې برسیره، دغه اداره وایي چې د کوکنارو کرنې اصلي علتونه اوږد مهاله ستونزې دي چې نشي کیدلای د دوو کلونو په ترڅ کې ورته د حل لار پیدا شي.[371] د USAID په وینا، MCN لیواله دی ترڅو د KFZ طریقه په 17 پاتې ولایتونو کې پشمول د ارزګان، فراه، بدخشان، او ننګرهار کې هم وکاروي، چیرته چې کوکنار کرل کیږي. لکه څرنګه چې USAID داسې پلانونه نلري ترڅو د وړاندیز شوي خواړو ساحې پراخول تمویل کړي، MCN له نورو مرستندویانو څخه هم د ملاتړ په لټه کې دی.[372]

د USAID په وینا، د KFZ پروګرام له نږدې او په ښه توګه د کرنې د سیمه ایزې پراختیا پروګرام (RADP) له برخې اخیستنې سره همغږې کوې ترڅو اغیز ډېر کړې او د دوه ځلې کارونو مخه ونیسې.[373] د USAID لخوا په سویل کې د سیمه ایزې کرنې پراختیا پروګرام (RADP-S) د پنځو کلونو لپاره یو پروګرام دی او موخه یې د افغانستان په سول کې، په شمول د هلمند ولایت د غنمو، لوړ قیمت محصولاتو، او څاروې تولیداتو ښه کول دې.[374] USAID سیګار ته ویلې چې د زاړې او پنجوایې په ولسوالیو کې KFZ او RADP-S له نږدې یو ځای کار کوې ترڅو په ورته سیمو کې د شنې خونو پروژو تکرار څخه مخنیوی وشې. پردې برسیره، کله چې د KFZ پروګرام پای ته ورسیږې، د RADP-S به له هغو ګټه اخیستونکو سره خپلو کارونو ته دوام ورکړې. USAID سیګار ته دا خبر هم ورکړی چې KAF او RADP-S د افغانستان د کرنې علومو او ټیکنالوجې ملې پوهنتون (ANSTU) لپاره بوختیاوې همغږې کوې، چیرته چې KFZ غواړې یوه امتحانې شنه خونه جوړه کړې او RADP-S غواړې ترڅو د لوړ قیمت انګورو تاکونو او محصولاتو یو امتحانې فارم جوړ کړې.[375]

## د مخدره توکو د تقاضا کمښت فعالیتونه

INL د 76 معالجې پروګرامونو ملاتړ کوې. په دغه ربع کې، پداسې حال کې د معالجې له 76 پروګرامونو څخه د افغانانو تر مسولیت لاندې د 13 پروګرامونو سپارلو تطبیقولو ته دوام ورکوې، INL د روغتیایې کارکوونکو روزنه، د معالجې خدمتونه، او د لنډ مهاله ناروغانو او په کلیو کې د غوښتنې کموالې پروګرام لپاره روزنه برابره کړې.[376]

د سپارلو په پروګرام کې د کارکونکو د ورتیا زیاتول او په دوامداره توګه د MCN او MOPH ترمنځ د همکارې هڅوونه شامله ده. INL ویلې چې غواړې ترڅو د معالجې د مرکزونو ترمنځ په ټول هیواد کې نظم راوړې او مرسته وکړې ترڅو د معالجې اوسنې متخصصین د افغانستان د حکومت ملکې خدماتو سره یوځای کړې. د دې پلان پر اساس، د معالجې پروګرام به د افغانستان حکومت ته سپارل کیږې او په راتلونکو کلونو کې به د INL ملاتړ ورو کمیږې.[377]

د افغانستان د ملې پراختیا د ستراتیژۍ (ANDS) د 2014 د سپتمبر د پای راپور په وینا، MCN یوه ښه وټاکله ترڅو د 2012 او 2016 تر منځ د هیروینو او مخدره توکو معتادینو لپاره د مخدره توکو مخنیوی او معالجې ظرفیت تر 30% زیات کړې.[378] د هیواد د معالجې کمو تاسیساتو ته په پام سره، کیدای شې دغه موخه ډېره اوچته وې. له بل پلوه، د امریکا له 12 تر 17 کلنو په منځ کې د غیرقانونې مخدره توکو د کارونې کمولو لپاره د امریکا د 2013 موخه تر 2015 پورې یووازې 15% ده.[379]

د امریکا بهرنیو چارو وزارت د افغانستان په ښارې سیمو کې ملې مطالعه (ANUDUS) هم تمویل کړې ترڅو د غیر قانونې مخدره توکو کارونې په اړه معلومات راټول کړې او د غوښتنې کمولو او مخنیوی لپاره طریقې جوړې کړې.[380] نږدې 2,200 کورنې په غیر منظمه توګه غوره شوې، چې د کورنیو د 19,000 غړو استازیتوب یې کاوو. له 5,200 څخه زیات کسان امتحان شول.[381] د ANUDUS سروې وموندل چې د بالغو کسانو لپاره د نرې په منځنې کچه د افغانستان په نارینه و کې له مخدره توکو څخه کار اخیستنه دوه چنده ډېر ده. په ټولو ولایتونو کې، د میرمنو د 4.3% او کوچنیانو د 2.2% په پرتله، د افغان نارینه و 10.7% له مخدره توکو څخه د کار اخیستنې امتحان مثبت و.[382] UNODC اټکل کړی چې په ټوله نړۍ کې 5.2% بالغه کسان له غیر قانونې مخدره توکو څخه کار اخلې، او د نړیوالې لوړ اټکل 0.7% ده او د تریاکو محصولاتو کار اخیستونکو لپاره 0.35% ده.[383] د تریاکو محصولات په بیالوژیکې بیلګو کې ډېر کارول کیږې، که څه هم د نسخې دواګانې (د نسخې درد تابلیتونه، د بې هوښې دوا ګانې) د 30 ورځو په پوښتنو کې تر ټولو ډېر راپور ورکړی شوې.

### د ترياکو له محصولاتو څخه کار اخيستنه

د UNODC په وينا، د افغانستان د ترياکو له تولید څخه سیمه ایزه ګټه اخیستنه تر ډیري کچې 5% ده.[385] د افغانستان ترياک د ايران او ترکيې له لارې، له هغې لارې چې د بالکان لارې په نوم ياديږي، غربي او مرکزي اروپا ته صادريږي.[386] چين او هندوستان هم د هوا او ځمکې له لارو مستقيماً ترانسپورتيږي.[387] د افغانستان له هيروين څخه په شرقي اروپا کې ډير کار اخيستل کيږي، چيرته چې د نړۍ په منځنۍ کچه د ترياکو محصولاتو کار اخيستني کچه لوړه ده.[388] د افغانستان ترياک د هيواد شمالي ګاونډيانو له لارې د روسيې فيدراتيف مارکيټ ته صادريږي.[389] د کاناډا حکومت هم اټکل کوي چې د دې هيواد 90% ترياک له افغانستان څخه سرچينه اخلي.[390]

خو، په امریکا کې لږ هیروین له افغانستان څخه سرچینه اخلي. که څه هم پدې وروستیو کې د امریکا حکومت یوه خپور شوي راپور په امریکا کې د هیروینو ډیري کار اخیستني مرګونو یادونه کړي،[391] DEA راپور ورکوي چې د افغانستان د هیروینو شتون د نښو د پروګرامونو او تحقیقي راپور ورکولو پر اساس په امریکا کې ډیر شوي ندي. نیو اینګلنډ، په ځانګړي توګه د هیروینو په کاروني کې ډیر زیاتوالی لیدلی، مګر DEA سیګار ته ویلي چې داسي نښي نشته چې د افغانستان هیروین د کاناډا له پولي څخه نیو اینګلنډ ته تیریږي.[392] د DEA د نښي پروګرامونه او تحقیقي راپور ورکولو موندلي چې په نیو اینګلنډ کې د شته هیروینو ډیره برخه له سویلي امریکا څخه سرچینه اخلي.[393]

سرچینه: UNODC، د نړۍ مخدره توکو راپور *2014*، 6/2014، مخونه 95، 27، 26، 2، x؛ UNODC، *افغانستان: د کوکنارو سروې 2013*، 10/2013، مخونه 69، 71؛ CDC، *د هیروینو ډیر کاروني له کبله مرګونه – 28 دولتونه، 2010 تر 2012*، 10/3/2014.

## نظارت، تایید، او سیمه ایزه همکاري

د پاریس تړون د مشورتي ډلې غونډې (PCGM) په ویانا کې د سپتمبر په پای کې ترسره شوه؛ او INL په دغه غونډه کې برخه اخیستې. د پاریس تړون د یوه اندولیز او بې پرې ټولنې په توګه کار کوي ترڅو په سیمه کې همکارۍ ته وده ورکړي، د افغانستان لپاره د اوږد مهاله مرستندویانو مرستې باندې ټینګار کوي او په سیمه کې په سرحدونو کې د قاچاق او غیر قانوني مخدره توکو څخه ناوړې ګټې اخیستنې ته د پاملرنې غوښتنه کوي.[384]

په اوس وخت کې INL د مخدره توکو پر وړاندې کار د ارزوني لپاره د نظارت او ارزوني دوه روان پروګرامونه لري:

1. د همکارۍ یوه موافقه ترڅو یو تحلیلي کاري چوکاټ جوړ شي ترڅو د هغه پروګرامونو چې افغان بزګران هڅوي ترڅو د کوکنارو کرنه کمه کړي، د اغیز ارزونه ترسره کړي.
2. یو قرارداد ترڅو د افغانستان مخدره توکو صنعت یوه ورته طریقه جوړه شي ترڅو INL وکولای شي په هلمند کې د مخدره توکو پر وړاندې د پروګرامونو اغیز ارزونه ترسره کړي.

**د پاریس تړون:** د یو شمیر هیوادونو او نړیوالو سازمانونو ملګرتیا ترڅو له افغانستان څخه د غیر قانوني ترياکو قاچاق سره مبارزه وکړي. دا تړون د پاریس په ښار کې په 2003 کې د مرکزي آسيا د مخدره توکو د لارو په اړه د یو شمیر هیوادونو د وزیرانو په غونډه کې منځ ته راغلی. د دې تړون موخه دا ده ترڅو د کوکنارو کرنه، او د هیروینو او ترياکو تولید او نړیوال کار اخیستنه کمه کړي، او د ترياکو د غیرقانونی قاچاق مخه نیولو او مبارزې لپاره د یوه نړیوال ایتلاف تاسیس غواړي.

سرچینه: د پاریس تړون، ویب پاڼه "دا څه دي؟" https://www.paris-pact.net، لاس رسی 7/16/2014.

INL د 2014 د سپتمبر په 19 د 172,120 امريکايي ډالرو په ارزښت د مخدره توکو پر وړاندې مبارزې وزارت د عامه مالي اداري خطر ارزوني قرارداد وړاندې کړ. په دغه ربع کې، UNODC د افغانستان د کوکنارو د سروې ملاتړ لپاره د له منخه وړلو تاييد ترسره کړ، چې کيداى شي په اکتوبر کې خپور شي.[394]

## د مخدره توکو په وړاندې مبارزې له تولنو سره کار

INL د مخدره توکو په وړاندې مبارزې له ټولنو سره کار (CNCE) پروګرام هم تمويلوي، چې دا پروګرام په نبنه شويو ولايتونو کې د افغانستان له حکومت سره د توليد، قاچاق، په افغانستان کې د مخدره توکو څخه کار اخيستني مبارزې کې د اړيکو او عامه پوهاوي پروګرامونو له لارو مرسته کوي. CNCE د سياره رسنى اړيکو له لارې تطبيقيږي، او د کوکنارو کرني په سيمو کې د ملي او سيمه ايزې عامه او رسنى کمپاين له لارې بزګران په نبنه کوي.[395] تر اوسه د CNCE پر اساس، INL 5.3 ميليونه امريکايي ډالر توزيع کړي او 8.2 ميليونه امريکايي ډالر مکلف کړي دي.

د مشخصو ليدونکو د تحليلي راپورونو، پشمول د اساسي راپور له لارې سايره د رسنيو د کمپاين اغيز نظارت کوي ترڅو په ولايتونو کې د مخدره توکو او کرنې هڅونکي، او د مخدره توکو په اړه د عامو خلکو نظر وپيژني. سياره له يوه قراردادي سره په ملګرتيا کې د جغرافيايي معلوماتو سيستم نقشه کول هم ترسره کوي او په 42 ولايتونو کې څارونکي لري. ولايتونو ته د کرنې کچې پر اساس درجه ورکول کيږي. ناظرين معلومات راټولوي او د مخدره توکو پر وړاندې د کمپاينونو پيغامونو په اړه نظرونه اندازه کوي. سياره په هره مياشت کې د رسنيو نظارت هم ترسره کوي، او دا ارزونه کوي چې د افغانستان د رسنيو په اوسني چاپيريال کې د مخدره توکو پر وړاندې د رسنيو توليدونه کوم ځاى لري، او په رسنيو کې د مخدره توکو پر وړاندې د اړوندو موادو ارزونه هم ترسره کوي.

د INL په وينا، د CNCE پروګرام په 2013 کې پيل شوى، ځکه نو د 2013 کرني معلوماتو او پروګرام فعاليتونو ترمنځ کومه اړيکه شتون نلري. د سږ کال لپاره تر اوسه د کرنې اټکلونه شتون نلري.[396] د CNCE پروګرام به د 2015 په مې کې پاى ته ورسيږي او له هغه وروسته به، MCN چې اوس د ظرفيت لوړولو روزنې څخه تيريږي، د مخدره توکو پر وړاندې د رسنى او عامه معلوماتو کمپاينونو مسوليت پر غاړه واخلي.[397]

## د آغاخان بنسټ مرسته

INL په افغانستان کې د سيمه ايزې حکومتوالى خواکمن کولو په نوم د 6 ميليونو امريکايي ډالرو په ارزښت پروژه تمويل کړې، چې د آغا خان بنسټ لخوا تطبيق شوى، او د 2014 د مې په 28 کې پاى ته رسيدلى.[398] د آغاخان بنسټ يوه غير انتفاعي نړيواله پراختيايي اداره ده چې د روغتيا، زده کړې، مدني ټولني او نورو پراختيايي پروژو کې کار کوي.[399] INL د حکومت سيمه ايزو بنسټونو لپاره مرسته برابره کړې ترڅو د افغانستان په مرکز او شمال کې شپږ ولايتونه د کوکنارو له کرنې څخه د قانوني معيشت لورې ته بوځي.[400]

د 2014 په جولای کې، INL د افغانستان حکومتوالۍ ځواکمن کولو او بدیل معیشت (SAGAL) پروژې لپاره د آغاخان بنسټ ته د 12 میلیونو امریکایي ډالرو یو نوی قرارداد ورانديي کړ. دغه مرسته به د آغاخان بنسټ ته دا وړتیا ورکړي ترڅو د افغانستان په 16 ولایتونو کې کار وکړي او د بې وزلو وګړو لپاره بدیل معیشت ته وده ورکړي. SAGAL پنځه مهمې موخې لري ترڅو د کوکنارو کرنې اصلي هڅونکو لپاره د حل لار پیدا کړي:

- د کرنې لوړ قیمت قانوني محصول سیستمونو ښه کول
- د قانوني محصول سیستمونو اقتصادي ګټې ډېرول
- مالي سرچینو ته د بزګرانو ښه لاس رسی
- په خطر کې د وګړو بې وزلې کمول ترڅو په قانوني اقتصاد کې برخه واخلي
- د سیمه ایزې حکومتوالۍ سیستم ښه کول[401]

د INL په وینا، د SAGAL پروژه کار کوي ترڅو هر چیرته چې امکان لري د USAID پروژې ځواکمنې کړي او د امریکا حکومت لخوا د بدیل معیشت تمویل شوي پروژې نویو ساحو ته وغزوي. INL او تطبیق کوونکي ملګري یې له USAID سره مشوره کوي ترڅو له ورته ګټه اخیستونکو سره د خطرونو لکه دوځلي کارونو مخه ونیسي یا سیالي کوونکي فعالیتونه وړاندي کړي، او چیرته چې امکان ولري مرسته کېدونکي فعالیتونو ته پراختیا ورکړي.[402]

## د افغانستان د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې وزارت ظرفیت لوړولو پروګرام

MCN او INL د MCN د 2014 د فبروری په 18 د ظرفیت لوړولو پروګرام/مشوري ملاتړ د پوهاوي لیک لاسلیک کړ. نوموړی پروګرام، کوم چې د 18 میاشتو لپاره نوی کړی شوی و، د 24 ځایی او ملي مشاورینو لپاره فنډ ورکول چمتو کوي او د MCN ظرفیت جوړولو کې مرسته کوي. INL د طریقو او پروسو لپاره ستندردونه جوړوي چې پروګرام به تعقیب کړي او د پروګرام اغیزمنتیا ارزونه به وکړي. د INL په وینا، دغه پروسه نه یووازې له اړوندو ملګرو سره مرسته کوي ترڅو د مشوري ملاتړ پروګرام ارزونه ترسره کړي، مګر له MCN سره هم مرسته کوي ترڅو د بشري قوا د ریاست کارکوونکو د ارزونې کارونه ښه شي.[403]

په دغه ربع کې، د INL په مرسته، د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت (MCN) د دې وزارت د نږدې 200 کارکوونکو د مهارتونو ارزونه ترسره کړه. د دغه ارزونې له پایلو څخه به کار واخیستل شي ترڅو د کورسونو یوه لړی ډیزاین شي، دغه کورسونه به سیمه ایز پوهنتونونه پر مخ وړي، او موخه دا ده ترڅو د کارکوونکو غړو د کار اړوند مهارتونه او ټولیز ظرفیت زیات شي. INL سیګار ته خبر ورکړی چې د MCN د کابل قرارګاه لپاره د شپږو کمک دارو وسایطو او د دې وزارت د ولایتي دفترونو لپاره چې د اعتماد وړ ترانسپورت وسیلې ته اړتیا لري، د 34 لاریو رسولو او توزیع په تمه ده. بیا هم په دغه ربع کې، د میرمنو لپاره د آسیا له پوهنتون څخه دریو ښځینه زده کوونکو په MCN کې درسونه پیل کړل.[404]

## د مخنیوی عملیات

د امریکا دفاع وزارت راپور ورکړی چې د 2014 د جولای له 1 څخه، د 2014 د سپتمبر تر 19 پورې، د افغانستان د امنیت او قانون پلي کولو ځواکونو د مخدره توکو مخنیوی 40 عملیاتونه ترسره کړي چې پایله یې د 64 انفرادي کسانو توقیف و. په ټولیزه توګه، په دغه مالي کال کې 441 انفرادي کسان توقیف شوي (168 په لومړي ربع کې توقیف شوي، 119 په دویم ربع کې توقیف شوي او 90 په دریم ربع کې توقیف شوي). پدې عملیاتو کې ورځنی ګزمې، د کمربند او تلاشی عملیات، د وسایطو له منځه وړل، او د توقیف عملیات شامل و. د متحده ایالاتو اردو عمومي لوژستیک او استخباراتي ملاتړ چمتو کړی، پداسې حال کې چې DEA تخصص لرونکي افغان تحقیقاتي واحدونو ته ښوونه او ملاتړ چمتو کړی.[405]

INL په کابل کې د CNPA قرارګاه او د ځانګړو ارزول شوو قطعو لپاره د عملياتونو او ساتنې ملاتړ برابروي. INL په ولايتونو کې د CNPA ولايتي قرارډګاه لپاره عملياتونه او ملاتړ نه برابروي.[406] د امريکا استخباراتو ټولنې د ايتلاف استادانو لپاره اضافي په نښه شوي او تحليلي ملاتړ برابر کړی.
افغان عملياتو د دې دورې په جريان کې د لاندې ممنوع تارياکو د ضبط پايلې درلودې:

- 11,888 کيلو ګرامه ترياک
- 467 کيلو ګرامه هيروئين
- 4,850 کيلوګرامه مورفين
- 1,437 کيلو ګرامه چرس/مريجوانه
- 18,062کيلو ګرامه کيمياوي توکي[407]

**منادي کميکل:** هغه ماده چې ممکن د ترياکو مخدره توکو او سايکوټراپيک مادو توليد، رامنځته کولو او/يا چمتو کولو لپاره وکارول شي.

سرچينه: UNODC، *د منادي او کيميکلز څو ژبي قاموس*، 2009، viii.

د امريکا دفاع وزارت په وينا، د مخنيوی ډيری فعاليتونه د افغانستان په سويل او سويل لويديځ کې ترسره شوي، چيرته چې د کوکنارو ډيری برخه کرل کيږي او له هيواد څخه بهر ته قاچاق کيږي. لکه څرنګه چې د راپور ورکولو پدې وخت کې آيساف د خپلو ځواکونو وتلو ته دوام ورکړ، د امريکا د مخنيوی ډيری فعاليتونه د افغانستان له ځواکونو سره په ملګرتيا کې ترسره شوي. د څو ادارو برخې، په شمول د څو ادارو د ګډ کاري ځواک اړيکي (CJITF-N) او د څو ادارو عملياتونو د همغږی مرکز (IOCC)، د افغانستان او ايساف د مخنيوی د هڅو ملاتړ ته دوام ورکړی. دواړو CJITF-N او IOCC له اردو او قانون پلي کولو سرچينو څخه خپل معلومات سره يوځای کړي ترڅو د مفسدو او مخدره توکو ياغي عناصرو په وړاندې عملياتونه ترسره شي. ټول ځمکني عملياتونه د امريکا او ايتلاف اردو قومانداناتو له خوا همغږي شوي او ملاتړ لاسته راوړی.[408] د CJIATF-N ماموريت د 2014 په سپتمبر کې پای ته ورسيد.[409]

## د مخنيوی پايلې

له 2008 کال راهيسې، د افغان او ايتلاف د مخنيوي مجموعا 2,818 عملياتونو د 2,939 توقيفونو او د لاندې کچې قاچاق شوي مخدره توکو د ضبط کيدو پايله درلوده:

- 747,977 کيلوګرامه چرس
- 391,080 کيلوګرامه ترياک
- 52,957 کيلوګرامه مورفين
- 29,207 کيلوګرامه هيروئين
- 460,067 کيلو ګرامه کيمياوي توکي[410]

د امريکا دفاع وزارت په وينا، د ايتلاف ځواکونو کميدل پر CNPA او د افغانستان د مخدره توکو پر وړاندې نورو ادارو باندې منفي اغيز کړی دی. دغه اخيز په هملند او کندهار کې ډير دی، چيرته چې د ايتلاف ځواکونو ډير راتګ او بيا ورسته کميدل ترسره شوي. په 2011 مالي کال کې له 624 څخه چې د آيساف ځواکونو شميره ډيره وه، تر 518 په 2013 مالي کال کې، په ټوليزه توګه، د مخدره توکو پر وړاندې عملياتونه 17% کم شوي. د 2011 مالي کال له 10,982 کيلوګرامو څخه تر 2,489 کيلوګرامه په 2013 مالي کال کې، د هيروينو نيول 77% کم شوي. د مخدره توکو د معلوماتو متحدي سرچنيي په وينا، له 98,327 کيلوګرامو څخه په 2011 کې تر 41,350 کيلوګرامه په 2013 مالي کال کې، د ترياکو نيول 57% کم شوي. د امريکا دفاع وزارت سيګار ته ويلي چې د مخدره توکو په ټوليز ماموريت کې کموالی کيدای شي د افغانستان له ځواکونو سره چې د مخدره توکو پر وړاندې عملياتونه ترسره کوي، د آيساف د ملګرتيا کموالي له کبله وي.[411] لکه څرنګه چې په دغه شکل 3.30 کې ښودل شوي، له 2012 څخه نيول کمي شوي.

شکل 3.30

**په افغانستان کې تولید شوي او ضبط شوي تارياک، 2008–2014** (کلوګرامونه)




يادونه:د 2014 د توليد معلومات وروسته لدې د UNODC لخوا خپريږي.

سرچينه:UNODC، *د افغانستان د تارياکو سروی 2013*، 12/2013، 12، 40، 42، 44 مخونه؛ د امريکا دفاع وزارت د سيګار د معلوماتو غوښتني ته ځواب، 9/30/2014.

هغه معلومات چې په CCDB کې ثبت شوي له يو شمير سرچينو څخه پشمول د آيساف څخه راځي. د امريکا دفاع وزارت سيګار ته ويلي چې هغه راپور ورکړ شوي تنهايي مخنيوی چې د افغانستان اردو يا قانون پلي کولو قطعو لخوا چيرته چې د ايتلاف استادانو شتون ندرلود ترسره شوي، نشي کولای تاييد کړي. په دغو بيلګو کې، د دفاع استخباراتو اداره (DIA)، چې د معلوماتو سرچينه ساتي، پدې لټه کې ده ترڅو له نورو سرچينو څخه راپور ورکړ شوي نيول تاييد کړي چې په معلوماتو باندې داړ زيات کړي.[412]

د امريکا دفاع وزارت ويلي چې هغوی ارزونه کړې چې د افغانانو لخوا ډيرې نيونې د پوليسو هغو منظمو عملياتونو پايلو له کبله دي چې د نفوسو او ترانسپورت سرکونو، لکه د تلاشی او سرحد تيريدلو دروازو ته نږدې ترسره شوي. د امريکا دفاع وزارت په وينا، د مخدره توکو لابراتوارونه، د ګدامونو ساحې، او د قاچاق مهمې شبکې په سيمه ايزو ساحو کې ځای لري، او د آيساف ځواکونو او په دغو ساحو کې د امنيت کميدلو له کبله، د افغانستان ځواکونه دغو ځايونو ته لاس رسی نلري. د يادونې وړ استثنا د امريکا او انګلستان لخوا ارزول شوي او ملاتړ شوي د افغانستان مخدره توکو پر وړاندې قطعې لکه د استخباراتو او تحقيق قطعه(IIU)، د حساس تحقيق قطعه(SIU)، د تخنيکي تحقيق قطعه (TIU)، او د ملي مخنيوی قطعه (NIU) ده چې ډيره وړتيا يې بنودلي ترڅو وکولای شي د مخدره توکو مخنيوی تحقيقونه او عملياتونه ترسره کړي. د ايتلاف ځواکونو کميدل هم پر دغو قطعو باندې منفي اغيز کړی دی، او تر ډيرې کچې دغه منفي اغيز د آيساف لخوا برابر شوي وړتياو ته لاس رسي له لاسه ورکول و. مګر، د امريکا دفاع وزارت ويلي چې د تير کال په ترڅ کې، دغو قطعو د ايتلاف له مرستې پرته په برياليتوب سره د مخدره توکو پر وړاندې پيچلي تحقيقونه او عملياتونه ترسره کړي دي.[413]

## هوايي ملاتړ

د راپور ورکولو په دغه موده کې، د امريکا بهرنيو چارو وزارت الوتکو په افغانستان کې 60.9 ساعتونو الوتني برابر کړي، 51 عملياتونه يې ترسره کړي، 260 مسافرين يې وړي، او 13,272 پونډه کارګو يې ترانسپورت کړي. په دغه ربع کې د DEA د الوتنو ساعتونه عموماً کم دي او دا د ټولټاکنو د رايو بيا شميرنې په وخت کې د مخدره توکو پر وړاندې د پروګرام د ماموريتونو د محدود والي له کبله و. [414] د INL په وينا، د امريکا بهرنيو چارو وزارت د DEA استخباراتو، څارني، او کشف ماموريتونو او د DEA مخنيوی هڅو ملاتړ لپاره د الوتني ساعتونه ندي برابر کړي، او 10.3 الوتني ساعتونه يې د افغانستان د NIU او DEA مسافرينو وړلو او روزني لپاره برابر کړي. INL د کندهار په هوايي ډګر کې د الوتکو يوه قطعه لري او د افغانستان په سويل کې د DEA ماموريتونو ملاتړ لپاره ليواله هلکيکوپترونه لري. [415]

**د مخدره توکو پر وړاندې د متحدو معلوماتو سرچينه (CCDB) د معلوماتو هغه سرچينه ده چې په افغانستان کې د مخدره توکو مخنيوی او ضبط تعقيبوي او د DIA لخوا ساتل کيږي.**

سرچينه: د امريکا دفاع وزارت، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 9/30/2013.

# د حکومتدارۍ منځپانګې


| | |
|---|---|
| مهمې پېښې | 127 |
| ټولټاکنې | 128 |
| د متحده ایالاتو د افغانستان حکومت له بودیجې سره مرسته | 133 |
| ملي حکومتولي | 140 |
| سیمه ایزه حکومتولي | 144 |
| پخلاینه او بیرته یوځای کیدل | 148 |
| د قانون حاکمیت او له فساد سره مبارزه | 151 |
| بشري حقونه | 160 |

# حکومتولي

د 2014 د سپتمبر تر 30 پورې، امریکا د افغانستان د حکومتولی او اقتصادي ملاتړ لپاره نږدې 30.6 میلیارده ډالرو ملاتړ برابر کړی دی. د دغې مرستې ډیرې برخه، له 17.7 میلیارده امریکایي ډالرو څخه زیات، د اقتصادي ملاتړ وجهي صندق (ESF) ته مکلف شوي چې د امریکا د نړیوالې پراختیا اداري (USAID) لخوا اداره کیږي. د ESF د 852 میلیونو امریکایي ډالرو اوسنی تخصیص د 2010 د 3.3 میلیاردو امریکایي ډلرو له لوړ تخیصص څخه کم دی.

## مهمې پیښې



**د سپتمبر په 29**، سفیر جیمز کننګهم او جان پوډیسا، د افغان نوي ولسمشر اشرف غني او اجرایوي رییس ډاکټر عبدالله عبدالله د لوړې مراسمو ته متحده ایالاتو د پلاوي مشر د یو کنفرانس په ترڅ کې غني او عبدالله ته مبارکي ووېله. (د بهرنیو چارو وزارت تصویر)

له ستونزمنو ټولټاکنو وروسته د 2014 سپتمبر په 29، اشرف غني د ولسمشرۍ د لوړې مراسم ترسره کړل. د ولسمشر غني له لوړې سره د لومړي ځل لپاره د افغانستان په تاریخ کې د دیموکراتیک واک سپارلو نښه وه.[416]

وروسته لدې چې سرپرست قاضي القضات اشرف غني ته د ولسمشر په توګه لوړه ورکړه، نوي ولسمشر بیا د دفتر لوړه خپل لومړي او دویم معاونینو، عبدالرشید دوستم او سرور دانش ته ورکړه. ولسمشر غني د ټولټاکنو خپل سیال، عبدالله عبدالله ته د نوي رامنځته شوي اجراییه رییس او محمد خان او محمد محقق ته چې د عبدالله د ولسمشرۍ د ټولټاکنو معاونین و، د هغه د معاونینو په توګه لوړه ورکړه. ولسمشر غني، احمد ضیا مسعود ته هم د نوي رامنځته شوي د اصلاحاتو او حکومتولي لپاره د ځانګړي استازي په توګه لوړه ورکړه.[417]

د افغانستان ولسمشرۍ له ټولټاکنو وروسته کړکیچ د دې ربع مهمې خبرې وې. په جون کې د ټولټاکنو له دویم پړاو څخه وروسته، د ولسمشرۍ نوماند عبدالله یو ځل په جون کې او بیا په سپتمبر کې د بریا ادعا وکړه، پداسې حال کې چې د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون (IEC)، لومړني پایلې اعلان کړې او پر اساس یې غني بریالی ښودل شوی و.[418] د ملګرو ملتونو عمومي منشي په سپتمبر کې خبرداری ورکړی و چې "د ټولټاکنو جوړ شوي کړکیچ د هیواد سیاسي، اقتصادي او ټولنیز چاپېریال لپاره د بې ثباتی سختې پایلې منځ ته راوړې".[419] هغه دغه ستونزه د طالبانو، نورو یاغي او ترورویستي ډلو، مجرمینو او سیمه ایزو ځواک لرونکو لخوا د لا ډیر قهرجنو عملونو له کبله، او له ټولټاکنو وروسته د سیاسي نامعلومتیا په اړه د عامو خلکو نه رضایت او د نړیوال اردو ځواکونو کمیدلو له کبله ګڼلې و.[420]



**د متحده ایالاتو** د **بهرنیو چارو** وزیر جان کیري د 2014 اګست په 8 د یوه کنفرانس وروسته د افغان ولسمرۍ ټولټاکنو نوماندانو عبدالله عبدالله او اشرف غني سره لاس ورکوي. (د بهرنیو چارو وزارت تصویر)

ولسمشر بارک اوباما او د بهرنیو چارو وزیر جان کیري، ډیري مداخلي وکړي او نوماندان یي وهڅول ترڅو د پلټني په یوي پروسي او د ملي یووالي حکومت پر جوړیدو باندي موافقه وکړي. د جون د 14 له دویم پړاو ټولټاکنو وروسته، ولسمشر اوباما له دواړو نوماندانو سره شپږ ځلي تیلفوني خبري وکړي، او جان کیري له نوماندانو سره 30 ځلي خبري وکړي او دوه ځلي یي دغه هیواد ته سفرونه وکړل، د امریکا سفیر جیمز کننګهم له نوماندانو سره 81 غونډي وکړي.[421]

## ټاکني

افغانستان د اپریل په 5، د ولسمشرۍ ټولټاکنو لومړنی پړاو او د ولایتي شوراګانو ټولټاکني ترسره کړي. هیڅ یوه نوماند د رای ورکوونکو ډیري رایي لاسته را نه وړي، ځکه نو د قانوني اړتیا پر اساس ټولټاکني دویم پړاو ته ولاړي، او د جون په 14 ترسره شوي. د جولای په 7، پداسي حال کي چي خبري د دواړو نوماندانو ټیمونو ترمنځ رواني وي، د ملګرو ملتونو د مشورې پر وړاندي د دویم پړاو لومړنی پایلي اعلان شوي.[422]لومړنیو پایلو وښودل چي غني 56.4% او عبدالله 43.6% رایي وړي.[423]دا د لومړني پړاو په خیر نه و، چي عبدالله د تایید شوي رایو 45% او غني 31.6% وړي وې.[424]

د ولایتي شوراګانو د ټولټاکنو پایلي باید د جون په 7 اعلان شوي وای، مګر دغه پایلي ځنډیدلي ځکه چي د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون د ولسمشرۍ پر ټولټاکنو کار کاوو.[425]د امریکا بهرنیو چارو وزارت په وینا، د ولایتي ټولټاکنو د پایلو اعلانولو ځنډ معنی دا وه چي د مشرانو جرګي *"په ضعف" سره په دفتر کي خپلو کارونو ته دوام ورکړ. مګر مشرانو جرګي په دغه موده کي خپل کار ته دوام ورکړ.*[426]

د جولای په 12 د امریکا بهرنیو چارو وزیر، جان کیري سره له خبرو وروسته، د هغه په شتون کې دواړو عبدالله او غني ویلي چې هغوی د ملي یووالي د حکومت په یوه کاري چوکاټ موافقه کړې. [427]مګر په راتلونکي ورځ د نوماندانو ټیمونو بیلا بیل تعریفونه وړاندي کړل. د عبدالله ویاند د یوه "شریک حکومت" چې یو اجرایي ریس به ولري وړاندیز وکړ، او کیدای شي د اجرایي ریس په توګه د ولسمشر د فرمان لخوا وټاکل شي؛ د غني ویاند ویلي چې بایلونکی نوماند کولای شي په حکومت کې له حقوقي لارې برخه واخلي، مګر په جزییاتو باندې به د ولسمشرۍ له ګټونکی وروسته خبري وشي. [428]

د نوماندانو ترمنځ له موافقې وروسته ترڅو د ملي یووالي یو حکومت تاسیس کړي، د اګست په 17 د کندهار په ښار کې مظاهرې منځ ته راغلي او ځینو مظاهره کوونکو ګواښ کاوو که یو ایتلافي حکومت "تحمیل شي" هغوی به د طالبانو ملاتړ وکړي. [429]

د سپتمبر په 8 په یوه مطبوعاتي کنفرانس کې، عبدالله اعلان وکړ چې هغه د دواړو لومړني او دویم پړاو ګټونکی دی او دا چې هغه به "د تقلبي رایو پر اساس یو حکومت و نه مني". [430] په راتلونکي ورځ، د ملګرو ملتونو عمومي منشي دواړه نوماندان وهڅول ترڅو د خپلو تیرو ژمنو احترام وکړي او د ملي یووالي یو حکومت جوړ کړي. [431]

د عبدالله له اعلان څخه وروسته، د سپتمبر په 10، غني د پلټني د پایلې غوښتنه وکړه او وې ویل چې د هرې سیاسي معاملې پایله باید د "دوو حکومتونو" سبب نشي. [432]په راتلونکي ورځ، د سپتمبر په 11، د ملګرو ملتونو عمومي منشي معاون له کابل څخه لیدنه وکړه ترڅو له دواړو نوماندانو سره وګوري او د حل یوه لاره وهڅوي. د عمومي منشي له معاون سره له غونډې وروسته د عبدالله کمپ وویل چې د سیالو کمپاینونو ترمنځ کومې اړیکې شتون نلري. [433]

دواړو کمپاینونو د ملي یووالي حکومت د طریقې په اړه خپل مخالفت ته د سپتمبر تر 21 دوام ورکړ، کله چې هغوی د ولسمشرۍ په ماڼۍ کې د واک ویشلو معامله لاسلیک کړه. [434]د پای دغه موافقه د جان کیري لخوا له دوو غونډو وروسته منځ ته راغله چې د دواړو کمپاینونو ترمنځ په تیر کې وړاندې موافقه شوې وه: تخنیکي او سیاسي کاري چوکاټ چې د جولای په 12 خپور شوی او ګډه اعلامیه چې د اګست په 8 خپره شوې. [435] د غني او عبدالله کمپونو د دغو لاندې مواردو ژمنه وکړه:

- د لویې جرګې (لویې غونډې) جوړول ترڅو د افغانستان اساسي قانون تعدیل کړي او پر دې غور وکړي ترڅو د اجرایي صدراعظم څوکی تاسیس شي
- ټولو وګړو ته هرڅومره ژر چې کیدای شي د بریښنایي کمپیوټري پیژند پاڼو توزیع بشپړول
- د ولسمشرۍ فرمان لخوا، د اجرایي ریس (CEO) څوکی تاسیسول، چې دوه معاونین به یې ملاتړ کوي، او د یوه صدراعظم دندې به ولري
- د حکومت په ټولو ادارو کې د اصلاحاتو وړاندیز او د اداري فساد پر وړاندې کلکه مبارزه
- دا منل چې ولسمشر د هیواد او حکومت د مشر په توګه به د کابینې مشري کوي
- دا منل چې اجرایي رییس به د کابینې لخوا د حکومت د پالیسیو تطبیقولو مسولیت ولري او د وزیرانو یوې شورا مشري به وکړي چې له کابینې سره به توپیر ولري.
- د حکومت د مهمو پوستونو لکه د سیاسي او اقتصادي بنسټونو او خپلواکو ریاستونو مشري غوره کولو لپاره به د ولسمشر او اجرایي رییس ترمنځ انډول شتون ولري
- د ټولټاکنو سیستم اصلاح لپاره د ځانګړې کمیسیون تاسیسول[436]



**د افغانستان ولسمشرۍ** ټولټاکنو نوماندانو عبدالله عبدالله او اشرف غني د 2014 اګست په 8 نیټه په کابل کې د ټاکنیزو ډلو ګډه اعلامیه لاسلیک کړه. (د بهرنیو چارو وزارت تصویر)

د ملي يووالي حکومت موافقې له لاسليک کيدلو پنځه ساعتونه وروسته، د ټولټاکنو خپلواک کميسيون اعلان وکړ چې اشرف غني د ټولټاکنو ګټونکی دی. د ملي يووالي حکومت د موافقې د يوه شرط په توګه، د ټولټاکنو خپلواک کميسيون ډير ژر د ټولټاکنو بشپړې پايلې اعلان نه کړې.[437] مګر د سپتمبر په 26، د ټولټاکنو خپلواک کميسيون ټاکل شوي ولسمشر ته د بريالیتوب تصديق ليک ورکړ او وې ويل چې غني له ټولو رايو څخه 55.27% (له 7.12 ميليونو رای ورکوونکو څخه 3.93 ميليونه رايې) ګټلي. په عين وخت کې، د ټولټاکنو خپلواک کميسيون د رييس په وينا چې ويلې و "يووازې د ټولټاکنو خپلواک کميسيون په تقلب کې لاس ندرلود. تقلب ډير پراخ و.[438] "د عبدالله کمپاين يوه اعلاميه خپره کړه او انګيرنه يې وکړه چې د پايلو تصديق ليک د هغې موافقې پر وړاندې وه چې د کمپاينونو ترمنځ شوې وه او دا چې تصديق شوې پايلې سمې ندي.[439]

که ګمان داسې وي چې د ټولټاکنو خپلواک کميسيون لخوا غني ته په تصديق ليک کې لست شوې پايلې سمې وي، پلټنو د غني رايې 1.17% کمې کړې او د عبدالله رايې 1.21% زياتې کړې.[440]

## د پلټنو او تقلب پيدا کيدل

د جولای په 12، د امريکا بهرنيو چارو وزير کيري، له نوماندانو عبدالله او غني سره يوځای د هغې موافقې شرطونه اعلان کړل چې د دويم پړاو ټولټاکنو په ټپه دريدلو حل لارې لپاره وه. په موافقه شوي شرطونو کې يوه موافقه په دويم پړاو کې د 8.1 ميليونو کارول شوي رايو هر اړخيزه پلټنه وه.[441]

د سپتمبر په 14، د ټولټاکنو خپلواک کميسيون اعلان وکړ چې پلټنه بشپړه شوه. د ټولټاکنو خپلواک کميسيون رييس په وينا، له هغو 2,200 شکايتونو څخه چې د عبدالله کمپاين وړاندې کړي و 1,683 مشروع و، او له هغو 729 شکايتونو څخه چې د غني کمپاين وړاندې کړي و 242 مشروع و.[442] په پايله کې، د رايو له 23,000 مرکزونو څخه 1,260 د ټولټاکنو خپلواک کميسيون لخوا فسخه شول.[443]

د اروپايي ټولنې د ټولټاکنو ارزونې ټيم (EU EAT) د دويم پړاو ټولټاکنو لپاره د نړيوالو ناظرينو تر ټولو لوی ماموريت راليږلی و، چې 410 ناظرين يې درلودل.[444] دغه ټيم د پلټنې پروسه نامناسبه وګڼله او ادعا يې وکړه چې پلټنې د لوې کچې درغلی ښکاره شواهد او په ځانګړې توګه د صندوقونو ډکول پيدا کړل.[445] EU EAT اټکل کړی چې د دويم پړاو له دوو تر دريو ميليونو رای يې تقلبي وی.[446]

د امريکا بهرنيو چارو وزارت يوه لوړ پوړې چارواکي د شاليد په يوه لنډيز کې ويلي چې پداسې حال کې چې د دويم پړاو پلټنې هڅه دا وه ترڅو نړيوال ښه ستندردونه پوره شي، خو د ټولټاکنو خپلواک کميسيون لخوا بنسټيز تقلب د هرې پلټنې مخه نيوله ترڅو د ټولو تقلبونو ادعاګانې حل شي.[447] د EU EAT په وينا، په افغانستان کې د تقلب پر وړاندې فعاله ګامونه په پام کې ندي نيول شوي. EU EAT ارزونه کړې چې په وروستی پلټنې کې د پلټنې موافقه شوي طرزالعملونه د ډيرو سياسي انديښنو په وخت کې په منظمه توګه ندي کارول شوي. EU EAT دا ندي ويلي چې هغوی کوم نړيوال يا کورني سازمانونه غير فعال موندلي، مګر ژمنه يې کړې ترڅو په لنډه موده کې يو بشپړ راپور خپور کړي.[448]



**د IEC کارمندان** د ولسمشرۍ دوهم پړاو ټولټاکنو پرمهال د کابل يوه رايي ورکوونې مرکز کې رايې شميري. (د USAID افغانستان عکس)

نړیوال دیموکراتیک انستیتوت (NDI) د سپتمبر په 24 یوه اعلامیه خپره کړې، "پداسې حال کې چې د پلټنې په پروسه کې د ټولټاکنو تقلب او ځانګړې ستونزې هرې رسمي پایلې لپاره دا ناممکنه کوي ترڅو په دقیقه توګه کارول شوي رای یې وښیې، او داسې شواهد ندي پیدا شوي ترڅو د پایلې بدلولو سبب شي. " [449]

په دغه ربع کې، USAID د 2014 ټولټاکنو په ترڅ کې د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون او د ټولټاکنو شکایتونو کمیسیون د چلند ارزونې څخه ډډه کړې او ویلي چې تر هغه وخته چې پروسه، پشمول د ولایتي شوراګانو بشپړه نه شي، دا اداره دغه کار نشي ترسره کولای. [450]د امریکا بهرنیو چارو وزارت په وینا، د ټولټاکنو لپاره د افغانستان چمتووالي په دوامداره توګه له تمې زیاتې وې، د افغانستان د ټولټاکنو بنسټونو او امنیتي وزارتونو په همکارۍ سره کارونه ترسره کول ترڅو پلانونه چمتو کړي او توکي ورسوي، او "هیله یې دا وه ترڅو د اعتبار وړ، هر اړخیز، او رښې ټولټاکنې ترسره شي. " د امریکا بهرنیو چارو وزارت دا ارزونه هم کړې چې د ټولټاکنو شکایتونو کمیسیون، شکایتونه په فعاله توګه او پر وخت څېړلي دي. [451]

## لومړنی ګمارنې

د اکتوبر په 1، ولسمشر غني یو فرمان صادر کړ او اوسنې وزیران او رییسان یې تر هغه وخته چې نور د دوی پرځای ټاکل کیږي، د اړوندو وزارتونو او ریاستونو د سرپرستانو په توګه وټاکل. سرپرست وزیران او رییسان اجازه نلري ترڅو په دغه موده کې څوک وټاکې یا له کاره وباسې یا په کار وګاري. [452]د غني یوه حقوقي مشاور طلوع نیوز ته ویلي چې ولسمشر غني غواړي ترڅو له لوړې وروسته د 45 ورځو په ترڅ کې نوې کابینه جوړه کړي. [453]

له مطبوعاتو سره، دغه لاندې ګمارنې د غني په نوې اداره کې شوې:

- احمد ضیا مسعود د ملي یووالي حکومت کې د اصلاحاتو او حکومتولی د چارو لپاره د ولسمشر د ځانګړې استازې په توګه وټاکل شو. [454]
- د مالیې پخوانی وزیر، حضرت عمر زاخیلوال د ملي اقتصاد د سلاکار او سرپرست مالیې وزیر په توګه وټاکل شو.
- د کورنیو چارو پخوانی وزیر، محمد حنیف اتمر د ملي امنیت سلاکار په توګه وټاکل شو. [455]
- سلام رحیمي د اداري چارو دفتر او د وزیرانو شورا د دارالنشا رییس په توګه وټاکل شو.
- حکمت کرزی د بهرنیو چارو وزارت معین په توګه وټاکل شو.
- احمد علي محمدي د ولسمشر د حقوقي سلاکار په توګه وټاکل شو. [456]

## د ټولټاکنو لپاره د امریکا ملاتړ

د امریکا حکومت هغه پروګرامونه تمویل کړي چې تخنیکي ملاتړ او عامه پوهاوی یې برابر کړی، او د کورنیو او نړیوالو ناظرینو چې غوښتل یې مرسته وکړي ترڅو افغانستان د "اعتبار وړ، هراړخیزه، او رښې ټولټاکنې ترسره کړي . " [457]

USAID تمه لري ترڅو د ملګرو ملتونو نړیوال پراختیایي پروګرام (UNDP) کې 65.7 میلیونه امریکایي ډالو برخه واخلي، چې د سبا لپاره II برخي (ELECT II) ټولټاکنو حقوقي او ټاکنیز ظرفیت لوړولو لپاره د افغانستان د ټولټاکنو ادارو بنسټونو سره مرسته وکړي او د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون، د ټولټاکنو شکایتونو کمیسیون او د رسینو کمیسیون ته تخنیکي مرسته برابره کړي. پردې برسیره، د UNDP ELECT II د ټولټاکنو ادارو بنسټونو ظرفیت ته وده ورکوي ترڅو د راتلونکو ټولټاکنو بهیرونه پخپله اداره کړي. UNDP ELECT II د څو اړخیز وجهي صندق لخوا ملاتړ کیږي چې پدې کې لړ تر لړه له دوولسو مرستندویانو څخه مرسته شامله ده. د بیلګې په توګه، انګلستان، د اروپا ټولنې، ایټالیا، آلمان، فرانسه، هالنډ، سویډن، ناروې، او جاپان پاتې 129 میلیونه امریکایي ډالر مرسته وکړه، چې ELECT II اټکل کړی و د وروستنې ټولټاکنو ملاتړ لپاره اړینې وې. [458]

ELECT II په اوس وخت کې د منځني پړاو تر ارزونې لاندې تیریږي چې دا به د تقلب کمولو ګامونو ارزوني اجازه ورکړي چې په وروستي ټولټاکنو ورڅخه کار اخیستل شوی.[459] ارزونه به د پرمختګ، خطرونو، او د افغانستان ټولټاکنو اداره کولو بنسټونو، په شمول د ټولټاکنو خپلواک او د ټولټاکنو شکایتونو کمیسیونونو، او د رسنیو کمیسیون او د ELECT II پروګرام ارزونه ترسره کړي.[460]

USAID درې نهادونو ته د ورکړو له لارې د ټاکنو د نظارت ماموریتونه ملاتړ کړی: NDI د سیاسي بنسټونو او مدني ټولنې (SPECS) ملاتړ پروګرام له لارې؛ دیموکراسي انټرنیشنل (DI)؛ او په اروپا کې د امنیت او همکاری سازمان (OSCE). DI[461] د ولسمشری لومړي او دویم پړاو ټولټاکنو لپاره د 90 او 105 رایو ورکولو مرکزونو لپاره په ترتیب سره 18 ناظرین ګمارلي و او د ټولو رایو 0.005% یې تر پوښښ لاندې راوړې. NDI[462] هم 100 افغان کارکوونکي ګمارلي و ترڅو د 26 ولایتونو په 312 د رایو په مرکزونو کې نظارت ترسره کړي.[463]

SPECS د افغانستان مدني ټولنو څلورو سازمانونو ته فرعي مرستې ورکړې ترڅو د ټولټاکنو نږدې 2,200 کورني ناظرین وګماري.[464] په لومړي پړاو کې، USAID -د نظارت کورني ډلو سره مرسته وکړه ترڅو د رایو په 2,999 مرکزونو کې نظارت ترسره کړي او د رایو مرکزونو 15.4% تر پوښښ لاندې راوړي. په دویم پړاو کې، دغو ورته ډلو د رایو په 4,032 مرکزونو کې ناظرین ګمارلي ترڅو د رایو 17.7% مرکزونه تر پوښښ لاندې راوړي. د نظارت کورنی ډلو له ژورنالیستانو سره په همکاری کې، په انټرنت کې د پیښو نقشې کولو فعالیتونو 8,402 راپورونه وړاندې کړي. دغو ډلو په دویم پړاو کې 369 اضافي راپورونه ورکړي.[465]

USAID لانور هم ټاکنې د افغان مدني ټولنې ارتقا نوښت (IPACS II) او افغان مدني ښکیلتیا پروګرام (ACEP) په بیله بیا د ټاکنو سوله ایز کمپاین (PEC) له لارې ملاتړ کړې. IPACS II او ACEP په ټولټاکنو کې له مدني ټولنو او رسنیو ملګرو سره د وړو مرستو ملاتړ له لارې برخه اخیستې ترڅو د مدني روزنو فعالیتونه، راووځي او په ټولټاکنو کې برخه واخلی غونډو، د ټولټاکنو اړوند خپرونو توزیع، او د راډیو او تلویزیون په اعلانونو ترسره کولو کې برخه اخیستې. IPACS II د 2014 د مارچ په 31 پای ته رسیدلی، او د ټولټاکنو ملاتړ لپاره یې نږدې 800,000 امریکایي ډالر لګولي دي، پداسي حال کې چې ACEP نږدې 1.4 میلیونه امریکایي ډالر لګولي.[466] PEC د ټولنې عامه پوهاوی لکه د سپورت او شاعری غونډو، او د څو رسنیو لکه د راډیو، تلویزیون څخه په کار اخیستنې سره د "سولې لپاره د رای" او د افغانستان راتلونکې سولې او ثبات سوله ایز واک سپارلو ته اړتیا لرې د کمپاین ملاتړ کړی.[467]

جدول 3.17

**د USAID پروګرامونه د 2014 کال د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو د ټاکنو څخه د ملاتړ نیت لري**

| د پروژې موضوع | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټولټال اټکل شوي لګښت (په ډالرو) | مجموعي توزیعات د 9/30/2014 پورې (په ډالرو) |
|---|---|---|---|---|
| د افغان مدني ښکیلتیا پروګرام (ACEP) * | 12/4/2013 | 12/3/2018 | $70,000,000 | $8,804,817 |
| د سبا لپاره د قانوني او ټاکنیز ظرفیت لوړول (ELECT) II | 9/28/2013 | 12/31/2014 | 65,720,825 | 28,397,554 |
| ټاکنیز سمونونه او مدني وکالت (AERCA) | 7/7/2009 | 12/31/2015 | 38,702,682 | 30,704,119 |
| د سیاسي نهادونو او مدني ټولني ملاتړ کول (SPECS) | 7/7/2013 | 7/6/2016 | 18,000,000 | 9,278,855 |
| د ټاکنو نړیوال نظارت (NDI) | 2/1/2014 | 12/31/2014 | 6,017,700 | 3,781,699 |
| د ټاکنو نړیوال نظارت (DI) | 2/1/2014 | 12/31/2014 | 6,959,188 | 5,652,697 |
| د ټاکنو سوله ایز کمپاین** | 9/10/2013 | 9/30/2015 | 3,000,000 | 1,362,237 |
| د ټاکنو نړیوال نظارت (TAF) | 8/4/2014 | 1/5/2015 | 2,356,724 | 161,977 |

یادونه:
*د 2014 جون تر 30 پورې د 2014 اپریل او جون ټولټاکنو ته د ACEP پروګرام شوې مرستو لګښت شاوخوا 1.4 ملیون ډالر و.
**د 2014 سپتمبر 15 پورې. دا مصارف عملیاتي مخارج نه منعکس کوي.

سرچینه: USAID، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 9/29/2014 او 10/9/2014.

د USAID پروګرام یو لنډیز چې د 2014 ټولټاکنو ملاتړ یې کړی په دغه جدول 3.17کې راغلی.

د نړیوال امنیت مرستندویه ځواک (ISAF) او ملګرو ملتونو له 33 ولایتونو څخه کابل ته د رایو صندقونه ترانسپورت کړي. د امریکا دفاع وزارت په وینا، د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون او د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) هغه وړتیا درلودله ترڅو د رایو صندقونه ترانسپورت کړي، مګر د سیاسي اندیښنو له کبله یې دا کار ترسره نه کړ. د آیساف او UNDP هلیکوپټرونو سیمه ایزو مرکزونو ته او له هغه ځایه د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون ته د ثابت وزر په الوتکو او د سړک له لارې د رایو صندقونه ترانسپورت کړی.[468]

**د مستقیم بودیجې مرسته کې د ډونر هغه فنډونه شامل دي چې د افغان دولت پلانونو سره په لیکه کې شوي وي، په شمول د افغان دولت د بودیجې اسناد، او د پارلمان لخوا مختص شوي وي او د افغان خزانې سیستم لخوا اداره شي. د مستقیم بودیجې مرسته یا خو د ډونر او افغان دولت نهادونو ترمنځ دوه اړخیز تړونونو له لارې وړاندې کیږي یا د څو ډونرانو وجهي صندوق له لارې.**

**د بودیجې غیر مستقیم مرستو کې د ډونر هغه فنډونه شامل دي چې د افغان ملي بودیجې څخه خارج وي او د افغان دولت سیستمونو له لارې نه اداره کیږي.**

سرچینه: د متحده ایالاتو کانګریس ته د سیګار درې میاشتنی راپور، 7/30/2014، مخ 130؛ د مالیه وزارت، "د لیرد دورې او تر هغه وروسته لپاره د مرستې مدیریت پالیسي،" 12/10/2012، مخ 8.

## د افغانستان له بودیجې سره د امریکا مرسته

په دغه ربع کې نړیوال بانک راپور ورکړی چې افغانستان د مالي کړکیچ په لور روان دی. د حکومت د نغدو پیسو بیلانسونه کم دي او د عملیاتونو او ساتنې او د اختیاري پراختیا پیسو لګولو په برخو کې هم شاته دی.[469] مالیې وزارت راپور ورکړی چې افغانستان د بودیجې له ډیر کموالي[470] څخه رنځ وړي او نړیوال بانک په 1393 مالي کال (د 2013 دسمبر 21، د 2014 20 د سمبر 21) کې د 500 میلیونو امریکایي ډالرو کموالي اټکل کړی، او دا د ملکي کارکوونکو معاشونه، د تقاعد معاشونه او د عملیاتونو او پراختیا پیسې لګول له ګواښ سره مخامخ کوي. مګر، دغه بانک خبرداری ورکړی چې مالي تشه به لا هم ډیره وې که د حکومت د عوایدو تعدیل شوې نښې پوره نشي او د مرستندویانو مرستې تادیه نشي.[471] د عوایدو ننګونو په اړه لا نورو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړی په دغه راپور کې دا 164–167 پاڼې وګوری.

په مې کې، د افغانستان مالیې وزارت ویلې چې مرستندویانو د بودیجې پر اساس مرستې د افغانستان حکومت ته ندي رسولې، او دغه "د /[افغانستان] حکومت په پراختیایي بودیجه کې لویه تشه منځ ته راوړې."[472] په اګست کې، د مالیې وزارت ویاند خبرداری ورکړی چې د سړکونو جوړولو او ساتنې، ښوونځیو، او کلنیکونو لپاره یو شمیر پراختیایي پروژې د مرستو نشتون له کبله ځنډیدلي.[473] مالیې وزارت د کنټرول ګامونه اخیستې ترڅو اختیاري او د عملیاتونو او ساتنې لګښتونه کم کړي.[474]

د USAID په وینا، د افغانستان حکومت سره له امنیت پرته د مرستندویانو مرستې د پراختیایي بودیجه لپاره دي او د پراختیایي پروژو فعالیتونو د لګښتونو لپاره ټاکل شوي. مګر په عمل کې، د

ځانګړې موخې لپاره د مرستندویانو د مرستو احکام کیدای شي د افغانستان حکومت ته مرستې آزادې کړي چې کیدای شول د کوم بل ځانګړې موضوع لپاره ورڅخه کار اخیستل شوی وای. په حقیقت کې د مرستندویانو مرسته د افغانستان حکومت ته د بودیجې آزادي ورکړي ترڅو خپلې مرستې د خپلو مهمو اړتیاو پر اساس، په شمول د روانو لګښتونو لکه معاشونه، خپلو مرستو ته لومړیتوب ورکړي او بیرته توزیع کړي. [475]

په اګست او سپتمبر کې، د مالیې وزارت معین او د خزانې عمومي رییس په عامه توګه د افغانستان مالي کړکیچ په اړه اندیښنې ښودلې، او دغه ستونزه د سپتمبر په پای کې د ملکي کارکوونکو د معاشونو په تادیاتو کې د ځند سبب شوی. [476]د USAID په وینا، د افغانستان حکومت د اختیاري لګښتونو په برخه کې له ډیر کموالي سره مخامخ دی، هغه څه چې عموماً د بودیجې په اساس د مرستو لخوا یې ملاتړ نه کیږي. یووازې د ARTF د روان لګښت کړکی، پشمول د مکافاتو پروګرام کیدای شي د روان کموالي په اړه مستقیمه اړیکه ولري. [477] د امریکا بهرنیو چارو وزارت ویلي چې د امریکا چارواکي د مالیې له وزارت سره د کموالي د کچې او علت په اړه خبري کوي. USAID ویلی چې د مالیې وزارت تر اوسه له نړیوالې ټولنې څخه په رسمي توګه د ملاتړ غوښتنه نده کړې. [478] د امریکا سفیر جیمز کننګهم په وینا، افغانستان د کال تر پایه د مرستو کموالي په اړه خبري کړي؛ مګر د مرستو هره غوښتنه باید مرستندویانو د راتلونکو کلونو له مرستو څخه پور واخیستل شي. د کننګهم په وینا، "نوي پیسې به شتون ونلري. "[479]

## د بودیجې پر اساس موافقو لنډیز

د افغانستان له لومړیتوبونو سره د حکومتولی ښه کولو او د پراختیایي هڅو سمولو لپاره، د نړیوالې ټولنې مرستندویانو ژمنه کړې ده ترڅو د هغه پراختیایي مرستې برخه ډیره کړې چې د بودیجې پر اساس د افغانستان حکومت ته سپارل کیږي. [480]

څلور کلونه وړاندې، د کابل د 2010 په کنفرانس کې نړیوالو مرستندویانو ژمنه کړې وه ترڅو د ملکي پراختیا مرستې هغه برخه لږ تر لږه 50% ډیره کړې چې د افغانستان حکومت ته د بودیجې پر اساس سپارل کیږي، ترڅو حکومتولي ښه کړي او پراختیایي هڅې سمې کړي. مرستندویانو پشمول د امریکا د 2012 جولای د ټوکیو په کنفرانس کې پر دغه ژمنه ټینګار کړی. [481]

د 2012 د شیکاګو په کنفرانس کې، نړیوالې ټولنې د اردو او پولیسو لپاره د افغانستان امنیتي ځواکونو سره په هر کال کې د یوه بیل میکانیزم له لارې د نږدې 4.1 میلیاردو امریکایي ډالرو مالي ملاتړ ژمنه کړې. [482] په دغه ربع کې د ویلز په غونډه کې، د ناټو متحدینو او ملګرو خپله ژمنه بیرته نوې کړه ترڅو د 2017 تر پایه د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو دوام لپاره ډیره مالي مرسته وکړي او دا چې په راتلونکو 10 کلونو کې دغو ځواکونو ته مالي مرسته ورسوي. نړیوالې ټولنې له 2015 څخه د 2017 تر پایه، د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو لپاره د نږدې 1 میلیارد یورو، یعنې په هر کال کې د نږدې 1.29 میلیارده امریکایي ډالر ژمنه کړې ده. [483] د 2015 په بودیجه کې امریکا د 4.1 میلیاردو امریکایي ډالرو غوښتنه کړې ده، چې دغه به تر 2015 پورې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو د پای د 352,000 شمیر دوام ملاتړ وکړي. امریکا تمه لري چې افغانستان د دغو ځواکونو د دوام لګښتونو ډیري برخې مسولیت واخلي، او لکه څرنګه چې د شیکاګو په کنفرانس کې ورباندې موافقه شوې وه، په 2015 کې به له 500 میلیونو امریکایي ډالرو سره پیل شي. [484]

### د سیګار ځانګړې پروژه

سیګار پدې ربع کې د افغانستان او پاکستان لپاره ځانګړي پلاوي او په افغانستان کې د متحده ایالاتو سفیر ته د بودیجې کسر راپورونو او د متحده ایالاتو پلان شوي ځواب په اړه د معلوماتو غوښتنې یو مکتوب واستاو. برخه 2، مخ 44 وګورئ.

لکه څرنګه چې په دغه جدول 3.18 کې ښودل شوي، USAID تمه لري ترڅو د مرستو په دوه اړخیز مستقیم پروګرام کې 971 میلیونه امریکایي ډالر ولګوي. دغه اداره دا تمه هم لري ترڅو د 1.37 میلیاردو امریکایي ډالرو برسیره چې د USAID او نړیوال بانک ترمنځ د تیرو مرستو موافقو پر اساس توزیع شوي، ARTF ته 1.9 میلیارده امریکایي ډالر ورکړي.[485] USAID دا پلان هم لري ترڅو AITF ته له 417.6 میلیونو امریکایي ډالرو څخه زیات ورکړي.[486]

جدول 3.18

**د بودیجې په چوکاټ کې د USAID پروګرامونه**

| پروژه/د وجهی صندوق نوم | د افغان دولت مستقیم بودیجې ملګرې | خانګړې بانکي حساب؟ | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټول اټکل شوې لګښت (په ډالرو) | د 9/30/2014 مجموعي توزیعات (په ډالرو) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **له دولت څخه دولت ته دوه اړخیزې پروژې** | | | | | | |
| د بریښنا د لیږد مصرف او د اتصال پروژه (PTEC) | د افغانستان بریښنا شرکت (DABS) | هو | 12/5/2012 | 12/31/2016 | $342,000,000 | $7,049,338 |
| د روغتیا خدماتو (PCH) پروګرام لپاره د ملګرتیا قراردادونه | د عامې روغتیا وزارت (MOPH) | هو | 7/20/2008 | 1/31/2015 | 236,455,840 | 182,975,290 |
| د شبرغان د ګازو پراختیا پروژه (SGDP) | د کانونو او پطرولیم وزارت (MOMP) | هو | 5/26/2012 | 4/30/2015 | 90,000,000 | 0 |
| د کجکي واحد 2 پروژه (د کجکي بند اوبو بریښنا کې د توربین جنراتور واحد 2 نصبول) | DABS | هو | 4/30/2013 | 12/31/2015 | 75,000,000 | 9,067,538 |
| د کرنې پرمختیا صندوق (ADF) | د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت (MAIL) | هو | 7/18/2010 | 12/31/2014 | 74,407,662 | 54,000,000 |
| ابتدایی ښوونه او سواد او مسلکي زده کړه او روزنه (BELT) – د ټولنې میشته پروګرام | د معارف وزارت (MOE) | هو | 10/29/2013 | 10/28/2017 | 56,000,000 | 0 |
| د ملکي تخنیکي مرستې پروګرام (CTAP) | د مالیه وزارت (MOF) | هو | 9/30/2009 | 9/30/2014 | 36,256,560 | 28,810,610 |
| د افغانستان د کاري ځواک پراختیا پروژه (AWDP) | MOE | هو | 7/31/2013 | 04/03/2016 | 30,000,000 | 150,150 |
| ابتدایی ښوونه او سواد او مسلکي زده کړه او روزنه (BELT) – د نصابي کتابونو چاپ | MOE | هو | 11/16/2011 | 12/31/2014 | 26,996,813 | 23,016,555 |
| د E- حکومت سرچینې مرکز (EGRC) | د مخابراتو او معلوماتي ټیکنالوژۍ وزارت (MOCIT) | هو | 8/28/2013 | 6/1/2016 | 3,900,000 | 0 |
| **د ډیرې ډونرانو وجهی صندوق** | | | | | | |
| د افغانستان بیارغوني وجهي صندوق (ARTF) (اوسني ګمارنې) * | ډیرې | نه | 3/31/2012 | 3/31/2017 | 721,057,556 | 604,829,100 |
| د افغانستان د زیربنا وجهی صندوق (AITF) | ډیرې | نه | 3/7/2013 | 3/6/2018 | 417,600,000 | 105,000,000 |

یادونه: USAID
** ARTF ته یو مخکینی ګمارنه درلوده چې د 2012 مارچ کې پای ته ورسیده او ټولټال 1,371,991,195 ډالر پکې مصرف شول. د ARTF دوه ګمارنو څخه مجموعي توزیعات دا مهال 1,976,820,295 ډالر دي.

سرچینه: USAID، OPPD، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/9/2014.

د امریکا دفاع وزارت تمه لري ترڅو د LOTFA له لارې نږدې 2.09 میلیارده امریکایي ولګوي او د جون تر 30 پورې یې نږدې 1.16 میلیارده امریکایي ډالر توزیع کړي.[487] د امریکا دفاع وزارت دا تمه هم لري ترڅو د افغانستان دفاع وزارت لپاره په دغه کال کې نږدې 826.3 میلیونه امریکایي ډالر لپاره مستقیمه مرسته ولګوي، چې نږدې 227.7 میلیونه امریکایي ډالر یې پراختیایي او 587.1 میلیونه د عملیاتونو مرسته ده.[488]

## د بودیجې پر اساس ملکي مرسته

USAID د افغانستان حکومت له (1) اوو ادارو سره د دوو اړخیزو موافقو(2) له لارې د څو مرستندویانو په دوو وجهي صندقونو کې، د افغانستان د بیارغوني وجهي صندق (ARTF) او د افغانستان د زیربنا وجهي صندق (AITF) کې د بودیجې پر اساس مرسته برابروي.[489] د USAID په

جدول 3.19

**د متحده ایالاتو دولت د افغانستان بیارغوني وجهي صندوق (ARTF) ترجیحات***

| ترجیح ورکړل شوي پروژې | اداره | د افغان دولت مستقیم بودیجې ملکرې | د لومړي غوراوي کال | د اخرني غوراوي کال | ترجیح ورکړل شوی مجموعي مقدار (په ډالرو) |
|---|---|---|---|---|---|
| د ملي پیوستون پروګرام (NSP) | د امریکا د نړیوالي پرمختیا لپاره اداره | د کلیو بیارغوني او پرمختیا وزارت (MRRD) | هجري لمریز کال 1383 (SY) (3/20/2005–3/20/2004) | مالي کال 1391 (FY) (12/20/2012–3/21/2012) | $865,000,000 |
| د تعلیم کیفیت ته وده ورکولو پروګرام (EQUIP II) | د امریکا د نړیوالي پراختیا لپاره اداره | د معارف وزارت (MOE) | SY 1387 (3/20/2009–3/20/2008) | FY 1392 (12/21/2013–12/21/2012) | 92,000,000 |
| د کلیوال غریب سیمو لپاره د روغتیا فعالیتونو پیاوړي کول (SHARP) | د امریکا د نړیوالي پراختیا لپاره اداره | د عامې روغتیا وزارت (MOPH) | FY 1393 (12/21/2014–12/22/2013) | FY 1393 (12/21/2014–12/22/2013) | 107,230,000 |
| د ملي پیوستون پروګرام (NSP) ** | امریکا دفاع وزارت | MRRD | SY 1389 (3/20/2011–3/21/2010) | SY 1389 (3/20/2011–3/21/2010) | 50,000,000 |
| د عاجل دنده ګمارنې ملي پروګرام (NEEP) | د امریکا د نړیوالي پراختیا لپاره اداره | MRRD او د کار چارو وزارت (MOPW) | SY 1384 " (3/20/2006–3/21/2005) | SY 1387 (3/20/2009–3/20/2008) | 23,000,000 |
| په کرونده کې د اوبو مدیریت پروژه (OFWM) | د امریکا د نړیوالي پراختیا لپاره اداره | د کرنې، اوبه لګونې او مالدارۍ وزارت (MAIL) | FY 1393 (12/21/2014–12/22/2013) | FY 1393 (12/21/2014–12/22/2013) | 15,000,000 |
| د عامه مالي چارو مدیریت د اصلاح پروژه (PFMR II) | د امریکا د نړیوالي پراختیا لپاره اداره | د مالیه وزارت (MOF) | FY 1392 (12/21/2013–12/21/2012) | FY 1392 (12/21/2013–12/21/2012) | 6,000,000 |
| د غربت کمولو پروژې لپاره مایکروفاینینس | د امریکا د نړیوالي پراختیا لپاره اداره | د ماکیرو فاینس او ملاتړ اسانتیا افغانستان (MIFSA) | SY 1383 (3/20/2005–3/20/2004) | SY 1383 (3/20/2005–3/20/2004) | 5,000,000 |
| د پایلو اسانتیا لپاره د ظرفیت جوړولو پروژه (CBR) | د امریکا د نړیوالي پراختیا لپاره اداره | د اداري اصلاحاتو او ملکي خدماتو خپلواک کمیسیون (IARCSC) | FY 1393 (12/21/2014–12/22/2013) | FY 1393 (12/21/2014–12/22/2013) | 5,000,000 |
| (نا غوره شوي فنډونه، ټولټال) | د امریکا د نړیوالي پراختیا لپاره اداره | ډیری | SY 1381 (3/20/2003–3/21/2002) | FY 1393 (12/21/2014–12/22/2013) | 927,020,295 |

یادونه:
*پدې جدول کې هغه پروګرامونه شامل دي چې د متحده ایالاتو حکومت ورته د لږترلږه 5 ملیون ډالرو غوره والی بیان کړی په بیله بیا ترجیح نا ورکړ شوي مجموعي فنډونه. د ARTF اداره کونکي (نړیوال بانک) سره د تړون په وینا، ډونران کولی شي یوازې د هغوی د ټولټال مرستې تر 50% کارولو څرنګوالي باندې ترجیحات بیان کړي. د ARTF پاتې فنډونه ندي غوره شوي او ممکن د نړیوال بانک په رعایت وکارول شي.
** دا فنډونه د افغانستان سولې او بیایوځای کولو پروګرام (APRP) برخي په حیث د امریکا دفاع وزارت قوماندان بیړني غبرګون صندوق (CERP) څخه د NSP ټولنې بیرته راګرځولو تقویت او لومړیتوب (CRIP) ته لیږدول شوي و.

سرچینه: USAID، OPPD، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/9/2014؛ نړیوال بانک، *په مالي دریځ د اداره کونکي راپور*، 9/22/2014، مخ 6.

وینا، تولي دوه اړخیزي مرستي د بانک په هغه بیل حساب کې اچول کیږي چې د هر پروګرام لپاره د مالي وزارت لخوا تاسیس شوي.[490]

ARTF چې د نړیوال بانک لخوا اداره کیږي، د افغانستان د دواړو عملیاتي او پراختیایي بودجو لپاره مرستي برابروي ترڅو د افغانستان حکومت عملیاتونو، پالیسی اصلاحاتو، او ملي لومړیتوبونو پروګرامونو ملاتړ وشي.[491] AITF د څو مرستندویانو یو وجهي صندق چې د آسیا پراختیایي بانک لخوا اداره کیږي، د افغانستان زیربنا پروژو لپاره د مرستندویانو مرستي همغږي کوي.[492]د USAID په وینا، د بودیجي پر اساس د مرستو ډیری برخه لکه څرنګه چې په تیر کې وه بیا به هم د څو مرستندویانو وجهي صندقونو لخوا او په ځانګړي توګه د ARTF لخوا توزیع شي.[493]

لکه څرنګه چې په دغه جدول 3.19 کې ښودل شوي، د امریکا حکومت د ARTF خپلو مرستو څو برخي دغو پروګرامونو ته "غوره" کړي. د نړیوال بانک لخوا د اداره شوي ARTF موافقي پر اساس، مرستندویان نشي کولای دا ووایي چې مرستي به یې څرنګه لګول کیږي. هغوی یووازي کولای شي د خپلي تولي برخي اخیستني د 50% لپاره غوره والی وټاکي. د ARTF پاتي برخي مرستي د غوراوي پر اساس ندي او کیدای شي د نړیوال بانک اختیار پر اساس ورڅخه کار واخیستل شي.[494]

د 2012 په مي کې، د پراختیایي همکاری لپاره د ناروي اداري (NORAD) د افغانستان لپاره د ناروي مرستي ارزونه خپره کړي. NORAD ویلي چې د څو مرستندویانو وجهي صندقونو مرستي مرستندویان له خطر څخه ژغوري او کیدای شي د اداري او نظارت ستونزو لپاره د مرستندویانو غوښتنه کمه کړي.[495] ارزوني موندلي چې نړیوال بانک د 2009 له مارچ څخه د راپور تر خپریدلو، د افغانستان حکومت د غیر امنیتي عملیاتي لګښتونو نظارت لپاره د نظارت استازي ګمارلي، او د امنیت خطرونو له کبله یې له کابل دباندي له ساحي څخه کومه لیدنه نده ترسره کړي.[496]

په دغه ربع کې، سیګار له USAID څخه غوښتنه کړي ترڅو د ARTF عملیاتي لګښتونو (د روان لګښت کړکی) نظارت استازو په اړه معلومات برابر کړي. USAID ویلي چې دغه اداره نه پوهیږي چې د نظارت استازو له ولایتونو څخه څومره لیدنه کړي او لدغو ساحو څخه معلومات نلري. دغي اداري دا هم ویلي چې پداسي حال کې چې نړیوال بانک کیدای شي پخپله خوښه له مرستندویانو سره د نظارت استازو راپورونه شریک کړي، مګر په منظمه توګه یې دا کار نه کوي.[497] USAID په تیر کې راپور ورکړی چې د NORAD د راپور په وخت کې د نظارت استازي بدل شوي او د نظارت نوي استازي په ولایتونو کې د کارکوونکو مرکزونه لري.[498]

د USAID په وینا، د دوو اړخیزو بودیجي پر اساس پروګرامونو له لاري د مرستو حقیقي توزیع له هغه څه چې دواړه اړخونه یې غواړي کمه ده. USAID د بودیجي ترسره کولو ټیټه کچه د افغانستان حکومت د کم ظرفیت او د USAID د خطر کمولو ګامونو له کبله چې USAID ورڅخه د بودیجي پر اساس په مرستو کې کار اخلي، ګڼي.[499]

د 2010 کابل په کنفرانس کې، د افغانستان حکومت ته لارښوونه شوي ترڅو د مرستندویانو د محدودو سرچینو او د وزارتونو د تطبیق کم ظرفیت په غبرګون کې د ملي لومړیتوبونو پروګرامونه (NPP) جوړ کړي. هر NPP مهمي موخي او په منځني پړاو کې د پایلو، رسیدونکو، او مهمو فعالیتونو لپاره د تطبیق پلان لري. د تیرو ستراتیژیو په څیر نه چې نړیوالي تولني مشري کوله، د NPPs مشري د افغانستان حکومت لخوا کیږي، او مرستندویان، مدني تولني، او خصوصي سکتور د تولي پروسي لپاره د ملګرو په توګه خدمت کوي.[500]

د افغانستان د قضايي بنسټونو لپاره د USAID مرستي پروګرام په وينا، سره لدې چي NPPs ورانديز شوي، د افغانستان بوديجي د برابرولو يا تطبيق په طريقو کي کوم لوی بدلو ندی راغلی. د پراختيايي بوديجي تطبيق کچه اوس هم د 50% يا کمي په شاوخوا کي ده. د ALBA په وينا، ډيری وزارتونو او مرستندويانو پدې اړه کوم ښکاره بدلون ندی ښودلی چي په پروژو کي NPPs څرنګه برابريږي او تطبيقيږي ترڅو د فعاليت هغې نښي او موخې چي په NPPs کي ښودل شوي لاسته راوړل شي. ALBA د NPP د پرمختګ کموالی د "پخوا په څير" د افغانستان کابيني محدودي کچي ژمني برخي اخيستني، د مرستندويانو غير منظم هڅو، او عموماً په وزارتونو کي د فعاليت لارښووني کموالي، چي تر ډيري کچي د وزارتونو د فعاليت نظارت تر کچي پر لګښتونو کار کوي، له کبله ګڼلي. ALBA منلي چي وزارتونو د فعاليت نښي جوړي کړي؛ مګر هغوی يووازي پر کاغذ باندې دی او د حساب ورکولو د يوه ښه کاري چوکاټ او تعقيبي ميکانيزم لخوا يي ملاتړ نه کيږي.[501]

## د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو ته د بوديجي پر اساس مرسته

د بوديجي پر اساس د مرستي ډيره برخه د افغانستان امنيتي ځواکونو لپاره ده. د امريکا دفاع وزارت د افغانستان حکومت ته لدغو لارو د بوديجي پر اساس مرسته برابروي (1) د افغانستان امنيتي ځواکونو د وجهي صندق (ASFF) له لارې د افغانستان دفاع او کورنيو چارو وزارتونو ته مستقيمه مرسته، او (2) د افغانستان د قانون حاکميت او نظم لپاره د ځو مرستندويانو وجهي صندق يا LOTFA کي برخه اخيستنه. LOTFA د UNDP لخوا اداره کيږي او تر ډيري کچي د افغانستان ملي پوليسو معاشونه تمويلوي.[502] د مالي وزارت لپاره هم مستقيمه مرسته برابريږي، او وروسته بيا د افغانستان دفاع او کورنيو چارو وزارتونو ته د اړتيا پر اساس ورکول کيږي.[503]

د امريکا دفاع وزارت په وينا، د افغان امنيتي ځواکونو لپاره افغان بوديجي ته د متحده ايالاتو مستقيم مرستو نظارت کولو لپاره د امنيتي ليږد ګډه قومانده – افغانستان (CSTC-A) ډيری ميکانيزمونه لري. CSTC-A د دوه اړخيزې ژمني يو مکتوب کاروي ترڅو داډ ترلاسه کړي چي افغان دولت د CSTC-A فنډونو (په شمول د هدف، وخت او مقدار) درست کارولو لپاره شرايطو او اوضاع او د فنډونو ناسم کارولو ممکن پايلو باندې پوهيږي.[504]

په اګست 2013 کي CSTC-A د "مالي دستو" يوه ستراتيژي ومنله، کومه چي د ډونر فنډونو ډيريدونکي توزيع سره ترکيب شوي، ترڅو افغان ملکري د محاسبې وړ او شفاف مالي پروسو پلي کولو ته وهڅوي (په ليور يا دستي ستراتيژۍ په شمول د کليدي مرحلو لانورو معلوماتو لپاره د متحده ايالاتو کانګريس ته د سيګار د اپريل 2014 *درې مياشتني راپور 149–151 مخونه وګورئ). د CSTC-A ژمني مکتوب تصريح کوي چي MOD او MOI بايد د ځانګړې محاسبې کوډونو ته فنډونه مقرر کړي او له وزارتونو څخه غواړي چي د محاسبې اوتومات سيستمونه وکاروي لکه د افغانستان مالي مديريت د معلوماتو سيستم (AFMIS). CSTC-A د خپلواک ارزونو ترسره کولو لپاره د پلټني ځانګه رامنځته کړي، کوم چي د افغان مالي پروسو پراخه بررسي سرته رسوي.*[505]

د CSTC-A په هرات ولايت کي د MOI سونګ توکو پيرود، د MOI پوښاک پيرود او د MOD معاشاتو پلټني دامهال د مالي دستو پروسي مخنيوي مرحله کي دي، چي پدې کي CSTC-A د اغيزمني شوي بوديجي کوډ 50% توزيع خندوي.[506] د 2014 تر سپتمبر پورې، CSTC-A د 651 مليون افغانيو (13 مليون ډالر) بيرته ترلاسه کول پيژندلي چي د بيری تعديل (1941 قانون چي د متحده ايالاتو ځيني توکو په شمول د منسوجاتو پيرود هڅوي)[507] سره نه اجابت له امله د پوښاک پيرود کي په نامناسب ډول ورکړل شوي او د اټکل له مخي 96 مليون افغانی (2 مليون ډالر) په بې رسيده مصارفو کي چي د بيري تعديل سره مخ دي.[508]

### د سيګار ځانګړې پروژې

سيګار پدې ربع کي د LOTFA اداره کولو په تړاو انديښنو څرګندولو لپاره CSTC-A او UNDP ته د معلوماتو غوښتني مکتوبونه وليږل. برخه 2، مخونه 43–44 وګورئ.

هره اونۍ CSTC-A د AFMIS مخارجو راپورونه د غیر عادي ټکو موندلو لپاره نظارت کوي ترڅو راتلونکي تحقیقاتو ته لاره پرانیزي. د CSTC-A په وینا، دا غیرعادي موارد هغه مهال پیښ کیږي کله چې مخارج د محاسبي کوډونو کې راجستر وی او CSTC-A یې ونه مومي یا کله چې په درست محاسبي کوډ کې مخارج د ژمني مکتوب ځانګړي ارقامو څخه ډیر شي.[509] CSTC-A د AFMIS معلومات هم کاروي چې یادونې ونیسي ایا د مخارج ځانګړی کوډ لکه معاشات او ورځني مزد یا د پانګو ترلاسه کول د "اجرا کیدو په حال" کې دي (د تمه شوي توزیعاتو څخه ټیټ).[510] د CSTC-A په وینا، افغان دولت ته مستقیم مرستي د افغان مالي کال بودیجي بشپړ اجرا کولو (مصرف) کې د دوی د ناکامۍ له امله د کمولو خطر سره مخ دي. لا د پام وړ، CSTC-A د ټوکو د اجرا نرخونو سست والی ملاحظه کوي لکه اجناس او خدمات د افغان وزارتونو وړتیا کمونکو په توګه چې وښیي دوی د ډونر مرستو پروړاندې ښه خدمت کونکي دي.[511]

CSTC-A خبرداری ورکوي چې د AFMIS معلومات د افغان وزارت کارمندانو لخوا دننه کیږي چې د AFMIS معلوماتو اعتبار د افغان دولت ورته کارمندانو پورې وابسطه کوي. د مثال په توګه که چیرې د یوه انتقال تکل وشي، CSTC-A به ترې په لازم ډول خبر نشي کړی. CSTC-A د AFMIS معلوماتو د کیفیت د اعتبار کومو دوره ای کتنو څخه خبر ندی.[512]

برسیره پردې، د ایساف عمومي قوماندان جان کمپبیل یادونه کړې چې د افغان امنیتي ځواکونو لپاره فنډونو څارنه کې نړیوال ځواکونه د نوي ننګونو سره مخ کیږي. د جنرال کمپبیل په وینا، نړیوال ځواکونه نور د نړیوالو فنډونو د استعمال تر څار لاندې نیولو لپاره په لیواګانو او کنډکونو کې شتون نلري. پرځای یې نړیوال ځواکونه به تر قل اردو ګانو او وزارتونو پورې محدود وي ترڅو د افغان دولت بودیجي پلان کولو او اجرا کولو سیستمونو باندې تمرکز وکړي. هغه خبرتیا ورکړه چې دا سیستمونه د بهرنیو د پوهیدنې لپاره ننګونکي دي.[513]


**اشرف غني، د** افغانستان اسلامي جمهوریت ولسمشر په کابل کې د ولسمشرۍ ماڼۍ کې په لاره اچول شوي یوه غونډه کې وینا کوي. (د متحده ایالاتو د پوځ انځور)

د CSTC-A ارزونه دا ده چې یوځل فنډونه د افغان دولت بانکي حساب ته وردننه کړی شو، نو څار یې د پام وړ ننګونکی شي. په 2014 فبروري کې د CSTC-A عمومي قوماندان په وینا، "دا مهم دي چې په یاد یې وساتو، یوځل چې فنډونه د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ته ورکړل شو، نو حاکم ملت ممکن دغه فنډونه د متحده ایالاتو د دفاع وزارت سره د نورې همغږۍ پرته وکاروي."[514] د CSTC-A مستقیم مرستي د افغان دولت عوایدو ټولو سرچینو (په شمول د نورو د ډونرانو لخوا مرستي او داخلي عواید) سره مدغم شوي او د مرکزي بانک د خزاني یووستوي حساب کې خوندي کیږي. د CSTC-A په وینا، دا طریقه د ساده توب کچه لري او افغان دولت ته نرمي ورکوي، مګر د CSTC-A اضافي هڅو ته اړتیا لري چې د فنډونو راپور ورکړل شوي کاروني ته سره سمون ورکړي.[515] د دفاع وزارت عمومي مفتش (DOD OIG) موندلي چې د CSTC-A د خزاني یووستوي حساب کاروونې یوې پایلې په حیث، CSTC-A نشي کولی تایید کړي چې د ASFF ته مستقیم مرستي د ژمني مکتوبونو کې تعریف شوي اهدافو لپاره یې کارول شوي که ندي.[516] پدې ربع کې CSTC-A راپور ورکړ چې د MOF څخه غوښتلي یو ځانګړی بانکي حساب جوړ کړي او د مستقیم مرستو لپاره بانکي بیان چمتو کړي.[517]

په اګست کې، DOD OIG یوه پلټنه خپره کړه چې پایله کړې یې و افغان دولت د مناسب ډاډ چمتو کولو لپاره اساسي کنټرولونه نلري چې وښيي د ASFF مستقیم مرستو 3.3 ملیارد ډالر یې په مناسب ډول مصرف کړي.[518] پلټنې موندلې چې MOD او MOI د معاشاتو پروسې باندې کافي کنټرول نلري ترڅو باور رامنځته کړي چې د ASFF مستقیم مرستې د اړوند اهدافو لپاره کارول شوي او دا چې د ANSF معاشات په مناسب ډول ورکړل شوي. د DOD OIG په وینا، دا ځکه پیښ شو چې MOD او MOI د معاشاتو پروسې باندې کنټرولونو رامنځته کولو او پلې کولو لپاره ظرفیت نلري.[519] افغان دولت د محاسبې (AFMIS) او بشري منابع سیسټمونه رامنځته کړي، مګر د مالي او بشري منابع سیسټمونو ترمنځ لازمي ارتباط ندی رامنځته شوی.[520]

DOD OIG دا هم مشاهده کړې چې MOF د فنډ کوډونه په AFMIS کې د ASFF مستقیم مرستې کوډونو څخه د افغان دولت عوایدو کوډونو ته بدل کړي کله چې فنډونه ترلاسه شوي. د MOF چارواکو ویلي چې AFMIS او پرسونل یې د فنډ د محاسبې سرته رسولو ظرفیت نلري، په کوم کې چې د فنډونو سرچینې (لکه د CSTC-A مستقیم مرستې) پیژندل کیږي. DOD OIG مشاهده کړې چې AFMIS د فنډ پر بنسټ یو سیسټم دی، نو همدې لپاره باید د دغه معلوماتو تعقیبولو وړتیا ولري. [521] د DOD OIG پلټنه پدې اړه شرح نه وړاندې کوي چې ولې MOF د عوایدو کوډونه بدل کړي.

## ملي حکومتولي

متحده ایالات د افغانستان حکومتولی نهادونو ته مرسته چمتو کوي چې ظرفیت جوړونه یې وکړي ترڅو اساسي خدمات وړاندې کړي او له مخې یې افغان وګړو پروړاندې خپل مشروعیت ډیر کړي. مرسته له دوه لارو چمتو کیږي: (1) د قراردادونو، مرستو او تعاوني تړونونو او په مخ پر ډیردونکي توګه (2) د مستقیم بودیجې مرستې له لارې. د امنیتي لیږد دې اخرني کال کې، د متحده ایالاتو حکومت د افغان حکومتي نهادونو ډیریدونکي مالي او پروګرام مدیریت ظرفیتونو باندې ځانګړی تمرکز لري. دا د نوموړي هدف ترلاسه کولو لپاره د ظرفیت جوړوني او مستقیم بودیجې پروګرامونو ترکیب کاروي.[522]

د ټوکیو ځواړخیز حساب ورکووني کاري چوکاټ (TMAF) د نړیوالې بوختیا اساس په توګه کار کوي او د ځو اړخیز حساب ورکووني سنجولو لپاره موافق وسیله ده.[523] نړیوالې ټولنې او افغان دولت سره د 2012 جولای کې د ډونرانو په ټوکیو کنفرانس کې په TMAF موافقه وکړه. وروسته بیا TMAF د افغان دولت او نړیوالې ټولنې لپاره مینځنۍ اهدافو سره لوړ کړی شو چې د "سخت محولاتو" په نوم یادیږي لکه د کان کیندنې قانون تصویبول.[524]

سیګار په تیرو کې د TMAF "سخت محولاتو" پرمختګ باندې راپور ورکړی و. (د لانورو معلوماتو لپاره د متحده ایالاتو کانګریس ته د سیګار د 2014 اپریل *درې میاشتنې راپور 127–129* مخونه *وګورئ). د 2014 جنوري 29 باندې د ګډې همغږۍ او نظارت هییت (JCMB) ځانګړې ناسته ترسره شوه ترڅو د TMAF پرمختګ وارزوي او د ټاکنو وروسته نوي افغان دولت په تمه لاربښوونه رامنځته* کړي.[525] د USAID په وینا، د JCMB ناسته د موجود سخت محولاتو بیاکتنې لپاره اخرنی فرصت و. متحده ایالاتو د کان کیندنې قانون تصویب لپاره په موقتي ډول لاره تر د 2014 اپریل 16 پورې وغزوله، ولې دغه فرصت د دولت له قانون تصویبولو مخکې پای ته ورسید.[526]

پدې ربع کې USAID راپور ورکړی چې د پالیسی مسلي په حیث، د متحده ایالاتو کابل سفارت د سخت محولاتو پیلي نسخه نوره نه ارزوي یا تازه کوي. USAID پدې دوبي کې په لندن کې د نومبر لپاره په ازمایښتي توګه پر افغانستان پلان شوي نړیوال کنفرانس وروسته د نوي دولت او "تازه" TMAF سره بوختیا ته په تمه دی.[527] د USAID په وینا، د سخت محولاتو زړي برخي نور د بحث حصه ندي. د اصلي لیست ځنځه ځیني ناتکمیل کړني ممکن راتلونکي کاري چوکاټ ته وځیژول شي، خو دا هم تراوسه ندي مشخص شوي.[528] USAID په تیری ربع کې راپور ورکړی و چې د دې نوي اهدافو د نهایی کولو پروسه به ممکن د لندن کانفرانس کې او 2015 پيل پوري ادامه ومومي.[529]

د کابیني سره خپلي لومړی ناسته کې ولسمشر غني وزیرانو ته لارښوونه وکړه چې په 15 ورځو کې د هر وزارت د سیاسي ګمارنو او قراردادي کارمندانو په اړه د هغوی د جنسیت، تعلیم کچې او کاري خدمت مودې سره معلومات وړاندې کړي.[530]

## د ظرفیت جوړوني پروګرامونه

د USAID د ظرفیت جوړوني پروګرامونه پدې لټه کې دي چې د مستقیم بودیجي مرستي لپاره د افغان وزارتونو د چمتوالي، اداره کولو او محاسبي وړتیا ته وده ورکړي. د سګار د 2014 جنوري د USAID د افغان اوه وزارتونو د متحده ایالاتو حکومت ځنځه مستقیم بودیجي مرستي ترلاسه کولو ارزونو پلټني موندلي چې دغه ارزونو او بیاکتنو پیژندلي چې د خطر کمولو اقداماتو پلي کولو پرته د فنډونو لپاره د مؤثر اداره کولو او محاسبي لپاره یو وزارت هم وړتیا نلري.[531] لکه ځنګه چې په جدول 3.20 کې ښودل شوي، پروګرامونو کې د USAID د 31 ملیون ډالرو رهبری، مدیریت او حکومتولی پروژې شامل دي چې هدف یې د افغانستان مالي مدیریت سیستمونو پیاوړي کول او د عامي روغتیا او معارف وزارت ظرفیت دی چې د مستقیم بودیجي مرستي ډیرولو لپاره د 2010 کابل نړیوال کنفرانس اړتیاوې پوره کړي.[532] USAID د ښځو چارو وزارت نهادي بیاجوړونه او واکمند کولو (MORE) پروژې 15 ملیون ډالر هم تمویلوي، کوم چې د نورو شیانو ترڅنګ وزارت سره مرسته کوي خپل مالي مدیریت ته وده ورکړي، لکه ځنګه چې راتلونکي مستقیم بودیجې لپاره اړینه ده.[533]

جدول 3.20

**په ملي کچه د USAID د ظرفیت جوړوني پروګرام**

| د پروژې موضوع | د افغان حکومت ملګری | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | د 9/30/2014 پوري مجموعي توزیعات (په ډالرو) |
|---|---|---|---|---|---|
| د مشرتابه، مدیریت او حکومتولي پروژه | د عامي روغتیا وزارت<br>د معارف وزارت | 9/25/2012 | 10/31/2014 | $31,248,400 | $24,963,134 |
| د افغانستان د قانون جوړونکو بنسټونو مرسته (ALBA) | پارلمان | 3/28/2013 | 3/27/2018 | 23,455,326 | 5,367,139 |
| د ښځو چارو وزارت د نهادي جوړښت او واکمند کول (MORE) | د ښځو چارو وزارت | 12/20/2012 | 12/19/2015 | 14,182,944 | 3,686,349 |

سرچینه: USAID، د سیګار معلوماتو غوښتني ته ځواب، 10/9/2014.

د ډونر تمویل شوي ځیني برنامو له لارې رامنځته کړی شوي "موازي ملکي خدماتو" کې د افغان وزارتونو لانور ملکي خدماتو او وابسطګۍ کمولو باندې تکیه کولو ته هڅولو لپاره USAID پریکړه کړې چې د پایلوپلپاره د ARTF ظرفیت جوړوني (CBR) برنامې ته مرسته واړوي. [534] د مثال په توګه، د سیمه ایزې حکومتولی خپلواک ریاست (IDLG) په 2012 کې خبرداری ورکړ چې "منظم ورکړې مهارت کې د ملکي کارمندانو لوی اکثریت محدود مهارتونه لري او له هغه دندو ډیری یې نشي ترسره کولی چې /[افغان دولت] او نړیواله ټولنه یې غواړي چې IDLG یې وړاندې کړي". د همدې لپاره IDLG د IDLG مدیریت، تخنیکي او اداري بستونو لپاره له بهر تمویل شوي کارمندانو باندې په لویه کچه تکیه کړې. دغه کارمندانو د ملکي کارمندانو په توګه کار کړی حتی که دوی رسما د دغه دریځ درلودونکي هم نه و او "دوهم ملکي خدمت" یې رامنځته کړی. [535] CBR د دولت په کچه روان عامه اداري اصلاحات، د ملکي کارمندانو لپاره روزني، او د وزارت اصلاحاتو ملاتړ لپاره محدود تخنیکي مرسته ملاتړ کوي. [536]

CBR افغان وزارتونه د ملاتړ ډیریدونکي کچو درې ردیفونو ته ترتیب کوي. د افغان دولت ټول وزارتونه په اوتومات ډول په پیل کې ردیف 1 په توګه درجه بندي شوي او د ردیف 2 او 3 ملاتړ ترلاسه کولو لپاره باید سیالي وکړي. د ردیف 2 لپاره اوه معیارونو کې دا موارد شامل دي: په مرکزي او نیمه ملي کچو کې د تادیې او درجې اصلاحاتو کې پرمختګ وکړي؛ د بشري منابع یوه کاري څانګه چې د فعالیت ارزوني له لارې د 30% تادیه او درجې اصلاح ارزول شوي ملکي خدمت کارمندان ولري؛ یو تصویب شوی ستراتیژیک یا سوداګریز پلان چې لږترلږه د یوه کلني پرمختګ راپور سره وي؛ د لږترلږه 40% پرمختیا بودیجې د اجرا نرخ (د بودیجه ورکړل شوي مقدارونو برخه چې د ادارو واقعیي مخارج کنټرولوي)؛ او وزارت یا (1) د ټولو وزارتونو لخوا راټول شوي عواید لږترلږه 5% راټول کړي یا (2) وزارت د بشري پانګې پرمختیا، کلیدي اقتصادي زیربنا پرمختګ، یا قضایي خدماتو کې لږترلږه یو کلیدي حکومتي خدمت سره مرسته وکړي. د ردیف 2 دریځ ته لوړیدو لپاره یو وزارت باید لدغه اوه معیارونو څخه لږترلږه پنځه پوره کړي. [537]

په 2014 اګست کې، نړیوال بانک ومونډل چې د انتخاب شوي وزارتونو ظرفیت او فعالیت کې پرمختګ لپاره د افغان دولت مرسته کولو کې د CBR پرمختیا پروژې په لړ کې د دوی تعهداتو او خدماتو وړاندې کولو کې په مینځني توګه غیر رضایتبخش پرمختګ شوی. نړیوال بانک یادونه کړې چې د پرمختللي سوداګرۍ پروسو او خدمت وړاندې کولو ودې پوښونکي شاخصونو لپاره وزارتونه پخپله د معلوماتو پوازینی سرچینې دي، او دا چې نوموړي معلومات د CBR پروګرام لخوا ندي تایید شوي. [538]

د پروژې ډیزاین، ظرفیت مسلو او سیاسي-اقتصادي فاکتورونو له امله ټولیز پرمختګ یې سست و. د USAID په وینا، دامهال د دوه لوی خدمت وړاندې کونکو وزارتونو سره افغان دولت کې د پروګرام لپاره روښانه اړتیا ده چې پدې کې یې برخه اخیستې او 50% وړ وزارتونو د دوی دمخه-شرایطو غوښتنلیکونه سپارلي دي. USAID باور لري چې د ډونر تمویل شوي کارمندانو باندې تکیه کولو څخه به CBR ډیر ګټور وي. [539] په هرصورت، د پروژې پلي کولو ګام د ټاکل شوي وخت سره د پروژې موخو ته رسیدو لپاره د پام وړ سرعت ته اړتیا لري. [540]

USAID د افغانستان قانون جوړوني نهادونو ته د مرستي (ALBA) پروژې 23.5 ملیون ډالر تمویلوي ترڅو مرسته وکړي چي د افغانستان پارلمان د خپلواک او مؤثر قانون جوړوني، نماینده، او څارنیز نهاد په توګه عمل وکړي.[541] په تیرو څو میاشتو کې، ALBA د مشرانو جرګي دارالانشا مشري سره له نږدې کار کوي ترڅو د 2014 اکتوبر لپاره مهالویش شوي دوره کې مشرانو جرګه ملاتړ کړي. د دې لارښووني هدف نوي ټاکل شوي سناتورانو ته د معلوماتو او روزني چمتو کول دي. دا لارښوونه/روزنه به د سناتورانو سره مرسته وکړي چي په قوانینو او طرزالعملونو، د مشرانو جرګي جوړښت او د دوی کلیدي قانون جوړوني او څار او د نماینده توب دندو باندې پوهه شی.
د تیرې ربع په جریان کې، ALBA د تیرې پارلماني دورې په جریان کې د *ولسي جرګې* او مشرانو جرګي د دارالانشا کارمندانو لپاره یولړ روزني په لاره واچولي چي په پراخه توګه پکي برخه واخیستل شوه. ALBA د منظم پارلماني راپورونو له لارې افغان مدني ټولني او پارلمان ترمنځ راکړه ورکړه هم ملاتړ کړې ـ په شمول د بشپړ راپورونو، کمیسیون کلیدي راپورونه، او د قانون جوړوني د تعقیب راپورونه ـ چي دا به په پراخه کچه د مدني ټولنو نهادونو ته تکثیر کیدل.[542]
په NPPs د ALBA راپور موندلي چي افغان پارلمان د NPPs سره بوخت نه و او هیڅ کله یې ورسره مشوره نده کړې یا رسما یې د دوی په اړه خبر ورکړی. دا د افغانستان اساسي قانون 90 مادې سره په ټکر کې دی چي پارلمان ته واک ورکوي "د اقتصادي، ټولنیزې، کلتوري او ټیکنالوژیکي پرمختیاو لپاره پلانونه تصویب کړي، /[او] د دولت بودیجه تصویب کړي."[543]

## ملي شورا

پارلمان له جولای 23 څخه تر سپتمبر 6 پورې رخصت و.[544] د State په وینا، د پارلمان رخصتیو او ټاکنو د اجرایوي برخو فعالیتونو پارلماني تصویب ځنډولی و.[545]
د سپتمبر په 7، مشرانو جرګي د خپلو ټولو غړو په شتون د دوبي لومړۍ غونډه پیل کړه. نصاب له 102 څخه 60 حاضر سناتورانو ته رسیدلی و. USAID د مشرانو جرګي نصاب پوره کولو کې راتلونکي ننګونو وړاندوینه کوي چي تر هغې به ترڅو د ولایتي شوراګانو پایلي ومنل او تصدیق شي او د ولایتي شوراګانو څخه مشرانو جرګي ته سناتوران انتخاب شي.[546]
ولسي جرګي هم خپله د ټولو غړو غونډه د دوبي لپاره د سپتمبر په 7 په لاره واچوله. نصاب پوره نه و؛ له 249 غړو څخه یوازې 64 حاضر و. په هرصورت، USAID وړاندوینه کوي چي غړي به له ولایاتو راستنه او د نصاب نه پوره کیدو مسله به حل شي.[547]
ولسي جرګي د عامه کار چارو وزیر (MOPW) په فاریاب او بادغیس ولایتونو کې د آسیا پرمختیایی بانک لخوا ملاتړ شوي سړک قضیې په اړه پوښتلو لپاره احضار کړ چي د MOPW قرارداد شوي و. د راپور له مخې 100 ملیون ډالر قراردادي ته ورکړل شوي و چا چې د 15% کار بشپړیدو څخه وروسته پریښی. د کار وزیر وویل چي "زه تل د آسیا پرمختیایی بانک دې قرارداد سره مخالف وم" او په پروژه کې دخیل شرکتونو باندې یې تور ولګاو.[548]

مشرانو جرګې د کورنیو چارو او دفاع وزیران د امنیتي وضعیت او پاکستان سره پر پولي مسلو د پوښتنو لپاره احضار کړل. د پارلمان یو غړی وروسته له هغه له پارلمان څخه و ایستل شو چې د دفاع وزیر باندې یې تور ولګاو چې ته د طالبانو جاسوس یې.[549] مشرانو جرګې د مالیه وزیر هم احضار کړ چې د دولت معاشاتو په اړه ورسره خبرې وکړي؛ په هرصورت د وزیر پرځای معین یې پدې غونډه کې برخه واخیستله.[550]

## سیمه ایزه حکومتولي

متحده ایالات له هغو لومړیتوبونو ننګه کوي چې په سیمه ایزه کچه افغانانو ته په خپل حکومت کې براخه ونډه ورکوي. هدف یې د سیمه ایز حکومت لانور افغان وګړو ته د لید وړ، محاسب او مسؤل کول دي، په ځانګړي توګه سویل او ختیځ کې چیرې چې ترهګري پراخه ده.[551]

د اکتوبر په 2، ولسمشر غني اعلان وکړ چې ټول والیان به لدې وروسته سرپرستان وي، پرته لدې واک څخه چې څوک په دندو وګماري یا له دندې یې لرې کړي، تر هغه وخت پورې چې ځای ناستی یې وټاکل شي. غني وړاندیز کړی چې د والیانو ټاکلو لپاره باید شرایط رامنځته شي.[552] عطا محمد نور، د بلخ سرپرست والي چې د عبدالله عبدالله ټینګ ملاتړی دی چې د ټاکنو پرمهال یې ویلي و "که د رایو بیاشمیرنه یوطرفه او له درغلی ډکه وه نو موږ به غلي نشو او پایلي به و نه منو،" ولسمشر غني ته یې وویل چې د ځای ناستي امر درناوی به وکړي.[553]

## د کلیو د ثبات پروګرامونه

USAID د ثبات ګڼ پروګرامونه لري چې موخه یې له افغان حکومت سره مرسته ده څو بې ثباته سیمو ته خپله ولکه وغځوي او د سیمه ایزې حکومتولي ظرفیتونه لوړ کړي. پدې پروګرامونو کې د USAID د کلیدي سیمو ثبات (SIKA) څلور پروژې، دوه د ټولنې ارتباط نوښت (CCI) پروګرامونه، افغان ملکي مرستي پروګرام (II (ACAP II)، او د ARTF ملي پیستون پروګرام (NSP) شامل دي. متحده ایالاتو غوښتنه کړې چې د ARTF مرستو 865 ملیون ډالر یې NSP ملاتړ کړي، مګر له 2012 راهیسې د NSP لپاره ملاتړ ندی غوره کړی.[554] جدول 3.21 تر نن نیټې د پروګرام ټولټال لګښتونه او توزیعات لنډویز کوي.

USAID د ثبات نوښتونو (MISTI) پروژې اغیزې اندازه کوي، د دریمې ډلې د نظارت او ارزوني یو پروګرام چې د USAID د ثبات برنامې ارزوي، او د USAID د ثبات پروګرامونو د څار په ملاتړ کې 84 تصدیقونه پرمخ وړی. تر 183 تصدیقونه یا راپورونه په اګست او سپتمبر کې د بشپړیدو لپاره تر کار لاندې ول. MISTI دا تصدیق کوي چې انفرادي فعالیتونه، پروژې او نور نوښتونه په هغه ډول پلي شوي یا پلي کیږي لکه څنګه چې د SIKA څلور برنامو، ACAP II، او کندهار

جدول 3.21

**د USAID سیمه ایز (کلیوالي) پروګرامونه**

| د پروژې موضوع | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | د 9/30/2014 پورې مجموعي توزیعات (په ډالرو) |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان بیارغوني وجهی صندوق (ARTF) * له لارې د ملي پیوستون پروګرام (NSP) | 2004 | 2012 | $865,000,000 | $865,000,000 |
| په کلیدي سیمو سویل کې ثبات (SIKA) ** | 4/10/2012 | 4/9/2015 | 234,213,281 | 48,627,514 |
| SIKA ختیځ | 12/7/2011 | 9/6/2015 | 177,054,663 | 78,182,534 |
| د ټولنې د تمایل نوښت (ختیځ، سویل، سویل لویدیز) *** | 3/1/2012 | 2/28/2015 | 161,499,422 | 60,127,085 |
| د افغانستان ملکي مرستې پروګرام (ACAP II) | 9/27/2011 | 9/26/2014 | 64,000,000 | 45,194,000 |
| SIKA لویدیز | 1/29/2012 | 8/31/2015 | 54,000,000 | 34,412,722 |
| SIKA شمال | 3/15/2012 | 4/30/2015 | 38,000,000 | 24,089,255 |
| د ټولنې د تمایل نوښت (شمال، لویدیز) *** | 9/10/2013 | 9/9/2015 | 36,221,640 | 3,758,532 |

یادونه:
*پدې کې ARTF ته د USAID مرستې شامل دي، د ملي پیوستون پروګرام لپاره د ترجیح بیانولو سره (NSP). له نړیوال بانک سره د موافقت پر بنسټ، مرسته کونکي یواځې د خپلو مرستو په برخه کې د ټولې ونډې د 50% د لګولو د ساحې غوراوی کولای شي. ARTF ته چمتو کړی شوي پاتې نا ترجیح شوي فنډونه هم ممکن د NSP ملاتړ لپاره وکارول شي.
** ټولټال اټکل شوي لګښت او د توزیع معلوماتو کې د دواړه SIKA سویل لپاره ټولټال ګمارنې شامل دي.
*** د 2014 سپتمبر تر 15 پورې. دا مصارف عملیاتي مخارج نه منعکس کوي.

سرچینه: USAID، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 9/29/2014 او 10/9/2014.

خواړو زون (KFZ) لپاره راپور ورکړ شوي، داسې یوه پروژه چې د تریاکو کښت لامل کیدونکي بی ثباتې سرچینو او علتونو په نښه کولو لخوا مشروع معیشیتونه پیاوړي کوي. MISTI غواړي چې د USAID ثبات ټولو پروژو لړترلړه 50% په ساحه (سایټ) کې تصدیق ترسره کړي.[555]

MISTI د ثبات برنامې پلي کونکي ملګرو کافي او درست جیو فضایی همغږۍ چمتو کولو کې پاتې راتلو او د ثبات برنامو کې د معیاري پروژې تعقیب نه شتون له امله د پروژې تصدیق کې ننګونو سره مخ شوی. MISTI USAID ته د پروژو یو لیست سپارلی چې د سټلایټ عکسونو له مخې شکمن موقعیتونو کې دي لکه په غرونو ساحه کې یا د وګړو د اوسیدو ځخه لرې. له هغه وخت ځخه، MISTI د جیو فضایی همغږۍ معلوماتو کې پرمختګ په ګوته کړی.[556] دا حقیقت چې MISTI د جیو فضایی معلوماتو کیفیت مسله راپورته کړې د کیفیت کنټرول مقدار په اړه یې پوښتنې راولاړې کړې چې پلي کونکي ملګري یې تجربه کوي. سیګار مخکې د USAID افغانستان زیربنا او امنیت کارتوګرافي سیسټم (AISCS) کې ساتل شوي معلوماتو درستی په اړه لیکلي او د ثبت 227 بیلګو ځخه 42 په اړه یې اندیښنې راپورته کړې چې د جیو فضایی اطلاعاتو ملي اداری (NGA) په AISCS کې د ناسم یا غیرقاطع همغږۍ درلودل په نښه کړي.[557]

## په کليدي ساحو کې ثبات (SIKA)

د SIKA هدف د افغان دولت ولسوالۍ او ولایت په کچه چاړواکو سره مرسته ده چې د سیمه ایز وګړو پرمختیا او حکومتولۍ اندیښنو ته ځواب ووایي، یعني په دولت اعتماد پیدا کول او د ثبات ټینګول.[558] USAID د SIKA څلور پروګرامونه دې ته نومولي چې "/[افغان دولت] پراخه کړي، نه د بهرنیو شتون ډیر کړي،" او روښانه کړې يې ده چې SIKA "باید افغان جوړښتونو سره کار وکړي" د افغان کلیو پراختیا او بیاجوړونې وزارت (MRRD) سره د ملګرتیا له لارې.[559]

د دې ربع په جریان کې، د MISTI پروګرام د SIKA شمال پروګرام د مینځني فعالیت ارزونه تکثیر کړه. د ارزونې په وینا، د SIKA شمال فعالیتونو او مرستو د بې ثباتۍ سرچینې په نښه کړي او داسې بریښي چې د ثبات د سنجولو وړ اوږدمهاله اغیز ولري. له 2012 سپتمبر څخه د 2014 جنوري پورې د MISTI درې شپږمیاشتني سروې ګانو په ټول SIKA شمال بیلګه شوي ولسوالیو کې په سیمه ایز حکومت د ورته مثبت ثبات درجې او مثبت اعتماد په نښه کړي.[560] په هرصورت ارزونې موندلي چې د عیني مرستو کارولو په دوام سره، SIKA شمال د سیګار هغه وړاندیزونو سره مطابقت ندی ورکړی چې په 16-13 پلټنه کې یې د ټولنې قرارداد کولو روښانه پلي کیدو د ډاډ ترلاسه کولو لپاره کړې وې. سیګار موندلي چې عیني مرستې د SIKA کلیدي اړتیاوې نه پوره کوي – چې د افغان ولسوالیو نهادونه د پروژې پلي کولو لپاره په مستقیم ډول مسؤل ګرځوي.[561]

ارزونې مودنلي چې SIKA شمال د عینی مرستو کارولو ته د قرارداد له پلوه ټاکل شوي کندهار ماډل څخه په سرغړونه او د MRRD پام وړ مخالفت سره دوام ورکوي، د دولت او ټولنې واک پرې کموي چې دا د ثبات په اهدافو منفي اغیز لري. SIKA شما د پلي کونکو ملګرو رامنځته شوي خطر شتون او د راپور له مخې پیسو خوندي کولو لپاره د USAID په موافقت عیني مرستو کارولو ته دوام ورکوي.[562] په 2013 اپریل کې د SIKA شمال کارمندانو سره د سیګار یوې مرکې په وینا، SIKA شمال ترجیح ورکړه چې عیني مرستې د شرکتونو او غیردولتي نهادونو لخوا پلي شي ترڅو د مکلفیت مرستې چې د ټولنو لخوا پخپله لګول کیږي فیکس شي ځکه چې د مکلفیت مرستې لانور مستند کیدو او باور ته د ټولنې مرسته کونکي لخوا اړتیا لري. SIKA شمال دې وضعیت سره مخ شو چې برنامه بې مورد خطر کې واچوي او لدې امله یې پریکړه وکړه چې په عیني مرستو تمرکز وکړي.[563]

MRRD د عیني مرستو سره مخالفت لري او MISTI ته یې وویل که عیني مرستې دوام ولري نو له SIKA شمال سره به خپله بوختیا پرې کړي. ارزونې موندلي چې عیني مرستې د مرستو پلي کولو برخه کې دولت یا ټولنه په مؤثر ډول نه دخیل کوي،[564] چې دا اندیښنه د سیګار 2013 جولای پلټنه کې هم راپورته شوې وه.[565]

MISTI دا هم موندلي چې ځینې فعالیتونو ترپوښتنې لاندې اغیزې درلود. په ځانګړي توګه، ارزونې یادونه کړې چې په مالي او مرستو مدیریت ټولنو ته چمتو شوې د ظرفیت جوړونې روزنې د پروژې مدیریت پرمخ وړو ته د ټولنې ظرفیت په درستۍ سره جوړولو کې غیرمؤثر وې. روزنې خورا لنډې وې، کافي تکرار يې نه درلود او ټول لازمي بیلګې یې نه پوښلې. نور "نرم" فعالیتونه لکه د شعر او شاعرۍ سیالیو هم ترپوښتنې لاندې اغیز درلود. پداسې حال کې چې SIKA شمال وویل دغه غونډې د ولسوالۍ حکومت نمایش ډیرولو لپاره په لاره اچول شوي وی، د ثبات اغیز یې په بشپړ ډول روښانه و. د MISTI ارزونې ټیم موندلي چې ډیری وګړي یوازې د غرمې وړیا خواړو لپاره راغلي و.[566]



**SIKA ختیځ د** پکتیکا ولایت، شرنه ولسوالۍ کې د حکومتولۍ روزنه پرمخ وړي. (د SIKA ختیځ عکس)



**د کندوز ولایت** خان آباد ولسوالۍ کې SIKA شمال د ولسوالۍ حکومتي چارواکو او ځوانانو ترمنځ د اړیکو پیاوړي کولو لپاره د ځونانو ورزشي سیالۍ په لاره اچولې. (د SIKA شمال عکس)

MISTI د SIKA لویدیز مینځمهاله فعالیت څخه ځینې موندنې تکرار کړي،[567] لکه دا چې SIKA شمال د بدلون تعریف شوې تیوري نلري او د لاسته راوړنې اوسني شاخصونه په حقیقت کې د محصول شاخصونه ناسم لیبل کړي. د بدلون تیورۍ د ټولنیز (چلند) بدلون پروګرام یوه ځانګړې او د سنجش وړ شرح ده چې د پلان جوړولو، پریکړې کولو او د پروګرام لاسته راوړنو ارزونې لپاره اساسات جوړوي. MISTI وړاندیز کړی چې د SIKA شمال لاسته راوړنې شاخصونه باید د مینځنې پایلو او مرستې اهدافو پرووړاندې پرمختګ باندې تمرکز ولري او د پروګرام د بدلون تیوري پورې تړاو ولري، د دې پرځای چې سرته رسیدلي ناستو شمیر اندازه شي یا د فعالیت برخه اخیستنې کې د سلنې ډیرول. [568]

د ننګونو سربیره، ارزونې موندلي چې د SIKA شمال فعالیتونه د دولت په رهبرۍ فعالیتونو په توګه وړاندې شوي او د خدمت وړاندې کولو لپاره د دولتي جوړښتونو له لارې کار کولو لپاره پراخه هڅې شوي. افغان دولت نهادونه د لوی زیربنا پروژو په نظارت کې دخیل ول، او SIKA شمال کې د سپانسر شوي غونډو برانډ او لوګو د افغان دولت وې، نه د USAID یا پلي کونکي ملګري. د MISTI ارزونې ټیم موندلي چې یوځو ګټه پورته کونکو خبر درلود د دې فعالیتونو ترشا نړیوال مرسته کونکي دي چې افغان دولت ګڼل کیده، یا په ځانګړي توګه MRRD، چې پرمختیا یې تمویل کوله. پداسې حال کې چې ډیر تعلیم لرونکي ګټه پورته کونکي پوهیدل د دې فعالیتونو ترشا نړیوال ډونر دی، دوی بیا هم کریډیټ دولت ته ورکاوه چې خلک د سرچینو سره نښلوي او خدمات ورته وړاندې کوي. [569]

## د ټولنې متحد کولو نوښت (CCI)

د USAID د CCI پروګرامونه، چې په وار سره یو یې ختیځ، سویل او سویل ختیځ پوښي او بل یې شمال او لویدیز پوښي هدف لري چې په هغه ساحو کې چې تاوتریخوالي او د ترهګرۍ ګټه پورته کوونې ته حساس دي د USAID په وینا "خوځښت" ورکړي. CCI د سیمه ایزې ټولنې د پراختیا پروژو په څیر نوښتونه پلي کوي چې د دې پروژو په پیژندنه او څار کې د ټولنې مشران او حکومتي چارواکي ښکیل وي. CCI د ورزشي غونډو پرمهال د سولې مشاورت کمپاینونه هم ملاتړ کوي. [570]

په تیره ربع کې، MISTI د CCI د مینځمهاله فعالیت ارزونه تکثیر کړه چې په ختیځ، سویل او سویل لویدیز کې برنامې پلي کوي. [571] ارزونې د CCI اته ولسوالیو څخه 61 پروژې و ارزلې. [572]

سیګار د USAID لیږد نوښتونو دفتر (OTI) څخه ارزونې ته د ځواب غوښتنه کړې، په ځانګړي توګه هغه موندنو باندې چې د CCI د پیوستون ملاتړ کولو هدف د طرحې له پلوه مشکل هدف و او دا چې د CCI کارمندانو د پروژې د پیوستون ملاتړ څرنګوالي په اړه بیلابیل تفسیرونه درلودل. د ارزونې په وینا، د CCI ځینې کارمندانو د پیوستون پروژې تعریفونکي اړخونه لیدلي لکه هغه چې د ټولنې څخه راولاړ شوي، پداسې حال کې چې د CCI نورو کارمندانو یې هغه اړخونه لیدلي چې د پیوستون پروژې ډیرو خلکو ته ګټه رسولې، لکه ښوونځي او سړکونه، یا خلک یې د ټولنو په اوږدو کې یو بل سره نښلولي. [573] د ارزونې څخه دا روښانه نه و چې د پیوستون پروژې څنګه د دوهم تعریف پراساس د ښوونځي یا سړک هغه پروژو څخه توپیر درلود چې د نورو برنامو یا پرته د پیوستون پروژو څخه پلي شوي.

OTI تاکید کوي چې که څه هم د MISTI ارزوني موندلي چې د CCI پلي کونکي ملګري د "برنامو ډیزاین کولو پرمهال د پیوستون او ارتجاع ورتیا بې نظم بڼه لرونکي طرحو" په اړه اندیښنه درلوده، د CCI د بدلون تیوري په روښانه توګه د دغه طرحو تعریفونه شرح کوي او د پروګرام جوړښت د ټولني ارتجاع ورتیا او پیوستون جوړولو اهدافو په اړه غږیږي.[574] د OTI په وینا، د CCI یو کلیدي اړخ د شورا پروژې کارول دي چې د افغان دولت او ټولنې مشرانو څخه جوړې شوي څوک چې پروژې نظارت کوي او په واک کې يې لري.[575] OTI د شوراګانو پروژې کارولو کې د نورو برنامو هاخوا CCI قایم کړي.[576] په هرصورت، د USAID نور ملاتړ شوي لوی پروګرامونه په شمول د ځلور SIKA پروګرامونه او د ملي پیوستون پروګرام، د ټولني او دولت پروژو واک او نظارت مدغم کوي.[577]

ارزوني دا یادونه هم کړې چې نظارت او ارزونه د CCI لپاره ننګونه وه.[578] که څه هم له مرکه شویو ډیری یې د CCI مؤثریت تصدیق کړ، خو د دې خبرې ملاتړ لپاره چې هغو کوم شواهد وړاندې کړل هغه تل روښانه نه و.[579] د OTI په وینا، د CCI د پیوستون او ارتجاع ورتیا پروګرام اهدافو ارزول او ارزیابي کول د اغیز تر کچې څیړنو ته اړتیا لري. د پیوستون او ارتجاع ورتیا رامنځته کولو کې د CCI فعالیتونو مؤثریت په اړه د بیان ورکولو لپاره د لاسته راوړنې ترکچې ارزونې کافي ندي. د OTI په وینا، د MISTI مینځمهاله ارزوني خپل د ساحي کار د 2014 جنوري او فبروري کې ترسره کړی، پداسې یو وخت کې چې CCI د پام وړ مقدار پروژو بشپړولو پیل کړی و ترڅو د اغیز ترکچې څیړنو ته لاره هواره کړي.[580]

د MISTI له ارزوني راهیسې، CCI د څو لاسته راوړنو ډیزاین او پلي کولو – او د قضیې اغیز تر کچې مطالعو لپاره کار پیل کړی چې د CCI فعالیتونو جغرافیه ای یا موضوعي کلسټري راخلي او په مجموع کې د دوی د اغیزو څیړلو لپاره کار کوي. یو مثال یې د اوبو شخړې د قضیه مطالعه ده چې د CCI 10 پروژې یې ازمولي چې رغول شوي اوبو پورې اړوند زیربنا ده. د قضیه مطالعه هدف دا و چې د اوبو سرچینو پورې اړوند شخړو کمولو کې د CCI پروژو مؤثریت باندې پوهه شي او د مشرانو وړ کولو لپاره بشپړه وړتیا یې چې د ټولنو په اوږدو کې سرچینې اداره کړي. د OTI په وینا، د قضیه مطالعه موندلي چې د اوبو پروژو د ټولنو سره او ټولنو کې شخړې کمې کړې یا د ټولني د اوبو سیسټمونه یې پراخه کړي دي چې د راپور له مخې دمخه یې د منلو وړ او عادلانه طریقې له لارې اوبه توزیع کولې. هغه کلیو کې چیرې چې فوکس ګروپونو د اوبو پرسر شخړو راپورونه ورکړي، وروسته له هغه یکې شخړې کمې شوي چې د اوبو زیربنا پروژې بشپړې شوي.[581]

## پخلاینه او بیرته یوځای کیدنه

د متحده ایالاتو اوسنی ملکي – نظامي کاري چوکاټ په ګوته کوي چې د افغان دولت او ترهګرو ترمنځ سیاسي روغه جوړه "په افغانستان کې د جګړې پای ته رسولو حل دی."[582] په هرصورت، د ملګرو ملتونو عمومي منشي په تیرې ربع کې یادونه کړې چې د افغان دولت او وسله والو مخالفینو ترمنځ د رسمي خبرو رامنځته کولو کې یوڅه پرمختګ شوی.[583]

په تیره جولای کې، تیر ولسمشر کرزي د تورونو له مخې په غور ولایت کې دخوشې شوي طالب بندیانو لخوا 15 ملکیانو وژل کیدو په تعقیب د طالب بندیانو خوشې کولو خپلې پالیسی څخه دفاع وکړه. د کرزي لومړي معاون محمد یونس قانوني پدې وروستیو کې ویل، "زه د هغه چا خوشې کیدو پرخلاف یم چې د افغانستان خلک وژني. موږ پوهیدلو چې کله دوی له زندان څخه خوشې شي نو دوی به بیرته د جګړې ډګر ته ولاړشي او نور جنایتونه به وکړي."[584]

## بیاپخلاینه

په اګست کې د سولې عالي شورا (HPC) معاون وویل چې د HPC ټول ګټور کار د اپریل 2014 ټاکنو په جریان کې په پسرلي کې درول شوی. هغه دا هم په نښه کړه چې طالبانو د کرزي حکومت سره ښکیلتیا رد کړه ځکه چې دوی ګڼل راتلونکی دولت به له اوسني دولت څخه مختلف پالیسیانې ولري.[585]

په تیر سپتمبر کې، د HPC یوه غړي له خولې راخیستل شوې چې ویل یې HPC د "سولې رامنځته کولو یا د ملاعمر او نورو طالب مشرانو سره خبرې کولو کې بریالی نه وه." هغه د HPC د ناکامی لپاره پاکستان تورن کړ.[586]

## د افغانستان د سولې او بیا یو ځای کیدلو پروګرام



د اردن ښکیلتیا ټیم یو غړی د ننګرهار ولایت، جلال آباد ښار کې په لاره اچول شوي د سولې کنفرانس کې افغان مذهبي مشرانو سره خبرې کوي، د 2014 اګست 18. (د متحده ایالاتو د اردو عکس)

د افغانستان د سولې او بیا یو ځای کیدلو پروګرام (APRP) د افغانانو په مشرۍ یو پروګرام دی چې د ټیټې کچې ترهګر او پلي سرتیري او د دوی قوماندانان بیرته افغان ټولنو ته راګرځوي، د 12 مرستندویه ملتونو لخوا مرستو په 182.3 ملیون ډالرو تمویل شوی. د پروګرام لپاره عملیاتي تمویل د اوه مرستندویه ملتونو لخوا چمتو شوی (اساسا جاپان او المان). متحده ایالات د ټولنې بیرته ترلاسه کولو هڅو پروړاندې تمویل چمتو کوي چې د نړیوال بانک لخوا اداره کیږي.[587]

د ځواک بیایوځای کولو خوني (FRIC) په وینا، چې د نړیوال امنیت مرستندویه ځواک د APRP یو ملاتړی عنصر دی، د APRP ګډه دارالانشا او ولایتي ګډې دارالانشا ټیمونه یوځای د سولې سیمه ایزې غونډې ، راډیو او تلویزیوني تبلیغاتو له لارې اطلاع رسوني ته لومړیتوب ورکوي.[588] په اګست کې UNDP او د ننګرهار سولې ولایتي شورا د APRP ملاتړ شوې د سولې یوې غونډې کوربه توب وکړ چې د اردن مسلح ځواکونو څخه دوه امامانو او ګاونډیو ولایتونو څخه 400 افغان مذهبي مشرانو پکې ګډون درلود. د FRIC په وینا، اردني امامان چې د اردن ښکیلتیا ټیمونو غړي دي چې په افغانستان کې د 2006 راهیسې کار کوي، په سوله او زغم باندې ټینګار وکړ، مګر افغان مذهبي مشران چې په غونډه کې یې برخه اخیستې وه په افغانستان کې یې د نړیوالې ټولنې رول نفي کړ او د ډیرۍ برخه اخیستونکو لخوا وستایل شول او د لاسونو پړکا ورته وشوله.[589]

FRIC راپور ورکړ چې 53 د کوچني مرستي پروژې او د افغان دولت 1,246 پروژې په 32 ولايتونو او 130 ولايتونو کې په لاره کې دي.[590]

د متحده ايالاتو کانګريس ته پخپل د 2014 جنوري درې *مياشتني راپور کې سيګار د APRP د NSP تولني بيرته راګرځولو تقويت او لومړيتوب (CRIP) ميکانيزم پورې تړلي ننګونو راپور ورکړ (130–131 مخونه). په ځانګړي توګه د متحده ايالاتو کابل سفارت انديښنه درلوده چې د CRIP پروژې د بياپوځای کولو اهدافو پورې روښانه تړاو نلري او دا انديښنه يې د MRRD سره راپورته کړې.*[591]

پدې ربع کې د متحده ايالاتو کابل سفارت د MRRD APRP کلني پلي کولو پلان پيښليک پدې توګه رد کړ چې پلان غوښتل د NSP روانه ناکامي رسمي کړي ترڅو هغه پروژې وپيژندل شي چې د APRP له لارې تمويل شوي. د State په وينا، MRRD ادعا وکړه چې د APRP پروژو په روښانه توګه پيژندو ورتيا يې نه درلوده ځکه چې (1) دا به د محاسبې له اړخه "خورا مشکل" وي او (2) په ساحه کې د NSP پلي کونکو ملګرو لپاره امنيتي ستونزې رامنځته کولی شوي. MRRD د سولې پروسې سياسي اړخ له امله د APRP پروګرام د کليو په کچه اطلاع رسوني په اړه انديښنه کې پاتې دی چې ممکن د پروګرام پلي کونکي ملګري تربريد لاندې راشي. دا متحده ايالاتو او آسټراليا ته د منلو وړ نه و چې دا دواړه د APRP لوی ډونران دي. د همدې مسلې په تمه پايلو له امله د MOF د MRRD تمويل درولی دی.[592]

په جولای کې د ګډې دارالنشا (JS) او MRRD سره تعقيبي غونډه کې، د MRRD NSP اجرايوي رييس او APRP معاون CEO د ډونر انديښنو په نښه کولو لپاره ژمنه وکړه. لومړی، NSP به د CRIP پروژو يو ليست چمتو کړي د کوم لپاره چې به د FY 2014 APRP تمويل چمتو شي. دا پروژې به د JS پرمختيا ټيم لخوا وکتل شي او ليدنه به يې وشي. دا معلومات په ګډه د بياپوځای کولو باندې د دې پروګرام اغيز ارزوني سره به د ډونرانو سره شريک کړی شي. دوهم، NSP به د APRP تمويل شوې اطلاع رسونه په غاړه واخلي چې د ولايت او ولسوالی په کچه پيليږي. پدې کې به د واليانو او سولې ولايتي شوراګانو (PPCs) سره د ارتباطاتو پراخول شامل وي، څوک چې په مجموع کې د NSP APRP برنامو څخه پوهه نلري. د NSP سيمه ايز ارتباطاتو افسران به هم د APRP هڅولو لپاره خلکو سره بوخت شي. کله چې PPC لدې خبر شو چې کومې پروژې APRP تمويل کړې، نو دوی به هم دا معلومات خپاره کړي. دريم، د NSP د APRP لپاره د MRRD کلنې پلي کولو پلان برخه به اصلاح شي ترڅو دا بدلونونه منعکس کړي.[593]

د State په وينا، لدې چې MRRD اوس د متحده ايالاتو انديښنو سره موافق دی، نو State د هغه فنډونو بيرته لاسته راوړو هڅې وړاندېز نه کوي چې APRP ته ورکړل شوي. USAID د بهرنيو چارو وزارت ته مشوره ورکړه چې د افغانستان بيارغوني وجهي صندوق (ARTF) (په کوم کې چې د APRP مرسته هم شامل ده) ته ورکړل شوي فنډونو بيرته تر لاسه کولو هيڅ لار شتون نلري او دا چې د USAID په واسطه لاسليک شوی د مرستې اسناد دا روښانه کوي چې نړيوال بانک هيڅ مکلفيت نلري ډونر ته بيرته تاديات وکړي يا تاوان يې ورکړي.[594]

تر سپتمبر پورې 2,387 نوي يوځای کيدونکي د APRP سره يوځای شوي، چې ټولټال شميره 8,890 بياپوځای شويو ته لوړوي، لکه څنګه چې په شکل 3.31 کې ښودل شوي.[595] د State او FRIC په وينا، APRP يو قوي د ارزولو پروسه لري چې له مخې يې تاييدوي هغه افراد چې غواړي د پروګرام سره يوځای شي آيا په ريښتيا ترهګر دي. د بياپوځای کيدونکو پروسس کولو لپاره افغان ملکي حکومت او د ANSF ولايت او مرکز په کچه چارواکي مسؤل دي. د بياپوځای کيدو تعقيب او نظارت ډيټابيس ته د نړيوالو د لاسرسي نقش محدود دی.[596]

عکس 3.31

**د سیمه ایزې قوماندې لخوا بیا یوځای شوي، مجموعي**







یادونه: د امریکا دفاع وزارت د 2014 سپتمبر پورې تازه شمیرې چمتو کړې.

سرچینه:State، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/4/2013، 7/1/2013، 4/2/2013، 1/2/2013، 10/2/2012، 7/5/2012، 3/30/2012؛ د امریکا دفاع وزارت، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 6/30/2014، 3/31/2014، 12/31/2013 او 9/29/2014.

د State په وینا، د متحده ایالاتو ځواکونو افغانستان (USFOR-A) د افغانستان بیایوځای کولو پروګرام (ARP) تمویل شوي د JS پرسونل روزنې غوښتنې رد کړ لکه څنګه چې دواړه د FRIC او متحده ایالاتو کابل سفارت لخوا غوښتل شوي و. په FRIC کې د قراردادکولو افسر نماینده (COR) لري کول پدې معنی ده چې نور امکان نلري د کانګریس لخوا منل شوي ARP لاندې د بیایوځای کولو لپاره پروژې تمویل شي. FRIC او د متحده ایالاتو کابل سفارت دواړو غوښتنه کړې وه چې USFOR-A د COR رول په غاړه واخلي مګر غوښتنه رد شوې وه. د State په وینا، د ARP نورې پروژې ممکن پلې نه شي او د کانګریس لخوا افغانستان کې د بیایوځای کولو هڅو ملاتړ لپاره واکمن شوي فنډونه به ناتاکل شوي پاتې شي.[597]

## د فساد ضد او قانون حاکمیت

د اکتوبر په 5، د لوی څارنوال دفتر (AGO) د اګست 21 يوه امر ته بدلون ورکړ چې له مخې يې د *نيويارک ټايمز* ګزارشګر ميتيو روزنبرګ اړ ايستل شوی و چې له افغانستان څخه ووځي. ګزارشګر څرواک افغانانو ترمنځ موقتي حکومت جوړونکي کيمټې پرسر خبرو باندې يوه مقاله ليکلې وه په هغه صورت کې که چيرې دواړه نوماندان د ملي وحدت حکومت جوړلو باندې سره موافقې ته ونه رسي. AGO روزنبرګ د جاسوس په توګه شرح کړ او وی ويل چې هغه ملي امنيت په خطر کې اچولی. AGO مشخص نکړه چې له کومو قوانينو سرغړونه شوې او د تورونو وضاحت يې وړاندې نه کړ. د ولسمشرۍ دواړه نوماندانو د اخراج امر د اړولو لپاره ژمن و.[598]

د افغانستان ولسمشر په توګه د حامد کرزي ترټولو لوی کړنو کې د پنځه نفرو په دار ځړولو حکم و چې په جنسي تيري کې محکمه شوي و. دا پنځه نفر د هغه اوه نفرو له ډلې څخه و چې د کابل ښار دباندې يې د اګست په 23 د پوليسو يونيفارم په اغوستو سره د څلور ښځو لوټلو او بياړې جنسي تيري کولو باندې محکوم شوي و، هغه مهال چې هغوی له واده راروانې وې. محکوميتونه د هغوی د اعترافونو پربنسټ ول، کوم چې ټول پنځه نفرو تصديق کړه چې د افغان پوليسو د زور او زياتي له لارې ترې اخيستل شوي. د ملګرو ملتونو د بشري حقونو عالي کميشنر او پر بشري حقونو د څار اداري دواړو د قضيه بررسي طريقې په اړه انديښني څرګندې کړې.[599] دغه پنځه نفر د يوه سړي تښتونکي سره يوځای د اکتوبر په 8 نېټه په دار وځړول شول.[600]

د قضا سيکتور ملاتړ پروګرام (JSSP) راپور ورکړ چې د جنايي قانون اصلاح کاري ګروپ (CLRWG)، د عدليه وزارت (MOJ) تخنيکي مشاورت ډلې د جګړې په حالت کې دشمن سره د دولت محرم معلوماتو شريکولو لپاره د دولت پروړاندې جرمونو باندې د جزا قانون منلی او په مرګ محکوميت يې ورته ټاکلی. نوموړی قانون د جګړې په جريان کې انتقاد کولو ممانعت کوي چې د اردو يا پوليس "ثبات" ته زيان اړوي. CLRWG يوه دفاع هم تصويب کړې چې تورن کس ته به شتون ولري که چيرې نوموړي کس د غيرقانوني فعاليتونو اصلاح کولو په هدف په "ښه نيت" عمل کړی وي.[601]

د JSSP په وينا، افغانستان دا مهال د جزا قانون د تعريف پر اساس د طالبانو سره د جګړې په حالت کې دی. د MOJ او CLRWG رييس د داسې مقرراتو وړانديز وکړ چې له مخې يې هغه قراردادیان بندي شي چې د جګړې په حالت کې خپلو ژمنو پوره کولو کې پاتې راځي. JSSP او د ملګرو ملتونو په افغانستان کې مرستندويه ماموريت (UNAMA) نمايندګانو پرې اعتراض وکړ؛ په هرصورت،CLRWG هغه مقررات ومنل چې له مخې يې دولت "يو فرد چې د جګړې په جريان کې دولت ته زيان رسولو په هدف، د هغه د مکلفيتونو ټول يا ځينې برخې يې ودروي چې دولت پورې اړوند وي ترڅو د مسلح قواو لپاره اړتياوې وارد يا تحويل کړي يا د خواړو توکي يا نور توکي چې د خلکو د محافظت لپاره وي،" نو نوموړی شخص بايد له 5 څخه تر 16 کلونو پورې په بند محکوم شي. که چيرې د هغه کړنه د ملت "مدافع ځواک" يا د مسلح قواو عمليات کمزوري کوي نو محکوميت بايد له 16 څخه تر 20 کالو پورې وي. د JSSP په وينا، که چيرې دا مقررات قانون کې پاس شول، نو قراردادیان به د قرارداد ماتولو لپاره د ممکن جنايي التزام له امله افغان دولت او اردو سره ښکيلتيا کې انديښمن شي يا رد به يې کړي.[602]

## د پروژې لنډيز

متحده ايالاتو د بيلابيلو ميکانيزمونو له لارې د رسمي او غيررسمي قضايي سيستمونو لپاره مرستي چمتو کړيدي. پدې کې د USAID د قانون حاکميت ثبات رسمي او غير رسمي برخي (RLS-F او RLS I)، د بهرنيو چارو وزارت JSSP ، او د بهرنيو چارو وزارت د قضايي روزنې ليږد پروګرام (JTTP) شامل دي. دا او د قانون حاکميت او فساد پروړاندې مبارزې نور پروګرامونه په جدول 3.22 کې ښودل شوی.

جدول 3.22

**د قانون حاکمیت او فساد پروراندي مبارزي پروګرامونه**

| د پروژې موضوع | اداره | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | د 9/30/2013 پورې مجموعي توزیعات (په ډالرو) |
|---|---|---|---|---|---|
| د قضا سیستم ملاتړ پروګرام II (JSSP II) | د بهرنیو چارو وزارت | 5/31/2010 | 12/31/2014 | $301,971,225 | $169,947,752 |
| د اصلاحاتو سیستم ملاتړ پروګرام (CSSP) | د بهرنیو چارو وزارت | 5/1/2010 | 12/31/2014 | 198,586,208 | 196,544,324 |
| د قانون حاکمیت ثبات – رسمي برخه | د امریکا د نړیوالې پراختیا لپاره اداره | 7/16/2012 | 7/14/2014 | 22,581,128 | 19,068,556 |
| د قضایی روزني لیږد پروګرام (JTTP) | د بهرنیو چارو وزارت | 1/2/2013 | 7/1/2015 | 20,000,000 | 20,000,000 |
| د قانون حاکمیت ثبات – غیر رسمي برخه | د امریکا د نړیوالې پراختیا لپاره اداره | 7/16/2014 | 3/13/2014 | 15,651,679 | 15,080,799 |

سرچینه: USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتني ته ځواب، 9/30/2014. د معلوماتو غوښتني ته د بهرنیو چارو وزارت د ځوابونو سیګار څیرني، 5/27/14، 6/3/14، 6/5/14، 7/16/2014 او 10/20/2014.

د RLS-F پروګرام دي لپاره ډیزاین شوی چې د افغانستان قضا سیکتور باندي د خلکو باور ډیر شي او د حکومتولی پرمختللی فعالیت او حساب ورکوونه ملاتړ کړي چې دې ربع کې پای ته ورسید. د پروګرام نهایی راپور په وینا، RLS-F په بریا سره د ستري محکمي، MOJ او لوړو زده کړو وزارت سره ملګرتیا وکړه ترڅو په افغانستان کې د قضا رسمي سیستم کې پیاوړي اصلاحات راولي.[603]

په هرصورت، RLS-F یادونه کړې چې د اصلاحاتو ملاتړ او منلو لپاره افغان نهادونو ترمنځ لیوالتیا شتون نلري. د RLS-F په وینا، په افغان اړخ نهادونو کې رهبري د RLS-F په واسطه وړاندیز شوي اسبابو او ټیکنالوژۍ د تصویب ځنډولو په واسطه د قضا سیکتور اصلاحاتو ته ژمنتیا نه شتون ځرګندولو ته دوام ورکوي. RLS-F دلیل وړاندي کوي چې دا کار د نوي پروسو او طرزالعملونو چې قضا سیکتور کې مؤثریت، شفافیت، حساب ورکوونه او عدل ډیروي، منلو لپاره د افغان دولت اړخ لخوا لیوالتیا نه درلودل ښیي. برسیره پردې، افغان نهادونو د ډونر تخنیکي او مالي ملاتړ پرته د روزني نوښتونو لپاره مسؤلیت په غاړه اخیستو کې د لیوالتیا ښودلو ځینې مواردو کې پاتې راغلي.[604]

RLS-F د لګښت شریکولو یوه پروسه وګمارله ترڅو د مل برخو پانګونه په پروګرم کې وهڅوي. RLS-F یادونه کړې چې په تیره کې افغان مل برخو د USAID ملاتړ شوي پروګرامونو پلي کولو لپاره د معنی لرونکي مسؤلیت (مالي یا نور) په غاړه اخیستو وړتیا نډرلوده او/ یا لیواله نه و. د دې

ننګوني په نښه کولو لپاره، RLS – رسمي د پروګرام ملاتړ یوځه بوج په مل اړخونو واچاو. د لګښت شریکولو پالیساني د سترې محکمې، افغان ښځینه قاضیانو انجمن او د لوړو زده کړو وزارت لاندې فعال پوهنتونونو کې پرځای شوې. دې پالیسیانو د مل اړخونو څخه اړین ملاتړ ډول ځانګړی کړ ترڅو د RLS-F لخوا ځانګړې مرسته ترلاسه کړي. د مثال په توګه، RLS-F د عدلي سټیج پروګرام کې ښوونکو ته حق الوکاله چمتو کړه، د قاضیانو لپاره د اجباري استقرا روزنې پروګرام. RLS-F له سترې محکمې غواړي چې د عدلي سټیج کارمندانو ټول معاشونه ورکړي. د RLS-F په وینا، په تیره کې دورانو د عدلي سټیج کارمندانو ته د معاشاتو متمم چمتو کړي، په شمول د رییس، په بیله بیا د ښوونکي حق الوکاله.[605]

USAID پدې وروستیو کې د افغانستان د څار اداري (IAW) سره د 1 ملیون ډالرو مرسته پای ته رسولې ده په کوم کې چې د ټولنې داوطلبانه نظارت کونکي د زیربنا پروژو سرپرستي کوي.[606] د IAW په وینا، د ټولنې میشته نظارت کونکو د نظارت لاندې 158 پروژې د بدخشان، بلخ، هرات، ننګرهار، پروان او پنجشیر ولایتونو کې بشپړې شوي او د ټولنې میشته نظارت کونکو طرزالعملونو کې 438 د ټولنې نمایندګانو روزنې ترلاسه کړي. په ځینې قضیو کې دورنان IAW ته د پروژې اسنادو چمتو کولو کې پاتې راغلي، د همدې لامله یې د IAW سپانسر شوي د ټولنې څار نوښتونه پرشا تللي.[607]

د USAID افغان مدني ښکیلتیا پروګرام (ACEP) د افغان دولت فعالیتونو نظارت کولو، د څېړنې په لاره اچولو او د دولت د اصلاحاتو ژمنو باندې راپور ورکولو لپاره د افغان مدني ټولنې نهادونو ته پدې وروستیو کې ډېرې کوچنې فرعي-مرستې چمتو کړې.[608]

USAID دامهال د افغانستان لپاره د فساد ضد په ځان بسیا پروګرام ډیزاین کوي. د USAID په وینا، نوموړی پروګرام به د افغان دولت نهادونو کې شفافیت او حساب ورکوونې ډیرولو لپاره هڅه وکړي، پداسې حال کې چې د فساد پرضد- اړوند مسلو لپاره د نظارت، څېړنې او مشورې لپاره د مدني ټولنې او خصوصي سیکټور وړتیاوې هم ډیروي.[609]

په تیر ربع کې، USAID د RLS-I دریمې او نهایی مرحلې د فعالیت یوه ارزونه تکثیر کړه چې د 2012 جولای څخه تر 2014 مارچ پورې په لاره اچول شوې وه. بیاکتنې د RLS-I درې اهدافو باندې تمرکز درلود: د شخړې سنتې حل میکانیزمونه پیاوړې او پرمختللې کړې، د رسمي او غیررسمي قضا سیکټورونو ترمنځ ارتباط پیاوړی کړي، او د اوږدو او خپلسرې شخړو په نښه کولو لپاره همکاري اسانه کړي.[610] ارزونې موندلې چې څو قضیې د غیر رسمي قضا سیکټور څخه د قضا رسمي سیکټور ته راجع شوې پداسې حال کې چې تر هدف لاندې ولایاتو کې د قضا رسمي سیکټور څخه غیر رسمي سیکټور ته د قضیو راجع کول عام و.

سنتي پریکړه کونکو د رسمي قضایي نهادونو په اړه په مجموع کې لږه پوهه درلوده، پداسې حال کې چې رسمي قضایي سیکټور پرمخ وړونکو غیر رسمي نهادونو ته درناوی درلود. ځواب ویونکي په شمول د شخړې سنتي حل مقاماتو او د رسمي سیکټور مقاماتو په مجموع کې د قضا رسمي سیستم باندې غیر رسمي ته ترجیح ورکوله.[611] ارزونې پایله کړې چې د رسمي او غیر رسمي سیستمونو ترمنځ ارتباط په لویه کچه یوارخیز دی، ځکه چې رسمي سیستم قضیې غیر رسمي سیستم ته راجع کوي مګر غیر رسمي یې رسمي ته نه راجع کوي.[612] د USAID په وینا، دا موندنې د عامه پوهاوي سره نامتناقص دي چې د قضا رسمي سیستم د ټولو ښاریانو لپاره قضا ته مناسب لاسرسي لپاره لازم جغرافیه ای لاسرسی نلري.[613]

## د سیګار پلټنه

سیګار په افغانستان کې د متحده ایالاتو حکومت د قانون حاکمیت پرمختګ او مرستې د هڅو یوه روانه پلټنه لري. سیګار پلان لري چې (1) په افغانستان کې د متحده ایالاتو د قانون حاکمیت رامنځته کولو پروګرامونه یا نوښتونه وپيژني؛ (2) هغه پرمختګ وارزوي چې دې پروګرامونو یا نوښتونو کړی؛ (3) د هغه ننګونو پیژندنه چې متحده ایالاتو حکومت د قانون حاکمیت اهدافو لاسته راوړو پرمهال ورسره مخ شوی او د پراخوالي حد یې چې دا ننګونې ورته په نښه شوي.

د بهرنیو چارو وزارت JSSP موخو کې د قضیې مدیریت سیستم (CMS) رامنځته کول شامل دي چې د افغانستان په اوږدو کې قضیې تعقیب کړي او د وزارت د چارواکو ظرفیت او اداري مهارتونه لوړ کړي. [614]

JSSP د ښځو چارو وزارت (MOWA) ، AGO، MOJ) او سترې محکمې ته تخنیکي ملاتړ چمتو کړی. په ټوله کې JSSP په بشري منابع، بودیجه جوړولو او تدارکاتو کې د ظرفیت ډیرولو راپور ورکوي مګر په ډیرو مواردو کې د JSSP مرستې لپاره دوامدارۍ اړتیا یادونه کوي. د مثال په توګه، د JSSP مشاورینو یادونه کړې چې د AGO د ښځو پروړاندې تاوتریخوالي څانګې (EVAW) هغې ته ورکړل شوي کمپیوټري نه کارولې ځکه چې خرابې وې. د JSSP مشاورینو نوموړي کمپیوټري جوړې او تازه سافتویرونه یې پکې نصب کړل. د JSSP په وینا، د EVAW څانګه اوس د JSSP مداوم ملاتړ سره دغه کمپیوټرې کاروي. [615] JSSP د نړیوال بانک د پایلو لپاره ظرفیت جوړوني (CBR) پروګرام له لارې تمویل لپاره د MOJ بشري منابع ریاست پروپوزلونو چمتو کولو کې هم مرسته وکړه. CBR غواړي چې د بهرني ډونر روزني پروګرامونو هاخوا د روزني ظرفیت او لیږد چمتو کړي، لکه د [616] .JSSP

د بهرنیو چارو وزارت JTTP د قضا سیکتور چارواکو ته سیمه ایزه روزنه چمتو کوي، په شمول د پولیس، څارنوالانو، قاضیانو او مدافع وکیلانو، د جنایي قضا پراخه موضوعاتو باندې، په شمول د فساد پر ضد. JTTP د قضا سیکتور چارواکو ته ځانګړي قضیو او حقوقي مسلو باندې ښوونه هم چمتو کوي، په شمول د څارنوالانو او قاضیانو. په تیرې ربع کې، JTTP په 19 ولایاتو کې 1,091 برخه اخیستونکو ته د روزني 50 کورسونه وړاندې کړل. [617]

## ستره محکمه او رسمي قضايي سکتور

د سپتمبر په 22، ولسمشر غني سترې محکمې ته د یوې ښځې ګمارلو په اړه ژمنه وکړه. [618]

د هغه د لوړې مراسمو پرمهال وینا کې، غني په قضا څانګه کې فساد ته اشاره وکړه او له سترې محکمې یې غوښتنه وکړه چې د فساد لپاره خپل ټول کارمندان وارزوي. سترې محکمې یو بیان تکثیر کړ چې پکې د غني ادعاوې رد شوې وې او وې ویل چې په قضا کې د فساد په اړه هغه ته غلط معلومات ورکړل شوي. [619] په ملي وحدت حکومت کې نوی ګمارل شوی د ولسمشر ځانګړي نماینده، احمد ضیا مسعود د غني اندیښنو باندې ټینګار وکړ او "په ټولو اړخونو کې یې د اساسي اصلاحاتو غوښتنه وکړه، په ځانګړي توګه قضا او حقوقي ارګانونو کې." [620]

## افغان اصلاحي سیستم

د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د محبسونو او توقیف مرکزونو عمومي ریاست (GDPDC) په واسطه اداره کیدونکي محبسونو کې محبوس نفوس د تیرو پنځه کلونو په کلني توګه %16.4 ډیریږي. د اګست تر 20 پورې، GDPDC 26,816 افراد زنداني کړي. [621] د جولای تر 20 پورې، د عدلیه وزارت د تنکي ځوانانو د اصلاح کولو ریاست (JRD) 909 تنکي ځوانان بندي کړي. [622] پدې بندیانو مجموعه کې هغه توقیف شوي ندي شامل چې د کوم افغان دولتي نهاد لخوا بندي شوي، ځکه چې د بهرنیو چارو وزارت د نړیوالو تریاکو او قانون پلي کولو چارو بیورو (INL) د نورو نهادونو معلوماتو ته لاسرسی نلري. [623]

د GDPDC ودانیو کې د ډېر نفوس شتون یو تلپاتې، قوي او پراخه ستونزه ده، که څه هم دا د بهرنیو چارو وزارت لخوا تمویل شوي د زندان بیډونو او د ولسمشر د بخښني فرمان له امله د زندان په نفوسو کې کموالی راغلی. د 2014 تر اګست 20 پورې، د ولایتي زندان ټولټال نارینه بندیان د ظرفیت تر 266% پورې و، د سره صلیب نړیوالي کمیټي (ICRC) د تعریف له مخې چې هر بندي لپاره باید 3.4 متر مربع ځای وي. د ولایتي زندان ټولټال ښځینه بندیان د ICRC وړاندیز شوي ظرفیت تر 121% پورې و. د GDPDC کارول کیدونکي ولسوالیو توقیف خونو او JRD تنکي ځوانانو اصلاح مرکزونو ظرفیت په اړه معلومات شتون نلري. په هرصورت، د INL مشاورینو له خولي ویناوې چې لدغه ودانیو یې لیدنه ترسره کړې ښیې چې له حد ډیروالی یا ګڼه ګونه په ډېری ولایتونو کې اساسي ستونزه ده. 624

د بهرنیو چارو وزارت په وینا، INL د نوي زندان خونو جوړولو لپاره د پام وړ پلانونه په پام کې لري ترڅو د افغان دولت وړتیا باندې تمرکز وکړي چې د زیربنا هغه پانګوونې پیاوړې کړي چې INL دمخه جوړې کړې. په هرصورت، INL ژمن دی چې په پل چرخي زندان کې د نوي جوړونو لوی کار بشپړ کړي او دلته د فاضل اوبو د زیرمه کولو سیستم جوړ کړي. INL به د کوچنی درجې زیربنا پروژو سره په لندمهال کې د افغان دولت ملاتړ ته هم دوام ورکړي چیرې چې د لوی مسلو په نښه کولو ته خورا حساس اړتیا ده لکه ګڼه ګونه. 625

په 2014[626] فبرورۍ کې پاس شوی د جنایي تعقیب قانون مجرم ته دا انتخاب ورکوي چې MOJ څخه د بندي کیدو بدیلونو لپاره غوښتنه وکړي. د JSSP په وینا، MOJ د لوی شمیر غوښتنو وړاندوینه کوي، مګر اندیښنه لري چې بندیوتوب ته بدیلونو کې دخیل د ټولني خدمت سازمانونو فعالیت نظارت کولو لپاره هیڅ میکانیزم نلري. MOJ د بندتوب ته بدیلونو لپاره غوښتني ترهغه وخت پورې ردوي چې د ټولني خدمت دې سازمانونو د نظارت قانون وضع شي. JSSP او MOJ به د دولت نورو نهادونو سره مشوره وکړي چې هرڅومره ژر وي د بندیانو حقونو خوندي کولو او زندانونو ګڼي ګوڼي ختمولو لپاره د قانون پیښ لیک باندې کاري ګروپ امکان راوسپړي. 627

په غزني، هرات او جوزجان ولایتونو کې راپورونه و چې زندانیانو د نه خوړو اعتصاب کړی دی. په غزني کې زندانیانو قضایي دفترونو کې د فساد او د دوی د قضیو سست پرمختګ پروړاندې اعتراض کاوه، پداسې حال کې چې په جوزجان کې زندانیانو ځکه اعتراض کاوه چې د زندان 800 څخه 90 بندیانو د ولسمشر لخوا خوشې کیدو حکم سره بیا هم په بند کې و. د راپورونو له مخې هرات کې زندانیانو ځکه تظاهرات کول چې د ولسمشر د محکومیت کمولو فرمان څخه خارج کړی شوي و. 628

## د فساد پروړاندې مبارزه

د فساد پروړاندې مبارزې هڅو د ولسمشر غني ترلوړې پورې د ربع ډیرې وخت کې هیڅ د پام وړ پرمختګ ندی په ګوته کړی. د اکتوبر په 1 نیټه، ولسمشر غني یو فرمان صادر کړ چې سترې محکمې ته امر کاوه د کابل بانک قضیه تعقیب کړي او له AGO یې غوښتل چې محکمې سره د قضیې او ټولو افرادو په تعقیب کې مرسته وکړي چې د کابل بانک بحران کې دخیل ول. AGO ته امر شوی و چې په 15 ورځو کې دننه ټولې دوسیې پیل کړي. 629 دا روښانه نه وه چې د غني فرمان به څه اغیز ولري، ځکه چې دواړه ستره محکمه او AGO د افغانستان اساسي قانون 116 او 134 مادو پراساس خپل فعالیت کې خپلواک دي. 630 د کابل بانک پرقضیه نورو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ د دې راپور 172 مخ وګورئ.

### د سیګار څارنه

سیګار د INL لخوا تمویل شوي د پل چرخي زندان ترمیم او بیاجوړولو د تفتیش یو راپور تکثیر کړ. سیګار موندلي چې که څه هم INL قراردادي ته د قرارداد د ارزښت شاوخوا 92% ورکړي، د اړین کار یوازې 50% مکمل شوی. د لازیاتو معلوماتو لپاره، 2 برخه، مخ 36 وګورئ.

د عدليه وزارت (DOJ) په وينا، په ټوله کې افغان مرکزي حکومت د ترشا ودريدني، قوم پرستی، رشوت، د عامه او خصوصي ملکيت اختلاس او غصب يا نورو اختلافاتو، نفوس، له دفتر ناوړه ګټه پورته کوني، غيرمشروع بدايه توب، د جنايي پروسو مينځل، د هغه جرمونو پټول چې د فساد لامل کيږي، او د عدالت مخنيوي ستونزو رانيولی. په حقيقت کې د افغان مرکزي دولت يا ولايت او ولسواليو په کچه دولت هيڅ يوه برخه داسې نده چې د عامه فساد له امله ضعيف شوی نه وي يا اغيز يې پرې نه وي کړی.[631]

د بيلګې په توګه، د خوست پخوانی ښاروال اته مياشتې وروسته له هغه ونيول شو چې د ښاروالی شاوخوا 226,165 ډالرو فساد لپاره په اوه کالو بند محکوم شوی و. د راپورونو له مخې د محکوميت سره ښاروال کولی شو د دولتي مقاماتو سره د هغه شخصي اړيکو له امله آزاد پاتې شي.[632]

## د افغانستان لوی څارنوالی دفتر

د بهرنيو چارو وزارت په وينا، د AGO تخنيکي ظرفيت يا مؤثريت کې د پام وړ بدلونونه ندي رامنځته شوي. AGO د DOJ څخه په نوي تحقيقي ميتودونو کې د فساد پروړاندې مبارزې واحد (ACU) د AGO څارنوالانو روزل رد کړل.[633] د DOJ په وينا، د افغان دولت فساد پروړاندې مبارزې هڅو کې لومړنی ننګونه د پيچلي فساد قضيو د تعقيب پورې اړوند AGO ليوالتيا نه درلودل دي.[634]

د AGO اصلاحاتو په يوه ناسته کې، د ولسمشر غني له خولې راخيستل شوي چې ويل يې "داسې AGO بايد ولرو چې خلک پرې باور وکړي" او وې ويل چې د AGO اصلاح کول د افغانستان د بقا مسله ده.[635] AGO د اکتوبر په مينځ کې د کابينې د پريکړې په تعقيب د افغان دولت نهادونو او خصوصي سيکتور د نظارت واک هم له لاسه ورکړ ځکه چې دا ډول واکونو د قانون سره تضاد درلود.[636]

د بهرنيو چارو وزارت په وينا، د AGO ACU د فساد ټيټې کچې قضيو د تعقيب وړتيا لري، مګر د فساد لوی کچو په تعقيب کې له خنډونو سره مخ کيږي. ACU د بهرنيو چارو وزارت او DOJ ښکيلتيا لاسته راوړنکی نه و، او د ټيټ مورال څخه رنځيږي. ACU لږ تخنيکي ظرفيت لري او د لانورو فساد پيچلي قضيو په مؤثر ډول تعقيب لپاره د تخنيکونو رامنځته کولو کې لږه علاقه لري. په هرصورت، دا د اختلاس د ساده قضيو د تعقيب وړ ده. د متحده اياالاتو د کابل سفارت عدليه آتشه خپله مرسته د داخلي کنټرول او نظارت واحد او د مالي شخړې حلولو کميټې باندې متمرکز کړې چيرې چې پراخه قبوليت شتون لري.[637]

د سنګين جرايمو کاري ځواک (MCTF) د AGO داخلي کنټرول او نظارت واحد لپاره تحقيقاتي وسيله ده.[638] د بهرنيو چارو وزارت په وينا، MCTF د وړ تحقيقاتي ځواک په توګه خپل شتون ته دوام ورکوي، مګر د AGO د فساد قضيو د تعقيب ردولو لخوا يې مخه نيول شوې. د ولسمشرۍ ټاکنو په تعقيب، د بهرنيو چارو وزارت پلان لري چې وارزوي ايا نوی حکومت د مؤثره MCTF لپاره کافي سياسي ليوالتيا لري. د بهرنيو چارو وزارت به د افغانستان فساد پروړاندې نوښتونه وارزوي ترڅو مشخص کړي چې آيا افغانستان د مالي مقرراتو قانون وضع کوي؛ آيا د لوړو مقاماتو پروړاندې د فساد تورونه ارزوي؛ آيا د MCTF سرچينې اړتياوې بدل شوي؛ او په څه ډول AGO، MOI او نورې افغان اداري د دوی د فساد پروړاندې مبارزې هڅو کې د MCTF رول شريکوي يا له پامه يې غورزوي.[639]

د بهرنیو چارو وزارت په وینا، دې پروګرامونو AGO ته مرسته چمتو کړې: د ملي قضا سیکتور ستراتیژي (NJSS)، په افغانستان کې عدالت ته د لاسرسي ملاتړ (SAJA)، او JSSP. NJSS چې د 2011 جنوري څخه د 2014 سپتمبر پورې پرمخ تلو، پکې یو مسلکي برخه شامل وه چې د روزنې، ښوونې او عامه معلوماتو فعالیتونو لپاره یې AGO کې شپږ د EVAW واحدونه رامنځته کړل. INL پدې نوښت شاوخوا 2.7 ملیون ډالر مصرف کړل.[640] SAJA چې تمه کیږي له 2014 سپتمبر څخه تر 2017 مارچ پورې دوام ومومي، د EVAW نوي رامنځته کړی شوي 11 واحدونو ملاتړ پراخه کړي، چې د ټولټال ملاتړ شوي واحدونو شمیر 19 ته رسوي. SAJA به د پروګرام تر پای پورې حقوقي روزنې او د اړوند معیار کاریدونکي طرزالعملونه د AGO جوړښت سره مدغم کړي. INL پلان لري چې د پروګرام په اوږدو کې پدې برخه شاوخوا 6 ملیون ډالر مصرف کړي. JSSP غواړي چې د AGO شفافیت او فعالیت کولو ته وده ورکړي. JSSP د AGO سره د دې داخلي ستراتیژیک پلان جوړولو پروسو، د بودیجې پروسو، تدارکاتو پروسو، او د نظارت، روزنې، او توکو ملاتړ له لارې اخلاقیاتو په برخه کې مرسته وکړي.[641]

## د فساد پروړاندې مبارزې د نظارت او ارزونې ګډه خپلواکه کمیټه (MEC)

د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د فساد پروړاندې مبارزې د نظارت او ارزونې ګډه خپلواکه کمیټه (MEC) د وړ اداري او تخنیکي ظرفیت څرګندولو ته دوام ورکوي. په هرصورت، د بهرنیو چارو وزارت یادونه کوي چې MEC واک نلري د ضعیف یا مفسد کړنو روښانه کولو پرته نور ډیر څه وکړي.[642]

د ربع په جریان کې، MEC په کابل بانک او د افغانستان بریښنا شرکت (DABS) باندې راپورونه خپاره کړل. دا دواړه راپورونه په ترتیب سره د اقتصادي او ټولنیزې پرمختیا برخې 167 او 173 مخونو کې بوښل شوي.

## د څار او فساد پروړاندې مبارزې عالي اداره

د بهرنیو چارو وزارت او USAID مخکې راپور ورکړی چې د څار او فساد پروړاندې مبارزې عالي اداره (HOO) غیر فعالی، غیر مؤثر او سیاسي شوې اداره ده.[643] د دې ربع په جریان کې نه د بهرنیو چارو وزارت او نه هم DOJ د HOO سره بوخت و.[644]

## امنیتي خدمات

د امریکا دفاع وزارت په وینا، MOD او MOI دواړه لیواله ندي شفافیت او څار تعقیب کړي چې په پایله کې دواړه نهادونو کې حساب ورکوونه شتون نلري.[645]

ګډ بین الاداري کاري ځواک – افغانستان (CJIATF-A)، د فساد پر ضد او مبارزې هڅو لپاره د ایساف یو رهبري کونکی عنصر، په 2014 اکتوبر 31 د پای ته رسیدو لپاره مهالویش شوی. د CJIATF-A ځیني برخې ممکن د متحده ایالاتو کابل سفارت ته واړول شي یا د افغانستان څخه بهر ولیږدول شي ترڅو په افغانستان کې د متحده ایالاتو مجاز حداکثر پرسونل لاس لاندې پاتې شي.[646]

**د دفاع وزارت**

د امریکا دفاع وزارت په وینا، MOD د شفافیت او حساب ورکووني پالیسیو او پروسو مؤثریت په پام کې نیولو سره په تیرې ربع کې یوڅه پرمختګ کړی دی. سره لدې چې د شفافیت، حساب ورکووني او څار پروسې شتون لري، دا د MOD مشر رهبریت کې د اساسي فساد کچو له امله نه پلي کیږي.[647]

د MOD عمومي پلټونکی (IG) د اړوند مناسب روزل شوي پرسونل په شتون کې ښې سرچینې لري. په هرصورت، د MOD IG اساسا د هغه سیاسي شبکې غړیو خوندي کولو باندې تمرکز کړی او د هغه مشر غړو لخوا جنایی چلند تورونو د تحقیقاتو مخه نیسي.[648]

د عمومي کارمندانو (GS)IG) نهاد په ورته ډول کارمندان لري، او جوړښت کې یوڅه پرمختګونه او د GS IG روزنې پلان شوي چې راتلونکی مؤثریت یې وده ومومي. داسې ملاحظه کیږي چې GS IG د فساد قضیو په رابرسیره کولو او راپور کولو کې مؤثر وي، مګر د GS IG د فساد سره مبارزې له معنی ډکې هڅو مخه د MOD مشرتابه لخوا نیول کیږي. د امریکا دفاع وزارت په وینا، GS IG د کابل میشته ډیری واحدونو کې د فساد ځانګړي تحقیقات په لاره اچولي او د افغان ملي اردو (ANA) قل اردوګانو د تفتیش لپاره د تفتیش یو کلنی پلان تعقیبوي. مګر کله چې تحقیقات جنایی شواهد رابرسیره او MOD ته د جنایی قضیې په حیث عدلي تعقیب لپاره راوړل شي، د MOD مشرتابه یې د تعقیب مخه ونیسي.[649]

که څه هم د ANA ټولو شپږ قل اردوګانو د شفافیت او حساب ورکووني کمیټو (TACs) ته خپل غړي ګمارلي، د TAC ټول غړي د قل اردو کارمندانو غړي دي (د قل اردو قوماندان معاون لخوا یې مشري کیږي)، او هیڅکله د قل اردو قوماندانانو په اړه حساس معلوماتو راپور نه ورکوي. د TACs د دې استقلالیت نه شتون له امله، GS IG ارزوي چې د TACs طرحه اوسمهال بې اغیزې ده.[650]

**د کورنیو چارو وزارت**

د امریکا دفاع وزارت په وینا، په MOI کې د فساد په نښه کولو لپاره د MOI د فساد پروړاندې مبارزې نوښتونه کافي ندي. د کورنیو چارو وزیر د فساد پروړاندې مبارزې کار سره خپل ملاتړ څرګند کړی، مګر عموما دا اند شتون لري چې ترهغه وخت پورې اوسنی MOI IG پرځای وي محدود پرمختګ به پدې برخه کې وشي. د ترینګړي سهوې بلاک تیري کونکو ته تکثیر شوي متناسب جزا پلي کولو نه شتون پرځای پاتي کوي، دواړه کوچني او لوی، په مشرتابه کې د مورال نه شتون، او یو داسې دولتي سیستم چې د ملګرتیا او خپلوي پالنې ائتلافونو څخه ډک وي د ډیری کلونو په اوږدو کې رامنځته شوی.[651]

# بشري حقونه

## کډوال او په هیواد کې دننه بېځایه کېدل

د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د کډوالو خوځښت کې پراخه کمښت یا ډېروالی نه و او د دې ربع په جریان کې په پاکستان او ایران کې افغان کډوالو باندې اغیز کونکې پرمختګونه نه و. د ملګرو ملتونو د کډوالو لپاره عالي کمیسیون (UNHCR) د تیرې ربع 6,881 بیرته راستنه شویو په پرتله په جولای او اګست کې 2,728 افغان کډوالو راستنیدل ثبت کړي. د 2014 لومړي اته میاشتو کې ټولټال 11,949 افراد راستانه شوي، دا شمیره د هغه 30,666 څخه 61% ټیټه ده چې د 2013 کال ورته دوره کې راستانه شوي و.[652]

د اګست تر 31 پورې، UNHCR ټولټال 721,771 نفر د جګړې له امله داخلي بېځایه شوي افراد (IDPs) ثبت کړي، د جون 12 له 672,736 په پرتله. د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د داخلي بېځایه شویو حقیقي شمیر کیدی شي خورا لوړ وي او تاییدول یې مشکل دي. د IDPs لپاره د UNHCR 10 غوره ولایتونه فاریاب، هلمند، کندهار، فراه، ننګرهار، کنړ، پروان، کاپیسا، وردګ او بادغیس دي. اصلي ولایتونه عین ولایتونه و چیرې چې بېځایه شوي ورته تللي. د بېځایه شویو ډېری یې ناامن کلیوال سیمې او قصبې پرېښي او د خوندیتوب او دولتي خدماتو ترلاسه کولو لپاره د هماغه ولایت لوی قصبو او ښارونو ته کډن شوي.[653]

په فبروري کې افغان حکومت په داخلي بې ځایه کیدنې یوه ملي پالیسي په لاره واچوله. پدې پالیسی کې د افغان دولت ډېرې وزارتونو او ادارو او د دوی د پرمختیا او بشر دوستانه ملګرو مسؤلیتونه ترتیب شوي. د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د دې پالیسی پلې کول به اساسي ظرفیت رامنځته کولو ته اړتیا ولري چې دا مهال افغان دولت کې شتون نلري، د ځمکې اجاره کولو قوانینو او مقرراتو کې بدلون راوستو سره.[654]

د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د کډوالو چارو او راستنیدونکو وزارت (MORR) به د مشرې کونکې وزارت په توګه د نوې پالیسی پلې کولو لپاره لازمې مشرتابه او مدیریت کیفیتونو ښودلو ته د جدي ننګونو سره مخ شي. MORR د خپل پیل راهیسې یو ضعیف وزارت و او د کډوالو بیرته راستنیدو مسلو باندې مؤثر او نامتناقص عمل لپاره هیڅکله د رهبریت کچه نده څرګنده کړې حتی که هم دا د کابینې په کچه ادارو لپاره د کډوالی پورې اړوند مسلو باندې مشر همغږي کونکې په توګه خدمت کولو لپاره رامنځته کړی شوې وه. MORR ولایت په کچه مقاماتو مؤثریت د کلونو په اوږدو کې توپیر درلود، مګر ځینې یې ممکن قوي فعالیت کونکې وي لدې چې د IDP ستراتیژۍ په سیمه ایزه کچو پلې کیدو ته وراندې کیږي.[655]

د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د افغانستان د ناورین مدیریت ملي اداره د نوې IDP پالیسي پلې کولو او عاجل حالاتو کې غبرګون ښودلو اوسنی وړتیا میکس شوې، د داسې راپوررونو سره چې په ځینې موقعیتونو کې یې پرمختګونه کړي. په ورته توګه، د نوې IDP پالیسي پلې کولو او عاجل حالاتو کې غبرګون ښودلو کې د سیمه ایزو او ښاروالیو چارواکو ظرفیتونه سره لوی توپیر لري. نړیوال سازمانونه، دوه اړخیز ډونران او NGOs سخت کار کوي چې د سیمه ایز حکومت چارواکو ظرفیت جوړ کړي. راپورونه شتون لري چې په ننګرهار او سرې پل ولایتونو کې نیمه ولایتي سیمه ایز حکومتونه د سیمه ایزو اړتیاو په نښه کولو کې لانور دمخه فعالیږي، مګر حتی د ډیر شوي مهارتونو او روزنې سره د ډیرې کلیدي وزارتونو ولایتي ریاستونه ډېرې وختونه نغدي پیسې نلري او د معاشاتو ورکړه کې ستونزې لري.[656]

## د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون

د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون (AIHRC) د بشري حقونو پوري اړوند مسلو په اړه پوهاوي ډیرولو، د بشري حقونو اوسني وضعیت مستند کولو، د ناوړه ګټه پورته کوونې په اړه غږیدو، او د ټاکنو پروسې نظارت کولو کې د پام وړ پرمختګ کولو ته دوام ورکوي.[657]

پدې ربع کې، AIHRC د *بچه بازی* ، داسې یو عمل چې ځوان هلکان پکې د جنسي مریو په توګه کارول کیږي، علتونو او منفي پایلو باندې یو راپور خپور کړ. د AIHRC په وینا، بچه بازي افغان قوانینو کې په روښانه توګه نده تعریف شوې؛ په هرصورت، دغه عمل نړیوال کنوانسیونو څخه سرغړونه ده، د بشري قاچاق او تجارت یو ډول دی، او نو همدې لپاره یو جرمي عمل دی او د بشري حقونو سرغړونه ده. AIHRC بچه بازي د قانون حاکمیت نه شتون، فساد، په قانون کې تشو او ابهام، قضا ته محدود لاسرسی، غربت، ناامني او د وسله والو ډلو شتون ته نسبت ورکوي. AIHRC وړاندیز کړی چې افغان دولت جنایی قانون تعدیل کړي ترڅو په روښانه توګه بچه بازي غیرقانوني اعلام کړي.[658] د بهرنیو چارو وزارت په وینا، په AIHRC کې ارتباطاتو په ګوته کړي چې راپور ته د عام خلکو غبرګون په لویه کچه مثبت و مذهبي مشرانو نوموړي عمل د اسلام ضد معرفي کولو په توګه پیل کړی.[659]

# اقتصادي منځپانګې


| | |
|---|---|
| مهمې پيښې | 163 |
| اقتصادي نقشه | 164 |
| بانکداري او مالی چارې | 169 |
| د امريکې اقتصادي ملاتړ ستراتيژي | 173 |
| د طبيعي زيرمو پراختيا | 174 |
| کرنه | 181 |
| اساسي خدمتونه او پراختيا | 184 |
| د خصوصي سيکتور پراختيا | 188 |
| ترانسپورتيشن | 192 |
| زده کړه | 193 |
| روغتيا | 196 |

# اقتصادي او ټولنیزه پراختیا

د 2014 سپتمبر تر 30 پورې، د امریکا حکومت د افغانستان د حکومتولی، اقتصادي او ټولنیزې پراختیا ملاتړ لپاره له 30.6 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه زیات برابر کړي دي. د مختص شوي بسپنو ډیری یې څلور لوی پروګرامونو او حسابونو ته لیږدول شوي، لکه څنګه چې په جدول 3.23 کې ښکاري. د دې بسپنو لپاره مختص شوي 23.2 ملیارد ډالرو څخه، شاوخوا 20.2 ملیارد ډالر منل شوي او 15.4 ملیارد ډالر مصرف کړی شوي. دغه ټولې پراختیایي مرستې په 2014 مالي کال کې کمې شوې. تر ټولو لوی حساب، د اقتصادي ملاتړ وجهي صندق (ESF)، په 2010 مالي کال کې د 3.35 میلیاردو امریکایي ډالرو له لوړې کچې څخه په 2014 مالي کال کې 852 میلیونو امریکایي ډالرو ته ولاړ.

جدول 3.23

| د افغانستان د پرمختک لپاره مجموعي تخصیصات، د 2014 کال د سپتمبر تر 30 پورې (په میلیاردونو ډالر ) | | |
|---|---|---|
| بودیجه | مسؤله اداره | اختصاص شوي |
| ESF | USAID | $17.7 |
| CERP | د امریکا دفاع وزارت | 3.7 |
| TFBSO | امریکا دفاع وزارت | 0.8 |
| AIF | STATE/امریکا دفاع وزارت | 1.0 |
| **ټولټال** | | **$23.2** |

یادونه: ESF = د اقتصادي ملاتړ صندوق؛ CERP = د قوماندان بیړني غبرګون پروګرام؛ TFBSO = د سوداګرۍ او ثبات عملیاتو لپاره کاري ځواک؛ AIF = د افغانستان زیربنا فنډ.

سرچینه: د ب ضمیمه وګورئ

## مهمې پیښې

د افغانستان اقتصادي ودې کموالي دوام وکړ، او تر ډیرې کچې د سیاسي بې ثباتي، دوامداره یاغیتوب، او د امریکا او ایتلاف ځواکونو کمیدلو پایلو له کبله و.[660] په دغه ربع کې یو شمیر کارونه ترسره شوي چې کیدای شي د افغانستان پر اقتصاد باندې ډیر اغیز ولري:

- په 1393 مالي کال کې (د 2013 دسمبر له 21 د 2014 دسمبر تر 20) د افغانستان کورني عواید د مالي وزارت (MOF) د بودیجې له نښو څخه 22% کم و، او د 1392 مالي کال کې د ورته مودې لپاره 3.8% کم و. لګښتونه تر عواید ډیر زیات و؛ د مرستندویانو مرستو مالي تشه کمه کړه.[661]
- د مالیې وزارت د اضافي پیسو لپاره له مرستندویانو سره خبرې کوي ترڅو د 1393 مالي کال پاتې برخې لپاره، چې د دسمبر په 20 پای ته رسیږي د بودیجې کموالی پوره کړي. حکومت ویلي چې له دغه مرستې پرته کیدای شي د بیلونو تادیات په شمول د عامه کارکوونکو معاشونه وځنډوي.[662]

- نوي ټاکل شوي ولسمشر د افغانستان حکومت چارواکو ته لارښوونه وکړه ترڅو ډير ژر د کابل بانک قضيه بيرته پرانيزي، غلا شوي پيسي بيرته لاسته راوړي، او هغه کسان چي په غلا کي لاس لري محاکمه کړي، او د ځای ناستي نوي کابل بانک خصوصي کيدلولپاره ګام واخلي. [663]
- د فساد پر وړاندې د نظارت او ارزوني خپلواکي ګډې کميټي هم د کابل بانک کړکيچ په اړه خپل دويم راپور خپور کړی، او د کابل بانک د قضيې د حلولو پر مختګ په اړه يې د ډير کم پرمختګ يادونه کړې، په دغه راپور کي يې د پور د مسولو کسانو نومونه اخيستي، د نغدو پيسو او ملکيتونو بيرته لاسته راوړلو په اړه، د جرمي اجراتو، او حکومت اصلاحاتو هڅو په اړه يې نوي معلومات ورکړي. [664]
- پخواني ولسمشر د اوږدې مودې لپاره د منرالونو څنډيدلی قانون توشيح کړ. [665] پداسي حال کي چي د قانون د ځينو مشخصو موادو په اړه اندېښني شتون لري، د دغه قانون موخه دا ده ترڅو پانګه وال وهڅوي او له نړيوالو ښو کارونو سره د افغانستان مقررات برابر کړي. [666]

## اقتصادي نقشه

د افغانستان د کورني ناخالصو محصولاتو حقيقي وده، له ترياکو پرته، د سياسي بې ثباتی او امنيت چاپيريال نامعلومتيا له کبله په تير کال کي ډيره کمه شوي ده، په 2013 مالي کال کي له 3 تر 4% وه او د نړيوال بانک وړاند وينې پر اساس په 2014 کي 1.5% ده. تمه کيږي چي دغه حالت لږ تر لږه د 2015 تر لومړی نيمايي دوام ومومي. که دغه نامعلومتيا چي له بې امنيتي، بې ثباتي، اقتصادي جرمونو، او دوامداره اداري فساد سره ډير شوي، دا به په خصوصي پانګوني او ودې باندي نور هم منفي اغيز واچوي. [667]له بل پلوه، د افغانستان اقتصاد له 2003 څخه تر 2012 پوري په منځنی کچه له 9.4% وده کړې. [668]

د غير خوراکي مصرف کيدونکي توکو قيمتونو کموالی د 2014 په لومړنيو شپږو مياشتو کي د انفلاسيون د کميدلو سبب شوی، او دا تر ډيري کچې د کورونو او ځمکو قيمتونو کموالي له کبله و. د 2013، 7.3% په پرتله، نړيوال بانک د 2014 په جون کي انفلاسيون 5.6% حساب کړي. [669]

د پيسو نړيوال صندق (IMF) موندلي پداسي حال کي چي د افغانستان بنسټيز اقتصاد او مالي پاليسی (چي د مرستندويانو مرستو لخوا تمويليږي) په مناسبه توګه انډول لري، حکومت بايد نور کارونه ترسره کړي ترڅو کورني عوايد زيات کړي او د بوديجي اداره ښه کړي. د انفلاسيون لوړی کچي مخنيوی لپاره، د افغانستان مالي پاليسی بايد د خپلو نړيوال اسعارو زيرمه وساتي، د پيسو برابرولو ودې محدودولو ته دوام ورکړي، او د اسعارو بدلولو بدلون ور نرخ وساتي. د پيسو نړيوال صندق ويلي دا ستراتيژی په 2012 کي د شيکاګو او ټوکيو کنفرانسونو د مرستندويانو مرستو د ژمنو په دوام پوري اړه لري، او پدې پوری اړه لري ترڅو افغانستان خپلې ژمني پوره کړي، چي "د مرستندويانو د ډاډ دوام لپاره ډيري اړيني دي. " [670]

"د افغانستان ترټولو اقتصادي ننګونه د ودې پياوړي سرچينو موندل دي."

سرچينه: نړيوال بانک، "افغانستان په يو نظر کي،" په 9/9/2014 خپور شوی.

## مالي پايښت

د پيسو نړيوال صندق په وينا، افغانستان په نړی کي د کورنيو عوايدو ټولولو يوه ډيره ټيټه کچه لري، او له 2006 څخه تر 2013 پوري په منځنی کچه د 9% GDP وه. [671]د بوديجي اټکل په پرتله د کمو عوايدو ټولولو دوام موندلی. د 1393 مالي کال په لومړنيو اوه مياشتو کي، ټولو کورني عوايدو، ماليو او له ماليو پرته عوايدو، او د ګمرکونو تعرفو د ماليې وزارت تر 274 ميليونه امريکايي (-22%) ډالر ندي پوره کړي، او د 1392 مالي کال په پرتله نږدې 39.46 ميليونه امريکايي ډالر (-3.8%) کم شوي[672].

*واشنګټن پوسټ* او نورو رسنو په سپتمبر کې راپور ورکړ چې MOF د نړيوالو مرسته کونکو څخه په سمدستي توګه د 537 مليون ډالرو تاديه غوښتنه وکړه ترڅو د FY 1393 پاتې مودې لپاره د بوديجې تشه پرې وپوښي. دولت وويل چې د دې تاديه پرته به د بيلونو ورکړه وځنډوي، په شمول د ملکي کارمندانو معاشات.

سيګار د بهرنيو چارو وزارت چارواکو څخه په ليکلي بڼه د هغه فاکتورونو غوښتنه وکړه چې MOF دې غوښتنې لامل شوي. په ځانګړي توګه اداري ترې وغوښتل چې کله د بهرنيو چارو وزارت د افغانستان خطرناک مالي وضعيت څخه خبر شو نو د متحده ايالاتو اړوند ځواب څه و، او متحده ايالاتو څنګه پلان وکړ چې داډ ترلاسه شي دا ډول غوښتنې بيا رامنځته نشي.

د بهرنيو چارو وزارت وويل چې هغه پدې کال کې د څو مياشتو لپاره بوديجې تشو څخه خبر و، مګر چارواکي يادونه کوي چې MOF د مرستې لپاره په مناسب ډول توضيحي رسمي غوښتنه نده ترسره کړې. د بهرنيو چارو وزارت چارواکو وويل چې پرځای يې د دې تشې بنې، وخت او انشعاب د افغان دولت سره تربحث لاندې و. کله چې د بهرنيو چارو وزارت د سمدستي فنډ تزريق لپاره تاييدونکي توضيحي اسنادو سره يوځای رسمي غوښتنه لاسته راوړي، نو دا به خپل ځواب مشخص او نورو ډونرانو سره همغږی کړي.

د بهرنيو چارو وزارت سيګار ته وويل چې په مطبوعاتو کې راپور شوی د 537 مليون ډالرو دا رقم روښانه ندی، مګر د ډونر هر فنډ چې چمتو شوی به د "دمخه موجود – خبرکړی شوي سرچينو" پراساس وي او د کانګريس څخه اضافي تخصيصاتو ته به اړتيا ونلري.

د بهرنيو چارو وزارت د افغانستان مالي بحران ته اقتصادي جبر پورې نسبت ورکوي چې د سياسي ليږد او افغانستان غيرواقعی بوديجې له امله رامنځته شوی. پداسې حال کې چې د عوايدو راټولولو معيارونو او بوديجې تنظيم ته وده ورکولو لپاره د نوي دولت سره کار کولو ليوالتيا څرګندوله، د بهرنيو چارو وزارت وويل چې نوی دولت د دې ستونزو لرې کولو لپاره نهای مسؤليت په غاړه لري. چارواکو وويل چې افغانستان ته خبرداری ورکړل شوی چې متحده ايالات به د سمدستي فنډونو لپاره تکراريدونکي غوښتنو ته مثبت ځواب ورنکړي.

سيګار د بهرنيو چارو وزارت څخه د افغانستان مالي مديريت معلوماتو سيستم (AFMIS)، د هيواد د حکومت پراخه محاسبې سيستم ته لاسرسي سره د متحده ايالاتو حکومت د قرارداد ټکي لپاره غوښتنه وکړه، په بيله بيا د هرهغه هڅو شرح چې د متحده ايالاتو يا نړيوالې ټولنې لخوا د AFMIS معلوماتو اعتبار لپاره ترسره شوي وي. د بهرنيو چارو وزارت ځواب ورکړ چې دامهال AFMIS ته لاسرسی نلري. د امريکا دفاع وزارت د کورنيو چارو او دفاع وزارتونو د مصرف تعقيبولو لپاره AFMIS باندې تکيه کوي او د AFMIS ځينې معلوماتو ته لاسرسی لري، مګر خبرداری ورکوي چې معلومات د افغانې کارمندانو لخوا دننه کيږي، چې اعتبار يې ورته افرادو پورې وابسطه کوي. د امريکا دفاع وزارت د دوري معلوماتو – د اعتبار چيک کولو څخه خبر ندی. د لانورو توضيحاتو لپاره 139 مخ وګورئ.

سيګار باور لري چې د متحده ايالاتو حکومت بايد MOF باندې د AFMIS ته بشپړ لاسرسي لپاره فشار راوړي او افغان دولت سره مرسته وکړي چې ډاډ ورانده کړي نوموړي معلومات درست او معتبر دي. پداسې حال کې چې د AFMIS معلومات د عيب نه شتون څخه لرې دي، لدې پرته سيګار باور لري متحده ايالات د هغه څه ټوليز ليد نلري چې افغان دولت راپور ورکوي پيسې يې په څه شي او کوم نرخ مصرفوي، نشي کولی تاييد کړي چې ايا تر کوم حد پورې د بوديجې تشې شتون لري، او د متحده ايالاتو ځواب خبرولو لپاره ناکافي اساسات لري.

سيګار د افغانستان دولت د متحده ايالاتو او نړيوالو ډونرانو د مرستې مليادونو ډالرو لپاره مديريت ترپوښتنې لاندې راولي. د افغانستان بوديجې تشې د ډونر مرستو په استثنا، د سيګار، نړيوال بانک، IMF او افغان ماليه وزارت لخوا مستند شوي، د نورو ترمنځ د اوږدو ولسمشريزو ټاکنو او دې پورې اړوند اقتصادي اغيزو څخه ډير مخکې. افغانستان د فساد په نښه کولو لپاره د سياسي ليوالتيا نه شتون څخه رنځيږي، چې د افغان دولت ډيری نهادونو کې يې ځای نيولی او د عوايد معيارونو ضعيف پلي کولو څخه رامنځته شوی. سيګار د بهرنيو چارو وزارت سره موافق دی چې نوی افغان اداره د دې مسلو لرې کولو لپاره تازه فرصتونه له ځانه سره لري.

سرچينه: *واشنګټن پوسټ*، "افغان چارواکي وايي دولت نږدې بې پيسو کيږي، د متحده ايالاتو پيسو ورکړې ته اړتيا لري،" 9/16/2014؛ رويټرز، "د پيسو نه لرونکی افغانستان به د ملکي کارمندانو معاش وځنډوي: د ماليه وزارت چارواکي،" 9/27/2014؛ سيګار - 14-101-SP، 9/26/2014؛ د بهرنيو چارو وزارت، د سيګار پوښتنې ليک ته ځواب سيګار 14-101-SP، 10/10/2014؛ نړيوال بانک، *افغانستان: د هيواد لنډ انځور*، 3/2014؛ IMF، *2014 مقاله IV مشوره – د کارمندانو راپور؛ مطبوعاتي اعلاميه؛ او د افغانستان اسلامي جمهوريت لپاره اجرايوي رييس بيان*، 5/2014؛ MOF، *مياشتنی مالي خبرونه، مياشت 7، 1393*، 9/6/2014؛ MOF، *کلنی مالي راپور، 1391 (9 مياشتې)*، په 10/11/2014 خپور شوی؛ د سيګار سره د بهرنيو چارو وزارت تليفوني اړيکه، 10/15/2014؛ د بهرنيو چارو وزارت، د سيګار ارزونې ته ځواب، 10/16/2014؛ د امريکا دفاع وزارت، CSTC-A، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 9/29/2014؛ د سيګار څيړنې.

نړيوال بانک په 1393 مالي کال کې (د 2013 دسمبر له 21 د 2014 دسمبر تر 20) د شاوخوا 500 ميليونو امريکايي ډالرو بوديجې کموالي اټکل کړی، او راپور يې ورکړی چې افغانستان د مالي کړکيچ په لور روان دی. د حکومت نغدو پيسو انډولونه ټيټ دي او د عملياتونو او ساتنې او پراختيايي اختياري لګښت هم نشي پوره کولای.[673] افغانستان په 1393 مالي کال کې د بوديجې له ډير کموالي څخه رنځ وړي، او دا کموالی د ملکي کارکوونکو معاشونه، د تقاعد معاشونه، او د عملياتونو او پر اختيايي لګښت له ګواښ سره مخامخ کوي. مګر، که حکومت تعديدل شوي عوايدو نښو ته ونه رسيږي او د مرستندويانو مرستې تاديه نشي، نړيوال بانک خبرداری ورکوي چې مالي تشه به ډيره شي.[674]

د افغانستان حکومت چارواکي تر ډيري کچې دغه تشه د مرستندويانو د بوديجې پر اساس د پراختيايي مرستې نه رسولو، [675] او لدې کبله ګڼي چې د ولسمشری ټولټاکنې اوږدې شوې د مصرف کيدونکو لګښتونه کم شول او په ټوليزه توګه د وارداتو کموالي سبب شو، چې د حکومت او ګمرکونو د ماليې اصلي سرچينې دې. [676]د امريکا بهرنيو چارو وزرات ويلي د نړيوالو ځواکونو دوامداره کميدل، چې د دغو ځواکونو شتون په سنتي توګه د وارداتو ډيريدلو سره مرسته کوله، د افغانستان د عوايدو کموالی يې زيات کړی. [677] مالي تشه چې په اوس وخت کې د مرستندويانو لخوا پوره کيږي، ډير دی او لکه څرنګه چې په دغه شکل 3.32کې ښودل شوي د ډيريدو په حال کې دی. [678]

شکل 3.32

**د عملياتي او پرمختيايی بوديجې مخارجو سره د افغانستان پرتله شوي کورني عوايد** (مليونونه ډالر)




يادونه:تردې وروستيو پورې افغان مالي کال شاخوا د مارچ 21 څخه د مارچ تر 20 پورې په پرله پسې ميلادي کلونو کې يې. FY 1388 د 2009 د مارچ 21 څخه د 2010 تر مارچ 20 سره سمون درلود او داسې يې نور. د 1391 مالي کال لپاره د نهه مياشتو معلومات افغان مالي کال کې د مودې بدلون ښيې. افغان مالي کال اوس له 21 دسمبر څخه تر 20 دسمبر پورې وي. FY 1393 يوازې لومړۍ اوه مياشتې وړاندې کوي.

سرچينه:MOF، "د 1391 کلنی مالي راپور،" په 6/20/2013 خپور شوی؛ MOF، "د 1393 ملي بوديجه،" په 4/14/2014 خپور شوی؛ MOF، "د 1392 مياشتنی مالي خبرپاڼه، مياشت 12،" 2/14/2014، په 4/14/2014 خپور شوی؛ MOF، "د 1393 مالي کال مياشتنی مالي خبرپاڼه، مياشت 7،" 9/6/2014، په 10/18/2014 خپور شوی؛ د افغانستان بانک، "افغانيو ته د انتخاب شوي اسعارو د تبادلې ورځنی نرخ،" 2/14/2014، په 4/14/2014 خپور شوی؛ د افغانستان بانک، "افغانيو ته د انتخاب شوي اسعارو د تبادلې ورځنی نرخ،" 8/17/2014، په 10/18/2014 خپور شوی.

د نړيوال بانک په وينا په امنيتي، خدمتونو رسولو، د اړينو تاسيساتو جوړولو، او عملياتونو او ساتنې لګښتونو له کبله، تمه کيږي د حکومت لګښتونو زياتوالی د 2014 په پړاو کې 27.3% و په 2016 کي تر 30.5% پورې دوام وکړي.[679] نړيوال وجهي صندق د افغانستان مالي تشه، چې د بوديجې پر اساس او له بوديجې دباندې اړتياو څخه جوړ شوی، تر 2018 پورې په منځنی کچه په هر کال کې 7.7ميليارده امريکايي ډالر (د کورنيو ناخالصو محصولاتو 33%) اټکل کړی.[680]دا به د افغانستان وړتيا محدوده کړي ترڅو د مرستندويانو او بنو عوايد ټولولو څخه پرته د اختياري خدمتونو لګښت ورکړي.[681]

د عوايدو ټولولو ښه والی سياسي ارادې ته اړتيا لري. د فساد پر وړاندې مبارزې د نظارت او ارزونې خپلواکې ګډې کميټې (MEC) ويلي چې "افغانستان د اداري فساد او په سرحدونو کي د قاچاق له کبله د عوايد ډيره برخه له لاسه ورکوي." [682] نړيوال بانک ويلي چې د عوايد ټولولو په ښه والي کې بايد د عوايد ورکيدلو کموالی، د ماليې او ګمرکونو پلې کولو ځواکمن کول، او د 10% پر ارزښت اضافه شوې ماليه (VA) تطبيق شامل وي.[683](د *امريکا کانګريس ته د سيګار د 2014 جولای ربع راپور* د VAT د فرصتونو لپاره د خبرو او د افغانستان لپاره د ننګونو په اړه د مالي دوام ليکنه وګورئ).

په دغه ربع کې، MEC دغه راپور هم ورکړی چې د افغانستان برېښنا شرکت (DABS)، د افغانستان د برېښنا ملي خدمتونو شرکت، په شمول د يو شمير حکومتي وزارتونو د 2009 له اکتوبر څخه د 2012 تر مارچ پورې د نږدې 33 ميليونه امريکايي ډالرو نه تاديه شوي بيلونه له خپل عوايدو څخه کموي. په دغه موده کې، د افغانستان برېښنا شرکت يوازې 4.3 ميليونه امريکايي ډالر ټول کړي.[684] دغه شرکت راپور ورکړی چې په هلمند کي يې د برېښنا يوازې نيمای بيلونه ټول کړي، پداسې حال کې چې طالبان په يو شمير ولايتونو کې چې د برېښنا تاسيسات يې په لاس کې نيولي عوايد ټولوي.[685]د برېښنا د تاسيساتو پروګرامونو د لا نورو معلوماتو لپاره چې د افغانستان برېښنا شرکت د دوام لپاره به دغه شرکت ته وسپارل شي، 185 پاڼه وګورئ.

## سوداګري

د افغانستان د سوداګرۍ تر ټولو لوی ملګری پاکستان دی، وروسته بيا امريکا، د اروپا ټولنه، او سيمه ايز ګاونډيان راځي.[686] له 2006 څخه تر 2013 پورې، د سوداګرۍ اړوند ماليې د افغانستان د ټولې مالي عوايدو 45% استازيتوب کاوو.[687]که څه هم افغانستان په دوامداره توګه د سوداګرۍ لوی کموالی لري، د مرستندويانو مرستې لډې هيواد سره مرسته کوي ترڅو د کورني ناخالصو محصولاتو 4.1% اوسنې حساب اندول وساتي.[688] افغانستان د نړيوال پيسو مارکيټونو ته لاس رسی نلري او پر دغه مرسته باندې تکيه کوي. له دغه مرستې پرته، نړيوال وجهي صندق اټکل کوي چې افغانستان به د اوسنې حساب کموالی ولري چې د کورني ناخالصو محصولاتو 41% سره به برابر وي.[689]

نړيوال بانک اټکل کوي چې د افغانستان د بهرنيو اسعارو زيرمه به د 2014 تر پايه 7.3 ميلياره امريکايي ډالر وي (او دا د اتو مياشتو وارداتو پوښښ لپاره پوره ده).[690]دغه زيرمې دا مرسته هم کوي ترڅو د اسعارو بدليدلو ثبات وساتي او اقتصاد د بهرني ګواښونو پر وړاندې خوندي کړي.[691]د اسعارو بدلولو نرخ د سوداګرۍ پر انډول او اوسني حساب باندې اغيز لري. افغانستان د اسعارو بدلولو يو بدليدونکی او انډوليز نرخ لري چې تر يوې کچې د باثباته مالي پاليسي سبب شوی دی، مګر د امريکايي ډالر پر وړاندی د افغانۍ نرخ د ټيټيدلو په لور روان دی. د افغانستان مرکزي بانک په وينا، د 2012 د جنورۍ په پيل کي يو امريکايي ډالر ارزښت نږدې 49 افغانۍ و؛ او د 2014 د سپټمبر په 30، نږدې 57 افغانۍ و.[692]

**جاري حساب:** د يوه هيواد د سوداګرۍ محاسبې يوه برخه. "د ورکړو بيلانس يې د دوه فرعي حسابونو درلودونکی وي. يو فرعي حساب *جاري حساب* دی. جاري حساب په لويه کچه د سوداګرۍ بيلانس درلودونکی وي، کوم چې د متحده ايالاتو [بل هيواد] د توکو او خدماتو واردول او صادرول ثبتوي. دوهم فرعي حساب د 1 پانګې او مالي حساب 2 دی (چې لدې وروسته به ورته د پانګې حساب ويل کيږي)، کوم چې د متحده ايالاتو [بل هيواد] د خالص پلور او پانګو پيرود ثبتوي ـ سټاکونه، بونډونه (قيمت لرونکي اوراق)، پورونه، بهرنی مستقيم پانګونه، او ذخيرې ـ د وخت ورته دورې په جريان کي نورو هيوادونو سره. د متحده ايالاتو په څير هيوادونه چې د پانګې حساب اضافه او جاري حساب کسرونه پرمخ وړي د خالص بهرنی پانګې داخل ته جاري کيدل تر لاسه کوي. په مقابل کې هغه هيوادونه چې د پانګې حساب کسرونه او جاري حساب اضافي پرمخ وړي د خالص بهرنی پانګې بهر ته جريان تجربه کوي." (د سيګار يادونه: د افغانستان په قضيه کې، د پانګې حساب داخل ته جريان کي بهرنی مرسته هم شامل ده.)

سرچينه: د ولسمشر د اقتصادي مشاورينو شورا، د *ولسمشر اقتصادي راپور* (2006)، څپرکی 6: "د متحده ايالاتو د پانګې حساب اضافي،" مخ 125.

## صادرات

د پیسو نړیوال صندق په اټکل، له مخدره توکو پرته، افغانستان له 2011 څخه تر 2014 پورې، په هر کال کې له 3.1 تر 3.3 میلیاردو امریکایي ډالرو توکي او خدمات صادر کړي.[693] نړیوال بانک ویلي د افغانستان صادرات په وړه سیمه کې ترسره کیږي،[694] او ډیر کم محصولات او د سوداګرۍ ملګري لري،[695] څکه نو د ګټې لپاره پر کمو توکو ډیره تکیه لري، او په پایله کې د بې ثباته قیمتونو او سوداګرۍ ګواښونو پر وړاندې ډیر کمزوري دي.[696]

د پیسو نړیوال صندق د صادارتو په اټکلونو کې یوازې د 500 میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت د کورني توکو صادرات شامل دي. د امریکا مالیې وزارت په وینا، نور ټول بیرته صادرات دي چې د بهرني اسعارو ډیر کم عواید لاسته راوړي، پداسې حال کې چې د صادارتو اړوند خدمتونه، توکي، ترانسپورت، ساختماني کارونه، او د جواز فیسونه د بهرنیو له اردو/مرستندویانو شتون څخه راځي او کیدای شي په راتلونکي کې کم شي. هغه افغانان چې په بهر کې ژوند کوي هم پیسې لیږي، مګر د افغانستان د صادراتو په کچه کې د برخې اخیستنې یا د ارزښت اندازه کیدلو په اړه یې کم معلومات شتون لري.[697]

د امریکا مالیې وزارت په وینا، د افغانستان د صادراتو پر وړاندې لوی خنډونه دغه دي:[698]

- د امنیت نشتون، دا د دوامداره رواني جګړې او قانون نه پلې کیدلو له کبله ده، او دا د دوامداره کورني سوداګرۍ، لوی اندازې کان کیندنې، او د ګازو/تیلو استخراج پر وړاندې خنډ دی.
- ترانسپورت، په وجه کې پروت یوه هیواد په توګه، د افغانستان صادرات له مناسبې زیربنا او ګاونډیو هیوادونو څخه همکارۍ ته اړتیا لري. د ایران بحري ساحل او ډیره ښه زیربنا د سوداګرۍ یوه ښه لار ده، مګر د امریکا تر سختو تحریمونو لاندې ده.
- بشري قوا، د څو کلونو جګړه د روزنې په سیستم کې د مخنیوی سبب شوې، کم روزل شوی کاري ځواک، او د کور دننه د ټیکنالوژۍ وړتیاو محدود والی باندې بریالیتوب لپاره ډیرو کلونو ته اړتیا لري.

## واردات

د پیسو نړیوال صندق د تادیاتو انډول ښې ښیي چې له 8 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه زیات واردات د مرستندویان رسمي مرستو لخوا تادیه کیږي. که د پیسو نړیوال صندق محاسبه سمه وي، د امریکا مالیې وزارت اټکل کړی چې د مخدره توکو له عواید پرته، د بهرنیو د شتون له ډیرې غوښتنې پرته، په هر کال کې د افغانستان د وارداتو حقیقي ظرفیت له 2 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه کم دی. د امریکا مالیې وزارت ویلي چې له ډیرې بهرنی مرستې پرته، د وارداتو کچه باید ټیټه شي، مګر دا چې تر کومې کچه به دا ټیټه شي وړاند وینه یې ستونزمنه ده، پرته لدې چې دا معلومه شي چې د بهرنیانو بدلیدونکي شتون لپاره څومره وارداتو ته اړتیا ده، او دا چې کله د بهرنیانو غوښتنې کمې شي د افغانستان د وارداتو غوښتنه به څومره وي، او دا چې د ښه اقتصادي فعالیت او ودې لپاره به څومره بهرنی مرستې کچې ته اړتیا وي. د وارداتو کموالی هرو مرو پر اقتصاد ډیر اغیز نلري.[699]

د مخدره توکو عواید د ځینو مشروع توکو وارداتو لکه موټرونو، ساختماني توکو، او خواړو پیسي ورکوي، مګر دغه واردات تر ډیري کچي له رسمي سکتور څخه تیریږي. د امریکا مالیي وزارت ویلي چي د مخدره توکو عواید کیدای شي د افغانستان د بهرني اسعارو پر زیرمي ډیر مهم اغیر ونلري، مګر کیدای شي ډیر له هیواد د پیسو تلل، پیسو مینځل، او د مخدره توکو په صنعت کي د انفرادي کسانو ژوند کولو طریقه تمویل کړي. [700]

## د افغانستان د سوداګری او عاید پروژه

| د پروژي موضوع | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 9/30/2014 نیټي پوري مجموعي تادیه |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان سوداګري او عواید | 11/7/2013 | 11/6/2017 | $77,754,267 | $11,141,671 |

سرچینه: USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتني ته خواب، 10/9/2014.

د افغانستان د سودګری او عوایدو (ATAR) پروژه د USAID د سوداګری آسانتیا پروګرام دی او دغه لپاره ډیزاین شوی (1) د سوداګری له نړیوال سازمان (WTO) سره د افغانستان یوځای کیدل، (2) د سیمي سوداګر دوه اړخیزه او څو اړخیزه موافقي لپاره آسانتیا برابرول، او (3) د عوایدو ټولولو لپاره د حکومت ورتیا ښه کول او عصري کول. [701] ATAR په 2014 کي له WTO سره د افغانستان یوځای کیدلو ملاتړ کوي، او پداسي حال کي چي افغانستان په هغه وضعیت کي دی ترڅو یوځای شي، USAID ویلي چي حکومت باید هغه قوانین جوړ کړي چي د WTO له ستندردونو سره مطابقت نلري او د وزارتونو ظرفیت ښه کړي. ATAR له حکومت سره مرسته کوي ترڅو د WTO اړوند قوانینو مسوده جوړه کړي او له WTO سره د یوځای کیدلو په پروسه کي د مارکیټ لاس رسي په خبرو کي مرسته کوي. ATAR د افغانستان د ګمرکونو له چاروکو سره هم کار کوي ترڅو د ګمرکونو پروسي عصري او تنظیم کړي. [702]

## بانکداري او مالیه

"حیاتي مسلي د غوره پالیسو انتخاب یوه ساده موضوع نده، بلکه د سیاسي لیوالتیا او ظرفیت چي له مخي یي پلي کول تعقیب شي."

سرچینه: د متحده ایالاتو د خزاني وزارت، د سیګار معلوماتو غوښتني ته خواب، 10/1/2014.

نړیوال بانک او د پیسو نړیوال صندق دواړو راپور ورکړی چي د افغانستان بانکداری او مالي سکتور د 2010 کابل بانک له کړکیچ څخه بیرته په پښو ندی دریدلی. دغه سکتور له غیر مناسبو مقرراتو او نظارت، کمو پیسو، او د مصرف کیدونکو له کم ډاډ څخه رنځ وړي. [703] پردي برسیره، ډیر کم افغان بانکونه د نړیوال ستندردونو پر اساس کار کوي. د کابل بانک له کړکیچ وروسته د افغانستان د مهمو بانکونو له پلټني ترسره کیدلو وروسته، "د بانکداری د حکومتولی او عملیاتونو په ټولو ساحو کي سیستماتیک کمزوری ښودلي دي". [704]

نړیوال وجهي صندق ویلي د افغانستان بانکداری سکتور کمزوری، محدوده حقوقي زیربنا او بنسټیز ظرفیت، او د خصوصي شرکتونو غیر مناسب حکومتوالي، د مالي سکتور وده له خنډ سره مخامخه کړي. پداسي حال کي چي د افغانستان مرکزي بانک د افغانستان د 12 بانکونو د ځواکمن کولو په اړه د سمون ګامونه اخیستي دي، او لدغو څخه اوه د کمزوي شتمنی ساتلو په توګه ګڼل شوي، چي د بانکداری سکتور 51% جوړوي. که د افغانستان بانکداری سکتور د هیواد اقتصادي پراختیا کي برخه واخیستلای شي، د مالي زیربنا پراختیا ورکولو ته به اړتیا ولري (مالي محصولات، د پانګوني وسیلي، د خطر اداره کولو وسیلي، او نور)، پداسي حال کي چي د بانکداری سکتور ښه کول او اداري پلي کول باید ترسره شي. [705] د امریکا مالیي وزارت خبرداري ورکړی که افغانستان ونشي کولای په کلکه د پیسو مینځلو/تروریستانو مالي تمویل پر وړاندي قوانین پلي کړي، د دي هیواد د بانکداری سیستم به له نوري نړی څخه منظوي شي او دا توان به ونلري ترڅو مهم مالي خدمات وړاندي کړي. [706]

په دغه ربع کې، د امريکا ماليي وزارت د افغانستان بانکداری سيستم لپاره مستقيمه مرسته نده برابر کړې، مګر ويلي چې که ځانګړي شرطونه پوره شي کيدای شي مرسته په پام کې ونيسي. [707]په تيرو شرطونو کې چې افغانستان له 2011 څخه رد کړي دي، دغه شامل و: [708]

- افغانستان به د IMF ECF پروګرام د شرايطو بشپړ کولو لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکوي
- د کابل بانک سهام لرونکو ته په بانکي سکتور کې اجازه ورنکړ شي رسمي يا غير رسمي
- د ولسمشر لخوا واضح خبري چې د امريکا ماليي وزارت سلاکارانو ته به ښه راغلاست وويل شي
- د خزانې وزارت تخنيکي مشاورينو ته په ليکلي بڼه څرګند رولونه، اهداف، د پرمختګ معيارونه، او ژمني وسپارل شي
- عامه خلکو هغه خبرې ردول چې ګواکې د امريکا متحده ايالات د کابل بانک د بحران مسول دی؛
- د افغانستان بانکداری سکتور يو پلان چې کيدای شي د امريکا ماليي وزارت يې ملاتړ وکړي

ډيری افغانان پر بانکونو باندې باور نلري، او دا غوره ګڼي ترڅو د کورنی له غړو او ملګرو څخه پيسې پور کړي يا ورسره وساتي، او له غير رسمي لارو لکه د اعتماد يا حوالې شبکو پر اساس پيسې وليږي، چې د پيسو يا ارزښت ليږلو خدمتونه (MVTS) وړاندي کوي. [709]د نړيوال بانک په وينا، کابل بانک له کړکيچ څخه وروسته سوداګريز پورونه کم شوي، او د بانکداری سکتور د پور او پيسو ساتلو تناسب له 56.8% په 2010 کې 22.6% په 2013 کې را کم شوی. [710] په افغانستان کې له 50 تر 90% مالي معاملي له MVTS څخه کار اخلي، او د مخدره توکو قاچاق کوونکي هم لدغه سيستم څخه کار اخلي ترڅو د بانکداری له رسمي سکتور څخه دباندې غيرقانوني پيسې ومينځي. [711]

**حواله:** د پيسو انتقالونکي چې د فنډونو يا دې سره مساوي ارزښت ليږد او لاسته راوړه برابروي، او د اوږدې مودې لپاره د سوداګری او نقدو پيسو له لارې خپل حسابونه برابروي.

**د پيسو يا ارزښت انتقالولو خدمات:** مالي خدمات چې نقدي پيسې، چيکونه، نور د پيسو توکي يا ارزښت مني. ورکړه د خبرو، پيغام، ليږد يا برخه اخيستنې تصفيه شبکې له لارې ترسره کيږي. دريمې ډلې ته په نهايي ورکړه کې د ډيری مينځګړو دخالت ته اړتيا وي او ممکن د تاديې نوي ميتودونه پکې شامل شي.

سرچينه: FATF، *د پيسو مينځلو او تروريستانو تمويل کې د حواله او نورو ورته خدماتو چمتو کونکو رول*، 10/2013، 9، 12 مخونه.

## د پيسو مينځل

د امريکا بهرنيو چارو وزارت افغانستان د پيسو مينځلو د يوه لوی هيواد په توګه په لست کې راوړی، چې د دغه هيواد مالي بنسټونه يا پدغو معاملو کې برخه اخلي يا د ډيرو جرمي معاملو پر وړاندې کمزوري دي.  مخدره توکي، اداري فساد، او د قرارداد تقلب د هيواد د غير قانوني او پيسو مينځلو عوايدو مهمې سرچينې دي.  افغانستان د ځارنې او قانون پلې کولو کمزوري يا نشتون رژيمونه لري، او ډيره کمه سياسي اراده شتون لري ترڅو له اداري فساد سره مبارزه وشي، چې دواړه "د افغانستان د امنيت او پراختيا پر وړاندې ډير ګواښونه وړاندې کوي". [712]

د پيسو مينځلو او تروريستانو مالي تمويل تر ډيري کچې د حوالو لخوا دوام مومي، چې افغانان د چارواکو د فساد او د بانکداری سکتور کمزوری له کبله په حوالو باندې تکيه کوي.  د مخدره توکو د توليد په ځايونو لکه په هلمند کې بې جوازه او غير قانوني د حوالې صرافان د افغانستان په ټول مالي سيستم کې د پيسو مينځلو د ډيری کچې مسوليت لري. مګر د افغانستان د سوداګری کنسورسيومونه چې د حوالو او بانکونو مالکان دي هم پدې کې لاس لري.[713]

**په حکومتولی د باسيل انستيتيوت 2014 مطالعې په وينا، افغانستان د ايران په تعقيب (په 162 هيوادونو کې) د پيسو مينځلو او تروريستانو تمويل لپاره خطر کې دوهم خورا ضرر ليدونکی درجه بندي شوی.**

سرچينه: په حکومتولی د باسيل انستيتيوت، *د باسيل AML ضميمه 2014*، 8/13/2014.

## د مالي عمل کاري ځواک

په تیر ربع کې، که د 2014 په جون کې د مالي عمل کاري ځواک (FATF) له عمومي غونډې ځو ورو ځي وړاندې د افغانستان پارلمان د پیسو مینځلو/د تروریزم مالي تمویل پر وړاندې مبارزې (AML/CFT) قانون تایید کړی نه وای، نږدې و ترڅو افغانستان د FATF په تور لست کې راشي. که څه هم FATF نشو کولای ترڅو له عمومي غونډې وړاندې په دقیقه توګه د دغه قانون ارزونه ترسره کړي، افغانستان د FATF د "تور ایرن" د هغو هیوادونو په لست کې راوستل شو چې ډیر پرمختګ یې ندی کړی، او د AML/CFT له نړیوال اطاعت سره له پرمختګ وروسته په "ایرن" لست کې راوړل شو: روانه پروسه.[714]

د امریکا بهرنیو چارو وزارت د AML/CFT نوي تایید شوي قوانین ندي لیدلی او نه یې ارزولي دي.[715] د امریکا مالیي وزارت ویلي هغو د AML/CFT قوانینو او CFT مقرراتو غیر رسمي تحلیل ترسره کړی، او اندیښنه لري چې د پیسو مینځلو جرم، لکه څرنګه چې لیکل شوی، په بهر کې هغه تایید شوي جرمونه چې د افغانستان له خاوري دباندي ترسره شوي، تر پوښښ لاندې نه راوړي. پردې برسیره، هغوی د تروریستانو مالي تمویل په مقرراتو کې کمزوری مونډلي، چې د شتمنی کنګل کولو رژیم تاسیسولو لپاره ترڅو د ملګرو ملتونو امنیت شورا مصوبه 1267 او 1988 تطبیق شي، د ملګرو ملتونو غړي هیوادونه مکلف کوي ترڅو د ملګرو ملتونو د غړو هیوادونو هغه انفرادي کسان او بنسټونو چې له القاعدې او طالبانو سره تړاو لري شتمنی کنګل کړي.[716]

FATF به د 2014 په اکتوبر کې پخپله راتلونکې عمومي غونډه کې د افغانستان د AML/CFT قوانینو ارزونه ترسره کړي.[717] په عین وخت کې، FATF له افغانستان سره مرسته کوي ترڅو د AML/CFT سیستم لپاره حقوقي کاري چوکاټ تاسیس کړي او تخنیکي اطاعت لاسته راوړي. افغانستان د FATF د غړي په توګه به د خپلو AML/CFT د سیستمونو تر کلکو ارزونو لاندې راشي ترڅو اغیزمنتیا معلومه شي.[718]د امریکا مالیي وزارت په وینا، د MVTS د نظارت بنه والی د دغو ارزونو یوه برخه ده، او پدغو ارزونو کې د AML/CFT د تفتیشونو شمیر ډیروالی او هغه ارتیا شامل دي ترڅو خپل بې جوازه غیر رسمي مالي سیستم ته راوړي.[719]

د افغانستان ډیری بانکونه د خپلو یوه یا ډیرو ملګرو حسابونو د بندیدلو یا محدودولو سره اغیزمن شوي. هغوی د افغانستان د AML/CFT د رژیم او په بانک کې د پروسو نه اطاعت د کمزوریو له کبله په راتلونکې کې د بندیدلو په خطر کې دي.[720]د امریکا مالیي وزارت ویلي چې نړیوالو بانکونو حرکت کړی ترڅو د کمزوری مقرراتي چاپیریال په ځواب کې د اطاعت خپل خطرونه کم کړي. مګر، د امریکا مالیي وزارت تمه لري چې د دوو اړخیزو اړیکو ځیني مهم حسابونه به وساتل شي.[721]

د دوو اړخیزو حسابونو له لاسه ورکول کیدای شي د افغانستان بانکونو ګټو ته تاوان ورسوي، ځکه چې د دغو بانکونو لپاره د نړیوالي سوداګری معاملو فیسونه د عوایدو مهمه سرچینه ده؛ هم د تنظیمونکي په سخت چاپیریال کې ځیني بانکونه د نویو مشتریانو په منلو کې ډیر پام کوي. د امریکا مالیي وزارت ویلي چې د دوو اړخیزو اړیکو بانکونو سره د افغان مشتریانو لپاره اضافي ستونزه کیدای شي نورماله سوداګری او مالي چارې له ځنډ سره مخامخ کړي. د امریکا مالیي وزارت دغه هم ویلي چې د له لاسه ورکړل شوي ملګرو حسابونو اقتصادي پایلې، که څه هم وړاند وینه یې ستونزمنه ده، کیدای شي تاواني وي.[722]

**د مالي فعالیتونو وظیفوي ځواک(FATF):** یوه دولتي پالیسي جوړونکی اداره ده چې د پیسو غیر قانوني انتقال، د تروریستانو د تمویل مخنیوي او د نړیوال مالی سیستم په وړاندې د هر ډول ګواښ لري کولو لپاره معیارونه وضع کړي او قوانین، مقررات، او عملي ګامونه په سمه توګه پلي کړي. په 36 غړو کې متحده ایالات، انګلستان، سویزرلینډ، او اروپایی اتحادیه شامل دي؛ په څارونکو کې UN او د آسیا پرمختیایی بانک شامل دي.

**متناظر حسابونه: په متحده ایالاتو کې د بهرني مالي نهادونو لخوا ساتل کیدونکي حسابونه چې د متحده ایالاتو مالي سیستم ته لاسرسی او د خدماتو او تولیداتو څخه یې ګټه پورته کولو لپاره وي چې ممکن د بهرني مالي نهاد هیواد کې شتون ونلري.**

سرچینه: د مالي عمل دندي ځواک ویب پاڼه: "مونږ څوک یو،" لاس رسی 4/2/2014؛ د فیدرال مالي بنسټونه د بانک شورا ارزوني محرمیت قانون/د پیسو مینځلو پر وړاندې د معلوماتو اساس، "دوه اړخیزه حسابونه (بهرني)- لنډیز،" لاس رسی 10/1/2013.

## ولسمشر غني د کابل بانک قضيه بيرته پرانيستله

د ولسمشرۍ دفتر لپاره له لوړي وروسته، ولسمشر اشرف غني په خپل يوه رسمي ګام کې، د کابل قضيي بيرته پرانيستلو غوښتنه وکړه او د اکتوبر په 1 د لسو مادو يو فرمان صادر کړ او دغه هدايتونه يې ورکړل: [723]

1. وړاندي تردي چې د استيناف محکمه د تورونو ارزونه ترسره کړي، په شمول د پيسنو مينځلو، او د 45 ورځو په ترڅ کي پريکړه وړاندي کړي، ستره محکمه به د قضيي پاتي برخه تعقيب کړي.
2. د افغانستان لوی څارنوال دفتر (AGO) او نور اړوند بنسټونه به له محکمي سره د ټولي قضيي سندونو او شواهدو په موندلو کي مرسته وکړي
3. د افغانستان لوی څارنوال دفتر به ټول هغه تورن کسان چې په غلا کي لاس لري محاکمه کړي او د فرمان د 15 ورځو په ترڅ کي د تورونو صادرول پيل کړي
4. د افغانستان لوی څارنوال دفتر به د ابتداييه محکمي حکم نظارت او پلي کول ترسره کړي او د فرمان د دريو ورځو په ترڅ کي به ټول تورن کسان ونيسي ترڅو چې قضيه د ټولو محکمو (ستره، ابتداييه او استيناف محکمو) لخوا بشپړه شي
5. د کابل بانک تصفيه کوونکی به د 10 ورځو په ترڅ کي د بانک شتمنيو بيرته تادياتو بشپړولو لپاره يو مشخص مهال ويش وړاکي
6. د کابل بانک تصفيه کوونکی به د بانک ټولو هغو پور وړو ته چې پورونه يې ندي تاديه کړي لارښوونه وکړي ترڅو د پنځو ورځو په ترڅ کي خپل پورونه تاديه کړي، او د لوی څارنوال دفتر او د کورنيو چارو وزارت، او نور اړوند بنسټونه به پدې برخه کي همکاري وکړي
7. د افغانستان لوی څارنوال دفتر، د ماليي او بهرنيو چارو وزارتونه، او مرکزي بانک به د 10 ورځو په ترڅ کي ګډ نړيوال حقوقي غوښتني وليږي ترڅو د کابل بانک هغه شتمنی چې غلا شوي او بهر ته ليږل شوي، بيرته لاسته راوړي
8. د ماليي وزارت به د 10 ورځو په ترڅ کي د کابل خصوصي کيدلو لپاره سندونه چمتو کړي
9. اړوند وزارتونه به د هري اونی په پای کي د خپلو پرمختګونو راپور ولسمشر ته ورکړي
10. د اداري چارو دفتر او وزيرانو عالي شورا دارالنشا به د فرمان تطبيق نظارت وکړي

په پايله کي د اکتوبر به 11 د افغانستان لوی څارنوال دفتر قضيه د استيناف محکمي ته وليږله. پداسي حال کي چې د راپور پر اساس په اصلي تور لګولو کي اوه تورن کسان بيرته نيول شوي، ځيني تورن کسان نور په افغانستان کي شتون نلري. [724] د ولسمشر غني تر فرمان پوري، د کابل ولايت څانګړي محکمي لخوا د 21 انفرادي کسانو د 2013 د مارچ په 5 کي چې يو شمير تورن کسان د يو شمير تورونو په اړوند مجرمين وګڼل شول، د افغانستان لوی څارنوال دفتر کوم نوی تور ندی صادر کړی، کومه نوي محکمه نده دايره کړي، يا کوم بل ګټه اخيستونکی يي تورن ګڼلی وي، د افغانستان لوی څارنوال دفتر کوم نوی تور ندی صادر کړی، ډير شواهد، د محکمي حکمونه يي په پام کي ندی نيولي، او. د امريکا عدليي وزارت غوښتنه کړي وه ترڅو دغه کار ترسره شي. [725] د امريکي عدليي وزارت ويلي پداسي حال کي چې د ولسمشر فرمان د هيلي لپاره يو اساس دی، دا به په راتلونکي کي څرګنده شي چې د افغانستان قانون پلي کول به پر اطاعت کولو څومره ټينګار وکړي. [726]

**وړاندې تر دې چې په 2010 کې له منځه تلو ته نږدې و، کابل بانک د افغانستان تر ټولو لوی خصوصي بانک و، او د افغانستان حکومت په استازيتوب يې د ډيريو ملکي کارکوونکو معاشونه توزيع کول. د 935 له 92% ډير چې پدغه وخت کې پيژندل شوي و چې د بانک څخه غلا او بانک پورې تړلي 19 افرادو او شرکتونو ته تللي. د افغانستان مرکزي بانک، د افغانستان بانک، دا تاوانونه ورکړ چې په هغه وخت کې د افغانستان د GDP، 5–6% کيدله.**

سرچينه: د فساد ضد ارزونې او څارنې مستقله ګډه کميټه، *د کابل بانک په بحران کې د څرګندو تحقيقاتو په اړه راپور*، 11/15/2012، مخونه 2، 9.

### د فساد پر وړاندې د نظارت او ارزونې خپلواکې ګډې کميټې تعقيبي راپور

د 2014 د اکتوبر په 2، د فساد پر وړاندې د نظارت او ارزونې خپلواکې ګډې کميټې (MEC) د کابل بانک د کړکيچ په اړه يې خپل دويم راپور خپور کړ. دغه راپور په تيرو څلورو کلونو کې د قضيې حلولو په اړه د کم پرمختګ راپور ورکړی، د مسولو کسانو نومونه او پورونه يې خپاره کړي، او د نغدو پيسو او شتمنيو لاسته راوړلو، او د جرمي اجراتو او حکومت د اصلاحاتو په اړه يې نوي معلومات وړاندي کړي. تر 2013 پورې، د کابل بانک ټول پور، پشمول د له 2010 څخه پيژندل شوی پور 982.6 ميليونه امريکايي ډالر و. د 2014 تر اپريل پورې، يووازې 175.2 ميليونه امريکايي ډالر بيرته لاسته راوړل شوي، او دا د ټول پور اندازې له 18% څخه کم و؛ 97.4 ميليونه امريکايي ډالر ببنل شوي يا د پور په توګه ندي ګڼل شوي. [727]

د ټوکيو د ځواړخيزه حساب ورکولو کاري چوکاټ (TMAF) او IMF پر اساس، افغانستان د شتمنی د بيرته لاسته راوړلو او له هغو کسانو څخه چې د کابل بانک د کړکيچ لپاره مسول دي، د حساب ورکولو په اړه ژمنه کړې ده. [728]خو د MEC راپور وايي پداسي حال کې چې صادر شوي پريکړي د بهرنيو اغيزونو لخوا له خنډ سره مخامخ شوي، يا تر ډيري کچې په پام کې ندي نيول شوي، او ندي تطبيق شوي، د غلا شوي پيسو بيرته لاسته راوړل ځنډني دي. MEC د تورنو کسانو د ځانګړې محکمې صداقت په اړه ستونزې موندلي، د استيناف يوې محکمې بې ځايه اجرات ځنډولي، او د افغانستان د مالي او بانکداری مقرراتو او نظارت په برخه کې ډير پرمختګ ندی شوی. [729] د 2014 له جنوری څخه د TMAF افغانستان او نړيوالو مرستندويانو ګډ راپورد افغانستان حکومت د اړوندو سپارښتنو تطبيق او دا چې دا حکومت به څرنګه د کابل بانک د مسلو حلولو، په شمول د شتمنی بيرته لاسته راوړلو او استيناف غوښتنو په اړه پرمختګ وکړي، يووازې مبهم کارول شوي کلمو په دغه راپور کې شتون درلود. [730]

## د متحده ايالاتو. د اقتصادي ملاتړ ستراتيژي

د امريکا او افغانستان ستراتيژيکې ملګرتيا موافقه او د ملکي نظامي ستراتيژيک کاري چوکاټ په افغانستان کې د امريکا مرستې لپاره وروستی لارښوونې سندونه دي. پردې برسيره، د ماموريت کلنی سرچينو غوښتنه او د عملياتو پلانونه د امريکا مرستې هڅو لپاره يو اساسي کاري چوکاټ او لومړيتوب برابروي. د متحده ايالاتو. په کابل کې سفارت د هيواد لپاره يوه متحده ستراتيژی جوړوي چې د بهرنيو مرستو لومړيتوبونو لارښوونه کې به مرسته وکړي. د امريکا بهرنيو چارو وزارت په وينا، کيدای شي USAID او د مرستې نور تطبيق کوونکي دا هم غوره کړي ترڅو خپله ستراتيژي جوړه کړي. [731] د امريکا اقتصادي ستراتيژي د ملي امنيت شورا لخوا د څو اداره په کچه همغږي کيږي. [732]

د اقتصادي ملاتړ له وجهي صندق (ESF) څخه ډيری مرستې د USAID پراختيايي پروګرامونو ته ځي. USAID ويلي چې د افغانستان حکومت د عوايدو کموالي له کبله هيڅ يو پروګرام يې له ځنډ سره ندی مخامخ شوی. [733] په راتلونکې پاڼه کې دغه شکل 3.33 د سکتور پر اساس د USAID مرسته ښيي.

USAID د نړيوال بانک لخوا اداره شوي د افغانستان بيارغونې وجهي صندق (ARTF) کې د ټولو مرستندويانو کلنی برخې اخيستنې نږدې 30% برابروي. د دغو مرستو نيمی برخه د مرستندويانو لخوا د ځانګړو پراختيايي فعاليتونو لپاره "غوره" شوي، پداسي حال کې چې پاته برخه يې د نړيوال بانک په اختيار کې ده. [734]

شکل 3.33

د پرمختيا مرسته (مليونونه ډالر) USAID د 2014 د سپتمبر تر 30 پورې د




يادونه:شميرې ګردي شوي. د پروګرام ملاتړ پرژو کې کارمندانو لګښت، معاشات، د فعاليت ارزونه، د پايلو تعقيب، وزارتونو ته تخنيکي مرسته او د ARTF تمويل شامل دي. د کرنې پروګرامونو کې بديل پرمختيا شامل ده.

سرچينه:USAID، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/9/2014.

USAID په څلورو اقتصادي زونونو کې چې د مهمو ښاروالیو، مارکيټونو، او سوداګرۍ لارو په مرکزونو کې دي پخپلو اقتصادي او کرنيزو پروګرامونو باندې کار کوي. د ثبات او محلي حکومتولی پروګرامونه به د دغو مرکزونو په شاوخوا او دننه ساحو کې کار وکړي ترڅو د زونونه د بې ثباته کولو ځواکونو پر وړاندې خوندي کړي. په دغو ساحو کې له وړاندې د افغانستان ډېرى اقتصادي فعاليتونه شامل دي. هغوی: مهارت لرونکی کاري ځواک لري؛ ترانسپورت، انرژي او د اوبو زيربنا ته لاس رسی لري؛ کورنيو او بهرنيو مارکيټونو سره اړيکې لري؛ کرنيزې او منرالي سرچينې لري؛ او پانګه وال او مالي مرستې لري ترڅو وړو او منځنيو تصديو ته وده ورکړي. د USAID پروګرامونه به د هر زون د پرتله کيدونکو له احتمالي وړتياوو څخه ملاتړ وکړي. د اوبو مديريت، روزنه، روغتيا، او د حکومتولی فعاليتونه به د ټول هيواد په کچه پاتې شي.[735]

## د طبيعي زيرمو پراختيا

امريکا، د افغانستان حکومت، او د نړيوال مرستندويانو ټولنې باور لري چې د بهرنی مرسته کميدو په صورت کې د افغانستان د طبيعي سرچينو پراختيا کولای شي راتلونکي اقتصادي وده ځواکمنه کړي. که څه هم کان کيندنه تر اوسه پورې د هيواد پهGDP کې د 2% څخه لږه برخه اخيستې، خو افغان حکومت تمه لري په عينک(مس) او حاجي ګک(د اوسپنې ډبرې) پروژو کې او همدارنګه د افغان تاجک حوزې د تيلو او ګاز په پروژو کې د پراخه پانګه اچونې څخه زيات عوايد تر لاسه کړي.[736]

نړيوال بانک اټکل کړی چې د استخراجي سکتور کلني عوايد تر 2022 - 2024 کيدای شي د700 مليونو او 1.5 مليارډو امريکايي ډالرو ترمنځ ورسيږي.[737] مګر، سيګار له وړاندې خبرداری ورکړی چې د افغانستان حکومت به ونشي کولای ترڅو په لنډه موده کې د افغانستان له طبيعي سرچينو څخه ډير عوايد لاسته راوړي، ځکه چې د دغو سرچينو پراختيا لپاره د امنيت ستونزمن چاپيريال ته په پام سره، ډيرې زيربنايي پانګونې ته اړتيا ده.

د امريکا د سولې لپاره انسټيټيوت تير کال خبرداری ورکړی و چې د استخراجی توکو د قيمتونو بدلونونو او دا چې آيا پيژندل شوي سرچينې به په پوره توګه استخراج شي په پام سره، د منرالونو له استخراج څخه د عوايدو دقيقه وړاندوينه ډيری وختونه ستونزمن کار دی.[738] د امريکا ماليې وزارت ويلي چې په مارکيټ کې د افغانستان منرالونو احتمالي ارزښت، پداسي حال کې چې ډير دی، خو له هغو ميلياردونو امريکايي ډالرو څخه چې په مطبوعاتو کې راپور ورکړ شوی، ډير کم دی. کيدای شي د افغانستان حکومت ته د منرالونو اړوند ماليو خالص او امتيازونو ارزښت د دغو وړه برخه وي او د لسيزو پر اساس وي.[739]

پداسي حال کې چې په افغانستان کې د هغو کانونو ډيری برخه چې کار کوي، او د ځينو اټکلونو پر اساس 1,400 دي، جواز نلري او غير قاني دي.[740] په دغه کال کې ملګرو ملتونو راپور ورکړی چې له مخدره توکو او غيرقانوني کان کيندني څخه د طالبانو لاسته راغلي عوايد اجازه ورکوي ترڅو د افغانستان له حکومت سره د دوامدارې سولې رسيدلو مخه ونيسي، پداسي حال کې چې حکومت دغو اړينو عوايدو ته لاس رسی نلري. د بيلګې په توګه يووازې د هلمند په ولايت کې، تمه کيدله ترڅو طالبان په هر کال کې له 25 تر 30 غيرقانوني مرمر کان کيندنو ساحو څخه 10 ميليونه امريکايي ډالر لاسته راوړي. له بل پلوه، د افغانستان د مرمر ټول رسمي صنعت په هر کال کې يووازې 15 ميليونه امريکايی ډالر عوايد حکومت ته رسوي.[741]

## د منرالونو نوی قانون

د 2014 د اګست په 9، پخواني ولسمشر حامد کرزي د منرالونو نوی قانون تاييد کړ چې په تير ربع کې د پارلمان لخوا تصويب شوی و.[742] د دغه قانون موخه دا ده ترڅو د افغانستان سرچينې خوندي کړي، پانګوال وهڅوي، او مقررات له نړيوالو ښو کارونو سره برابر کړي.[743] د امريکا دفاع وزارت د سوداګری او ثبات عملياتونو لپاره کاري ځواک (TFBSO) د دغه توشيح شوي قانون يوه کاپي نده ليدلي، مګر د پخوانيو مسودو له کتنو څخه يې دوو اندېښنو ته اشاره کړې چې کيدای شي د پانګونې پر وړاندې يو خنډ وي. لومړی، دغه قانون له يوه شرکت څخه بل شرکت ته د جواز د انتقالولو حق محدودوي، دغه د کان کيندنې په ټولنه کې يو ستندرد کار دی.[744] د امريکا د بهرنيو چارو وزارت په وينا، د سپتمبر په 15 د وزيرانو شورا د راپور پر اساس يو تعديل تاييد کړی او د جواز د انتقالولو منع کول يې فسخه کړي.[745] دويم، هغه پانګوال چې د استخراج جوازونه لري او له اقتصادي پلوه د کار وړ زيرمې پيدا کوي بيا هم کوم تضمين نلري چې هغوی ته به د ورته زيرمو لپاره د استخراج جوازونه ورکړ شي.[746]

د امريکا حکومت په نورو اندېښنو کې د بانکداری د کار وړ يوه سيستم له لارې افغانستان ته او له افغانستان څخه بهر د پيسو ليږلو ناتواني،[747] او د بهرنيو کارکوونکو په پرتله د افغانستان کارکوونکي غوره ګڼل او د افغانستان توکو اخيستلو ته لومړيتوب ورکول شامل دي. د پای دواړه اړتياوي له WTO څخه اطاعت نه کوي، او کيدای شي دواړه د خصوصي پانګونې مخه ونيسي.[748] پردې برسيره، نړيوال بانک د افغانستان د سيمه ايزو توکو په کيفيت او شته والي او د استخراجي سکتور لپاره په اړينو خدمتونو کې د ډير واټن ارزونه کړې[749].

## هغه قراردادونه چې په تمه دي

په دغه ربع کې د TFBSO لخوا مرسته شوي قراردادونه له لاسليک پرته پاتې دي. د دغو قراردادونو مذاکرې د منرالونو د پخواني قانون پر اساس د افغانستان کانونو او پطروليم وزارت (MOPM) لخوا ترسره شوي، او پدغو کې د شيدا (مسو، چې د 2012 په نومبر کې وړاندې شوی)؛ د بدخشان (سره زر، د 2012 نومبر)؛ د بلخاب (مسو، د 2012 نومبر)؛ زرکشان (سره زر، د 2012 نومبر) شامل دي. کله چې نوی حکومت وټاکل شي دغه کانونه د کابينې تاييد په تمه دي، مګر کيدای شي د منرالونو له نوي قانون سره د اطاعت لپاره د وزارت لخوا بيرته وکتل شي.[750]د جبل سراج سيمټو قرارداد خبرې (د 2014 فبروری) هم رواني دي. د دغه قرارداد د شرطونو تعديلونه به د پای قرارداد له وړاندې کولو وړاندې په قرارداد کې راوستل شي او بيا به د اړوندو وزيرانو کميسيون (IMC) ته وليږل شي او بيا به د کابينې د پای تاييد لپاره وليږل شي.[751]

پردې برسيره، د TFBSO لخوا مرسته شوي د هايدروکاربن دوه قراردادونه د بشپړيدو په تمه دي. د افغان - تاجک II برخې (تيلو او ګازو) اود طوطي ميدان بلاک (تيلو او ګازو، د 2014 سپتمبر) د آمور درياب په سيمه کې. د دوو افغان – تاجک د II برخې استخراج او توليد شريکولو قراردادونه (EPSC) پيل شوي دي او د کابينې تاييد په تمه دي؛ د طوطي ميدان EPSC نښاني کول اړتيا لري ترڅو بشپړ شي او د اړوندو وزيرانو کميسيون لخوا تاييد شي، وړاندې تر دې چې قرارداد کابينې ته د تاييد لپاره ولاړ شي.[752]

د حاجيګک (خامې اوسپنې، د 2011 نومبر) د قرارداد په خبرو کې د کوم بدلون راپور هم ندی ورکړ شوی.[753]د مطبوعاتو راپورونه ښيي چې د افغان اوسپنې او فولادو کنسورسيم (AFISCO)، د اوو غړو يو کنسورسيم چې مشري يې د حکومت په ملکيت د هندوستان فولادو اداري شرکت کوي، او له څلورو څخه يې د دريو بلاکونو داوطلبی وړې، پر دې غور کوي ترڅو خپله لومړنی پانګونه له 11 ميليارډو امريکايي ډالرو څخه 1.5 ميليارډو امريکايي ډالرو ته را کمه کړي، او دا چې هغوی د منرالونو د نوي قانون د تاييد په تمه دي.[754]

**د EPSC) قراردادونه (EPSC):**

د علاقې وړ انتخاب شوي ساحو کې د هايدروکاربن سپړنې، پرمختګ او توليد لپاره د دولت او سرچينې شرکت ترمنځ اداره کونکې اسناد.

سرچينه: MOMP، "د افغان هايدروکاربن لومړی داوطلبی مرحله کې برخه اخيستنې لپاره د شرايطو پوره کولو دمخه د ليوالتيا بيانولو لپاره غوښتنه، 2009."

## د پانګه اچونې په وړاندې خنډونه

د افغانستان د کانونو او پطروليم وزارت تمه لري ترڅو د کان کيندنې نوی قانون د پانګه والو اندېښنې له منځه يوسي او د سوداګرۍ د نوي فرصتونو پر وړاندې دروازه پرانيزي.[755]دا چې آيا نوی قانون به له نورو هيوادونو سره پرتله کيدونکی وي، دا د افغانستان د استخراجي صنعت د پانګونې پر وړاندې يووازينی خنډ ندی.[756]د نړيوال بانک په وينا، امنيت د پانګونې پر وړاندې تر ټولو نورو خنډونو لوی خنډ دی.[757] د کان کيندنې په صنعت کې شته پيسې هم کمې دي.[758] تمه کيږي په راتلونکو 12 مياشتو کې د استخراج شوي توکو قيمتونه، په شمول د مسو، سرو زرو، طبيعي ګازو، او نورو تيلو هم مساوي وي يا د کميدلو په حال کې وي، او دا پانګه وال ډير کم هڅوي ترڅو په خطري هيوادونو کې پانګونه وکړي.[759]

د حکومت اړوند نظارت مسلې هم شتون لري. د عوايدو د نظارت انستيټيوټ په 2013 کې افغانستان ته د جواز ورکولو د پروسې او د حکومتي کانونو شرکتونو ته د خپلو منرالونو د کم نظارت په اړه د ناکامی درجه ورکړې. دې انستيټيوټ ويلي چې د قانون جوړونکي د جوازونو د پريکړو په اړه چې د استيناف غوښتنه يې نه کيږي، منظم راپورونه لاسته نه راوړي، او د کانونو هغو مشخصو قراردادونو ته چې د محرم په توګه ګڼل کيږي د لاس رسي مخه نيول کيږي. پردې برسيره، د افغانستان د پلټنې او کنټرول دفتر په مشخصه توګه د سرچينو عوايدو ارزونه نه کوي، او هغه راپورونه چې دا دفتر چمتو کوي نه خپريږي.[760]

د افغانستان د اعتبار نظارت د افغانستان د کان کيندني صنعت حکومتولي د شپږو هيوادونو له بنو کارونو سره پرتله کړي ترڅو مرسته وکړي او د افغانستان فرصتونو او ننګونو باندې رڼا واچوي. دې راپور موندلي چې په افغانستان کې اداري فساد د پانګه والو يوه لويه انديښنه ده، او دا چې د کانونو سکتور د جواز ورکولو په پروسې، د مالیي او امتياز فيس په معلوماتو، د مرستو په توزيع، او معلوماتو ته د عامو خلکو لاس رسي کې شفافيت او لدې سره ښه حکومتولي د دوامداري پراختيا لپاره چې عام خلک ورڅخه ګټه واخلي، اړين دي.[761]

په اوس وخت کې د لوګر ولايت د عينک د مسو په کان کې د کيندنې کوم کار نه کيږي او يوازې په ساحه کې د لرغون پيژندني او د کلتوري اثارو خطر کمولو کارونه دوام لري. مګر، په دغه ربع کې، د افغانستان د کانونو او پطروليم وزارت راپور ورکړی چې د ولسمشرى د روانو ټولټاکنو او لدې کبله چې د حکومت لرغون پيژندونکو د شپږو مياشتو لپاره معاشونو نه لاسته راوړلو له کبله اعتصاب کړی و، دغه ساحه تړل شوې وه. په عين وخت کې، د افغانستان د کانونو او پطروليم وزارت، د TFBSO په مرسته د موضوع متخصصين برابر کړي، او امکاناتو مطالعې ارزونه ترسره کوي چې کيداى شي د پروژې راتلونکې باندې اغيز ولري. په ساحه کې د مينونو پاکولو دوام درلود سره لدې چې په جون کې د ملګرو ملتونو په وينا، د "حکومت ضد عناصرو،" د مين پاکولو ټيم اته غړي ووژل او يو يې ټپي کړ. [762]

هغه عوامل چې د مسو په توليد کې په شمول د قرارداد د شرطونو ننګوني، د منرالونو په مارکيټ کې بې ثباتي، په ساحه کې د لرغونو اثارو پيدا کيدل، او د قراردادي لخوا ځنډونو د مسو توليد په ځنډ کې برخه اخيستې. [763]د افغانستان حکومت په 2008 کې د عينک د مسو کان د استخراج قرارداد وړاندې کړ، مګر د امتيازونو لپاره يې هيلې لا تراوسه په حقيقت ندي بدلې شوى. [764]وروسته لدې چې د تير کال بوديجې د 50 ميليونو امريکايې ډالرو وړاند وينه کړې وه او هيڅ لاسته ندي راغلي، د افغانستان د 1393 مالي کال بوديجه د عينک له مسو څخه د کومو عوايدو په تمه نده. [765]

## د کانونو او پطروليم وزارت، د افغانستان د پطروليم اداره، او د افغانستان د جيولوژيکي سروې سره مرسته

پدې ربع کې امريکا د کانونو او پطروليم له وزارت سره خپلو تخنيکي مرستو برابرولو ته دوام ورکړی، او د دغه وزارت د افغانستان د پطروليم اداره (APA)، او د افغانستان جيولوژيکي سروې (AGS)، سره تر ډيرې کچې TFBSO او د امريکا جيولوژيکي. سروې تخنيکي مرسته کړې. دا اداري د منرال او هايدروکاربن په مزايدو کې او همدارنګه د تيل او ګاز د معلوماتو د مديريت په برخو کې مرسته کوي[766].

د متحده ايالاتو جيولوژي سروې نور په افغانستان کې کوم پروګرام نلري، مګر هغه کارونه چې وړاندې ترسره شوي لکه په دنده کې روزنه، له نقشو او توضيحي سافټ وير، جيوفيزيکس، او هايپر سپيکترال عکس اخيستنې روزنه څخه په کار اخيستنې سره د کانونو د ساحو د معلوماتو او معلوماتي ټولګو توحيد د افغانستان جيولوژي سروې ته سپارلي دي. [767]

TFBSO له APA سره تخنيکي (د تيلو او ګازو انجنيري)، حقوقي (د قرارداد تطبيق)، او مالي (محاسبه او تحليل)، خدمتونه؛ روزنه (د روزنې مهال ويش او لستونه، د کورس پيژندنه) او د مرستندويانو همغږي؛ او ستراتيژيک (د قوتونو، کمزوريو، او فرصتونو پيژندنه، او د هايدرو کاربن داوطلبی له پروسې څخه نظارت) د موضوع پر اساس خپلې تخنيکي مرستې ته دوام ورکړی. پداسې حال کې چې APA په ډيرو برخو کې د مشرې مسوليت اخيستی، TFBSO انديښنه لري چې د APA د کارکوونکو شمير کيداى شي پوره نه وي ترڅو په مناسبه توګه په پايپ لين کې د EPSCs شمير نظارت وکړي. پردې برسيره، د APA کارکوونکي به وآزمويل شي کله چې هغوى له تيوري پرته له عملياتونو (د ګازو توليد او پروسس کول، د پلورلو اوږد مهاله موافقې، څو اخيستونکي، په څو ساحو کې د هايدرو کاربن توليد او نورو) سره مخامخ شي. نظارت به هغه وخت مهم وي کله چې د APA قراردادونه لاسليک شي. [768]

TFBSO د افغانستان کانونو او پطروليم وزارت سره د منرالونو په څلورو داوطلبيو کې مرسته کړې (چې د کابينې تاييد په تمه دي او پورته ورباندې خبرې شوې)، او تيلو او ګازو پنځه داوطلبۍ (د طريقې يو تاييد بشپړ شوی، دوه روان قراردادونه، يوه تر خبرو لاندې دی، او يو د کابينې تاييد په تمه دی).[769] د TFBSO د داوطلبۍ ملاتړ او د افغانستان د جيولوژي سروې روزنې مرسته د 2014 د سپتمبر په 30 پای ته ورسيدل، مګر TFBSO به په نومبر کې د خبرو له دريم پړاو سره مرسته وکړي.[770] TFBSO په 2014 مالي کال کې د کانونو سکټور پراختيا لپاره د 2014 د سپتمبر تر 30 پورې 17.2 ميليونه امريکايي ډالر مکلف کړي. ټاکل شوي ترڅو د TFBSO صلاحيت د 2014 په پای کې ختم شي.[772]

USAID، د کانونو پانګونې او د افغانستان دوام پراختيا (MIDAS) له لارې هڅه کوي ترڅو د افغانستان کانونو او پطروليم وزارت او د افغانستان جيولوژي سروې سره مرسته وکړي ترڅو د منرالونو استخراج عصري او خپلواکه بنسټونه شي، او کارکوونکې وروزي ترڅو د وزارت لپاره د داوطلبۍ پر اساس د منرال چمتو شوي پروژې وسپاري. د MIDAS حقوقي سلاکارانو د MOMP سره کان کيندنې سيکتور باندې د روغتيا او خونديتوب مقرراتو ليکلو کې هم مرسته کړې.[773]

## د معادنو پانګوونه او پراختيا د افغانستان د بقا لپاره

MIDAS د بوديجې پر اساس او له بوديجې دباندې برخې لري. له بوديجې څخه دباندې د 1 برخې

| د پروژې موضوع | د پيل نيټه | د پای نيټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 9/30/2014 نيټې پورې مجموعي تاديه |
|---|---|---|---|---|
| د معادنو پانګوونه او پراختيا د افغانستان د بقا لپاره | 3/31/2013 | 3/31/2017 | $41,670,943 | $10,429,850 |

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/9/2014.

41.6 ميليونه امريکايي ډالر د افغانستان د کانونو او پطروليم وزارت د حقوقي او مقرراتي اصلاحاتو او تخنيکي مرستې، د ورو او منځنيو تصديو پراختيا، او د جيو ساينس ساحې د تحقيق مرستې په اړه کار کوي. دا به د ارتيا سره سم نور ملاتړ چمتو کړي. د بوديجې پر اساس د 45 ميليون امريکايي ډالر II برخه لا تراوسه نده پيل شوی، مګر داسې ډيزاين شوې ترڅو د کانونو او پطروليم وزارت قوي شي ترڅو وکولای شي د کانونو داوطلبۍ ټولګو تدارکات، تطبيق، او نظارت بشپړول ترسره کړي.[774] MIDAS د نمونو اخيستلو برمې خدماتو لپاره د II برخې بوديجې پر اساس 10 ميليونه امريکايي ډالر مرسته له بوديجې څخه دباندې وړي.[775]

د MIDAS سلاکارانو د کانونو او پطروليم وزارت د منرالونو، په شمول د عينک د مسو کان د راپورونو څلور ټولګې ارزولې. د USAID په وينا، د عامه پروژو د راپور ورکولو په برخه کې د صنعت په ستندردونو مهمې نيمګړتياوې او نه اطاعت راپورونه ورکړ شوي. پراخو سپرنو ته اړتيا ده ترڅو د راپور دقيقوالې ارزونه وشي. MIDAS د افغانانو په ملکيت د يوه شرکت چې د افغانستان د کان کيندنې تصدی په نوښت کې يې هم برخه اخيستې، چې د هغو شرکتونو لپاره ده ترڅو خپل خدمتونه بنه کړي او قراردادونه وګټي او د کان کيندنې نړيوال شرکتونو ملاتړ وکړي، ارزونه هم کړې.

[776]د 2014 د سپتمبر تر 30 پورې، 16 ميليونه امريکايي ډالر مکلف کړي او نږدې 10.4 ميليونه امريکايي ډالر توزيع کړي ترڅو له بوديجې څخه دباندې تطبيق پيل کړي.[777]

### د سيګار پلټنه

د سيګار يوه روانه پلټنه پدې اړه کار کوي چې تر کومې کچې د TFBSO او USAID پروګرامونه څپلو موخو ته رسيدلي ترڅو د افغانستان استخراجي صنعت ته پراختيا ورکړي او که د افغانستان لپاره د يوه باثباته او د اوږد مهاله عوايدو منځ ته راوړلو لپاره د استخراجي عوايدو پر وړاندې کومه ننګونه وي.

## هایدروکاربن

د افغانستان هڅې ترڅو د خپلو تیلو او ګازو زیرمو ته پراختیا ورکړي د امو سیند په ساحه او افغان – تاجک په ساحه کې، چې دواړه د افغانستان په شمال کې موقعیت لري کار کوي. [778] افغانستان یوازې په ټیټه کچه د ډکولو فابریکې لري چې لومړنی تصفیه ترسره کوي او کولای شي یوازې په محدوده اندازه د خامو تیلو برخې تصفیه کړي او تر ډیري کچې پر وارداتي تیلو باندي تکیه کوي. [779] دغه هیواد هره ورځ له ترکمنستان، ازبکستان، روسیې، پاکستان او ایران څخه د تیلو 10,000 ټنه تولیدات واردوي. [780]

د آسیا پراختیایي بانک په وینا، سره لدې 75 میلیارده مکعب متره د طبیعي ګازو زیرمي او نږدې 444 میلیارده مکعب متره د اټکل شوي لاسته راوړل کیدونکو زیرمي پیژندل شوي، "د افغانستان د ګازو سکتور د زیربنا او مقرراتي کمزوریو ستونزې لري. " د آسیا پراختیایي بانک ویلي چې له عامه او خصوصي سکتور څخه پانګوني ته اړتیا ده ترڅو له افغانستان سره مرسته وشي پر خپلو ننګونو بریالی شي او د خپلو طبیعي زیرمو په ګټو باندي پوه شي. په اوس وخت کې، د افغانستان د ګازو تصدي، د ګازو خدمتونو ملي اداره، د ګازو له هغو څلورو ساحو څخه چې د دې تصدی په ملکیت کې او ورڅخه کار اخلي، په هره ورځ کې نږدې 380,000 متر مکعبه ګاز تولیدوی، او د دغو ګازو نږدې ټوله برخه د شمال د کیمیاوي کود او بریښنا فابریکې ته ځي. [781]

### د آمو سیند حوزه

په 2011 کې د آمو سیند درې بلاکونه د چین پطرولیم ملي شرکت او د افغانستان وطن انرژي (CNPCI-W) ته وړاندي شوی، او اټکل شوی چې 87 میلیونه بیلر خام تیل لري. [782] د 2014 د اګست او سپتمبر لپاره په هره ورځ کې د 2,000 بیلرو په کمه کچه وو.  CNPCI-W پر دې کار کوي ترڅو د خامو تیلو پلورلو پنځمه داوطلبی بشپړه کړي او دا به د 15 میاشتو په ترڅ کې (د 2014 دسمبر د 2016 تر مارچ پورې) نږدې 1.8 میلیونه بیلره وي، او لدې وروسته به اختیاري کلونه هم شتون ولري. [783]

تر اوسه، حکومت له دغه قرارداد څخه 3.67  میلیون امریکایي ډالر امتیازونه لاسته راوړي دي. د 2014 د اکتوبر په 31 به د افغانستان حکومت ته 615,000 امریکایي ډالر امتیاز تادیه کیږي. حکومت لدې حوزې څخه د پوره تولید په حالت کې په هره ورځ کې د 60,000 امریکایي ډالرو تمه لري. [784]

### طوطي میدان

په دغه ربع کې، د طوطي میدان چې د آمو سیند په ساحه کې له 7,131 کیلومتر مربعي څخه تشکیل شوی، د افغانستان اړوندو وزارتونو کمیسیون د دغې ساحې لپاره د کانونو او پطرولیم وزارت د استخراج، پراختیا، او تولید لپاره غوره شوی داوطلب تایید کړ.  د قرارداد خبرې رواني دي او د کابینې تایید ته اړتیا لري. د قرارداد په ساحه کې 28 میلیارده مکعب متره زیرمي او له 50 څخه زیات تر ځمکې لاندې تمه کیدونکې جغرافیایي جوړښتونه په دوو ساحو کې پیژندل شوي. [785] TFBSO د کانونو او پطرولیم وزارت سره د داوطلبی په برخه کې، او د تخنیکي، حقوقي، سوداګریزې، او د شفافیت مشورې خدمتونو په برخو کې هم مرسته کړي. [786]



**کارګران د کمپريسور** يو پايپ وير کوي چې د شبرغان پايپ لاين له سره جوړوني پروژې برخه ده. (د TFBSO عکس)

### د شبرغان پروګرام

د نړيوال بانک په وينا، په شبرغان کې د ارزان طبيعي ګازو احتمال شتون لري او کيدای شي له ازبکستان څخه له وارد شوي بريښنا سره پرتله شي. [787] دواړه USAID او TFBSO په دغه ساحه کې فعال پروګرامونه لري[788].

USAID د شبرغان له پروګرام څخه ملاتړ کوي ترڅو له افغانستان سره مرسته وشي د ګازو سرچيني وپيژني او اداره کړي، چې د دوو ميکانيزمونو له لارې به د بريښنا توليد لپاره ورڅخه کار واخيستل شي: د بوديجې پر اساس د 90 ميليونو امريکايي ډالرو د شبرغان د ګازو پراختيا پروژه (SGDP)، او له بوديجې څخه دباندې د 35 ميليونو امريکايي ډالرو د ګازو د توليد فعاليت (SGGA). [789] USAID به د SGDP له لارې د بوديجې پر اساس 30 ميليون امريکايي ډالر تاديه کړي ترڅو دوې څاګانې ورغوي او د آمو سيند په حوزه کې به د جمعه او باشي کورد په ساحه کې يوه څاه برمه کړي. اضافي 7 ميليونه امريکايي ډالر به د افغانستان له بوديجې څخه راشي. [790] که څاګانې په پوره اندازه ظرفيت ولري ترڅو د 200 MW ګازو بريښنا فابريکه وچلوي، USAID به د 60 ميليونو امريکايي ډالرو پاتې مرسته د SGDP له لارې د ګازو ټولولو سيستم او ګازو پروسس کولو فابريکه تمويل کړي ترڅو ګاز وروسوي. [791]

### د پايپ لين بيارغولو پروژه

TFBSO د افغانستان کانونو او پطروليم وزرات اود افغانستان ګازو تصدی سره مرسته کوي ترڅو له شبرغان څخه تر مزارشريف پورې د 89.1 کيلومترو (55.4 ميلو) پايپ لين ورغوي او د دې پايپ لين ظرفيت او هغه ګازو کيفيت ښه کړي. موخه دا ده ترڅو د کورنی انرژی امنيت او د سوداګريزي پلورلو لپاره فرصت برابر شي. په اوس وخت کې دغه پايپ لين په هره ورځ کې 380 ميليونه متر مکعبه طبيعي ګاز ترانسپورت کوي او تمه کيږي ترڅو د غوښتنې په صورت او د پروژې بشپړيدلو سره په هره ورځ کې 680 تر 960 ميليونو متر مکعبه زيات شي[792].

دغه پروژه څلور برخې لري: [793]

- د کمپرېسور سټیشن او اوبو وچولو فابریکه: پدې ربع کې افغان ګاز یو کمپریسور په کار پیل وکړ، چې د ګاز شتون یې تر 125% ډېر او د غوښتنې سره سم نور اضافي ته هم لاسرسی ممکن شو.
- د کمپرېسور سټیشن ته د یوه امین کارځای او په هغه پورې تړلي پایپ لاین جوړول: د امین کارځای 90% او پایپ لاین 95% بشپړ شوي.
- د شبرغان – مزار شریف موجود پایپ لاین تخریب شوي برخو بدلول: د اغیزمن شوي پایپ لاین 15 کلومیتر څخه 14 یې بدل شو.
- د شبرغان – مزار شریف پایپ لاین سره د یوه نوي موازي پایپ لاین جوړولو پرمختګ: کار یې 95% بشپړ شوی او د روزنې پروګرامونه په لاره کې دي.

په افغانستان کې د کاري ځواک اخرنۍ 60 ورځو کې به د TFBSO دې موضوع پورې اړوند چمتو کړی ماهرین د افغان ګاز د ماموریت دمخه، ماموریت او روزنه کې ملاتړ وکړي. MOMP په پام کې لري چې د مسلکي خدمت چمتو کونکي وګماري چې دوی به د غوښتنې سره سم د کارځای کارولو او روزنې مسؤلیت ولري. [794]

## کرنه

کرنه افغان وګړو لپاره د کار موندنې او دوام اصلي زیرمې په حیث شتون ته دوام ورکوي. یوازې 12% ځمکه د کر وړ ده او لدې څخه لږه کرل شوې، پدې سره نوموړی سیکټور د GDP تر 31% جوړوي، او د نړیوال بانک خورا اخرنۍ راپور په وینا، د کاري ځواک شاوخوا 59% ته دندې برابروي. [795] د ورکړل شوي ارزښت سره سم کرنه کولی شي د GDP، پرمختللې غذایی مصؤنیت او لانور پایداره کارموندنې لپاره کټلست وي. [796]

له 2002 مالي کال څخه تر 2012 مالي کال پورې، USAID د کرنېزې او بدیلې پراختیا لپاره نږدې 2.46 میلیارده امریکایي ډالر برابر کړي ترڅو تولید ښه کړي، مارکیټونو ته لاس رسی زیات کړي، او د کوکنارو کرنې لپاره بدیل برابر کړي. [797]لدغو څخه، USAID 54 میلیونه امریکایي ډالر مستقیمه مرسته مکلف کړې او توزیع کړې ده، ترڅو د کرنې، اوبو لګولو، او مالدارۍ وزارت (MAIL) ظرفیت ته وده ورکړي.[798]

USAID خپله د کرنې پرمختیا ستراتیژي له پاینټ فعالیتونو لکه د سبسایډي شوي تخمونو او اوږدمهاله دندو څخه لانور پیاوړي هڅو ته اړولې. [799] USAID دامهال د ډیری برنامو له لارې د کرنې سیکټور ته د مستقیم او غیر مستقیم بودیجې مرسته ورکوي. د USAID د لوړ لومړیتوب درې پروګرامونه، چې ټول ارزښت یې نږدې 350 میلیونه امریکایي ډالر دي، دا دي:

- د کرنې د پرمختیا بودیجه یا ADF او د کرنیز کریډټ پیاوړتیا یا ACE
- د اقتصادي بدیل هڅوونکي – شمال، ختیځ، او لویدیځ (IDEA-NEW)
- د سوداګریزې باغدارۍ او کرهنیز مارکیټنګ پروګرام یا CHAMP

## د کرنې د پرمختيا بوديجه يا ADF او د کرنيز کريډټ پياوړتيا يا (ACE)

| د پروژې موضوع | د پيل نېټه | د پای نېټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 9/30/2014 نېټې پورې مجموعي تاديه |
|---|---|---|---|---|
| کرنيز اعتبار لوړول | 7/15/2010 | 1/15/2015 | $75,175,296 | $69,107,024 |
| د کرنې پراختيا فنډ | 7/18/2010 | 12/31/2014 | 74,407,662 | 54,000,000 |

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/9/2014.

د کرنې پرمختيا صندوق (ADF) او د کرنيز اعتبار پراختيا (ACE) دوه متمم فعاليتونه دي چې هدف يې د MAIL د اعتبار چمتو کولو او ADF کارمندانو د ظرفيت جوړوني هڅو ملاتړ دی ترڅو د اعتبار پروګرام اداره کړي. ADF د دې لپاره تاسيس شوی ترڅو د کرنې د ارزښت کړی په ټولو برخو کې د بانکونو له لارې د فارم دوکانونو، د اجارې شرکتونو، او د خواړو پروسس کېدونکو لپاره، پورونه برابر کړي. د دغه کريډيټ ډېری برخه بيا بزګرانو ته رسيږي. ACE د مرستې يوه تخنيکي برخه ده چې د ADF د پور ورکولو ټولو فعاليتونو مديريت کوي او د MAIL ظرفيت لوړولو سره مرسته کوي.[800]

د 2014 سپتمبر تر 30 پورې، ADF په مستقيمه توګه 24,718 بزګرانو کورنيو ته د بزګرانو ټولنو او شبکو له لارو پورونه برابر کړي دي. د ADF د پور سهم په تصويب شوي پور کې 101.2 ډالر و، چې 55.8 مليون ډالر يې توزيع شوي او 30.8 مليون ډالر يې بيرته ورکړل شوي. USAID وويل چې د ADF پور بيرته ورکولو کې 3.6% يې ځنډ شوي، چې دا د پرمختګ په حال کې هيوادونو کې د منل شوي معيار سره ورته دي. [801]

USAID وويل چې MAIL د ADF پايښت ته ژمن دی پداسې حال کې چې په راتلونکې مياشتو کې د USAID برخه اخيستنه کميږي. نورو ډونرانو سره به د دې فنډ پيسو ورکولو لپاره اړيکه ونيول شي، چې د ډنمارک پراختيا اداره يکې 28.5 مليون ډالرو ته ژمن ده. MAIL د رييسانو هييت پروګرام د اټانومي ملاتړ له لارې هم د ADF پايښت ته خپله ژمنتيا څرګنده کړي.[802]

## د بديل اقتصادي لارو د پرمخ بيولو جايزې ـ شمال، ختيځ، او لويديځ

| د پروژې موضوع | د پيل نېټه | د پای نېټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 9/30/2014 نېټې پورې مجموعي تاديه |
|---|---|---|---|---|
| په شمال، ختيځ، او لويديځ کې - د اقتصادي بديلو هڅولو امتيازونه | 3/2/2009 | 2/28/2015 | $159,878,589 | $145,643,923 |

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/9/2014.

د اقتصادي بديل معيشت هڅونکي – شمال، ختيځ، او لويديځ (IDEA-NEW) د همکارۍ موافقې يوه پروژه ده چې په ختيځ، شمال او لويديځ ولايتونو کې د بزګرانو او کرنې شرکتونو لپاره کرنيزه مرسته برابروي. IDEA-NEW د لوړ ارزښت، قانوني کرنيزو محصولاتو ملاتړ کوي، چې کولای شي په سيمه ايزو مهمو صنعتي ځايونو او د سوداګرۍ په دهليزونو کې، د تجارتي فرصتونو، د مالي خدمتونو ته د لاس رسي، او د ارزښت کړی پراختيا ملاتړ له لارو د کوکنارو کرنې پرځای بديل معيشت کېدلای شي. دا د بازار معلوماتو فعاليتونو او پلورلو ودې له لارې د توليد کونکو، سوداګرو او پيرودونکو ترمنځ ارتباطات هم اسانوي.[803]

پدې ربع کې د کرنې نهه موادو برابرونکو لپاره د حشره وژونکي توکو روزنه ترسره شوه (لومړني تخمونه، سره او کرنيز کيمياوي توکي)، د 11 کرني موادو برابرونکو او څلور د خواړو پروسس کونکو سره د مرستي تړونونه لاسليک شول، او د څلور ځايي خواړو پروسس کولو شرکتونو سره سوداګريزه ناسته.[804]

## سوداګريزه باغداري او د کرنيز مارکيټنګ پروګرام

| د پروژې موضوع | د پيل نيټه | د پای نيټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 9/30/2014 نيټي پورې مجموعي تاديه |
|---|---|---|---|---|
| سوداګريزه باغداري او د کرهنيز مارکيټنګ پروګرام | 2/1/2010 | 12/30/2014 | $40,320,139 | $38,573,341 |

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/9/2014.

سوداګريزه باغواني او د کرنيزي بازار موندني پروګرام (CHAMP) موخه دا ده ترڅو له بزرګرانو سره مرسته وشي او د ګټې وړ باغونه او د انګورو باغونه جوړ کړي او کار ورڅخه واخلي، د محصولاتو کيفيت ښه کړي، او د صادرتو او سوداګرۍ دهليزونو جوړولو لپاره کار وکړي، او لدې لارو د کوکنارو کرنه ورکه کړي. دغه پروګرام له سوداګرو سره هم کار کوي ترڅو محصولات، د محصولاتو ترل، سړې خونې، او ترانسپورت کول ښه کړي. د دې پروګرام د همکارۍ موافقې پر اساس، چې د 2014 تر دسمبر پورې غزيدلې، CHAMP د ارزښت کړۍ لور ته حرکت کړی، چې له محصولاتو اخيستلو وروسته پر کارونو او د مارکيټ پر فعاليتونو باندې ټينګار کوي. CHAMP د ارزښت د کړۍ پنځو مهمو فعاليتونو (انګور، بادام، انار، زردالو، او مڼې) او د فرعي ارزښت يوه کړۍ (هندواڼې او خټکې) په ټولو برخو کې کار کوي.[805]

پدې ربع کې CHAMP له 1,300 څخه ډير بزګران د درمن يا ذخيره کولو دمخه تخنيکونو لپاره وروزل شول لکه د مرض مديريت، قلم کول، د ميو نرۍ کول (للون) او د اوبو مديريت، په بيله بيا د نوي کرل شوي سيټروس باغونو ساتنه. برسيره پردې افغان بزګرانو له څلور ولايتونو څخه د 2.5 مليون ډالرو څخه د ډير ارزښت زردالو هند او پاکستان ته صادر کړي. په هرصورت، د CHAMP کابل دفتر د امنيتي ګواښونو له امله تړلی و چې کارمندان يې اړ ايستلي و له کورونو بهر يا د هوټل ميلمستون کې کار وکړي. د امنيت خرابيدونکی وضعيت په ډيرى ولايتونو کې هم د کار مانع ګرځي ځکه چې کارمندان او ګټه پورته کونکي ګواښل کيږي او ويرول کيږي. د USAID د CHAMP پلي کونکي ملګري هم د USAID د ارزوني پروسو له امله په تدارکاتو کې د ځنډ راپور ورکړی.[806]

## د USAID د کرني پروګرامونو نور فعاليتونه

| د پروژې موضوع | د پيل نيټه | د پای نيټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 9/30/2014 نيټې پورې مجموعي تاديه |
|---|---|---|---|---|
| د وچکالۍ د پيل خبرتيا سيستم شبکه (FEWSNET) III) برخه | 12/29/2011 | 12/28/2016 | $78,011,630 | $2,420,553 |
| د افغانستان د کرني فاکولتو ځواکمن کول (SAAF) | 3/25/2011 | 12/31/2016 | 7,824,209 | 5,817,395 |
| د افغانستان د کرنيزې څيړني او اضافي پراختيا (AGRED) | 7/17/2012 | 7/16/2017 | 23,638,611 | 6,126,144 |
| د طبيعي سرچينو د مديريت له لارې د عوايد او حکومتولي ښه کول | 4/10/2010 | 12/31/2014 | 14,000,000 | 12,218,825 |
| IWMP - اوبه لګولو او د اوبو تقسيم مديريت پروګرام | 12/21/2012 | 12/20/2017 | 129,963,114 | 13,475,767 |
| د سيمه ايزې کرني پراختيا پروګرام (RADP) - سويل | 10/7/2013 | 10/6/2018 | 125,075,172 | 11,366,923 |
| د سيمه ايزې کرني پراختيا پروګرام (RADP) - شمال | 5/21/2014 | 5/20/2019 | 78,429,714 | 889,531 |
| د سيمه ايزې کرني پراختيا پروګرام (RADP) - لوېديځ* | 8/10/2014 | 8/9/2019 | 69,973,376 | 0 |
| د ظرفيت جوړوني او بدلون مديريت پروګرام II ((CBCMP) * | 7/10/2014 | 7/9/2017 | 19,999,989 | 886,923 |

يادونه: *پدې ربع کې ګمارل شوي.

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/9/2014.

## اړين خدمتونه او پراختيا

له 2002 راهيسي، متحده ايالاتو د بيارغوني بسپنې چمتو کړي ترڅو په افغانستان کې بريښنا ډېره، سړکونه او پلونه جوړ، او روغتيا او تعليم ته وده ورکړي. په دې برخه کې د متحده ايالاتو هغه هڅې روښانه کيږي چې بنسټيزو خدماتو د پياوړتيا په برخه کې د دولت توان زياتوي لکه بريښنا، ترانسپورټ، روغتيا او تعليم.

## انرژي

افغانستان د خپلې ټولې بريښنا نږدې 73% واردوي. د نړيوال بانک يوه خورا اخرني راپور په وينا، تمه کيږي چې نږدې راتلونکې کې د بريښنا واردول ډېر شي، دې راپور دا يادونه هم کړې چې په افغانستان کې بريښنا ته محدود لاسرسی د خصوصي سيکتور پرمختګ لپاره يو له خورا لوی خنډونو څخه دی.[807] دا هيواد د بريښنا رسوني په کتار کې د نړۍ ترټولو اخرنی هيواد دی، چې يوازې 25% افغانان بريښنا ته لاسرسی لري.[808] د اټکل له مخې 75% يې ښارونو کې دي، مګر د ښار اوسيدونکي د افغان نفوس له 25% لږه برخه جوړوي.[809]

لدې چې بريښنا د افغانستان پرمختګ لپاره حياتي ده، متحده ايالاتو د افغانستان دولت او نړيوالې ټولنې سره په ګډه د مدغم شوي انرژي سيکتور رامنځته کول د بيارغوني مهم لومړيتوبونو څخه ګرځولي.[810]

له 2002 څخه تر 2012 پورې، USAID یوازې د جنراتورونو، فرعي سټیشنونو او لاینونو انتقال او نوموړي سیکتور ته د تخنیکي مرستي چمتو کولو لپاره له 2 ملیارد ډالرو څخه ډیر لګولي. دا اداره پلان لري ترڅو د 2010-2013 مالي کلونو له مرستو څخه په کار اخیستني سره، په راتلونکو څو کلونو کي لږ تر لږه له 814 میلیونه امریکایي ډالرو څخه زیات ولګوي. [811] پردې برسیره، د امریکا دفاع وزارت د قوماندان د بیړني غبرګون پروګرام (CERP) له لارې نږدې 292 میلیونه امریکایي ډالر او د افغانستان د زیربنا وجهي صندق (AIF)، له لارې نږدې 1.1 ملیارد امریکایي ډالر، د بریښنا پروژو لپاره برابر کړي دي، چې په ګډه د امریکا دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو لخوا اداره کیږي. [812]

افغانستان په اوس وخت کي د بریښنا نهه بیل سیستمونه لري: دوه ابتدایي سیستمونه د شمال ختیځ د بریښنا سیستم(NEPS) او د جنوب ختیځ د بریښنا سیستم(SEPS) دی. USAID دري پروژې لري چې دواړه سیستمونو کې د بریښنا تحویلي ډیره او وصل کړي ـ شبرغان؛ د کندهار-هلمند بریښنا پروژه، په کوم کې چې د کجکي بند هایدرو پاور شامل دی؛ او د بریښنا انتقال پراختیا او د اتصال پروګرام.

**NEPS:** د مرکزي آسیا له جمهوریتونو څخه بریښنا واردوي، ترڅو د کابل او د کابل شمال خوا ټولنو ته بریښنا برابره کړي.

**SEPS:** د بریښنا ډیری برخه د کجکي له بند او د کندهار په ښار کې د ډیزل له جنراتورونو څخه اخلي، ترڅو د هملند او کندهار ساحو ته بریښنا برابره کړي.

سرچینه: د امریکا دفاع وزارت، *په افغانستان کې د سولې او ثبات د پرمختګ په اره راپور*، 11/2013، د لاسرسي نیټه 12/29/2013.

## د کندهار-هلمند بریښنا پروژه

د کندهار- هلمند د بریښنا پروژه (KHPP) د دې لپاره په نظر کې نیول شوې ده چې د کندهار او هلمند ولایتونو کې د بریښنا لاسرسي او اعتماد زیات کړي. دا د دې لپاره ډیزاین شوې و ترڅو د مهمو اړتیاوو د لنډ وخت لپاره د ډیزل بریښنا ملاتړ وکړي، د کجکي له بند څخه د اوږد مهالي دوامداري بریښنا زیاته کړي، او د SEPS د بریښنا لیږلو او توزیع سیستم ښه کولو سره د بریښنا ضایعات کم شي. [813] USAID د کجکي بند د دریم توربین د نصبولو مسولیت د افغانستان بریښنا شرکت (DABS)، د افغانستان د بریښنا ملي خدمتونو ته سپارلی. USAID نوري برخي هم لکه د دوو فرعي سټیشنونو او دوو ډیزل جنراتورونو فابریکې، د افغانستان بریښنا شرکت ته سپارلي. [814] د امریکا دفاع وزارت د AIF له مرستو څخه کار اخلي ترڅو. د کندهار په ښار کې د امریکا د انجنیرانو قل اردو لخوا نصب شوي جنراتورونو لپاره تیل تمویل کړي. [815]

## د بریښنا د لیږد پراختیا او نښلوني پروګرام

د امریکا لخوا د بریښنا لیږلو او وصلولو پراختیا (PTEC) پروګرام د دې لپاره ډیزاین شوی ترڅو د بریښنا تولید، لیږلو او توزیع سیستمونه ځواکمن او پراخ کړي. دا پروګرام په مستقیمه توګه د افغانستان د ملي پراختیا ستراتیژی د ملي انرژي رسولو پروګرام ملاتړ کوي، چې پدې پروګرام کې د انرژي د بیلونو پر وړاندې د ټولولو کچې زیاتوالو غوښتنه کیږي. [816]دې موخې ته رسیدلو لپاره، د PTEC د سوداګریزې او ظرفیت لوړولو برخو موخې دا دي ترڅو تخنیکي او سوداګریز ضایعات کم کړي. [817] د افغانستان بریښنا شرکت د USAID په زیات ملاتړ سره د PTEC د ټولو قراردادونو د تدارکاتو مسولیت لري. د PTEC پروژې ساختماني چارې تراوسه ندي پیل شوي او USAID هیڅ پلان نلري چې دامهال د مستقیم بودیجې مرستي تمویل ډیر کړي. [818]

د 2014 اګست په 31 د DABS چارواکو د 27.5 مليون ډالرو په ارزښت د کندهار مديريت ملاتړ يو ځلور کلن قرارداد د دوبۍ ميشته بريښنا توليد حلونو سره لاسليک کړ چې USAID تمويل کړی. نوموړي پروژې هدف د DABS سره مرسته ده چې په کندهار ولايت کورنو او سوداګريو کې د لاسوهنې پروړاندې مقاوم ډيجيټل ميټرونو نصب له لارې عوايد ډير شي او د بريښنا توليد تمويل شي. تمويل به په کندهار کې د پيرودونکو د خدماتو مرکزونه هم جوړ کړي او هڅه به وکړي چې د بريښنا توزيع زيربنا ته وده ورکړي.[819]

د NEPS پياوړي کولو او پراخولو سربيره، د PTEC يو کليدي جز د کندهار او کابل ترمنځ د 329 ميل لاينونو انتقال څخه 304 ميل تمويل دی چې NEPS د SEPS سره ونښلوي.[820] د بريښنا سيسټم له يو بل سره نښلول کولی شي د سيسټم بشپړ ثبات پرمختللی کړي او د توليدي واحدونو لانور اقتصادي ليږد رامنځته کړي، چې دا د ناوصل سيسټمونو په پرتله لګښتونه راکموي.

پدې ربع کې USAID د ارغندي څخه غزني پورې د 220 kVa لين انتقال (56.7 مليون ډالر) او دوه فرعي سټيشنونو (48.1 مليون ډالر) جوړولو لپاره دوه قراردادونه ورکړل. دا د PTEC لين انتقال لومړۍ برخه ده چې کابل به کندهار سره ونښلوي. برسيره پردې، د فرعي سټيشنونو د ټوکو لاسته راوړو لپاره د PTEC د تدارکاتو دوه قراردادونه نهايي شوي، مګر تراوسه ندي لاسليک شوي.[821]

د NEPS او SEPS وصلول د څو مرستندويانو لخوا د آسيا پراختيايي بانک لخوا د اداره شوي د افغانستان د زيربنا د وجهي صندق (AITF) لخوا تمويليږي، چې د بوديجې پر اساس پروژې يا د افغانستان حکومت نور وزارتونه تمويلوي.[822] د 2014 د سپټمبر تر 30 پورې، USAID د AITF لپاره 285 ميليونه امريکايي ډالر مکلف کړي او 105 ميليونه امريکايي ډالر توزيع کړي دي.[823]

د NEPS-SEPSد نښلولو په لاره کې اته فرعي سټيشنونه هم جوړيږي چې موقعيت به يې د لارې پر سر ډير جمعيت لرونکي سيمې وي. دا وصلول، د کجکي د اوبو بريښنا د فابريکې له بيا رغولو سره يوځای، په 2010 د يووازې يوه مناسب او اوږد مهاله حل لارې په توګه پيژندل شوې وه ترڅو په کندهار کې د قيمتي او نه دوام وړ د ډيزل بريښنا توليد ځای ونيسي. تمه کيږي چې د NEPS او SEPS وصللو بشپړيدل تر 2018/2017- پورې وخت ونيسي.[824]

## د امريکا دفاع وزارت له لورې تمويل شوي پروګرامونه

پدې ربع کې د امريکا دفاع وزارت د AIF د FY 2012–FY 2014 پيسو په کارولو سره د انرژۍ سيکټور څو لومړيتوب پروژو پلې کولو ته دوام ورکړ ترڅو د NEPS او SEPS خپله برخه مکمل کړي.[825] کانګريس د AIF د FY 2014 لپاره د ولسمشر د بوديجې غوښتنه له 279 مليون ډالرو څخه 199 مليون ډالرو ته راکمه کړه او د 2014 جنورې په 17 د قانون له تصويب څخه مخکې پيل شوي پروژو لپاره يې کارول منع کړل.[826]

د AIF پروژې د ترهګرۍ پروړاندې مبارزې ستراتيژۍ کې مرستې او پرمختيا لپاره ګڼل کيږي، پدې سره چې د امريکا دفاع وزارت هيڅ مطالعات نظر کې ندي نيولي چې په افغانستان کې د بريښنا انرژۍ او تاوتريخوالي کمولو ترمنځ ارتباط راوسپړي. د امريکا دفاع وزارت وويل چې د AIF تمويل شوي پروژې اوس هم تر کار لاندې دي او تراوسه ګټه اخيستو ته ندي سپارل شوي، نو دامهال يې د ترهګرۍ ضد او اقتصاد پرمختيا اوږدمهاله ګټې نشي ارزول کيدی.[827]

د AIF د FY 2011 تر FY 2014 پورې پيسو په کارولو سره د انرژي سيکتور ځيني روانو پروژو کې دا شامل دي:[828]

- د کندهار بريښنا پلين حل سونګ توکي
- د SEPS تکميل، مرحله I
- SEPS، مرحله II کندهار دورای جنکشن د لينونو انتقال
- NEPS له ارغندي څخه ګرديز پورې مرحله I
- NEPS له ارغندي څخه ګرديز پورې مرحله II
- NEPS له چاريکار څخه پنجشير پورې مرحله I
- NEPS له چاريکار څخه پنجشير پورې مرحله II

## د کندهار بريښنا وصللو حل

دا پروژه د کندهار ښار لپاره د ډيزلي جنريټرانو تيل برابروي تر هغې چې د امريکا دفاع وزارت-USAID د مشترکو هڅو په نتيجه کې NEPS او SEPS سره وصل شي او کندهار ښار ته مناسب او پايداره بريښنا برابره شي.[829]

د امريکا دفاع وزارت د FY 2014 فنډونو کې 20 مليون ډالر مقرر کړي چې تر سپټمبر 2015 پورې هره مياشت په کميډونکي توګه سبسايډي کې سونګ توکي چمتو کړي.[830] د DABS چارواکو سيګار ته وويل چې که چيرې د امريکا دفاع وزارت د 2014 پای کې د سونګ توکو چمتو کول درولي وی، لکه څنګه چې مخکي پلان شوي و نو DABS ممکن د دغه جنراتورونو چلولو لپاره پيسي نه درلودی. چارواکو دا خبرداری هم ورکړی چې داسي نه ښکاري چې د افغانستان بريښنا شرکت به په پوره انداز بديله بريښنا ولري ترڅو د ډيزل بريښنا ځای ونيسي. څکه چې د کجکي د بند دريم توربين او د NEPS او SEPS وصللو پروژي بشپړيدل به وخت ونيسي، دا ممکنه ده چې د 2015 په پيل کې د کندهار په زرهاوو کورونه او شرکتونه به بريښنا ته لاس رسی ونلري.[831]

د شوراندام صنعتي پارک او باغ پل جنراتورونه په ګډه 8–13 MW بريښنا توليدوي، او DABS ته د 2013 سپټمبر کې د شپرمياشتو سپيرپارټ او مصرفي توکو سره ليږدول شوي و. DABS ته د امريکا دفاع وزارت تخنيکي ملاتړ به د 2014 اړدو کې دوام ولري.[832] پدي ربع کې د متحده ايالاتو اردو د IAP نرۍ په کچه . خدماتو ته د 3.5 مليون ډالرو قرارداد ورکړ چې DABS ته د بريښنا کارځای مصرفي توکي ـ کارمندان، اسباب، مواد او ټرانسپورټيشن چمتو کړي.[833]

## د SEPS تکميل مرحله I او د SEPS مرحله II

د 2014 سپټمبر کې په هلمند ولايت کې د SEPS بشپړولو لپاره د 75 مليون ډالرو په ارزښت دوه قراردادونه افغان شرکتونو ته ورکړل شوی، پدي کې د سنګين او لشکرګاه ترمنځ د انتقال لينونو بياجوړونه او د فرعي سټيشنونو ودانول شامل دي. د تکميليدو اټکل شوي نيټه 2015 سپټمبر دی. له کجکي ډيم څخه لشکرګاه پورې د فرعي سټيشنونو او انتقال لينونو جوړولو لپاره Perini ته ورکړ شوی د 130 مليون ډالرو اصلي قرارداد په سيمه کې د ايساف کم شوي ملاتړ پايلي په حيث د ډيرشوي امنيتي لګښتونو له امله په 2014 مې کې پای ته ورسيد.[834]

### د سيګار ځانګړې پروژه

پدي ربع کې د امريکا دفاع وزارت، د بهرنيو چارو وزارت او USAID چارواکو ته يوه ليک کې سيګار کندهار ته د 2014 دسمبر وروسته د بريښنا چمتو کولو لپاره د متحده ايالاتو حکومت پلانونو او کندهار پلين حل په اړه د سيګار پوښتني ته د دوی ورکړي ځوابونو په اړه انديښنه بيان کړه. سيګار يو څه اعتماد لري چې د کندهار خلکو ته به کافي بريښنا او ابتدايي خدمات چمتو شي يا دا چې متحده ايالات د افغان حکومت سره مرسته کولو ته رياليستيک پلان لري ترڅو د کندهار پلين حل پای او داسي وخت ترمنځ د بريښنا پايداره سرچينه رامنځته کړي په کوم کي چې د پلان شوي بريښنا توليد پياوړي سرچينه ترلاسه شي. د لازياتو معلوماتو لپاره، 2 برخه، مخ 40 وګورئ.

**د کندهار تر دراني پورې د لېږد لينونه**

د SEPS پراخولو ته هڅې برخې په حيث(II مرحلې لپاره)، دا پروژه د کندهار ښار څخه تر دوراهيی جنکشن پورې د انتقال لينونو نصب يا ترميم او په ميوند او پشمول کې د فرعي سټيشنونو جوړولو يا ترميم لپاره هڅو ته دوام ورکوي. د دې پروژې لګښت چې په 2012 کې ورکړل شوې وه، پای ته ورسول شوه او بيا بيرته په 2014 اګست کې ورکړل شوه، په FY 2012 AIF فنډونو کې 40 مليون ډالر پاتې دی. د امريکا دفاع وزارت اټکل کوي چې دا به 2015 سپټمبر کې پای ته ورسي.[835] د امريکا دفاع وزارت په وينا په کجکي بند کې د دريم توربين نصبولو له لارې توليد کېدونکې برېښنا توزيع لپاره د دې پروژې تکميل اړين دی.[836]

## NEPS، مرحله I او II

د NEPS مرحله I به د ارغندي او پل علم ترمنځ د فرعي سټيشنونه او انتقال لينونه جوړ کړي. دا په پيل کې په 2012 کې هماغه قراردادي ته ورکړل شوه چې د کندهار – دوراهيي جنکشن جوړولو لپاره ګمارل شوی و، بيا د شرايطو پوره کولو مسلو لپاره پای ته ورسيده، او بيرته د 2014 اګست کې ورکړل شوه. د مرحله I لګښت په FY 2011 AIF فنډونو کې 93.7 مليون ډالر دی. د امريکا دفاع وزارت اټکل کوي چې دا به 2016 جنوري کې مکمل شي. د مرحله II 69.2 مليون ډالر د پل علم او ګرديز ترمنځ فرعي سټيشنونه او د انتقال لينونه جوړوي، او د اټکل له مخې 2016 جنوري کې مکمل کيږي.[837]

## له چاريکار څخه پنجشير ته، مرحله I او II

په دې پروژه کې به له چاريکار څخه تر بازارک او له چاريکار څخه تر محمودراقي پورې 52 ميل لينونه وغزول شي. دا به د NEPS پراخولو لپاره د برېښنا درې فرعي سټيشنونه هم جوړې کړي. د امريکا دفاع وزارت د پروژې مرحله I لپاره FY 2012 فنډونو کې 38 مليون ډالر او مرحله II لپاره FY 2013 فنډونو کې 33 مليون ډالر مقرر کړي، چې ټولټال اټکل شوی لګښت يې 71 مليون ډالر کيږي. د انتقال لينونو او فرعي سټيشنونو لپاره د کارولو او ساتنې (O&M) کلنی لګښت 580,000 اټکل شوی.[838] DABS د O&M مسؤليت په غاړه اخيستو ته ټاکل شوی. د امريکا دفاع وزارت په وينا، د مشتريانو له زياتيدو څخه ډير شوي عوايد او د پيسو ټولولو ښه توان به د افغانستان برېښنا شرکت سره مرسته وکړي ترڅو د اوږد مهال لپاره خپلو کارونو ته ردوام ورکړي.[839] مګر، سيګار د دې شرکت د ظرفيت په اړه پوښتنې کړي او ويلي چې افغانستان هغې سرچينې نلري ترڅو د عملياتو او ساتنې پيسې ورکړي.[840]

# د خصوصي سکتور پرمختګ

نړيوال بانک په 356 شرکتونو کې د مالکانو او مهم مديرانو څخه سروی کړې او ترې پوښتلې يې دي چې په 2014 کې په افغانستان کې د دوی سوداګريو ته ترټولو لوی خنډونه څه و. سياسي ثبات نه شتون ترټولو لوی خنډ و، پداسې حال کې چې ګمرکونه او د سوداګرۍ قوانين لسم و، لکه څنګه چې په شکل 3.34 کې ښودل شوي.

په 2014 کې د افغانستان امنيت او سياسي ليږد بې ثباتي سربيره، د خصوصي سيکتور پانګونه نده درول شوې او د USAID په وينا دولت سياسي ليوالتيا لري چې د خصوصي سيکتور پرمختګ هڅولو ته دوام ورکړي.[841] له FY 2002 څخه تر FY 2013 پورې USAID په افغانستان کې د اقتصادي ودې لپاره 1.2 مليارد ډالر مختص کړي.[842]

عکس 3.34

د سوداګرۍ چاپيريال محدوديتونو په توګه په نښه شوي 10 ترټولو مهم فاکتورونه، 2014




سرچينه:نړيوال بانک، "د شرکتونو سروې، افغانستان 2014،" د 354 سوداګريو سروې، په 8/29/2014 څېړه شوې.

## د تشبثاتو له لارې د افغانستان په ودانولو کې مرسته

| د پروژې موضوع | د پيل نېټه | د پای نېټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 9/30/2014 نېټې پورې مجموعي تاديه |
|---|---|---|---|---|
| د تشبثاتو له لارې د افغانستان په ودانولو کې مرسته | 10/16/2012 | 10/16/2016 | $104,997,656 | $25,214,106 |

سرچينه: USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/9/2014.

USAID وويل چې ABADE پروګرام يې غواړي افغان راجستر شوي کوچني ځخه مینځني شرکتونو پورې توليدي بنه ورکړي او دندې اضافه کړي، پانګونه ډيره کړي، او دعامه – خصوصي ائتلافونو (PPAs) له لارې د کورني توليد پلور او خدمات ډير کړي. ABADE درې برخې لري: د منل شوي عامه – خصوصي ائتلافونو پلي کول؛ د ائتلافونو پيژندل، انتخابول او حمايت کول؛ او د سوداګرۍ چاپيريال پرمختګ لپاره افغان دولت سره کار کول.[843]

پدې ربع کې، USAID وويل چې ABADE د ښځو ترملکيت لاندې او کوچني شرکتونو ښکیلتيا لپاره هڅې کوي، په غاليو او کرنيز سوداګرۍ سيکتورونو کې د افغان تجارت او صنعت وزارت سره د فعاليت پلانونه نهای کړي، پداسې حال کې چې د ښځو کوچني او مينځني شرکتونو، ماربل او قيمتي ډبرو پلانونه کار لاندې دي. ABADE د افغانستان پانګونې ملاتړ اداري سره د لاسرسی هڅو کې هم مرسته کوي او افغان سوداګرۍ هڅولو لپاره يوه ويډيو جوړوي.[844]

په USAID ،2014 FY د يو PPA په بريا سره مکمل کيدو راپور ورکړ، 80 PPAs د افغان SMEs سره لاسليک شوي، PPAs تصويب شوي او د لاسليک په حال کې دي، 32 PPAs د USAID نهای تصويب ته په تمه دي.[845]

## د افغانستان پرمختيا کې پانګوني لپاره مالي لاسرسی

| د پروژې موضوع | د پيل نيټه | د پای نيټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 9/30/2014 نيټې پورې مجموعي تاديه |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان پرمختيا کې پانګوني لپاره مالي لاسرسی | 2/7/2011 | 2/6/2016 | $108,077,476 | $84,130,328 |

سرچينه: USAID، د سيکار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/9/2014.

د افغانستان پرمختيا کې پانګوني لپاره د USAID مالي لاسرسی (FAIDA) غواړي يو مالي سيکتور رامنځته کړي چې وکولی شي د کرني سيکتور کې باکيفيت دندې رامنځته او وساتي چې د افغانستان سويل او ختيځ کې د مايکرو، کوچني او مينځني شرکتونو اړتياوې پوره کړي. FAIDA افغان ملګرو سره مرسته کوي د مالی مرستې وړاندې کولو لپاره ظرفيت جوړ کړي، يو قانوني کاري چوکاټ او د بازار زيربنا رامنځته کړي، د موبايل پيسو خدماتو لپاره د موبايل شبکې چلونکو ته تخنيکي مرسته چمتو کړي، او افغان ښځينه شرکت لرونکو ته د سوداګرۍ پرمختيا روزنه کې کومک وکړي نو دوی به وکولی شي د اقتصادي او مسلکي ودې لپاره تمويل او فرصتونو ته لاسرسی ومومي. پدې ربع کې د ټولټاکنو او ورته امنيتي انديښنو له امله ډيری پيښې رد شوې.[846]

د USAID د عمومي مفتش دفتر (OIG) د FAIDA يوې د 2014 پلټنې وموندل چې که څه هم FAIDA ځيني لاسته راوړني درلودی، دې د نومول شوي لانور پياوړي، متمايز او پراخه مالي سيکتور پايلې ندي ترلاسه کړي. د 2013 سپټمبر پورې د دندو هدف نه و پوره شوی، يوازې 4% پور د افغانستان بانکونو انجمن پورې تړلي بانکونو لخوا سرته رسيدلی (پاتې يې د ډونر تمويل شوي مالي نهادونو لخوا شوی، کوم چې ثابت ندی)؛ د حجم له پلوه 30% پور د ښځو په ملکيت شرکتونو ته تللی، مګر د مقدار له پلوه فقط 7.2% پورونه، چې د پروګرام له پيل دمخه شته څخه لږ پرمختګ ښيي؛ او له چمتو شوي 2,000 څخه ډيرو پورونو يوازې دري يې د سويل سوداګريو ته تللي. راپور دا هم وايی چې د پروګرام له پيل څخه 19 مياشتې وروسته FAIDA د موبايل پيسو ظرفيت او لاسرسی ته د پام وړ وده نده ورکړې.[847]

USAID وويل چې د OIG پلټنې د پام وړ رواني تشې ندي موندلي، نو مهم فعاليتونو کې يې د پام وړ بدلونونه رامنځته نه کړل. USAID وويل چې د موبايل پيسو فعاليتونه يې وارزول، نوې ستراتيژي يې رامنځته کړه او فعاليتونه يې په ورته ډول واړول.[848]

## د کابل سوداګرۍ ګرندی کونکی – د افغانستان امريکايي پوهنتون مرسته

د افغانستان امريکايي پوهنتون کې د TFBSO سوداګرۍ ګرندي کولو پروژه – چې د سوداګرۍ نوښت مرکز په نوم هم ياديږي – د فيس له مخې مسلکي سوداګرۍ مديريت – مشورتي خدمات وړاندې کوي ترڅو کابل ميشته سوداګرۍ وده وکړي او خپلو اهدافو ته ورسي. مرکز دامهال له پنځه څخه اته پورې سوداګريو سره کار کوي؛ دا 15 اوږدمهاله، مداوم پيرودونکو او 10 لنډمهاله لپاره کار کوي چې د 2014 پای پورې دی. TFBSO د دې پروګرام څارنه نه کوي او د پوهنتون او پيردونکو ترمنځ مالي ترونونه کاري ځواک ته نه راپور کيږي. برسيره پردې، څکه چې پروګرام نوی دی، نو پايلې هم تراوسه شتون نلري.[849]

د 2014 سپتمبر 29 پورې، TFBSO د FY 2013 او FY 2014 فنډونو کې 4,147,957 ډالر مکلف او 1,348,255 ډالر توزيع کړي.[850] TFBSO به د مرکز سره خپل کار په نومبر کې پای ته ورسوي او مرسته به د 2014 دسمبر په 31 تاريخ تيره شي.[851] د راتلونکي درې کلونو لپاره به د پروګرام ساتلو لپاره د پيرودونکي او ډونر فنډونه وکارول شي، چې د پيرودونکي فيس به يې کارول تمويلوي.[852]

### د افغانستان د امريکايي پوهنتون مرسته - نوی

TFBSO د FY 2014 فنډونو سره د 1,111,629 ډالرو مرسته هم مکلف کړې چې په هرات کې د سوداګرۍ مرکز ځانګه پرانيزي ترڅو په دغه سيمه کې کوچني – مينځني سوداګريو ته کار وکړي. د 2014 سپتمبر 29 پورې فنډونه ندي توزيع شوي او سوداګريو سره مرسته نده شوې. پروګرام اوس کارمندان ګماري او د 2014 پای پورې په هرات کې اوه سوداګريو سره مرسته کولو اړوند روزنه ورکوي.[853]

## د سوداګرۍ ګړندۍ کونکی او پانګونې د کوچني – څخه تر منځني پورې شرکتونو خدمات

په FY 2012 کې، TFBSO خپل د هرات سوداګرۍ ګرم خونې پروګرام د سوداګرۍ ګړندي کونکي ته واړاو، چې د کوچني – مينځني شرکتونو سره کار کوي چې کولی شي د دې سوداګرۍ مشورتي خدماتو څخه غوره ګټه پورته کړي، چې لاندې برخې لري:[854]

- د توسعه او ډيرې ګټې لپاره مفصل ليد مرسته
- د اهدافو ته رسيدو لپاره د سوداګرۍ پروسو پرمختللي کول ـ محاسبه، بازار موندنه، د انبار مديريت، د پلور ستراتيژي وغيره.
- د ګډو فرصتونو لپاره د زوړ سوداګريو ګړندي کونکي پيرودونکو د اوسني سره نښلول

د TFBSO سوداګرۍ پانګونې خدماتو کې شامل دي:[855]

- د پام وړ اقتصادي پوټانشيل سره د تجارتي فرصتونو پيژندل
- د افغان قانوني شرکتونو سره د مسؤل پانګوالو جوړه کول
- د افغان پايداره اقتصادي سيکتورونو ته د مسؤل پانګوالو معرفي کول
- په افغان شرکتونو د کوښښ او هڅو بياکتنه
- د بازار څيړنې

TFBSO د هرات سوداګرۍ ګړندۍ کونکی په جولای 2014 کې بند کړ، مګر ځايی مشاورين به يې د پيرودونکو سره تر دسمبر پورې اړيکې ولري. TFBSO له FY 2011 څخه تر FY 2014 پورې 42.9 مليون ډالر مکلف کړي او 33.9 مليون ډالر يې توزيع کړي. پدغه وخت کې، TFBSO د 36 سوداګرۍ ګړندي کونکي او 35 د پانګونې خدمت پيرودونکو راپور ورکړی.[856]

پدې ربع کې، د امریکا په افغانستان کې د ترانسپورټیشن وزارت دفتر وتړل شو.

سرچینه: DOT، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 9/30/2014.

## ترانسپورټیشن

د افغانستان د ترانسپورټیشن زیربنا نه شتون داخلي سوداګري، بهرنی تجارت او اقتصادي وده په شا تمبوي. نړیوال بانک ویلي چې د ترانسپورټ سکتور بیارغونه د اقتصاد پراختیا لپاره ډېره مهم ده.[857] د افغانستان د زیربنا کمزوري په ځانګړي توګه د خدمتونو او کرنې سکتورونه له خنډ سره مخامخ کړي، چې اوس په کورني ناخالصو محصولاتو کې مخکښه برخه اخیستونکي دي.[858] د کانونو سکتور یې هم له خنډ سره مخامخ کړی، او د کانونو سکتور په عوایدو باندې د افغانستان حکومت او نړیوال مرستندویان حساب کوي ترڅو د مرستو کموالي ځای ونیسي.[859] پدې ربع کې، امریکا خپلو هڅو ته دوام ورکړی ترڅو د وزارت ظرفیت ته وده ورکړي، عملیاتونو او ساتنې ته دوام ورکړي.[860]

## سړکونه

پداسې حال کې چې متحده ایالاتو په مجموعي توګه 2.1 ملیارد ډالر د سړکونو جوړولو او O&M لپاره چمتو کړي، او دامهال په کال کې 5 ملیون ډالر د O&M هڅو لپاره مصرفوي، نړیوال بانک وویل چې د افغان سړکونو 85% خراب وضعیت کې دي او ډېری یې د موټر وسایطو په واسطه نشي کاریدلی.[861] د USAID په وینا، افغانستان دامهال د خپلو سړکونو او لویو لارو ساتلو لپاره کافي فنډ او تخنیکي ظرفیت نلري.[862] علاوه لدې د سړکونو اداري د فعالیت نه شتون د افغانستان په اوږدو کې د سړک زیربنا د پام وړ اغیزمنه کړې.[863]

## د سړکونو د سکتور پایښت

| د پروژې موضوع | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 9/30/2014 نیټې پورې مجموعي تادیه |
|---|---|---|---|---|
| د سړکونو د سکتور پایښت | 8/1/2014 | 8/1/2019 | $111,000,000 | $0 |

سرچینه: USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/14/2014 او 10/9/2014.

د USAID د سړکونو سکتور دوام (RSS) پروژه څلور مهمې برخې لري:[864]

- 1 فعالیت: بیړني عملیاتونه او ساتنه (5 میلیونه امریکایي ډالر)
- 2 فعالیت: د افغانستان د عامه چارو وزارت ته تخنیکي مرسته ترڅو د سړکونو اداره او سړکونو وجهي صندق جوړ کړي (په I برخه کې 25 میلیونه امریکایي ډالر: او په II برخه کې 10 میلیونه امریکایي ډالر). یو د درې کالو قرارداد د 2014 اګست په 3 پیل شو.
- 3 فعالیت: د عامه کارونو وزارت لپاره ظرفیت جوړونه (38 ملیون ډالر). د اړتیاو د روانو ارزونو پر اساس د کار راپور د جوړیدو په حال کې. تمه کیږي ترڅو یو قرارداد د 2015 په نیمایي کې وړاندې شي.
- 4 فعالیت: د سړک O&M (33 ملیون ډالر). د USAID د جنوري 2015 لپاره تمویل به AITF له لارې وي کله چې ADB د کاروني او ساتنې تشویقي کړکې رامنځته کړي.

## د ګرديز او خوست د لوی سړک بيارغونه IV برخه

| د پروژې موضوع | د پيل نېټه | د پای نېټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 9/30/2014 نېټې پورې مجموعي تاديه |
|---|---|---|---|---|
| د ګرديز – خوست سړک | 6/26/2014 | 12/25/2015 | $32,763,736 | $3,801,597 |

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/9/2014.

پدې ربع کې د ګرديز – خوست لوی لارې 63 ميل پاتې 15.5 ميل پخول پيل شو. [865] د لويو لارو مرحله IV کې د دوه لوی پلونو او څو استنادي ديوالونو، اوبه ايستنو او وچولو سيستمونو جوړول هم شامل دي. د هر ډول هوا لپاره، په قيرو پوښل شوی دا لوی سړک به د خوست او پکتيا ولايتونو ته به له پاکستان، کابل، له حلقوي سړک سره چې کابل، کندهار، او هرات سره وصلوي، دغو مهمو لارو ته لاس رسی ورکړي. [866]

## زده کړه

متحده ايالات غواړي د ظرفيت جوړوني هڅولو، د زده کړې موادو لپاره سمدستي اړتياو ته ځواب ويلو، ښوونځيو، او ښوونکي پرمختګ، او د لويانو سواد زده کړې فرصتونو ډيرولو، د دندې مهارتونو او ځوانانو پرمختګ له لارې کيفيت لرونکي تعليم ته د افغانانو لاسرسي ته وده ورکړي. [867]

د افغانستان د تعليم مديريت معلوماتو سيستم (EMIS) د اعتماد وړتيا ـ د معارف وزارت (MOE) کې يوازينی ډيټابيس چې د تعليم ميټريکونه تعقيبوي ـ نشي تاييد کيدلی. [868] د EMIS معلومات په وخت سره شتون نلري، او شاخصونه لکه د نيټ داخلي نسبت، د تکرار نرخ، او وتليو نرخ شتون نلري. بی امنيتي له ښوونځيو څخه لیدنه محدودي. [869] د EMIS له 2011/2012 (FY 1390) څخه خورا اخرني احسابي څيرنيز راپور کې MOE منلي چې د معلوماتو تاييد لپاره يوازې 1,000 ښوونځيو (د ټولو عمومي ښوونځيو 7%) څخه ليدنه ترسره شوې. [870] برسيره پردې ښوونځيو ممکن د حاضری ارقامو ډيرولو درغلي کړې وي (لکه د EQUIP II ښوونځي مرستي) څکه چې تمويل ته لاسرسی کيدی شي د داخلو کچو پورې اړه ولري. [871]

په هرصورت، USAID وويل چې د EMIS د EQUIP II پروګرام مرستې له لارې قوي کيدونکی دی. MOE د پلان جوړونې رياست، د تجهيزاتو پيرود لپاره تخنيکي همکاران او مشاورين ګماري چې EMIS د ولاياتو او ولسواليو په کچه پراخه کړي. [872]

پدې ربع کې د USAID د ESF له لارې تمويل شوي د لومړيتوب تعليم پروګرامونو کې شامل دي: [873]

- اساسي زده کړې، سواد، تخنيکي-مسلکي ښوونې او روزنې
- د افغانستان د پوهنتون ملاتړ او کاري ځواک پراختيا پروګرام
- د افغانستان امريکايي پوهنتون

د MOE's EMIS څخه ترلاسه شوي خورا اخرني معلوماتو په وينا، افغانستان ټولټال 13,875 د عمومي تعليم (دولتي) ښوونځې په 1392 کې درلودل، چې پکې 7.96 مليون زده کونکي داخل و.
د زده کونکو د حاضری اخرني بشپړ کلني معلومات د ټولو ولاياتو لپاره د 1391 کال دي. د EMIS د توليد شوي معلومات ښيي چې شاوخوا 7.61 مليون زده کونکي په دولتي ښوونځيو کې داخل دي. د داخل زده کونکو څخه 6.25 مليون يې حاضر پداسې حال کې چې 1.36 مليون يې غير حاضر محسوب شوي.

سرچينه: د MOE تعليم مديريت معلوماتو سيستم (EMIS) توليد شوی راپور، د ملکيت او پروګرام کال (1392) پر اساس د ښوونځيو او زده کونکو لنديز، په 10/17/2014 خپور شوی؛ د MOE تعليم مديريت معلوماتو سيستم (EMIS) توليد شوی راپور، د زده کونکو د 1391 کال حاضرۍ لنديز، په 10/17/2014 خپور شوی.

### د سيګار څانګړې پروژه

پدې ربع کې سيګار USAID ته د افغان ښوونځي په اړه نورو معلوماتو غوښتنې لپاره يو ليک واستاو چې د USAID ملاتړ شوي پروګرام لخوا تمويل شوی و، چې پدې وروستيو کې راوليد او د راپورونو له مخې يکې تر 32 زده کونکي او يو ښوونکی ټپي شوي. د لا زياتو معلوماتو لپاره، د 2برخې 41 مخ وګورئ.

سرچينه: د سيګار د ارزونې پوښتنې ته د USAID ځواب، 7/9/2014.

**ثبت شوي:** په اکاډميک کال کې د نوي ثبت شوي زده کوونکو ټوله شميره

**حاضر:** په يوه اکاډميک کال کې د هغو زده کوونکو ټوله شميره چې برخه يې اخيستې وي

**غير حاضر:** د هغو زده کوونکو شميره چې د لنډ وخت لپاره غير حاضر وي، مګر بيا هم د ثبت په شميره کې شامل شوي.

## اساسي زده کړې، سواد، تخنيکي-مسلکي ښوونې او روزنې

| د پروژې موضوع | د پيل نيټه | د پای نيټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 9/30/2014 نيټې پورې مجموعي تاديه |
|---|---|---|---|---|
| د اساسي زده کړې، سواد زده کړې او تخنيکي-حرفوي روزنو لپاره درسي کتابونه | 11/16/2011 | 12/31/2014 | $26,996,813 | $23,016,555 |
| د ښوونکو روزنه | 3/4/2012 | 11/6/2014 | 62,000,000 | 62,000,000 |
| BELT - په ټولنه کې ميشته زده کړه | 10/29/2013 | 10/28/2017 | 56,000,000 | 0 |

سرچينه: د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته د USAID ځواب، 10/9/2014؛ د سيګار بررسی ته د USAID ځواب، 4/14/2014.

BELT غواړي هغه ټولنو کې ابتدايي تعليم ته لاسرسی ډير کړي چې د دولت لاسرسی ورته شتون نلري. BELT څلور برخې لري: د MOE لپاره ظرفيت جوړونه، د ښوونکي روزنه، د 1–6 ټولګيو لپاره د درسي کتابونو برابرول، او د ټولني ميشته تعليم.[874] د BELT ټولني ميشته تعليم (CBE) ګړندی او ګټوره زده کړه وړاندې کوي، چې زده کونکو ته لاره هواروي په لرې پرتو سيمو کې ښوونځيو ته ولاړشي.[875]

د 2014 سپتمبر په 14، د USAID د BELT پروګرام تر 2020 وغزاو. د 327 مليون ډالرو په شاملولو سره د پروګرام ټولټال اټکل شوی لګښت 500 مليون ډالر دی. په نوي فرعي پروژو کې د 150 مليون ډالرو لومړي ټولګي لوست او لاسري فعاليت شامل دي، کوم چې د شواهدو پراساس د لومړي او دوهم ټولګي زده کونکو ته د لوست لارښوونه برابروي. دا به د لوست موادو برابرولو له لارې دا کار سرته ورسوي؛ په دغه موادو د ښوونکو روزل؛ د ټولني ملاتړ متحرک کول؛ د MOE د لوست لاسته راوړني ارزونو لوړول؛ او د MOE سره کار کول چې د ښوونځيو سيستم کې د غوره کړنو لارښووني پلي کړي.[876] د زده کونکي لوستلو او رياضي کفايت يا د ښوونکي کفايت باندي دامهال هيڅ معلومات شتون نلري، مګر USAID د يو داسې پروګرام ملاتړ په پام کې لري چې د افغان ماشومانو ترمنځ به د لوست مهارتونه او تشې وارزوي.[877]

پدې ربع کې USAID د ښوونکي تعليم ته وده ورکولو او وروسته په افغانستان کې د تعليم کيفيت ډيريدونکي تمويل کې 54 مليون ډالر هم تصويب کړل چې د نړيوال بانک اداره شوي ARTF د تعليم کيفيت او پرمختګ پروژې (EQUIP) لاندې به مصرف شي. USAID څکه داسي وکړل چې فکر يې کاوه د ښوونکي کيفيت ټيټ دی او وې ويل چې EQUIP په کليوال سيمو کې د دوی ډيری ته لاسرسي لپاره لازم سرچيني نلري. USAID راپور ورکړ چې 43,384 ښوونکي د متحده اياالاتو حکومت مرستي سره روزل شوي، چې د EQUIP سره د USAID د مرستي 40% نمايندګي کوي.[878]

د 2012 تعليم ګډ سيکتور بياکتني موندلي چې د ښوونکو روزني دار المعلمين (کالجونه) يوازي کوچني برخه فارغين معلمي کوي. ډيری يې نه غواړي کليوال سيمو کې معلمي وکړي، چيرې چې مسلکي ښوونکو ته خورا اړتيا ده.[879] USAID دا په لويه کچه امنيت، ښاري سيمو ته ترجيح، د ښووني نورو پوستونو لپاره د MOE فنډونو نه شتون او د ښوونکو ټيټ معاش ته نسبت ورکوي.[880]

سربېره پردې، د 1–6 ټولګيو لپاره شاوخوا 34 مليون درسي کتابونه د USAID تمويل سره چاپ شوي. دغه کتابونه دامهال د هېواد په کچه توزيع کيږي او راتلونکي ربع کې به وېشل شي.[881] 2012 کې له ساحو څخه ليدني راپورونه ښيي چې درسي کتابونه ډېری وختونه د ولسوالی دفترو کې ساتل شوي و د فنډ نه شتون له امله ښوونځيو ته توزيع شوي نه و.[882]

USAID د CBE پلي کولو لپاره MOE سره له نږدې کار ته دوام ورکوي. د راپور ورکوني دې دوره کې، USAID د CBE مرستي 54 مليون ډالر د ملګرو ملتونو نړيوال ماشوم چټک فنډ (UNICEF) ته ورکړي ترڅو د افغانستان سويلي سيمو کې له ښوونځيو بهر زده کونکو شمير راکم کړي په ځانګړي ډول ښځينه زده کونکي.[883] د 2014 اګست کې، MOE موسسو (NGOs) ته د CBE پلي کولو لپاره لارښوونه چمتو کړه، د USAID نظرياتو لپاره يې د CBE لومړي کال کاري پلان وسپاره، او د CBE مشاورينو په کار ګمارنه کې برخه واخيستله. په هرصورت، USAID د وخت سره سم مستقيم بوديجي فعاليتونو پلي کولو کې د MOE وړتيا کې د روانو ننګونو سره هم مخ شو. MOE په 2014 کې د اړين درې مياشتني راپورونو څخه يو هم ندی سپارلی، نه يې هم پدې ربع کې د نظارت او ارزوني راپورونه سپارلي.[884]

## د افغانستان د پوهنتون ملاتړ
## او کاري ځواک پراختيا پروګرام

| د پروژې موضوع | د پيل نيټه | د پای نيټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 9/30/2014 نيټې پورې مجموعي تاديه |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان د پوهنتون ملاتړ او کاري ځواک پراختيا | 1/1/2014 | 12/31/2018 | $91,927,769 | $5,932,779 |

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتني ته ځواب، 10/9/2014.

د افغانستان د پوهنتون ملاتړ او کاري ځواک پرمختګ پروګرام (USWDP) غواړي د لوړو زده کړو وزارت (MOHE) او 10 دولتي پوهنتونو د مديريت ظرفيت د چاروکو او زده کونکو روزني، د بورسونو تمويل او د متحده ايالاتو او افغان پوهنتونونو ترمنځ ملګرتياو اسانولو له لارې لوړ کړي.[885]

لدې چې پروګرام په ابتدايي مرحلو کې دی، پدې ربع کې يې د خپل کارګمارني او جوړښت او د فعاليت پلانونو جوړولو باندې تمرکز درلود. د ولسمشرۍ دوهم پړاو ټاکنو او امينتي انديښنو پروګرام او تخنيکي تطبيق سست کړ. د تطبيق څنډ د MOF د USAID پلي کولو ليک غوښتنه هم ده چې MOHE او پوهنتونونو ته لاره برابروي برخه ېکي واخلي، د نړيوال استونو له لارې د کار پيلولو فنډونو لاسته راوړو کې د پروګرام ضعف د بانکونو د بحران له امله چې د AML/CFT اوږد منتظر قانون لخوا و، او د عملياتي خدماتو او امنيت لوړولو لپاره د متحده ايالاتو حکومت تصويب/ارزوني پروسه.[886] USWDP رسما د 2014 اګست په 13 د MOHE او USAID پلي کونکي ملګري ترمنځ د پوهاوي ليک لاسليک کولو سره په لاره واچول شو.[887]

## د افغانستان امريکايي پوهنتون

| د پروژې موضوع | د پيل نېټه | د پای نېټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 9/30/2014 نېټې پورې مجموعي تاديه |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان امريکايی پوهنتون د مسلکي پرمختيا انستيتيوټ | 8/1/2013 | 7/31/2018 | $40,000,000 | $8,445,629 |

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/9/2014.

د USAID د پنځو کلونو د همکارۍ قرارداد دويمه موافقه د افغانستان له امريکايي پوهنتون لپاره د ليسانس له فارغينو سره د انګليسي ژبې او د روزنې پروګرام ملاتړ ته دوام ورکوي. ترون غواړي اکاډميک او مسلکي پرمختګ پروګرامونه پياوړي کړي، د ښځو لپاره پروګرامونه پراخه کړي او مالي خودکفايي ډېره کړي. [888] پدې ربع کې نوي معلومات ندي ورکړشوي.

## د زده کړې په برخه کې د USAID نور فعال پروګرامونه

| د پروژې موضوع | د پيل نېټه | د پای نېټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 9/30/2014 نېټې پورې مجموعي تاديه |
|---|---|---|---|---|
| د زده کړې لپاره نړيواله ملګرتيا | 10/11/2012 | 3/31/2015 | $2,500,000 | $842,105 |
| د افغانستان تعبيرونه | 6/1/2013 | 5/31/2014 | 380,000 | 380,000 |
| د افغانستان تخنيکي مسلکي انستيتيوټ | 6/15/2013 | 6/14/2015 | 1,000,000 | 475,000 |
| په افغانستان کې د زده کړې ځواکمن کول (SEA II) | 5/19/2014 | 5/18/2019 | 29,835,920 | 446,578 |
| د افغانستان د زده کړې سکالرشيپ پروګرام | 8/21/2011 | 7/31/2017 | 7,384,665 | 6,072,164 |

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/9/2014.

## روغتيا

افغانستان له 2002 راهيسې د روغتيا شاخصونو کې پرمختګونه تجربه کړي، پدې سره د نړيوال بانک په وينا دا د ټيټ عايد هيوادونو کې له اوسطه ټيټ پاتې دی او په نړۍ کې د ماشوم مړينې ترټولو لويه کچه لري. [889] د عامې روغتيا وزارت (MOPH) سره د متحده ايالاتو مرسته کې د ظرفيت جوړونه، روزنه او د کيفيت ډاډګيرنه په مرکزي او نيمه ملي کچو کې په ځانګړي توګه سويل او ختيځ ولاياتو کې شامل ده، چيرې چې خدمات ترډيره شتون نلري. [890]



**د متحده ايالاتو.** سفير کننګهم د AUAF يوه غونډه کې برخه اخلي. (د بهرنيو چارو وزارت تصوير)

## د USAID مرسته

له 2002 مالي کال څخه تر 2013 مالي کال پورې، د افغانستان روغتيا سکتور ته د بوديجې پر اساس او له بوديجې څخه دباندې د امريکا مرسته ټوله 1.2 ميليارده امريکايي ډالر ده.[891] له 2014 څخه تر 2018 پورې، د USAID ټوله مرسته به 477 ميليونه امريکايي ډالر وي.[892] د روغتيا وزارت لپاره د بوديجې پر اساس مرستو کې د امريکا لخوا په تمويل شوې تاسيساتو کې د کارکوونکو د معاشونو تاديات، مواد او تجهيزات، په خدمت کې روزنه، د تاسيساتو ورې بيارغوني، او نظارت او لاربښوونه شامل دي. له بوديجې څخه د باندې د مرستې په فعاليتونو کې د روغتيا سيستم ځواکمن کول، د خصوصي سکتور ګډون، او د درملو او بارداری مخې نيولو درمل شامل دي.[893]

## د USAID څارنه

USAID د عامې روغتيا وزارت د مرستو او قراردادونو د اداري په څانګه (GCMU) کې يو ټيم ته فنډ ورکوي تر څو د USAID په فنډ جوړ شوې تسهيلاتو څخه څارنه وکړي. دواړه غير حکومتي سازمانونه او د GCMU کارکوونکي د روغتيا تاسيساتو منظم نظارت ترسره کوي او د هغو ناروغانو شميره چې مهم خدمتونه يې لاسته راوړي، او د برابرو شوې خدمتونو ډول او کيفيت مستند کوي.[894]

USAID د افغانستان د روغتيا معلوماتو لپاره د عامې روغتيا وزارت د روغتيا مديريت معلوماتو پر سيستم باندې تکيه کوي. د USAID مشري، مديريت، او حکومتولي (LMG) پروژه د عامې روغتيا وزارت سره مرسته کوي ترڅو د معلوماتو او راپور ورکولو کيفيت ښه کړي. LMG د معلوماتو د کيفيت ارزوني (DQA) وسيلو څخه ملاتړ کړی، چې د هرې مياشتي راپور ورکړ شوي معلومات د روغتيا تاسيساتو د ورته مياشت له معلوماتو سره پرتله کوي، د HMIS له تعريفونو څخه د روغتيا کارکوونکو پوهه اندازه کوي، او له معلوماتو څخه د کار اخيستني ارزونه کوي. د 2013 له جولای څخه تر دسمبر پورې، له DQA څخه په 416 په غير منظمه توګه غوره شوي د روغتيا په تاسيساتو کې کار اخيستل شوی، او پايلې يې له غير حکومتي سازمانونو سره شريکې شوې. د DQA ارزونه به په منظمه توګه ترسره شي.[895] د LMG د پروګرام د لا نورو معلوماتو لپاره 3 پاڼه وګورئ199.

## د USAID د روغتيا پروګرامونه

د MOPH سره د متحده ايالاتو مرسته کې د ظرفيت جوړونه، روزنه او د کيفيت ډاډګيرني فعاليتونه په مرکزي او نيمه ملي کچو کې په ځانګړي توګه سويل او ختيځ ولاياتو کې شامل ده، چيرې چې خدمات ترډيره شتون نلري.[896] پدې ربع کې د USAID ترټولو لوړ لومړيتوب پروګرامونو کې شامل دي:

- د روغتيايي خدمتونو د مشارکت قرارداد يا PCH
- د روغتيا پاليسي پروژه (HPP)
- د مشرتابه، مديريت، او حکومتولی پروژه يا LMG

### د روغتيايي خدمتونو لپاره مشارکتي قراردادونه

| د پروژې موضوع | د پيل نيټه | د پای نيټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 9/30/2014 نيټې پورې مجموعي تاديه |
|---|---|---|---|---|
| د روغتيايي خدمتونو د مشارکت قرارداد | 7/20/2008 | 1/31/2015 | $236,455,840 | $182,975,290 |

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/9/2014.

### د سيګار تحقيق

د عامې روغتيا وزارت د مرستو او قراردادونو د مديريت څانګې په يو تحقيق کې چې د صحي مراکزو د چلونکو انجيوګانو څارنه او لاربښونه په غاړه لري، سيګار غواړي چې د انجيوګانو د حساب صورتونه، د ټرل شوي صحی مراکزو د فنډ، او د رشوت او جعلي مهال ويشونو بياکتنه وکړي.

د کوربه هيواد قرارداد PCH پروګرام په 13 ولاياتو کې د روغتيا خدماتو ابتدايي ګيډۍ (BPHS) او پنځه ولاياتو کې د روغتون خدماتو لازمي ګيډۍ (EPHS) چمتو کولو لپاره د MOPH هڅو ملاتړ کوي. PCH څه دبره 6,000 روغتيايي پوستو او له 540 ډيرو مرکزونو کې د روغتيا پاملرنه ملاتړ کوي په شمول د روغتونو او روغتيا مرکزونو. دا په پنځه ولايتي روغتونونو کې د دريمي کچې روغتياي پاملرني خدمات هم ملاتړ کوي. پردې برسيره، PCH په ټولنو کې د دايو د روزنو پروګرام ملاتړ کوي، او د دې پروګرام موخه د مور او کوچني د مړيني کموالی دی. [897]

PCH د MOPH غيرمستقيم بوديجې GCMU لخوا پلې شوی GCMU د مخکنيو مرستو لپاره او لدغو مرستو څخه د کار اخيستنې لپاره غوښتنې وړاندې کوي. USAID د دې پروسې نظارت کوي او د دې لپاره يې يو خپلواکه حساب په مرکزي بانک چې ورته لاس رسی لري، پرانيستی دی. PCH د خپلواک پلټونکو لخوا هم پلټل شوی دی. [898] پدې ربع کې USAID د ټرون اداره کولو او اجابت، غوښتنې، روزنې، بوديجې، محاسبې، راپور ورکولو او نظارت لپاره ارزولو وروسته GCMU بيا تصديق کړ. [899]

**پدې ربع کې USAID راپور ورکړ چې د PCH شپږ روغتيا مرکزونه ترل شوي، پداسي حال کې چې نور نشي ځارل کيدی، چې دا کار د روغتيا خدمت وړاندې کولو ته خنډ رامنځته کوي. د PCH کندهار ودانی کې يوې چاودنې شپږ کارمندان ټپي کړل.**

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 9/29/2014.

## د صحي پاليسی پروژه

| د پروژې موضوع | د پيل نيټه | د پای نيټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 9/30/2014 نيټې پورې مجموعي تاديه |
|---|---|---|---|---|
| د روغتيا پاليسي پروژه | 9/25/2011 | 1/31/2015 | $28,000,000 | $17,005,709 |

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/9/2014.

د روغتيا پاليسی پروژه (PPH) د ډيزاين، خبرو، او د روغتون د عامه او خصوصي ملګرتيا د مديريت له لارې د عامې روغتيا وزارت ظرفيت لوړوي. پروژه دا هم غواړي چې د روغتيا سرچينو تمويل او مديريت پياوړی کړي، د روغتيا سيکتور فعاليتونو کې د جنسيت مساوات ملاتړ، او د افرادو يا ټولنې ګټې لپاره د چلند بدلولو کې د افغان دولت او ملګرو ته د ځايی خصوصي سازمانانو ظرفيت جوړ کړي. [900]

پدې ربع کې ټاکنو پورې اړوند بې امينتي او سفري بنديزونو ډيری تخنيکي فعاليتونه ځنډول، په شمول د روزنې، او دولتي – خصوصي ملګرتياو واحد کې مرستي لپاره د وړ مشورو لټون. دا د غړي روغتونونو لخوا متناقص ورکړو او ډيزاين شوي کار نشتون له امله و. [901]

د دې ننګونو سربيره، پدې ربع کې HPP د HMIS لومړي راپور رامنځته کولو کې مرسته وکړه چې 20 خصوصي روغتونونه يې پوښل؛ د خصوصي روغتيا مرکز مقرراتو اصلاح کې مرسته وکړه؛ د پانګونکو له ساحې ليدنه يې اسانه کړه؛ روزنې په لاره واچولې؛ او له 2.5 مليون ډير په ټوليز توګه بازاري توليدات يې وپلورل، چې له 5.6 مليون ډيري افغاني لاسته راوړي او په پروګرام کې بيرته ولګول شوي. HPP د 2014 اکتوبر کې بنديدو لپاره مهالويش شوی. په خپل پاتې وخت کې، HPP پلان لري خپل د جنسيت پراساس تاوتريخوالي روزنې ته دوام ورکړي، د هرډول تعقيبي برنامې لپاره ارقام راټول کړي او د مرستو له لارې تمويل شوي د MOPH په مشرۍ راتلونکي روزنو ته مشوره ورکړي. [902]

### د مشرۍ، مديريت، او حکومتولي پروژه

| د پروژې موضوع | د پيل نېټه | د پای نېټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 9/30/2014 نېټې پورې مجموعي تاديه |
|---|---|---|---|---|
| مشري، مديريت، او حکومتولی/ساحوي ملاتړ | 9/1/2012 | 2/28/2015 | $40,399,490 | $24,963,134 |

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/13/2014.

د LMG پروژه د افغانستان د روغتيا او زده کړې په سيستمونو کې د عامې روغتيا له وزارت او د زده کړې له وزارت سره په مرکز او ولايتونو کې کار کوي ترڅو د حکومتولی ظرفيت ته وده ورکړي، حساب ورکول ښه کړي، او د بوديجې پر اساس مرستې مديريت سره مرسته وکړي.[903]

پدې ربع کې، USAID وويل چې LMG د بشري منابعو د کارګمارنې کيمټي رامنځته کړې او د روغتيا پاملرنې کارمندانو روزنې ته دوام ورکړی. نهه نور ولايات د LMG ښه حکومتولی اسباب تجربه کوي چې تمه ترې کيږي د پريکړې کول، حساب ورکونه، شفافيت او د سرچينو معقول کارونې ته وده ورکړي. LMG د معلوماتو کيفيت او اعتبار لوړولو کې د MOPH د HMIS رياست ملاتړ کوي. دې د MOPH سره په څېړنو کې مرسته وکړه او نظريات يې ورته چمتو کړل، پداسې حال کې چې د MOPH واحدونو ته يې روزنه ورکوله چې څنګه د HMIS معلومات وکاروي ترڅو ښې پريکړې وکړي. LMG د HMIS مشاورينو ته له ساحو ليدنې اسانتيا هم برابره کړه چې ولايتي روغتيا چارواکي او د NGO کارمندان ملاتړ کړي.[904]

USAID پدې ربع کې د MOPH سره کار کولو څخه ډيرې ننګونو يادونه هم کړې، په شمول د پريکړو ځنډ سره کول او مستقيم بوديجي پروګراملو ته د ليږد په جريان کې د پروګرام ثبات په اړه، د سياسي کړکيچ په جريان کې په تيرو شپږو مياشتو کې لږه حساب ورکونه، او د MOPH د ځای په ځای شوي مشاورينو لپاره د کاري فضا نه شتون.[905]

## د USAID د روغتيا نور فعاله پروګرامونه

| د پروژې موضوع | د پيل نېټه | د پای نېټه | ټول اټکل شوی لګښت (په ډالرو) | 9/30/2014 نېټې پورې مجموعي تاديه |
|---|---|---|---|---|
| د فارمسي سيستم تقويه کول | 8/28/2011 | 8/27/2015 | $24,499,936 | $16,034,374 |
| د کوزن له منځه ورو فعاليتونه | 9/30/1996 | 9/30/2022 | 10,830,615 | 9,214,835 |
| توبرکلوز = د ساحې ملاتړ | 9/29/2010 | 9/28/2015 | 5,600,000 | 4,600,000 |
| د پوهنتون څېړنه = د ساحې مرسته | 9/30/2009 | 9/29/2014 | 13,950,000 | 13,327,925 |

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/9/2014.

# 4 د نورو ادارو څارنيز فعاليتونه



# د نورو ادارو د څارنيزو فعاليتونو منځپانګې


| | |
|---|---|
| د نظارت بشپړ شوي فعاليتونه | 204 |
| د نظارت روان فعاليتونه | 209 |


**انځور په تيره پاڼه کې**
د EC-130H کمپاس کال يوه الوتکه په بګرام هوای ډګر، افغانستان کې ماموريت ترسره کولو ته په تمه ده.
نوموړې الوتکې د جګړې معلوماتو راټولولو دندې لپاره ترتيب شوې. (د متحده ايالاتو هوايي ځواک انځور)

# د نورو ادارو څارنيز فعاليتونه

د سيګار قانوني مسوليت غوښتنه کوي چې د بيارغونيزو پروګرامونو په اداري کې د ستونزو په هکله دفاع او بهرنيو چارو وزارتونو ته خبرتيا ورکړي، او د هر ربعې پای ته رسيدو سره تر يو مياشتې پورې د خپل څارنيزو کارونو او د متحده ايالاتو د بيارغونيزو هڅو په اړه يو رپوټ کانګريس ته وړاندې کړي. په هر ربع کې سيګار له نورو ادارو څخه د بشپړ شويو او روانو نظارت فعاليتو په اړه د معلوماتو غوښتنه کوی. پدې برخه کې دغه نوي معلومات شامل دي.

توضيحات په هغه توګه دي لکه چې وړاندې شوي، او واړه بدلونونه لري ترڅو د دې راپور له نورو برخو سره مطابقت وساتل شي: د پوره نوم پر ځای د اختصار توري؛ ستندرد لويو ټکو کارول، د ربط نښه، د تنقيط علامه، غوره املا، او د دريم کس پر ځای د لومړي کس کارول.

په افغانستان کې دغې اداري د نظارت فعاليتونه ترسره کوي او پايلې يې سيګار ته وړاندې کوي:

- د امريکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر (DOD OIG)
- د امريکا بهرنيو چارو وزارت د عمومي مفتش دفتر (State OIG)
- د امريکا حکومت د حساب ورکولو دفتر (GAO)
- د متحده ايالاتو د اردو پلټني اداره (USAAA)
- د متحده ايالاتو د نړيوالي پراختيايي اداري د عمومي مفتش دفتر (USAID OIG)

## د نظارت بشپړ شوي فعاليتونه

4.1 جدول د بيارغوني په برخه کې 6 څارنيزې پروژې ښيي چې د شرکت کونکو ادارو لخوا يې څارنه پای ته رسيدلې ده.

جدول 4.1

**د متحده ايالاتو د نورو ادارو اخرني بشپړ شوي څارنيز فعاليتونه، د 2014 تر سپتمبر 30 پورې**

| اداره | د راپور شميره | د خپريدو نيټه | د پروژې موضوع |
|---|---|---|---|
| DOD OIG | DODIG-2014-118 | 9/19/2014 | د Mi-17 کاکپيټ اصلاحاتو کاري امر قرارداد ګمارنه کې پرمختګونو ته اړتيا ده |
| DOD OIG | DODIG-2014-102 | 8/29/2014 | د افغانستان اسلامي جمهوري دولت په مستقيم مرستو غوره حساب ورکووني او شفافيت چمتو کولو ته اړتيا لري |
| DOD OIG | DODIG-2014-096 | 7/28/2014 | د Mi-17 کاکپيټ اصلاحاتو کاري امر قرارداد مديريت کې پرمختګونو ته اړتيا ده |
| GAO | GAO-14-635 | 7/21/2014 | د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت: د مرستې پاليسيو پلي کول غوره څار ته اړتيا لري |
| GAO | GAO-14-661R | 7/8/2014 | افغانستان: د کابل سفارت ودانيز لګښتونه ډيرشوي او مهالويشونه يې |
| غزول شوي | GAO-14-438R | 4/1/2014 | افغانستان: د امريکا نوي ملکي – نظامی ستراتيژيک کاري چوکاټ کې بدلونونه د امريکا ونډې ښيي |
| USAID OIG | F-306-14-003-S | 9/7/2014 | USAID/افغانستان ته چمتو کړی شوي د قوماندان بيړني غبرګون پروګرام (CERP) فنډونو د د امريکا دفاع وزارت پلټنې تعقيبول |

سرچينه: DOD OIG، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 9/18/2014؛ State OIG، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 9/18/2014؛ GAO، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 9/17/2014؛ USAAA، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب 9/18/2014؛ USAID OIG، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 9/19/2014.

## د متحده ايالاتو د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر

د دې ربعې پرمهال، DOD OIG د افغانستان بيا رغونې پورې اړوند درې راپورونه خپاره کړل.

### د Mi-17 کاکپيټ اصلاحاتو کاري امر قرارداد ګمارنه کې پرمختګونو ته اړتيا ده.

(د رپوټ شميره. DODIG-2014-118، په سپتمبر 19، 2014 کې خپور شوی)

د پلټنې بشپړ راپور يوازې د رسمي استعمال لپاره دی.

DOD OIG موندلي چې د اردو قرارداد کولو قوماندې (ACC) – ريډسټون چارواکو او غيرمعياري څرخي وزر الوتکو (NSRWA) پروګرام مديريت دفتر (PMO) د Mi-17 کاکپيټ اصلاحات په سمه توګه ندي ګمارلي. د NSRWA PMO چارواکو د بازار مناسب څېړنه نده ترسره کړې او د اصلاحاتو اړتياوې يې داسې قراردادي ته ورکړي چې د Mi-17 هيڅ تجربه نلري. دغه چارواکو د جدي اړتياو پرځای د يووستوي ګمارنې نامحدود – تحويلي، نامحدود مقدار قرارداد کارولو پريکړه کړې. برسيره پردې، NSRWA PMO د قراردادي پروپوزل د پام وړ ضعفونو سره منلی دی. په پايله کې يې د لګښت او مهالويش خطرونه ډيرشوي و؛ د اصلاحاتو لپاره اصلي وړانديز شوي لګښت کې 6.2 مليون ډالر مکلف شوي و او د الوتکې تحويلي تر 12 مياشتو ځنډول شوې وه.

په مجموع کې DOD IG ترپوښتنې لاندې لګښتونو کې 367,359 ډالر پيژندلي. لومړی د Mi-17 منولونو لپاره د قراردادي ترلاسه شوي تاديه نه ده منل شوې يا حکومت ته ورکړل شوې. د ACC - ريډسټون قرارداد کولو چارواکو مناسب طرزالعملونه ندي رامنځته کړي چې فعاليت پرې نظارت کړي يا قرارداد اصلاح کړي چې منولونه يکې هم د محولاتي توکو په حيث شامل شي. په پايله کې يې اردو 216,345 ډالر تر پوښتنې لاندې لګښتونو کې ورکړي. دوهم، د NSRWA PMO چارواکو د کاري امر لاندې د Mi-17 کاکپيټ اصلاحاتو طرحې هاخوا د ترميم کار لپاره غير مجاز ژمنه کړې. قراردادي د ترميم کار لپاره 151,014 ډالر تر پوښتنې لاندې لګښتونو کې لګولي.

**د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د مستقيم مرستو په اړه غوره حساب ورکووني او شفافيت وړاندې کولو ته اړتيا لري.**

(د رپوټ شميره. DODIG-2014-102، په اګست 29، 2014 کې خپور شوی)

DOD OIG موندلي چې د افغانستان اسلامي جمهوری دولت (GIROA) د مناسب ډاډ چمتو کولو ته لومړني کنترولونه نه لري چې په ورته توګه د افغانستان امنيتي ځواکونو صندوق 3.3 مليارد ډالر مستقيم مرستو کې مصرف کړي. د يوې پايلې په حيث، د امنيت ګډ ليږد قوماندانې – افغانستان ونشو کولی تاييد کړي چې GIROA د افغانستان امنيتي ځواکونو صندوق مستقيم مرستې په درستې سره کاروي يا د نومول شوي اهدافو لپاره يې کاروي.

**د Mi-17 کاکپيټ اصلاحاتو کاري امر د قرارداد اداره کولو کې پرمختګونو ته اړتيا ده**

(د رپوټ شميره. DODIG-2014-096، په جولای 28، 2014 کې خپور شوی)

DOD OIG موندلي چې د اردو قرارداد کولو قوماندې (ACC) – ريډسټون قرارداد کولو افسرانو په درستې سره کاري امر 0102 ندی اداره کړی. د قرارداد کولو افسر د نامکمل هڅو لپاره د تمويل ډيرولو ته د اصلاحاتو ناسم وړاندې کولو په واسطه د کاري امر لاندې مانع لګښت جمع د لګښت ډول سلنه رامنځته کړې چې اضافي فيسونه پکې شامل کړی شوي. په پايله کې قراردادکولو افسر قراردادي ندی هڅولی چې لګښتونه کنټرول کړي، او قراردادي د اصلي قرارداد شوي کارونو ترسره کولو لپاره 150,000 ډالر اضافي فيسونه ترلاسه کړي. دا فيسونه بايد بيرته لاسته راوړل شي.

د قرارداد کولو افسرانو د وړانديز شوي نرخونو په مناسب توګه څيړني او معقوليت پرته کاري امر او تعقيبي اصلاحات ګمارلي. د قرارداد کولو افسرانو د لګښت يا نرخ مناسب ارزوني ندي ترسره کړې، د پروژې مديريت دفتر تخنيکي پرسونل لخوا ناملاتړي بياناتو باندې تکيه کړې ترڅو وټاکي چې ايا نرخونه درست او مناسب و، او د قراردادي پروپوزلونو د نرخ معقوليت په نه ارزولو سره يې د فدرال مقرراتو سره په مطابقت کې د خپلو دندو ترسره کولو کې غفلت کړی. د پايلې په حيث، اردو محدود ډاډ درلود چې د 15.2 مليون ډالرو په ارزښت د Mi-17 چورلکې کاکپيټ اصلاحاتو خدماتو لپاره يې درست او عادلانه نرخونه ترلاسه کړي.

برسيره پردې، DOD OIG موندلي چې قراردادي افسر د دې تاييدولو پرته چې غيرسياليز ګمارنه اړوند وه د يووستوې سرچيني فرعي قراردادي لپاره رضايت ښودلی. قراردادکولو افسر د فرعي قرارداد يا ملاتړي اسنادو ترلاسه کولو ته د رضايت لپاره د قراردادي غوښتنه نده ارزولې. د پايلې په حيث، اردو د فرعي قرارداد خدمتونو کې د سيالۍ ګټه نده ترلاسه کړې.

## د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت د عمومي مفتش دفتر – د مينځني ختيځ سيمه ايز عمليات

د دې ربع په جريان کې، State OIG د افغانستان بيارغوني پورې اړوند راپورونه ندي خپاره کړي.

## د دولت حساب ورکوني دفتر

پدې ربع کې، GAO د افغانستان بيارغوني په هکله دوه رپوټونه خپاره کړي.

### د بهرنيو چارو وزارت: د مرستو پاليسيو پلي کول غوره څار ته اړتيا لري

(د رپوټ شميره. GAO-14-635، په 2014 جولای 21 کې خپور شوی)

د بهرنيو چارو وزارت (State) داسي پاليسي او لارښوونه رامنځته کړې چې د مرستو او تعاوني تړونونو (مرستو) اداره کولو لپاره ملاتړې چاپيريال چمتو کوي. برسيره پردې، State پدې پاليسيو او لارښووني خپلو د مرستي چاراواکو ته د قيومميت روزني چمتو کوي، او په منظم ډول غوره کړني او لارې مشخص او سره شريکوي يي. د State پاليسی د فدرال قوانينو پراساس دي، د داخلي کنټرول معيارونه منعکس کوي او د خطر ارزوني او نظارت طرزالعملونو په څير موضوعات ترپوښښ لاندې نيسي. د State پاليسی ځانګړي داخلي فعاليتونه هم شرح کوي چې د مرستو چاراوکي ورته اړ دي د حساب ورکووني هڅولو د لارې په توګه يي خپل د مرستي دوسيو کې پلي او مستند کړي.

GAO موندلي چې د پاليسيو او لارښووني متناقص پلي کولو د State باور کمزوری کړی چې د مرستي فنډونه لکه څنګه چې ګټل شوي مصرفيږي.

- **د خطر نامناسب څيرنی.** د GAO ډيری بياکتل شوي دوسيو کې، د مرستو چاراواکو د اړتيا سره سم خطرونه په بشپړه توګه ندي پيژندلي، ارزولي يا کم کړي. د مثال په توګه، چاراواکو له 61 مرستو څخه د 45 لپاره د خطر پيژندني پروسه پرمخ وړې چې GAO يي بياکتنه ترسره کړې. پداسي حال کې چې د مرستو چاراواکو له دغه 45 مرستو څخه 28 کې خطر پيژندلی، دوی يوازې 11 کې خطرات کم کړي.
- **ضعيف اسناد.** د مرستو چاراواکو عموما د داخلي کنټرول فعاليتونو مستند کولو پورې اړوند د State پاليسيو او طرزالعملونو ته مراجعه نده کړې. د مثال په توګه، د بياکتل شوي 61 دوسيو څخه 32 يي د نظارت اړين پلان نه درلود. د مرستو چاراواکو ترمنځ د پام وړ ځای په ځای کوونه د داخلي کنټرول فعاليتونو مستند کول په ځانګړي توګه مهم ګرځوي. د State د انتخاب شوي دفترونو او بهرني ماموريتونو د مرستي عملياتو د مديريت دوره ايي بياکتني هم موندلي چې کليدي اسناد په مکرر ډول ورک يا ناتکميل و او د دغه ستونزې په نښه کولو لپاره يي وړانديزونه کړي. په هرصورت، State د دغه وړانديزونو له پلي کيدو څخه داډ ترلاسه کولو لپاره په نامتناقص ډول ندي تعقيب کړي، لکه څنګه چې د داخلي کنټرول معيارونو غوښتنه ده.

State د خطر ارزوني او اسنادو اړتيا سره اجابت ډاډمن کولو لپاره پروسي نلري. د مرستي مديريت لپاره د داخلي کنټرول پاليسيو د درست پلي کولو پرته State نشي کولی مطمين وي چې څار مناسب دی يا دا چې خپل د څار محدود سرچيني په مؤثر ډول کاروي.

**افغانستان: د کابل سفارت ودانيز لګښتونه ډېر شوي او مهالويشونه يې غزول شوي**

(د رپوټ شميره. GAO-14-661R، د 2014 جولای په 8 خپور شوی)

په 2009 او 2010 کي د بهرنيو چارو وزارت د 625.4 مليون ډالرو په ارزښت دوه قراردادونه ورکړل چي د متحده ايالاتو کابل سفارت، افغانستان کي د اړتيا سره سم ځايونه او د دفتر تاسيسات جوړ کړي. په 2009 کی State د 209.4 مليون ډالرو يو قرارداد قراردادي 1 ته د لنډمهاله دفترونو او ميشته کيدني ودانيز چارو او ډيزاين لپاره ورکړ په بيله بيا د دايمي جوړښتونو لپاره چي پکي د ضميمه A يو دفتر، د اپارتمان ودانی 1، يوه کيفيتريا او تفريح مرکز، د چاپيريال امنيت او انګړ ته ننوتو ودانی، يو اضافي ګودام او د ګټه پورته کوني يوه ودانی جوړه کړي. په 2010 کي State د 416 مليون ډالرو په ارزښت يو قرارداد قراردادي 2 ته د دفتر ضميمه B، د اپارتمان ودانی 2 او 3، د موجود اپارتمان ودانی 4 پراخوالي، د انګړ ته ننوتو او چاپيريال امنيت ودانی او تمځای ودانيو د ډيزاين او جوړولو لپاره ورکړ.

د State پلانونه د دواړه قراردادونو لاندي پرله پسي ودانولو غوښتنه کوي. د 2011 سپتمبر کي، د فعاليت او مهالويش ځنډونو په اړه اندېښنو له امله د متحده ايالاتو حکومت په ګټه د قراردادي 1 قرارداد کي تر يوې کچي د دايمي ودانيو اړتياوي پای ته ورسولي. قراردادي 1 لنډمهال دفترونه او ميشته کيدو واحدونه بشپړ کړل. د 2011 سپتمبر کي، State د قراردادي 1 څخه د دايمي ودانيو جوړول قراردادي 2 ته انتقال کړل چي ترهغه پوري يي کار نه و پيل شوی او بشپړيدو نيټه د 2016 جنوري څخه د 2016 جولای ته وغزوله.

لدې چي دواړه قراردادونه په 2009 او 2010 کي ورکړل شوي و نو د ودانولو اړتياو بدلون موندلی، لګښتونه يې ډېر شوي او مهالويشونه غزول شوي. د نوي دفتر ضمايم به 1,237 ميزونه ولري چي اصلي پلان شوي 778 څخه نږدې 60% ډيروالی ښيي. State د 661 خوب ځاينو لپاره هم ودانی جوړي چي له اصلي پلان شوي څخه شاوخوا 50 ډيروالی دی. د ودانيز چارو لپاره د قرارداد لګښتونه تر 2014 مې پورې 24% ډېر شوي، چي له 625.4 مليون ډالرو څخه 773.9 مليون ډالرو ته ختلي. د پروژې بشپړ مهالويش هم غزول شوی. State په اصل کي پلان جوړ کړی و چي د انګړ دننه ټولي ساختماني چارې د 2014 اوړي کي مکمل شي؛ د ټولو دايمي ودانيو لپاره د قرارداد محوليو نيټه دامهال د 2016 جولای ده.

په پروژې اغيز کونکي فاکتورونو کي شامل دي: (1) د سفارت د کارمندانو اړتياو په ترکيب کي بدلون او شميرو کي ډيروالی؛ (2) د پلانولو پرمهال د State لخوا ورپيژندل شوي خطرات لکه په يوه ساختماني ساحه کي د دوه قراردادیانو د کار ترتيب کول؛ (3) په يوه جنجالي چاپيريال کي د بوخت انګړ دننه د نوي ودانيو جوړول؛ (4) د قراردادي کار ځنډول او له يوه څخه بل ته د قرارداد ساختماني چارو انتقال؛ (5) او د پاکستان له لارې بار راوړو کي د ستونزو له امله د ساختماني موادو په راوړو کي ځنډونه او بدلونونه.

د دې ټاکل مشکل دې چې وویل شي ایا اوسنی پروژې او موجود ودانی به د سفارت راتلونکي اړتیاوې پوره کړي. لکه څنګه چې د متحده ایالاتو اردو په افغانستان کې خپل شتون کموي او ووځي، State به پریکړه وکړي چې ایا د اردو لخوا دامهال چمتو شوي د ژوند ملاتړي خدماتو برابرولو ته د قراردادیانو ملاتړ کې ښکیل شي، لکه خواړه، اوبه، سونګ توکي، او طبي خدمات. دا ډول بدلونونه ممکن د سفارت کارمندانو جوړښت باندې اغیز ولري. د متحده ایالاتو ادارو راتلونکي جوړښت، د کارمندانو کچې او د سفارت ودانیز اړتیاو کې د بدلون امکان شتون لري. یوځل چې موجود قراردادونه بشپړ شول، د کابل سفارت دایمي ودانی ـ دواړه زړې او نوي جوړېدونکي ودانی به 1,487 شعبې (میزونه) او 819 خوب ځایونه ولري. د سفارت پلان شوي په کار ګمارنه د 2015 کال لپاره شاوخوا 600 مستقیم ګمارل شوي امریکاییان او 1,100 ځایی ګمارل شوي کارمندان دي. State پدې کار کوي چې د دې او نورو ادارو د شعبې (میز) موقعیتونه (دواړه د متحده ایالاتو اتباع او ځایی ګمارل شوي کارمندان) په نښه کړي چې نوي دفتر کې به ځای ونیسي. State د ماستر پلان جوړولو یوه مطالعه هم پرمخ وړي چې په اوسني ودانیز چارو کې د انګړ دننه اړتیاو تشه په نښه کړي.

## د متحده ایالاتو د پوځ پلټونکي اداره

پدې ربع کې USAAA د افغانستان بیارغوني پورې اړوند هیڅ یوه پلټنه نده بشپړه کړې.

## د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیایي ادارې د عمومي مفتش دفتر

پدې ربع کې USAID OIG د بیارغوني فعالیتونو پورې اړوند یوه پلټنه خپره کړې.

### USAID/افغانستان ته چمتو کړی شوي د قوماندان بیړني غبرګون پروګرام (CERP) فنډونو د د امریکا دفاع وزارت پلټنې تعقیبول

(د رپوټ شمیره. F-306-14-003-S، د 2014 کال د سپتمبر په 7 خپور شوی)

په 2009 کې د متحده ایالاتو د دفاع وزارت (DOD) د USAID/افغانستان سره د دری ساختماني پروژو د پلي کولو لپاره د اقتصادي عمل امرونه لاسلیک کړل. دغه پروژې د ارزګان شمالي ولایت ریګک او اوشی سیمو کې د دوه طرفه ترافیک دوه دایمي پلونو جوړولو (15.5 ملیون ډالر)؛ په غزني او زابل ولایتونو کې نهه تخریب یا وران شوي پلونو ترمیم (12.5 ملیون ډالر)؛ او د بامیان څخه دوشي سړک یو څه پخول، سمول او ساتلو (12.1 ملیون ډالر) لپاره وې. د اقتصادي عمل امرونه د قوماندان بیړني غبرګون پروګرام (CERP) فنډونو 40.1 ملیون ډالرو سره تمویل شوي. USAID/افغانستان دا پروژې د لویز برګر ګروپ شرکت/بلیک او ویچ ګډې پانګوونې (LBG/B&V) سره د نامحدود کمیت قرارداد او ځانګړي کاري امرونو له لارې پلي کړې. په 2012 کې، DOD OIG یوه پلټنه خپره کړه، *د امریکا دفاع وزارت اړتیا لري چې د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیا لپاره ادارې سره اقتصادي عمل امرونو باندې کنټرولونو ته وده ورکړي* (د راپور شمیره. DODIG-2012-117، د 2012 د اګست 14). دا د دغه پلټنې تعقیب دی، او دا د DOD OIG او زموږ نتیجه ګیریو ته راجع کیږي.

USAID OIG پایله کړې چې د د امریکا دفاع وزارت لخوا USAID/افغانستان ته چمتو کړی شوي فنډونه تل د هغو نومول شوي اهدافو لپاره نه و کارول شوي یا د پلي کیدونکي قوانینو سره په اجابت کې. د بیلګې په توګه، د نهه پلونو د ترمیم لپاره قرارداد شوی ـ او USAID د دې کار ترسره کولو لپاره ټول 12.5 ملیون ډالر لاسته راوړي ـ خو یوازې څلور پلونه یې بشپړ شوي. USAID د دغه فنډونو څخه 5.7 ملیون ډالر بیامکلف کولو او د امریکا دفاع وزارت ته د 5.58 ملیون ډالرو بیرته ورکولو راپور ورکړی. په هرصورت، USAID OIG وړ نه و چې د بیامکلف شوي او بیرته ورکړل شوي مقدار ترمنځ توپیر سره برابر کړي.

لدې علاوه USAID د "عاجل يا چټک کار ترسره کولو" لپاره د اقتصادي عمل امر څخه 0.7 مليون ډالر مکلف کړي، چې د اقتصادي عمل امر برخه نه و. USAID OIG د DOD OIG موندنو سره موافق دی چې USAID د 0.7 مليون ډالرو استعمال د شرايطو وړتيا نه وړاندې کوي. دا د اقتصادي عمل امر له جوړښت څخه بهر و، او USAID د دې هدف لپاره فرعي مکلف ته ننوتو واک نلري. د باميان څخه دوشي ته سړک لپاره، د سړک ساتنې لپاره د د امريکا دفاع وزارت لخوا USAID ته چمتو کړی شوي بشپړ 12.1 مليون ډالرو استعمال پرځای، USAID يوه اړخيزه پريکړه کړې چې د دغه فنډونو 8.9 مليون ډالر يې د ټولنې پرمختيا پروژو لپاره استعمال کړي، داسې يو هدف چې د اقتصادي عمل امر بنې څخه بهر و. پدې دواړه پيښو کې، USAID د شرايطو وړتيا اړتياو قوانينو، اقتصادي عمل او ثبتونې قانون څخه سرغړونه کړې.

علاوه لدې، د USAID دغه قوانينو څخه سرغړونه ښيې چې USAID ممکن د بي کفايتۍ پرضد قانون هم مات کړی وي.

## د څارنې روان فعاليتونه

تر سپتمبر 30، 2014 پورې برخه اخيستونکي ادارو د افغانستان بيارغونې پورې اړوند د نظارت 21 روان فعاليتونه راپور کړي. دا فعاليتونه په 4.2 جدول کې لست شوي، او د هرې اداري فعاليتونه په لاندې برخه کې تشريح کيږي.

جدول 4.2

**د متحده ايالاتو د نورو ادارو د څار روان فعاليتونه د 2014 تر سپتمبر 30 پورې**

| اداره | د پروژې شميره | د پيل نيټه | د پروژې موضوع |
|---|---|---|---|
| DOD OIG | D2014-D000JB-0219.000 | 9/4/2014 | د پانګو حساب ورکوونې لپاره د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د داخلي کنټرول پلټنه |
| DOD OIG | D2014-D000JB-0213.000 | 8/14/2014 | پر قرارداد کولو د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د کنټرولونو پلټنه |
| DOD OIG | D2014-D00SPO-0129.001 | 7/2/2014 | د مهماتو، چاوديدونکي توکو او سونګ توکو مديريت او حساب ورکوونې لپاره د افغان ملي امنيتي ځواکونو پاليسو، پروسو او طرزالعملونو د کفايت ارزونه |
| DOD OIG | D2014-D000RE-0141.000 | 4/7/2014 | په افغانستان او عراق کې د اردو ساختماني پروژو په اړه لنډ راپور |
| DOD OIG | D2014-D00SPO-0129.000 | 3/6/2014 | د امريکا او ايتلاف هڅې ترڅو د افغانستان ملي پوليسو د لوژستيک ساتنې دوام ته پراختيا ورکړ شي، ارزونه |
| DOD OIG | D2013-D00SPO-0181.000 | 6/13/2013 | د متحده ايالاتو حکومت د هڅو ارزونه ترڅو د افغانستان اسلامي جمهوري حکومت څخه د ملاتړ لپاره د امنيتي همکارۍ او مرستې فعاليتونه د امريکا دفاع وزارت څخه د امريکا بهرنيو چارو وزارت صلاحيت ته وسپاري |
| DOS OIG | 14AUD034 | 2/11/2014 | د امريکا بهرنيو چارو وزارت د مرستو افسر د استازو انتخاب، ګمارلو، روزنې، او نظارت مسوليتونو پلټنه |

*په راتلونکي پاڼه کې دوام لري*

جدول 4.2 (دوام لري)

**د متحده ایالاتو د نورو ادارو د نظارت روان فعالیتونه د 2014 تر سپتمبر 30 پورې اداري**

| اداره | د پروژې شمیره | د پيل نېټه | د پروژې موضوع |
|---|---|---|---|
| DOS OIG | 14AUD018 | 1/27/2014 | د نړیوال خوندیتوب خدمتونو ډیپلوماتیک امنیت بیورو قرارداد کاري امر 10 – د کابل سفارت امنیتي ځواک، پلټنه |
| DOS OIG | 14AUD014 | 1/17/2014 | په افغانستان کې د قراردادونو لپاره د قرارداد تړلو پروسې پلټنه |
| DOS OIG | 13AUD082 | 6/20/2013 | په افغانستان کې د نړیوال مخدره توکو او قانون د حاکمیت چارو اداري د سمون سیستم د ملاتړ پروګرام څخه پلـــــــټنه |
| GAO | 321034 | 7/23/2014 | په کابل کې د امریکا سفارت ساختماني هڅې، برخه II |
| GAO | 351952 | 7/16/2014 | په افغانستان کې د سایټونو، بیسونو او کتارونو خوندي کولو هڅې او په ماموریت هرډول هڅې |
| GAO | 321031 | 7/9/2014 | په بهر کې د ډیپلوماتیک میشته کیدنې او نور نرم اهدافو خوندي کول |
| GAO | 121228 | 6/25/2014 | د قراردادونو له لارې د پاس تصدیق |
| GAO | 351917 | 4/11/2014 | په بیرنیو عملیاتونو کې د قراردادیانو تعقیبولو لپاره سیستمونه |
| GAO | 100012 | 3/10/2014 | د اردو ساختماني پروګرامونو کې د قراردادي ترجیحات |
| GAO | 100003 | 2/13/2014 | د سیمه ایزو کارکوونکو پر وړاندې د ګواښونو کمول |
| GAO | 320985 | 6/26/2013 | د بهرني لیبر قراردادکونکو بهر کارول |
| GAO | 351805 | 3/1/2013 | د امریکا دفاع وزارت د کانټینرونو مدیریت |
| USAID OIG | FF101014 | 8/26/2014 | د افغانستان په اوږدو کې د خپلو پروګرامونو د نظارت او ارزونې لپاره د USAID/افغانستان ستراتیژۍ پلټنه |
| USAID OIG | FF100414 | 3/10/2014 | له حکومت څخه حکومت ته په افغانستان کې د USAID د مالي مدیریت کنټرولونو ارزونه |

سرچینه: DOD OIG، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 9/18/2014؛ State OIG، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 9/18/2014؛ GAO، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 9/17/2014؛ USAAA، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب 9/18/2014؛ USAID OIG، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 9/19/2014.

## د متحده ایالاتو د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر

د دفاع وزارت د سیندونو څخه پورې غاړې احتمالي عملیاتونو (OCO) په ترسره کولو لاهم د ننګونو سره مخ دی. د دفاع وزارت د څانګړی مفتش دفتر (DOD OIG) د دغو ننګونو او سترو خطرونو په اساس خپل لومړیتوبونه ټاکلي. د FY 2015 لپاره د DOD OIG څار د لاسته راوړنې او قرارداد کولو پر نظارت او څار برخو تمرکز کوي چې د افغانستان امنیتي ځواکونو (ASF) د روزنې، تجهیزولو او پایښت ملاتړ کوي. DOD OIG به د افغان ملي امنیتي ځواکونو روزنې او تجهیز لپاره د وزارت هڅو بیاکتنې او ارزولو ته هم دوام ورکړي.

د DOD OIG په مشرۍ د سویل لویدیزې اسیا د پلان جوړولو ګډه ډله به د فدرالي او DOD OCO پورې اړوند نظارت فعالیتونو همغږی کولو او ستونزو له منځه وړلو کې مرسته وکړي. DOD OIG د سیګار سره په بیله بیا د عمومي مفتشینو او دفاع د څار تولنې غړو سره په کار کولو په افغانستان کې بوخت د څار ټولنې لپاره د 2015 مالي کال ستراتیژیک څار پلان نهایی کړی او په 2014 اکتوبر کې د سویل لویدیزې آسیا لپاره د FY 2015 د څار جامع پلان رامنځته کولو لپاره پلان لري. د FY 2015 پلان رامنځته کولو یوه کلیدي برخه په افغانستان کې د ځواک بیا بنه کول/د عملیاتو پرشا تګ دی.

د DOD OIG د OEF په اړه روانه څارنه د افغانستان د امنیتي ځواکونو د مرستې د ملکیت؛ غیر مناسب تادیات؛ د قرارداد اداره او مدیریت په شمول د ساختماني پروژو؛ د سپارلو پلان کول؛ په افغانستان کې لوژستیکي توزیع؛ عنعنوي عملیاتونه، روغتیایی پاملرنه؛ او د اخیستلو پلان کول او کنټرولونو لپاره د حل لار پیدا کوي.

### د پانګې حساب ورکوونې لپاره د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د داخلي کنټرول پلټنه

(د پروژې شمیره. D2014-D000JB-0219.000، پیل شوی 9/4/2014)

DOD OIG دا پلټنه د قانوني اړتیا په ځواب کې پرمخ وړي. DOD OIG مشخص کوي چې آیا د امنیتي لیږد ګډه قومانده – افغانستان (CSTC-A) او د GIROA دفاع او کورنیو چارو وزارتونه د وسایطو او ودانیو لپاره د پانګو حساب ورکوونې په مؤثر ډول اداره کولو کې کنټرولونه لري. په ځانګړي توګه DOD OIG به د مرسته شوي پانګو شتون تایید، د ساتنې او ځای پرځای کولو عملیاتو اړتیاو وړاندوینه کولو او د پانګې بیاډکولو لپاره د اړتیاو پیژندلو لپاره د پالیسیو او طرزالعملونو کفایت وارزوي.

### پر قرارداد کولو د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د کنټرولونو پلټنه

(د پروژې شمیره. D2014-D000JB-0213.000، پیل شوی 8/14/2014).

DOD OIG دا پلټنه د قانوني اړتیا په ځواب کې پرمخ وړي. DOD OIG مشخص کوي چې آیا CSTC-A او د GIROA دفاع او کورنیو چارو وزارتونو د قرارداد مدیریت پروسو باندې مؤثر کنټرولونه رامنځته کړي.

### د مهماتو، چاودیدونکي توکو او سونګ توکو مدیریت او حساب ورکوونې لپاره د افغان ملي امنیتي ځواکونو پالیسو، پروسو او طرزالعملونو د کفایت ارزونه

(د پروژې شمیره. D2014-D00SPO-0129.001، پیل شوی 7/2/2014).

د دې کار لپاره تعقیبي بیاکتنې غوښتنه شوې، DOD OIG د سونګ توکو (د کلاس III بلک) او کنوانسیوني مهماتو او چاودیدونکي توکو (کلاس V) د مدیریت او حساب ورکوونې لپاره د افغان ملي امنیتي ځواکونو د پالیسیو او طرزالعملونو کفایت یا بسیا ارزونه ترسره کوي. په ځانګړي توګه DOD OIG به د لاندې مواردو بیاکتنه ترسره کړي:

- د تدارکاتو، ترلاسه کولو، حساب ورکوونې، او د مهماتو او سونګ توکو مصرف لپاره د مقرراتو او طرزالعملونو اړوند د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو سره د ایساف امنیت مرستندویه دفتر اړیکه
- په ملي او سیمه ایزو قوماندو کې د مهماتو، چاودیدونکي توکو او سونګ توکو لپاره د تکثیر شوي حساب ورکوونې طرزالعملونو او داخلي کنټرولونو سره د ANSF اجابت
- د ANSF مهمات، چاودیدونکي توکي او سونګ توکو توزیع او حساب ورکوونې سیستمونه د پام وړ تشو او ضرر لیدنو لپاره
- د امنیتي تشو او ضرر لیدنې لپاره د مهماتو، چاودیدونکي توکو او سونګ توکو لپاره د ANSF زیرمه کولو اسانتیاوې

### په افغانستان او عراق کې د اردو ساختماني پروژو په اړه لنډ راپور

(د پروژې شمیره. D000RE-041.000، د 2014 د اپریل په 7 پیل شوی)

د امریکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر په افغانستان او عراق کې د اردو ساختماني پروژو په اړه ځانګړې دوامداره ستونزې په هغې پلټنې کې موندلې چې راپور یې د امریکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر، د اردو د پلټنې ادارې، او د هوایي ځواکونو د پلټنې ادارې لخوا خپور شوی.

### د امریکا او ایتلاف هڅې ترڅو د افغانستان ملي پولیسو د لوژستیک او ساتنې دوام ته پراختیا ورکړ شي، ارزونه

(د پروژې شمیره. D2014-D00SPO-0129.000، د 2014 د مارچ په 6 پیل شوی)

د امریکا دفاع وزارت په افغانستان کې د امریکا او ایتلاف ځواکونو لخوا د افغانستان ملي پولیسو د لوژستیک، اړتیاو، او ساتنې جوړ شوي سیستمونو د پلان کولو او ترسره کولو ارزونه کوي. په ځانګړې توګه، د امریکا دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر پلان لري ترڅو دغه ارزونې وکړي:

- آیا د امریکا او ایتلاف موخې، پلانونه، او لارښووني او سرچینې پوره دي ترڅو د لوژستیک، اړتیا توکو، او ساتنې سیستمونو ته په بریا سره پراختیا ورکړي او په 2014 کې یې د افغانستان ملي پولیسو ته وسپاري
- امریکا او ایتلاف پلان لري ترڅو د افغانستان ملي پولیسو د لوژستیک او ساتنې پروسې د افغانانو مشرۍ ته وسپاري او د اړتیا توکو په سپارلو کې د ځنډ اغیز کم کړي
- ایا د متحده ایالاتو او اییتلاف پلانونه او سرچینې به په اغیزمن ډول د ANP لوژستیک، تحویلۍ، او ساتنې سیستمونو پایښت او له 2014 هاخوا مداوم پرمختګ ملاتړ کړي.

### د متحده ایالاتو د حکومت هڅو ارزونه چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت سره د امنیتي مرستې او مرستندویه فعالیتونو د لیږد مسولیت د امریکا دفاع وزارت څخه د امریکا ب هرنیو چارو وزارت ته سپاري.

(د پروژې شمیره. 2013-D00SPO-0181.000، د پیل نیټه، 13 جون، 2013)

د امریکا دفاع وزارت د هغو پلانونو او فعالیتونو ارزونه کوي چې تر اوسه ترسره شوي یا بشپړ شوي ترڅو په افغانستان کې د امنیت همکارۍ او مرستې فعالیتونه د امریکا له دفاع وزارت څخه د امریکا بهرنیو چارو وزارت صلاحیت ته وسپارل شي، او ترڅو د امنیتي همکاریو د اوسنی لارښووني او امنیتي مرستې د مقرراتو پر اساس چې کیدای شي اړوند وي، هغې سپارښتنې وړاندې کړي ترڅو د امریکا بهرنیو چارو وزارت ته د دغو دندو سپارل آسانه یا ښه کړي. د دې فعالیتونو ځانګړې موخې دا دي چې معلومه کړي آیا:

- د متحده ایالاتو د حکومت موخې، اهداف، پلانونه او لارښودونه د دې لپاره کافي دي چې په افغانستان کې د امنیتي مرستې فعالیتونه د دفاع وزارت CSTC-A څخه د بهرنیو چارو وزارت په چوکاټ کې د امنیتي تعاون ادارې ته وسپارل شي.
- د امریکا ځواکونو لخوا رواني هڅې ترڅو د افغانستان جمهوري حکومت ته امنیتي مرسته برابره کړي تر ډیرې کچې په افغانستان کې د امریکا ځواکونو (USFOR-A) د کمولو تطبیق او د نړیوالې امنیتي همکارۍ له ځواک (ISAF) او د آیساف له ګډې قوماندانۍ (IJC) څخه د ناټو تر صلاحیت لاندې یوې سازماني قوماندانۍ ته د سپارلو له کبله اغیزمنې شوي

## د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت د عمومي مفتش دفتر – د مينځني ختيځ سيمه ايز عمليات

د State OIG پدې ربع کې د افغانستان بيارغوني په اړه څلور رواني پروژې لري. د "په بيت المقدس او افغانستان کې د محرک او ساکن امنيتي خدماتو لپاره د ډيپلوماتيک امنيت د نړۍ په کچه محافظتي خدماتو بيورو 2، 9 او 11 قرارداد کاري امرونو پلټنه" په نامه يوه روانه پروژه رد شوله.

### د امريکا بهرنيو چارو وزارت د مرستو افسر د استازو انتخاب، ګمارلو، روزنې، او نظارت مسوليتونو پلټنه

(د پروژې شميره. 14AUD034، د 2014 د فبرورى په 11 پيل شوې)

موخه: ترڅو دا وکتل شي چې تر کومې کچې د وزارت د مرستې افسر استازي (GORs) انتخاب شوي، ګمارل شوي، او روزل شوي ترڅو په برياليتوب سره د مرستو ټاکل شوي اداري کارونه او د نظارت مسوليتونه ترسره کړي.

### د نړيوال خونديتوب خدمتونو ډيپلوماتيک امنيت بيورو قرارداد کاري امر 10 – د کابل سفارت امنيتي ځواک، پلټنه

(د پروژې شميره. 14AUD018، د 2014 د جنورى په 27 پيل شوې)

موخه: ترڅو دا وکتل شي چې آيا د امريکا بهرنيو چارو وزارت د کابل سفارت د امنيتي ځواک لپاره د نړيوال خونديتوب خدمتونو (WPS) د کاري امر اداره او نظارت بريالى و.

### په افغانستان کې د قراردادونو لپاره د قرارداد تړلو پروسې پلټنه

(د پروژې شميره. 14AUD014، د 2014 د جنورى په 17 پيل شوې)

موخه: ترڅو دا وکتل شي چې آيا د امريکا بهرنيو چارو وزارت په افغانستان کې د کورنيو او سيمه ايزو قراردادونو د تړلو په وخت کې، تاييد شوي طرزالعملونه تعقيبوي.

### په افغانستان کې د نړيوال مخدره توکو او قانون د حاکميت چارو ادارې د سمون سيستم د ملاتړ پروګرام څخه پلــــــټنه

(د پروژې شميره. 13AUD082، د 2013 د جون په 20 پيل شوې)

د دې پلټنې موخه دا ده ترڅو په افغانستان کې د نړيوال مخدره توکو او قانون پلي کولو بيورو (INL) د مخدره توکو پر وړاندې د پروګرام د مديريت او نظارت ارزونه وکړي، او دا ارزونه ترسره کړي چې آيا INL خپلو دوامدارو موخو ته رسيدلي او دا چې آيا INL د افغانستان د مخدره توکو پر وړاندې د پروګرام د مستقيمي مرستې د مديريت لپاره له مناسبو کورني کنترولونو څخه کار اخيستى دى.

## د دولت حساب ورکوني دفتر

GAO پدې ربعه کې افغانستان بيارغوني پورې اړوند نهه رواني پروژې لري

### په کابل کې د امريکا سفارت کې ساختماني هڅې، برخه II

(د پروژې شميره. 321034، د 2014 د جولای په 23 پيل شوې)

په 2009 کې د بهرنيو چارو وزارت د شاوخوا 700 مليون ډالرو دوه قراردادونه د متحده ايالاتو کابل، افغانستان سفارت کې د ميشته کيدنې او دفتر اضافي ودانيو جوړولو لپاره ورکړې. د امريکا بهرنيو چارو وزارت اوس لومړی قرارداد پای ته رسولی او د دويم قرارداد اندازه، ارزښت او مهال ويش يې غزولې. مهمې پوښتنې: (1) له 2009 څخه د امريکا د کابل د نوي سفارت په تاسيساتو کې د امريکا بهرنيو چارو وزارت کوم پرمختګونه کړي دي، کوم عوامل د کومې اندازې، لګښت، او محال ويش په بدلونونو کې برخه لري؟ (2) تر کومې کچې اوسنی پراختيا له اټکل شوي اړتيا سره برابره ده؟

### په افغانستان کې د سايټونو، بيسونو او کتارونو خوندي کولو هڅې او په ماموريت هرډول اغيزې

(د پروژې شميره. 351952، د 2014 د جولای په 16 پيل شوې)

په افغانستان کې د د امريکا دفاع وزارت لوژستيک قراردادیانو لپاره د کتار امنيت، د د امريکا دفاع وزارت ځينې بيسونو کې د چاپيرال امنيت، او د متحده ايالاتو د نړيوالې پرمختيا لپاره اداري (USAID) پلې کونکو ملګرو (IPs) لپاره د سايټ يا ساحې امنيت د افغان عامه محافظت ځواک (APPF) لخوا چمتو کيده، چې د افغان دولت په ملکيت امنيتي شرکت و. په 2014 فبرورې کې افغان دولت پريکړه وکړه چې APPF به منحل کړي. مهمې پوښتنې: تر کوم حد پورې: (1) د APPF منحل کولو پريکړه د د امريکا دفاع وزارت وتلو باندې اغيز کوي؟ (2) ايا د پرسونل او ملکيت محافظت لپاره د د امريکا دفاع وزارت هڅې په افغانستان کې د هغه پرماموريت اغيزه کوي؟ (3) آيا د USAID د IPs د پرسونل او ملکيت محافظت په افغانستان کې د هغه پرماموريت اغيزه کوي؟

### په بهر کې د ديپلوماتيک ميشته کيدنې او نور نرم اهدافو خوندي کول

(د پروژې شميره. 321031، د 2014 د جولای په 9 پيل شوې)

د بهر په ديپلوماتيکي تاسيساتو کې د امريکا ګمارل شوي کارکوونکي اوس هم د خپل خونديتوب او امنيت له ګواښ سره، پشمول د پدې ورستي کلونو کې د لوړ خطر په موقعيتونو کې د ډيرو بريدونو له خطر سره مخامخ دي. په ځانګړي توګه د دې پرسونل او کورنيو لخوا يې کارول کيدونکي استوګنې، تفريحي ودانی او ښوونځي ممکن "نرم اهداف" وي. مهمې پوښتنې: (1) څنګه State په بهر کې د ماموريت په مشرۍ کې استوګنو او نور نرم اهدافو ته پيښيدونکي ګواښونه او خطرات اداره کوي؟ (2) تر کومې کچې د امريکا بهرنيو چارو وزارت د استوګن ځايونو او نور کمزور نښو لپاره د امنيت ستندردونه د دغو تاسيساتو پر وړاندې د ګواښونو او خطرونو لپاره د حل لارې لري. (3) تر کومې کچې د استوګن ځايونو او کمزورو نښو لپاره د امريکا بهرنيو چارو وزارت پاليسی او طرزالعملونه د امنيت کمزورۍ لپاره، که شتون ولري، د حل لارې لري.

**د قراردادونو له لارې د پاس تصديق**

(د پروژې شميره. 121228، د 2014 د جون په 25 پيل شوی)

د فدرال لاسته راوړني قانون د ستر قراردادیانو څخه غواړي چې حکومت خبر کړي که چیرې دوی په خپلو پروپوزلونو کې د کار ټولټال لګښت له 70% ډیره برخه فرعي قرارداد ته ګماري د دوی په وړاندیز شوي قرارداد کولو ترتیب کې اضافه شوی ارزښت شرح کړي. د 2013 مالي کال لپاره د ملي دفاع واکمنۍ قانون 802 برخه د امریکا دفاع وزارت ، State او د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیا لپاره ادارې ته لارښوونه کړې چې داسې پالیسي تکثیر کړي چې د قرارداد کولو افسر اړیاسې د بدیل قرارداد کولو ترتیبات ملاحظه کړي کله چې د دې کچو فرعي قراردادونو خبرداری ورکوي او د دوی پریکړو لپاره اسناد په پام کې ولري. پوښتنه: تر کوم حد پورې دې ادارو د اړین پالیسي بدلونونه پلي کړي؟

**په احتمالي چاپیریالونو کې د قراردادیانو تعقیب لپاره کارول شوي سیستمونه**

(د پروژې شميره. 351917، د 2014 د اپریل په 11 پیل شوی)

په 2013 مالي کال کې، کانګریس د امریکا دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو او USAID ته ماموریت ورکړی ترڅو د راتلونکو بیړنیو عملیاتونو لپاره چې له امریکا څخه بهر د محاربې عملیاتونه وي د ملاتړ قرارداد د معلوماتو ټولولو په اړه لارښوونه خپره کړي. مهمې پوښتنې: (1) ادارې د قراردادیانو او هرسیستم پایداره ساتلو ته اړین سرچینو اداره کولو لپاره کوم سیستمونه کاروي؟ (2) تر کوم حد پورې د کار وړ دي، د موافق معلوماتو معیارونه کاروي، او قانوني اړتیاو سره سمون لري؟ (3) تر کوم حد پورې سیستمونه په احتمالي ساحو کې د قراردادیانو اداره کولو لپاره پرسونل ته لازمي معلومات چمتو کوي؟ (4) ادارې کوم ګامونه اخلي چې د قراردادیانو اداره کولو لپاره د دوی د وړتیاو ډیرولو لپاره دغه سیستمونه باور وړاندې کړي؟

**د متحده ایالاتو د اردو ساختماني پروګرامونو کې د قراردادي ترجیحات**

(د پروژې شميره. 100012، د 2014 د مارچ په 10 پیل شوی)

په 2014 مالي کال کې، کانګریس د حکومت حساب ورکولو دفتر ته لارښوونه کړې ترڅو په بهر کې د امریکا د مرکزي قوماندانۍ د مسولیت په ساحه کې د اردو ساختماني پروژو لپاره د امریکایي قراردادیانو د اوسني قانوني غوره توب د پراختیا د احتمالي ګټو او ستونزو ارزونه وکړي. مهمې پوښتنې: (1) د امریکا دفاع وزارت د امریکایي قراردادیانو لپاره د اردو ساختماني پروژو په هغو ځایونو کې چیرته چې دې وزارت دغسې غوره توب تطبیق کړی، له کومو ستونزو سره مخامخ شوی یا بریالی شوی؟ (2) د اردو په ساختماني پروګرامونو کې د امریکایي قراردادیانو د غوره توب لپاره، د امریکا مرکزي قوماندانۍ د مسولیت د ساحې په هیوادونو کې د جغرافیایي ساحې پراخولو احتمالي ستونزې کومې دي؟ (3) د اردو په ساختماني پروګرامونو کې د امریکایي قراردادیانو د غوره توب لپاره، د امریکا مرکزي قوماندانۍ د مسولیت د ساحې په هیوادونو کې د جغرافیایي ساحې پراخولو احتمالي ستونزې کومې دي؟

**د سیمه ایزو کارکوونکو پر وړاندې د ګواښونو کمول**

(د پروژې شميره. 100003، د 2014 د فبرورۍ په 13 پیل شوی)

د امریکا ادارو له 44,000 څخه ډیر سیمه ایز ګمارل شوي کارکوونکي (LES) د بهرني خدمت وګړي او د امریکا وګړي،د ټولې نړۍ په کچه په څه د باندې 270 پوستونو کې ګمارلي دي. پدې پوستونو کې LES د امریکا د شتون مهمه برخه ده، چې ډیری وختونه یو لړ پروګرامي، امنیتي، د نظارت، ساتنې او نورې دندې سرته رسوي. مګر، له امریکا سره د هغوی تړاو له کبله، کیدای شي LES د ځورونې، ګواښ او مرګ ګواښونو سره مخامخ شي. LES ته ګواښونه په ځانګړې توګه په هغو هیوادونو کې لکه افغانستان، عراق، پاکستان، او یمن کې ډیر دي چیرته چې تروریستي شبکې او تاوتریخوالي افراطي ډلې فعال شتون لري. دا ډول ګواښونه کیدای شي د امریکا لخوا د ګمارنې

او ساتني هڅې له خنډ سره مخامخ کړي. GAO څخه غوښتل شوي و چې د لوړ خطر ساحو کې پر خدمت بوخت LES په اړه ګواښونو کمولو، نظارت او معلوماتو شريکولو لپاره د متحده اياالتو حکومت هڅو بياکتنه وکړي. مهمې پوښتنې: (1) د هغو ګواښونو ډول او کچه څه ده چې LES د تروريسي شبکو او نورو افراطي ډلو لخوا، په شمول د ګواښونو او بريدونو شميره ورسره مخامخ دي؟ (2) تر کومې کچې د امريکا ادارو هغه ميکانيزمونه تاسيس کړي ترڅو د LES پر وړاندې په اغيزمنه او پر وخت باندې د ګواښونو په اړه معلومات ټول کړي او توزيع کړي؟ (3) کوم ګامونه، که وي، د امريکا ادارو اخيستي ترڅو د لوړ خطر په پوستونو کې د LES پر وړاندې ګواښ کم کړي او د دغو ګواښونو پروړاندې د کمولو لپاره کوم خنډونه شتون لري؟ (4) د لوړ خطر په پوستونو کې دغو ګواښونو او بريدونو څرنګه د LES په استخدامولو او ساتلو اغيز کړی دی؟

## د بهرني ليبر قراردادکونکو بهر کارول

(د پروژې شميره. 320985، د 2013 د جون په 26 پيل شوی)

امريکا پر قراردادیانو تکيه کوي ترڅو په بهر کې بيالبيلا خدمات برابر کړي. سره لدې چې د امريکا حکومت ټولو قراردادونو لپاره له قاچاق شوي کارکوونکو څخه کار اخيستل منع دي، اوس هم د هغو بهرنيو کارکوونکو د خونديتوب په اړه اندېښنې شته چې د امريکايي قراردادیانو لخوا استخدام شوي، څکه چې په ځينو کوربه هيوادونو کې شته طريقې د امريکا له ستندردونو سره توپير لري. مهمې پوښتنې: (1) د متحده اياالتو څخه بهر د کار لپاره د بهرنيو کارګرانو په ګمارنه کې د متحده اياالتو حکومت د قراردادیانو کړنې څه دي؟ (2) د متحده اياالتو حکومت قراردادیانو لخوا د متحده اياالتو څخه بهر په کار ګمارل شوي د بهرنيو کارګرانو ته محافظت چمتو کولو کې د متحده اياالتو ادارو کوم قانوني او نور واکونه په نښه کړي؟ (3) د دا ډول مقاماتو ترکومه کچه فدرالي اداري نظارت او اجرا چمتو کوي؟

## د امريکا دفاع وزارت د کانټينرونو مديريت

(د پروژې شميره. 351805، د 2013 د مارچ په 1 پيل شوی)

د بار وړونکي کانټينر مديريت د دفاع وزارت (DOD) لپاره له اوږدې مودې راهيسې يوه ننګونه ده. د امريکا دفاع وزارت اټکل کوي چې د امريکا دفاع وزارت به تر 1 مليارد ډالرو پورې په افغانستان او عراق کې د عملياتو پرمهال تجارتي باروړونکو سره خپل قرارداد کې د ټاکل شوي وخت هاخوا تجارتي باروړونکي کانټينرونو کارولو لپاره د 2003 څخه تر 2013 پورې د ساتنې فيس په توګه ورکړي. مهمې پوښتنې: (1) تر کومې کچې د افغانستان په ساحه کې د ترانسپورټ کانټينرونو په اړوند د امريکا دفاع وزارت د سمون ګامونه اخيستي ترڅو د کانټينرونو د مديريت ننګونو لپاره د حل لار پيدا کړي؟ (2) تر کومې کچې د امريکا دفاع وزارت د ساتنې فيسونو د زياتيدو په اړه د سمون ګامونو ارزونه ترسره کړې ده؟

## د متحده ایالاتو د پوځ پلټونکي اداره

پدې ربع کې USAAA د افغانستان بیارغوني پورې اړوند هیڅ رواني پلټنې نه درلودې.

## د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیایي ادارې
## د عمومي مفتش دفتر

پدې ربع کې، د USAID د عمومي مفتش دفتر د بیارغوني نوښتونو په اړه دوې رواني پلټنې لرې.

### د افغانستان په اوږدو کې د خپلو پروګرامونو د نظارت
### او ارزوني لپاره د USAID/افغانستان ستراتیژۍ پلټنه

(د پروژې شمیره. FF101014، د 2014 کال د اګست په 26 مه پیل شوې)

د پلټنې موخه:

- آیا د USAID/افغانستان د نظارت او ارزوني ستراتیژي په افغانستان کې د USAID پروګرام فعالیتونو باندې مؤثر پوښښ وړاندې کوي؟

### له حکومت څخه حکومت ته په افغانستان کې د USAID د مالي مدیریت کنټرولونو ارزونه

(د پروژې شمیره. FF100414، د 2014 د مارچ په 10 پیل شوې)

د ارزوني موخه:

- آیا په افغانستان کې د USAID له حکومت څخه حکومت ته د مرستې په اړوند د مالي مدیریت کنټرولونه په اغیزمنه توګه ډیزاین شوي او کار کوي؟

# ضميمې او د پاليکونو منځپانګې


| | |
|---|---|
| ضميمه الف | 220 |
| ضميمه B | 226 |
| ضميمه C | 228 |
| ضميمه D | 234 |
| ضميمه E | 242 |
| پاليکونه | 249 |



**د سيګار رسمي ټاپه**

د سيګار رسمي ټاپه د متحده ايالاتو او افغانستان تر منځ د همغږۍ د هڅو استازيتوب کوي څو د بيا رغونې فعاليتونو لپاره حساب ورکونه او نظارت برابر کړي. د ټاپې په منځ کې د پورتنۍ غاړې عبارت په دري کې دی او د "سيګار" مانا لري. د ټاپې په منځ کې د کښتنۍ غاړې سره عبارت په پښتو کې دی او همدا مانا لري.

# ضميمې
# او پايليکونه

# ضميمه A

## قانوني غوښتنو ته
## د راپور متقابل مراجعه

دا ضميمه د دې راپور مخونه د سيګار لاندې ورکوونکې قانون اړتياو پورې تړلې او درې مياشتنې راپور ورکووني ته متقابل رجعت دی، د ملي دفاع واکمنی قانون د 2008 مالي کال لپاره، Pub L. No. 110-181، § 1229 (جدول A.1)، او د شپږ مياشتنې راپور ورکووني اړتياو ته چې د عمومي پلټونکې قانون، 1978 لکه څنګه چې اصلاح شوی، لاندې د عمومي پلټونکو لپاره ټاکل شوي (5 U.S.C. App. 3) ((جدول A.2).

جدول A.1

| د عامه قانون برخه | د سيګار توانمنووونکې ژبه | د سيګار عمل | د راپور برخه |
|---|---|---|---|
| **د PUB. L. NO. 110-181، § 1229 لاندې د دې راپور د سيګار د درې مياشتنې راپورونو او غوښتنو معاينه** | | | |
| مقصد | | | |
| برخه 1229(a)(3) | د دا ډول پروګرامونو او عملياتو د اداري پورې اړوندو ستونزو او نيمګړتياو په اړه د امريکا د بهرنيو چارو او دفاع وزيرانو ته په خپلواک او هدفمند ډول د پوره معلوماتو ورکول او په بشپړ ډول د هغوی باخبره ساتل او د اصلاحي فعاليتونو د اړتيا او پرمختګ په اړه هغوی ته معلومات ورکول. | روان؛ درې مياشتنی راپورونه | بشپړ راپور |
| نظارت کول | | | |
| برخه 1229(e)(1) | عمومي پلټونکی بايد نيغ په نيغه<br>د بهرنيو چارو وزير او د دفاع وزير ته راپور ورکړي<br>او د هغوی تر | عمومي څارنې لاندې وي. | بشپړ راپور |
| مسووليتونه | | | |
| برخه 1229(f)(1) | د افغانستان د بيارغونې څارنه—<br>دا به د عمومي پلټونکې وظيفه وي چې د هغو پيسو چې اختصاص شوي او يا په بله معنی په ا فغانستان کې د بيا رغونې لپاره په لاس ورکړل شوي، او د هغو پروګرامونو، عملياتو او قراردادونو هم چې د دې بسپنو په کارولو سره ترسره شوي، د چلند، سمبالولو او لګښتونو څارنه وکړي او د کنټرول او تفتيش او تحقيقاتو انسجام يې وکړي، د (A) څخه تر (G) لاندې فرعي برخو په شمول. | د تخصيص شوي/<br>موجود فنډونو بياکتنه<br><br>د هغو پروګرامونو، عملياتو، قراردادونو بياکتنه چې اختصاص شوي/<br>موجود فنډونه کاروي | بشپړ راپور |
| برخه 1229(f)(1)(A) | د داسې بوديجو د مسووليت او لګښت د حساب کتاب نظارت | د اختصاص شويوموجود بوديجو د مسووليتونو او لګښتونو کتنه | د سيګار نظارت بوديجې |
| برخه 1229(f)(1)(B) | د هغو قراردادونو نظارت او کتنه چې د داسې بوديجو لخوا تمويل شوي وي | د بيا رغونې د هغو فعاليتونو کتنه چې د اختصاصونو او مرستو لخوا تمويل شوي وي. | د سيګار نظارت |
| برخه 1229(f)(1)(C) | د هغو قراردادونو نظارت او کتنه چې د داسې بوديجو لخوا تمويل شوي وي | د هغو قراردادونو کتنه چې اختصاص شوي او موجودې بوديجې کاروي | يادونه 1 |
| برخه 1229(f)(1)(D) | د رياستونو، ادارو، او د متحده ايالاتو د سازمانونو، او شخصي او غيردولتي سازمانونو ترمنځ د داسې بوديجو او ورسره تړلې معلوماتو د لېږدولو نظارت او کتنه | د اختصاص شويو موجود بوديجو د داخلي او خارجي لېږد کتنه | ضميمه B |
| برخه 1229(f)(1)(E) | د داسې بسپنو د کارولو ثبتونو (ريکارډ) سمبالتيا د دې لپاره چې په راتلونکې کې د داسې بسپنې/[و] پلټنې او تحقيقات اسان کړي | د پلټنې تاريخچې سمبالول | د سيګار نظارت<br>ضميمه C<br>ضميمه D |

جدول A.1 (دوام لري)

د PUB. L. NO. 110-181، § 1229 لاندې د دې راپور د سيګار د درې مياشتني راپورونو او غوښتنو معاينه

| د عامه قانون برخه | د سيګار توانمنوونکې ژبه | د سيګار عمل | د راپور برخه |
|---|---|---|---|
| برخه 1229(f)(1)(F) | د افغانستان ترون او د افغانستان د ملي پرمختيا د ستراتيژۍ په تطبيقولو کې د افغانستان د دولت او نورو مرستندويه هيوادونو سره د متحده اياﻻتو د ارتباط د اغېزمنتيا نظارت او کتنه | نظارت او بياکتنه<br>څرنګه چې تشريح شوي | پلټنې |
| برخه 1229(f)(1)(G) | د ډېرو تاديو تحقيق لکه د دوه ځل تاديو يا دوه ځل بل او کوم احتمالي غيراخلاقي يا غيرقانوني اعمالو د فدرالي کارمندانو، قراردادیانو يا اړوند نهادونو په واسطه، او د دا ډول راپورونو راجع کول لکه څنګه چې اړين وي، د عدليې وزارت ته ترڅو د اضافي تحقيقاتو، تعقيب او فندونو بيرته لاسته راوړني يا جبران څخه اطمينان لاسته راشي. | د تحقيقاتو ترسره کول او راپور کول<br>څرنګه چې تشريح شوي دي | تحقيقات |
| برخه 1229(f)(2) | د نظارت پورې اړوند نورې دندې-<br>عمومي پلټونکی بايد داسې سيستمونه، کرنلارې، او کنترولونه جوړ، سمبال او تر نظارت لاندې وساتي چې عمومي پلټونکی يې د(1) پاراګراف لاندې د وظيفو د ترسره کولو لپاره مناسب ګڼي | د سيستمونو، پروسيژرونو، او کنترولونو جوړول، سمبالول او نظارت کول | بشپړ راپور |
| برخه 1229(f)(3) | د عمومي پلټونکي د 1978 کال د لايحې په اساس د عمومي پلټونکي دندې - سربيره پر دې. . .عمومي پلټونکی بايد د عمومي پلټونکي د 1978 قانون لاندې د عمومي پلټونکيو وظيفې او مسووليتونه هم ولري. | هغه وظيفې چې د عمومي پلټونکي په قانون کې مشخص شوې دي | بشپړ راپور |
| برخه 1229(f)(4) | د هڅو همغږی کول —<br>عمومي پلټونکی بايد خپل کارونه د لاندې کسانو سره همغږی او د دوی همکاري ترلاسه کړي: (الف) د دفاع وزارت عمومي پلټونکی، (ب) د بهرنيو چارو وزارت عمومي پلټونکی، او (ج) د نړيوالې پرمختيا لپاره د متحده اياﻻتو د اداري عمومي پلټونکی. | د امريکا دفاع وزارت، DoS او USAID<br>عمومي پلټونکو<br>سره همغږي | د نورو ادارو نظارت |
| مرکزي ملاتړ او نورې سرچينې | | | |
| برخه 1229(h)(5)(A) | د فدرالي ادارو څخه د مرستې غوښتنه کول—<br>که چيرته عمومي پلټونکی د فيدرالي حکومت د هر وزارت، اداري، يا موسسې څخه د مرستې او معلوماتو غوښتنه وکړي، نو د اړوندې اداري مشر په هغه صورت کې چې د عمومي پلټونکي غوښتنه د حاکمو قوانينو په خلاف نه وي، مسوليت لري چې ياده مرسته يا معلومات ورته چمتو کړي. | د غوښتل شوي ملاتړ<br>تمه | بشپړ راپور |
| برخه 1229(h)(5)(B) | د مسترد شوو مرستو په اړه راپور ورکول -<br>هرکله چې د عمومي پلټونکي په واسطه معلومات يا مرسته وغوښتل شي، د عمومي پلټونکي قضاوت سره سم دي، که په نامناسب ډول رد يا چمتو نه کړی شي، نو عمومي پلټونکی بايد پيښې د بهرنيو چارو وزير يا دفاع وزير ته راپور کړي، څنګه چې مناسب وي، او پرته د ځنډ څخه اړوند د کانګريس کميټې ته | راپور نه دی ورکړل شوی | موجود نه دی |
| راپورونه | | | |

جدول A.1 (دوام لري)

د PUB. L. NO. 110-181، § 1229 لاندې د دې راپور د سیګار د درې میاشتني راپورونو او غوښتنو معاینه

| د عامه قانون برخه | د سیګار توانمنوونکې ژبه | د سیګار عمل | د راپور برخه |
|---|---|---|---|
| برخه 1229(i)(1) | درې میاشتني راپورونه—<br>د هر مالي کال د دریو میاشتو د پای ته رسیدو څخه تر 30 ورځو پورې، عمومي پلټونکی باید د کانګرس اړوندو کمیټو ته یو راپور وړاندې کړي چې د دغې دورې، او تر کومه حده چې امکان لري د مخکینی ورته راپور د وخت څخه د دې رپوټ تر مودې پورې په دې مهال کې د عمومي پلټونکي او د هغه د فعالیتونو د هغو پروګرامونو او عملیاتو لاندې چې بودیجه او پیسې د افغانستان د بیا رغونې لپاره ورکړل شوې وي یوه خلاصه وړاندې کړي. په افغانستان کې د بیارغونې په اړه د ټولو منل شوو، لګول شوو او عایداتو په ګډون باید د اړوندې مودې په اړه په هر راپور کې ذکر شوي وي، او باید د لاندې ټکو درلودنکې وي- | راپور - د هر کال د درې میاشتو د پای ته رسیدو څخه 30 ورځې وروسته<br><br>د عمومي پلټونکي د فعالیتونو خلاصه وړاندې کوي<br><br>او د ژمنه شوي مرستو، لګښتونو او عایداتو په اړه تفصیلي معلومات ورکوي. | بشپړ راپور<br>ضمیمه B |
| برخه 1229(i)(1)(A) | د اختصاص شویو/مرسته کې ورکړ شویو بودیجو مکلفیتونه او لګښتونه | د اختصاص شویو/مرسته کې ورکړ شویو بودیجو مکلفیتونه او لګښتونه | ضمیمه B |
| برخه 1229(i)(1)(B) | د هغو لګښتونو یو پروژه په پروژه او پروګرام په پروګرام حساب چې تر دې نېټې د افغانستان په بیا رغونه کې لګول شوي، د دفاع وزارت، د بهرنیو چارو وزارت، او د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د اداری، تر کومه چې تطبیقېدونکې وي، د هرې پروژې او پروګرام د بشپړولو د لګښتونو د یو اټکل سره ملګرې. | د لګښتونو پروژه په پروژه او پروګرام په پروګرام حساب د هرې پروژې یا پروګرام د نالګول شویو بودیجو لیست جوړول | بودیجې<br>یادونه 1 |
| برخه 1229(i)(1)(C) | هغه عایدات چې د متحده ایالاتو حکومت د کومې اداري یا وزارت یو پروګرام ته د فنډ برابرولو په موخه د بهرنیو ملتونو یا نړیوالو موسسو لخوا چمتو شوي دي، او<br>د دغو عایداتو ژمنې یا مصارف | د مرستندویه ادارو د بودیجو عایدات، مسوولیتونه، او لګښتونه | فنډ ورکول |
| برخه 1229(i)(1)(D) | د هغو بودیجو سره تړلې یا شامل عایدات چې هغو پروګرامونو او پروژو ته د بهرنیو نیول شویو یا کنګل شویو شتمنیو څخه ورکړل شوي وي د کومو بودیجې چې د متحده ایالاتو د کوم ریاست یا اداري لخوا ورکړل شوي وي، او د داسې عایداتو هر ډول مسوولیتونه او یا لګښتونه | د نیول شویو یا کنګل شویو شتمنیو د بودیجو عایدات، مسوولیتونه او لګښتونه | بودیجې |
| برخه 1229(i)(1)(E) | د هغو ادارو یا سازمانونو فعالیتي لګښتونه چې اختصاص شوي پیسې ترلاسه کوي او یا په بله توګه د افغانستان د بیا رغونې لپاره ورکړل شوي وي | د هغو ادارو یا کوم سازمان فعالیتي لګښتونه چې اختصاص شوي بودیجې ترلاسه کوي | بودیجې<br>ضمیمه B |
| برخه 1229(i)(1)(F) | د هر هغه قرارداد، بلاعوضه مرستې، تړون یا د بسپنې د بل کوم میکانیزم په صورت کې چې په (2)* پاراګراف کې یې یادونه شوې —<br>(i) د قرارداد یا د فنډ کوم بل میکانیزم رقم؛<br>(ii) د قرارداد یا د بسپنې د بل کوم میکانزم د طرحې لنډ بحث؛<br>(iii) په دې اړه یو بحث چې څرنګه د متحده ایالاتو د حکومت هغه وزارت یا اداره چې په دې قرارداد، بلاعوضه مرستې، تړون، یا د بسپنې په بل میکانیزم کې کار کوي د مهمو کاندیدانو وړاندیزونو پېژندل یا غوښتل چې دغه قرارداد، بلاعوضه مرسته، تړون، یا د بسپنې بل کوم میکانیزم ترسره کړي، د نورو مهمو ادارو یا اشخاصو د یو لیست سره چې د دې وړاندیز ورته شوی یا غوښتل شوی و؛ او<br>(iv) د توجیه او منظوری هغه اسناد په کومو چې د دې پروسو د پرېکړې بنسټ و له هغو پروسو پرته چې بشپړه او پرانستې مقابله وړاندې کوي | د قرارداد جزییات تشریح کړئ | یادونه 1 |

جدول A.1 (دوام لري)

**د PUB. L. NO. 110-181، § 1229 لاندې د دې راپور د سيګار د درې مياشتني راپورونو او غوښتنو معاينه**

| د عامه قانون برخه | د سيګار توانمنوونکي ژبه | د سيګار عمل | د راپور برخه |
|---|---|---|---|
| برخه 1229(i)(3) | د عامه خلکو لاسرسي—<br>عمومي پلټونکی بايد په يوه عامه ترلاسه کېدونکې انټرنيټي ويبپاڼه کې د دې ضمني برخې د (1) پاراګراف لاندې هر راپور په انګليسي او نورو هغو ژبو کې خپور کړي چې عمومي پلټونکی پوهيږي چې په افغانستان کې په پراخه پيمانه ويل کيږي او خلک پرې پوهيږي | لکه څنګه چې لاربنود شوی په www.sigar.mil کې د راپور خپرول<br><br>دري او پښتو ژباړې د کار لاندې دي | بشپړ راپور |
| برخه 1229(i)(4) | بڼه —<br>د دې فرعي برخې لاندې غوښتل شوی هر راپور بايد په ښکاره بڼه وړاندې شي، خو کيدای شي محرمي ضميمي ولري، که چيرې عمومي پلټونکي هغه ضروري وګڼي | د راپور خپرول څرنګه چې يې لاربښوونه شوي | بشپړ راپور |
| برخه 1229(j)(1) | عمومي مفتش بايد د (i) بند په اساس د امريکا بهرنيو چارو وزارت او دفاع وزارت ته هم راپور وسپاري. | د درې مياشتني راپور تسليمي | بشپړ راپور |

يادونه 1: که څه هم په عادي ډول معلومات د سيګار په ويب سايټ کې موجود وي (www.sigar.mil)، خو هغه معلومات چې سيګار ترلاسه کړي دي په نسبتاً خام شکل کې وي او اوسمهال د سيګار د راټلونکو ټولو موخو لپاره کتل کيږي، تحليل کيږي، او تنظيم کيږي.

*پوښښ شوي قراردادونه، بلاعوضه مرستی، موافقتنامې، او د تمويل ميکانيزمونه د P.L. د 1229(i) برخې په (2) پاراګراف کې تعريف شوي. شميره. 110-181 داسې چې—

"هر لوی قرارداد، مالي مرسته، تړون، يا د بوديجې مکانيزم چې د متحده اياالاتو د دولت د هر رياست يا اداري لخوا پکې برخه اخيستل کيږي، او په هغوی د افغانستان د بيا رغوني لپاره اختصاص شوي او يا بل ډول ورکړ شوي پيسې شاملې وي، که له هر ډول دولتي يا شخصي سازمان سره د لاندې هر مقصد لپاره وي: د افغانستان فزيکی زيربنا جوړول يا بيا جوړول. د افغانستان ټولنيز يا سياسي بنسټ رامنځته کول يا بيارامنځته کول. او د افغانستان خلکو ته د محصولاتو او خدماتو وړاندې کول".

جدول A.2

**د 1978 قانون،**
**برخه 5، لکه څنګه چې اصلاح شوی، لاندې اړتیاو شپږمیاشتنې راپور ورکولو متقابل رجعت (5 U.S.C. APP. 3) ("IG ACT")**

| د عمومي پلټونکي قانون برخه | د عمومي پلټونکي قانون ژبه | د سیګار عمل | برخه |
| --- | --- | --- | --- |
| برخه 5(a)(1) | د مهمو ستونزو، ناوړه استعمالولو، او نیمګړتیاوو تشریح | د SWA/JPG له غږي راپورونو څخه د مربوطه معلوماتو استخراجول<br>د سیګار د پلټنو، څېړنو، او معاینو له راپورونو څخه د ستونزو، ناوړه استعمال، او نیمګړتیاوو لست | د نورو ادارو نظارت<br>په www.sigar.mil کې پوښتنلیکونو ته کتنه وکړئ |
| برخه 5(a)(2) | د مهمو ستونزو، ناوړه استعمال، یا نیمګړتیاو په پام کې نیولو سره... د سمون عمل لپاره د وړاندیزونو شرح | د SWA/JPG له غږي ا راپورونو څخه د مربوطه معلوماتو استخراجول<br>د سیګار د پلټنو له راپورونو څخه د سپارښتنو لست | د نورو ادارو نظارت<br>په www.sigar.mil کې پوښتنلیکونو ته کتنه وکړئ |
| برخه5(a)(3) | د هر پام وړ سپارښتنې په ګوته کول چې په مخکینیو خلاصه شوي راپورونو کې تشریح شوي وه او د کومو په اړه چې اصلاحي کړنې نه دي بشپړې شوي | له مخکینیو خلاصه شویو راپورونو څخه د ټولو نابشپړ شویو اصلاحي کړنو لست برابر کړئ | تر کار لاندې |
| برخه 5(a)(4) | د هغو مسالو لنډیز چې تعقیب کوونکي مقامونو ته راجع شوي او تعقیب او محکومیت چې د هغوی په نتیجه کې ترلاسه شوی | د SWA/JPG له غږي راپورونو څخه د مربوطه معلوماتو استخراجول د<br>سیګار د هغو څېړنو لست چې راجع شوي دي | د نورو ادارو نظارت |
| برخه 5(a)(5) | د هر هغه راپور خلاصه چې /[دفاع وزیر] ته د 6(b)(2) برخې لاندې ورکړل شوي (هغه مثالونه چېرته چې غوښتل شوی معلومات رد شوی او یا ندي برابر شوی) | د SWA/JPG له غږي راپورونو څخه د مربوطه معلوماتو استخراجول د هغو بیلګو لست چې د<br>سیګار پلټونکو، څېړونکو، یا معاینه کوونکو ته د معلوماتو له ورکولو انکار شوی و | د نورو ادارو نظارت |
| برخه 5(a)(6) | د هرې پلټنې راپور، معاینې راپور او ارزونې راپور چې خپاره شوي دي، د موضوع په اساس ویشل شوي یو لست برابرول...چې تر پوښتنې لاندې مصارفو ارزښت په ډالرو او د بودیجو د ښه استعمال لپاره ورکړ شوي سپارښتنې څرګندې کړي | د SWA/JPG له غږي راپورونو څخه د مربوطه معلوماتو استخراجول د سیګار<br>د راپورونو لست | د نورو ادارو نظارت |
| برخه 5(a)(7) | په ځانګړي توګه د هر مهم او پام وړ راپور لنډیز | د SWA/JPG له غږي راپورونو څخه د مربوطه معلوماتو استخراجول<br>د سیګار د پام وړ راپورونو لنډیز برابر کړئ | د نورو ادارو نظارت<br>د مهمو راپورونو بشپړ لست په www.sigar.mil کې موندلای شي |
| برخه 5(a)(8) | احصاییوي جدولونه چې د پلټنې د راپورونو ټول شمیر او د تر پوښتنې لاندې مصارفو ټول ارزښت په ډالرو باندې وښیي | د SWA/JPG له غږي راپورونو څخه د مربوطه معلوماتو استخراجول<br>احصاییوي جدولونو جوړول چې د سیګار له راپورونو څخه د تر پوښتنې لاندې مصارفو ډالري ارزښت څرګندوي | د SWA/JPG د غږو راپورونو ته کتنه وکړئ<br>په جریان کې |
| برخه 5(a)(9) | احصاییوي جدولونه چې د پلټنې راپورونو، د معاینې د راپورونو، او ارزونې راپورونو ټول شمیر ښیي او د اداري له خوا د بودیجو د لا غوره استعمال او کار اخیستلو لپاره د سپارښتنو ډالري ارزښت څرګند کړي | د SWA/JPG له غږي راپورونو څخه د مربوطه معلوماتو استخراجول<br>د سیګار له راپورونو څخه احصاییوي جدولونو جوړول چې د اداري لخوا د غوره استعمال لپاره کارول شویو بودیجو د ډالري ارزښت څرګندوي وي | د SWA/JPG د غږو راپورونو ته کتنه وکړئ<br>د پروسس په حال کې |
| برخه 5(a)(10) | د پلټنې، معاینې او ارزونې د هر راپور لنډیز چې د راپور ورکولو له دورې نه مخکې خپاره شوي دي او د کومو په اړه چې تر اوسه پورې اداري پریکړه د راپور ورکولو د دورې تر پایه پورې نه وي شوي، د هغو دلایلو یوه تشریح چې اداري پریکړې ولې نه دي شوي، او یو بیان چې د اداري پریکړې د ترلاسه کولو لپاره د خوښې وړ مهال ویش وړاندې کړي | د SWA/JPG له غږي راپورونو څخه مربوطه معلوماتو استخراجول<br>د سیګار د پلټنې د راپورونو یو لنډیز وړاندې کړئ چې په هیڅ کوم هغو کې د سیګار لخوا ورکړ شوي سپارښتنې اوس هم پرانیستې دي | د SWA/JPG د غږو راپورونو ته کتنه وکړئ |

جدول A.2 (دوام لري)

**د 1978 قانون،**
**برخه 5، لکه څنګه چې اصلاح شوی، لاندې ارتیاو شیږمیاشتني راپور ورکولو متقابل رجعت (5 U.S.C. APP. 3) ("IG ACT")**

| د عمومي پلټونکي قانون برخه | د عمومي پلټونکي قانون ژبه | د سیګار عمل | برخه |
|---|---|---|---|
| برخه 5(a)(11) | د هرې مهمې اداري پریکړې د تعدیل د دلایلو تشریح اوڅرګندونه | د SWA/JPG له غړي راپورونو څخه د مربوطه معلوماتو استخراجول<br><br>د سیګار د پلټنې هغه راپورونه تشریح کړئ چې په هغوی کې په اداري پریکړو د پام وړ بیاکتنې شوي دي | د SWA/JPG د غړو راپورونو ته کتنه وکړئ<br><br>هیڅ کوم |
| برخه 5(a)(12) | د هر ډول د پام وړ اداري پریکړو په اړه معلومات چې له عمومي پلټونکي له هغوی سره په مخالفت کې وي | د SWA/JPG له غړي راپورونو څخه مربوطه معلومات راواخلئ<br><br>د سیګار د پلټنې هغه راپورونه تشریح کړئ چې په هغوی کې سیګار د اداري پریکړو سره مخالفت کړی وه | د SWA/JPG د غړیو راپورونه وګورئ<br><br>د راپور ورکولو په دې دوره کې د مناقشې وړ پریکړې نشته |
| برخه 5(a)(13) | هغه معلومات چې د 1996 کال د فدرال مالي اداري د ښه والي قانون د /[804(b) برخې] لاندې راغلی (مثالونه او دلایل د هغه وختونو په باره کې چې یوه اداره هغه تاریخ پورې کوم چې په بهبودی پلان کې ټاکل شوی خپله دنده ای نده ترسره کړی.) | د SWA/JPG له غړي راپورونو څخه مربوطه معلومات راواخلئ<br><br>کله چې مدیریت اصلاحي پلان په وخت نه وي بشپړ کړي، معلومات ورکړئ | د SWA/JPG د غړیو راپورونه وګورئ<br><br>د راپور ورکولو په دې دوره کې د مناقشې وړ پریکړې نشته |
| برخه 5(a)(14)(A) | یوه ضمیمه چې په هغې کې د نورو لخوا د کتنې لاس ته راوړنې وي چې د راپور ورکولو د دورې په جریان کې د یو بل عمومي پلټونکي د دفتر لخوا ترسره شوي وي؛ یا | سیګار په بشپړ ډول د خپلو موندنو پایلې او (د 2010 کال تر جولای پورې د بشپړو شوو پایلو چې د اوسنی راپور ورکولو دورې څخه وراندې دي) او راپورونه یې په خپل ویب پاڼه کې خپاره کړي دي. | په بشپړ ډول خپاره شوي په www.sigar.mil کې |
| برخه 5(a)(14)(B) | که چیرې د راپور ورکولو د دورې په موده کې هیڅ کتنه نه وي ترسره شوي، یو بیان چې د وروستي ځل کتنې نیټه ښیې او د یوه بل عمومي پلټونکي د دفتر لخوا ترسره شوي وي | 15 جولای 2010 | په بشپړ ډول خپاره شوي په www.sigar.mil کې |
| برخه 5(a)(15) | د بل عمومي پلټونکي د دفتر لخوا ترسره شوي کتنې په ترڅ کې د هر ډول پاتې شوي سپارښتنو لست چې په بشپړه توګه نه دي تطبیق شوي، په ګډون د یوه بیان چې د تطبیق وضعیت تشریح کوي او ولې تطبیق کول نه دی بشپړ شوی | هیڅ – د 2010 کال د سپتمبر تر 30 پورې د ټولو وړاندیز شوو بیاکتنو په اړه غوره شوي او اصلاحي ګامونه اوچت شوي دي. | سپارښتنې او اړوند مواد په بشپړ ډول په www.sigar.mil کې خپاره شوي دي |
| برخه 5(a)(16) | هره هغه کتنه چې د سیګار لخوا د عمومي پلټنې د کوم بل دفتر لپاره د راپور ورکولو په موده کې ترسره شوي وي، په شمول د یوه لست د هغو سپارښتنو چې نه دي عملي شوي او له مخکینې کتنې راهیسې په خپل ځای پاتې دي. . کوم چې لا تصفیه شوي نه دي او یا په بشپړه توګه تطبیق شوي نه دي | د تطبیق وړ ندي (د دې راپور په موده کې سیګار د عمومي پلټونکي د بل دفتر همپوري کتنه نده سرته رسولې او یا یې<br>په کې برخه نده اخیستې) | د سیګار نظارت |

# ضميمه B

## د متحده ایالاتو فنډونه د افغانستان د بیا رغونې لپاره (په میلیونونو ډالرو)

B.1 جدول د هغو بودیجو لست دی چې د پرګرام لخوا په هر کال کې د افغانستان بیا رغونې لپاره تخصیص ورکړل شوي، د 2014 کال د سپتمبر تر 30 پورې. جدول B.2 هغه فنډ لیست کوي چې له 2002 کال راهیسې د تریاکو ضد نوښتونو لپاره مختص شوی.

جدول B.1

| د متحده ایالاتو د بسپنو سرچینې | اداره | ټول | مالي کال 2002 |
|---|---|---|---|
| **امنیت** | | | |
| د افغانستان د امنیتي ځواکونو بودیجه (ASFF) | د دفاع وزارت | 57,325.44 | 0.00 |
| روزنه او تجهیزات (د دفاع وزارت) | د دفاع وزارت | 440.00 | 0.00 |
| بهرني پوځي مالي مرستي (FMF) | State | 1,059.14 | 57.26 |
| نړیواله نظامي ښوونه او روزنه (IMET) | State | 14.82 | 0.18 |
| د مخدره توکو بندیز او د مخدره توکو پر ضد فعالیتونه (DOD CN) | د دفاع وزارت | 2,704.86 | 0.00 |
| **ټولټال امنیت** | | **61,544.27** | **57.44** |
| **حکومتولي او پرمختیا** | | | |
| د قوماندان د بیړني غبرګون پروګرام (CERP) | د دفاع وزارت | 3,669.00 | 0.00 |
| د افغانستان د زیربنا فنډ (AIF) | د دفاع وزارت | 1,043.50 | 0.00 |
| د ثبات او سوداګرۍ عملیاتو لپاره کاري ځواک(TFBSO) | د دفاع وزارت | 814.83 | 0.00 |
| د اقتصادي ملاتړ بودیجه (ESF) | د امریکا د نړیوالي پراختیا لپاره اداره | 17,720.37 | 117.72 |
| پرمختیایي ملاتړ (DA) | د امریکا د نړیوالي پراختیا لپاره اداره | 885.55 | 18.30 |
| د افغانستان د ازادۍ د ملاتړ قانون (AFSA) | د دفاع وزارت | 550.00 | 0.00 |
| د ماشوم بقا او روغتیا (CSH + GHAI) | د امریکا د نړیوالي پراختیا لپاره اداره | 557.85 | 7.52 |
| د تولیداتو د اعتبار اردو (CCC) | د امریکا د نړیوالي پراختیا لپاره اداره | 31.65 | 7.48 |
| د امریکا د نړیوالي پراختیا لپاره اداره (نور) | د امریکا د نړیوالي پراختیا لپاره اداره | 56.09 | 0.00 |
| د هیڅ ډول کټي اخیستلو پرته، تروریزم ضد، ماین پاکول، او اړوند (NADR) | State | 649.49 | 44.00 |
| د ولایتي بیا رغونې ټیم مشاوران | USDA | 5.70 | 0.00 |
| د خزانې تخنیکي مرسته | خزانه | 4.45 | 0.90 |
| د مخدره توکو نړیوال کنټرول او د قانون حاکمیت (INCLE) | State | 4,441.68 | 60.00 |
| د مخدره توکو په اړه د تنفیذ اداره (DEA) | DOJ | 219.67 | 0.58 |
| **ټولټال- حکومتولي او پرمختیا** | | **30,649.83** | **256.50** |
| **بشردوستانه** | | | |
| P.L. 480 عنوان I | USDA | 5.00 | 0.00 |
| P.L. 480 عنوان II | د امریکا د نړیوالي پراختیا لپاره اداره | 949.89 | 159.50 |
| په مصیبت کې مرسته (IDA) | د امریکا د نړیوالي پراختیا لپاره اداره | 570.15 | 197.09 |
| د انتقال نوښتونه (TI) | د امریکا د نړیوالي پراختیا لپاره اداره | 39.40 | 8.07 |
| د کډوالۍ او مهاجرت مرسته (MRA) | State | 952.66 | 135.47 |
| داوطلب سوله ساتل (PKO) | State | 69.33 | 23.93 |
| د کډوالۍ او مهاجرت بیړنۍ مرسته (ERMA) | State | 25.20 | 25.00 |
| خواړه د پرمختګ لپاره | USDA | 109.49 | 0.00 |
| 416(b) د خوړو کومک | USDA | 95.18 | 46.46 |
| خواړه د تعلیم لپاره | USDA | 50.49 | 0.00 |
| د ایمرسن بودیجه | USDA | 22.40 | 0.00 |
| **ټولټال بشردوستانه** | | **2,889.18** | **595.52** |
| **ملکي عملیات** | | | |
| نظارت | | 293.95 | 0.00 |
| عملیات | | 8,705.25 | 155.60 |
| **ټولټال – ملکي عملیات** | | **8,999.20** | **155.60** |
| **ټولټال - تمویل** | | **104,082.48** | **1,065.06** |

د جدول B.1 یادونه: شمیرې ګردې شوي. د DOD CN تمویل کې کمښت له امله پدې ربع کې ټولټال تمویلونه کم شوي. د امریکا دفاع وزارت د FY 2011 ASFF څخه 1 ملیارد ډالر بیا پروګرام کړل. د امریکا دفاع وزارت د FY 2012 ASFF څخه 1 ملیارد ډالر بیا پروګرام کړل. 1 ، P.L. 113-6 میلیارد امریکایي ډالر د افغانستان د امنیتي ځواکونو د 2012 مالي کال څخه فسخ کړل. د امریکا دفاع وزارت د 2013 مالي کال ASFF څخه 178 ملیونه ډالر بیا پروګرام کړي دي. دفاع وزارت د مالي کال 2011 د AIF 101 ملیونه ډالر مالي کال 2011 لپاره ESF ته انتقال کړل تر څو د USAID لخوا پلي کېدونکې د زیربنا پروژې ته بودیجه ورکړل شي.

د جدول B.1 سرچینې: د امریکا دفاع وزارت، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/20/2014، 10/16/2014، 10/6/2014، 10/22/2012، 10/14/2009 او 10/1/2009؛ State، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/20/2014، 10/17/2014، 4/15/2014، 6/27/2013، 10/5/2012 او 6/27/2012؛ خزانه، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/9/2014؛ OMB، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/14/2014، 7/19/2013 او 1/4/2013؛ USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/9/2014، 10/15/2010، 1/15/2010 او 10/9/2009؛ DOJ، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/17/2014 او 7/7/2009؛ USDA، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/2009؛ CRS د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 1/8/2014؛ DFAS، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/17/2014؛ P.L. 113-76, 1/17/2014؛ P.L. 113-6, 3/26/2013؛ P.L. 112-74, 12/23/2011؛ P.L. 112-10, 4/15/2011؛ P.L. 111-212, 10/29/2010؛ P.L. P.L. 111-118, 12/19/2009؛ د 2010 مالي کال د دفاع تشریحي وینا.

جدول B.2

| د تریاکو ضد، ټولټال مختص شوي مقدار، له 2002 راهیسي (ملیونونه ډالر) | |
|---|---|
| ASFF | $1,364.61 |
| DOD CN | 2,704.86 |
| ESF | 1,415.22 |
| INCLE | 2,050.71 |
| DEA | 219.67 |
| **ټولټال** | **$7,755.08** |

د جدول B.2 یادونه: شمیرې ګردې شوي د تریاکو سره مبارزې فنډونه دواړه امنیت او د حکومتولۍ او پراختیا مصارفو کټګوریانې افقي پرې کوي؛ دا فنډونه په جدول B.1 کې دغه کټګوریانو کې هم راخیستل شوي. ارقام له 2002 راهیسې په افغانستان کې د تریاکو ضد نوښتونو لپاره مختص شوي مجموعي مقدار ښیې. په نوښتونو کې له منځه وړل، مخنیوی کول، د افغانستان ځانګړي ماموریت وزر ملاتړ، تریاکو ضد پورې اړوند ظرفیت رامنځته کول او بدیل کرنیز پراختیا هڅې شامل دی. د ASFF، ESF، او INCLE شمیرې له دغه فنډونو څخه د تریاکو ضد نوښتونو لپاره مختص شوي مجموعي مقدارونه ښیې.

د جدول B.2 سرچینې: د سیګار د تریاکو ضد تمویل څېړنه د امریکا د بهرنیو چارو وزارت، INL، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/17/2014؛ د امریکا دفاع وزارت، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/15/2014؛ USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/9/2014؛ DOJ، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/17/2014.

# ضميمې

| مالي کال 2014 | مالي کال 2013 | مالي کال 2012 | مالي کال 2011 | مالي کال 2010 | مالي کال 2009 | مالي کال 2008 | مالي کال 2007 | مالي کال 2006 | مالي کال 2005 | مالي کال 2004 | مالي کال 2003 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 4,726.72 | 4,946.20 | 9,200.00 | 10,619.28 | 9,166.77 | 5,606.94 | 2,750.00 | 7,406.40 | 1,908.13 | 995.00 | 0.00 | 0.00 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 290.00 | 150.00 | 0.00 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 396.80 | 414.08 | 191.00 |
| 1.50 | 1.42 | 1.18 | 1.56 | 1.76 | 1.40 | 1.66 | 1.19 | 0.98 | 0.95 | 0.67 | 0.39 |
| 85.73 | 255.81 | 472.99 | 379.83 | 392.27 | 230.06 | 192.81 | 290.97 | 108.05 | 224.54 | 71.80 | 0.00 |
| **4,813.95** | **5,203.44** | **9,674.16** | **11,000.67** | **9,560.80** | **5,838.40** | **2,944.47** | **7,698.57** | **2,017.17** | **1,907.28** | **636.55** | **191.39** |
| | | | | | | | | | | | |
| 30.00 | 200.00 | 400.00 | 400.00 | 1,000.00 | 550.67 | 488.33 | 209.00 | 215.00 | 136.00 | 40.00 | 0.00 |
| 199.00 | 145.50 | 400.00 | 299.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 122.24 | 137.83 | 241.82 | 239.24 | 59.26 | 14.44 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 852.00 | 1,802.65 | 1,836.76 | 2,168.51 | 3,346.00 | 2,077.49 | 1,399.51 | 1,224.75 | 473.39 | 1,291.25 | 906.55 | 223.79 |
| 0.00 | 0.00 | 0.35 | 0.00 | 0.30 | 0.40 | 149.43 | 166.81 | 185.08 | 169.21 | 153.14 | 42.54 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 100.00 | 150.00 | 300.00 |
| 0.00 | 0.25 | 0.00 | 73.20 | 92.30 | 58.23 | 63.05 | 100.77 | 41.45 | 38.00 | 33.40 | 49.68 |
| 0.00 | 0.00 | 0.55 | 3.09 | 4.22 | 4.22 | 10.77 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 1.33 |
| 1.52 | 3.93 | 9.22 | 6.26 | 4.90 | 2.81 | 21.96 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 5.00 | 0.50 |
| 43.20 | 52.60 | 65.32 | 69.30 | 70.74 | 59.92 | 29.72 | 36.72 | 35.72 | 40.65 | 66.90 | 34.70 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 5.70 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.47 | 0.75 | 0.13 | 0.19 | 0.95 | 0.06 | 1.00 |
| 225.00 | 593.80 | 358.75 | 400.00 | 589.00 | 493.90 | 307.56 | 251.74 | 232.65 | 709.28 | 220.00 | 0.00 |
| 18.70 | 17.00 | 18.70 | 18.70 | 19.20 | 18.80 | 40.59 | 20.38 | 23.66 | 16.77 | 3.72 | 2.87 |
| **1,491.66** | **2,953.56** | **3,331.47** | **3,677.28** | **5,185.92** | **3,287.06** | **2,511.67** | **2,010.30** | **1,207.14** | **2,502.11** | **1,578.76** | **656.41** |
| | | | | | | | | | | | |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 5.00 |
| 0.00 | 46.20 | 59.20 | 112.55 | 58.13 | 65.41 | 177.00 | 60.00 | 60.00 | 56.60 | 49.20 | 46.10 |
| 50.63 | 23.73 | 56.59 | 66.39 | 29.73 | 27.13 | 16.87 | 0.03 | 0.04 | 4.61 | 11.39 | 85.93 |
| 1.28 | 0.32 | 0.63 | 1.08 | 0.85 | 0.75 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 1.60 | 12.75 | 12.07 |
| 107.44 | 76.07 | 99.56 | 64.65 | 80.93 | 76.79 | 44.25 | 53.80 | 41.80 | 47.10 | 63.30 | 61.50 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 15.50 | 20.00 | 9.90 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.20 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 12.09 | 20.55 | 9.47 | 23.24 | 30.10 | 9.08 | 4.96 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 34.58 | 14.14 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 25.08 | 10.02 | 6.12 | 9.27 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 22.40 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| **159.35** | **146.32** | **215.98** | **244.66** | **169.64** | **182.37** | **281.07** | **123.30** | **150.16** | **165.53** | **206.41** | **248.87** |
| | | | | | | | | | | | |
| 62.65 | 58.70 | 59.00 | 37.20 | 34.40 | 25.20 | 14.30 | 2.50 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 912.06 | 1,307.75 | 1,423.71 | 905.10 | 1,761.70 | 1,080.63 | 434.96 | 207.80 | 131.90 | 136.29 | 212.44 | 35.30 |
| **974.71** | **1,366.45** | **1,482.71** | **942.30** | **1,796.10** | **1,105.83** | **449.26** | **210.30** | **131.90** | **136.29** | **212.44** | **35.30** |
| **7,439.68** | **9,669.76** | **14,704.32** | **15,864.91** | **16,712.46** | **10,413.66** | **6,186.46** | **10,042.47** | **3,506.37** | **4,711.20** | **2,634.17** | **1,131.97** |

# ضميمه C

## د سيګار ليکل شوي محصولات

## د افغانستان د بيارغونې ځانګړی عمومي پلټونکی مالي پلټنه

### د پلټنې خبرتيا ليک

سيګار د دې راپور ورکوونې دورې په جريان کې يو د خبرتيا ليک خپور کړ.

| تر اکتوبر 30، 2014 پورې د سيګار نوي پلټنې د خبرتيا خپور شوی ليک | | |
|---|---|---|
| راپور شمېره | د راپور سرليک | د خپريدو نېټه |
| د سيګار پلټنې خبرتيا ليک 14-80a-AL | د افغان هوای ځواک د C-130 الوتکو ځواب | 10/2014 |

### د فعاليت بشپړې شوي پلټنې

سيګار د دې راپور ورکوونې په موده کې دوه پلټنې بشپړې کړې.

| د 2014 د اکتوبر تر 30 پورې د سيګار فعاليت بشپړې شوي پلټنې | | |
|---|---|---|
| راپور شمېره | د راپور سرليک | د خپريدو نېټه |
| د سيګار پلټنه 15-12-AR | د افغانستان د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې پوليس: د متحده ايالاتو ولايتي قطعو سره مرسته په بشپړ ډول نشي تعقيب کيدلی او د دې قطعو د وړتيا رسمي ارزونو ته اړتيا ده | 10/2014 |
| د سيګار پلټنه 15-1-AR | د امريکا د نړيوالې پراختيا لپاره اداره: د سيګار د پلټنو او تفتيش راپور ټولو وړانديزونو له 80 سلنې ډېر پلې شوي | 10/2014 |

### د نويو فعاليتونو پلټنې

د راپور وروکولو پدې موده کې سيګار د فعاليت دوه پلټنې پيل کړې

| د 2014 اکتوبر تر 30 پورې د سيګار فعاليت نوې پلټنې | | |
|---|---|---|
| د پلټنې شميره | د پروژې موضوع | د پيل نېټه |
| سيګار 100A | افغان دولت ته ليږدول شوې د زيربنا پروژو باندې د امريکا دفاع وزارت څارنه | 8/2014 |
| سيګار 099A | د متحده ايالاتو د افغانستان ملکي هوايي چلند وړتياو د پرمختګ هڅې | 7/2014 |

### د فعاليت رواني پلټنې

سيګار د دې راپور ورکوونې دورې په جريان کې 12 پلټنې د پرمختګ په حال کې درلودې.

| د 2014 اکتوبر تر 30 پورې د سيګار فعاليت رواني پلټنې | | |
|---|---|---|
| د پلټنې شميره | د پروژې موضوع | د پيل نېټه |
| سيګار 098A | د امريکا دفاع وزارت د افغان سيمه ايز پوليسو پروګرام | 7/2014 |
| سيګار 097A | د متحده ايالاتو د افغانستان استخراجي صنعت پراختيا لپاره هڅې | 2/2014 |
| سيګار 096A | د متحده ايالاتو افغان مهاجرينو او په داخل کې بې ځايه شوي وګړو سره مرستې لپاره هڅې | 2/2014 |
| سيګار 095A | د متحده ايالاتو افغانستان قانون حاکميت پراختيا لپاره هڅې | 2/2014 |

*په راتلونکې پاڼه کې دوام لري*

| د سيګار د فعاليت رواني پلټنې د 2014 کال د اکتوبر 30 پورې (دوام لري) | | |
|---|---|---|
| **د پلټنې شميره** | **د پروژې موضوع** | **د پيل نيټه** |
| سيګار 092A | د دفاع وزارت ته د سيګار د وراندېزونو درېځ | 2/2014 |
| سيګار 090A | د افغانستان ملي اردو د انجنيرانو ليوا د تجهيزاتو پلټنه | 11/2013 |
| سيګار 089A | د افغانستان هوايي ځواک د ودې لپاره د امريکا ملاتړ پلټنه | 11/2013 |
| سيګار 088A | د متحده ايالاتو د افغانستان د معلوماتو او ټيکنالوجۍ سيکتور د بيارغوني او خصوصي کولو لپاره د امريکا حکومت د مرستو د هڅو پلټنه | 11/2013 |
| سيګار 087A | د ښځو نوښتونه | 8/2013 |
| سيګار 086A | د معارف سيکتور | 8/2013 |
| سيګار 080A | د متحده ايالاتو حکومت د بيارغوني انتقالي پلان | 3/2013 |
| سيګار 079B | د افغان ملي امنيتي ځواکونو د معلوماتو اعتبار | 2/2013 |

## بشپړې شوې مالي پلټنې

د راپور ورکولو پدې موده کې سيګار شپږ مالي پلټنې بشپړې کړې.

| تر اکتوبر 30، 2014 پورې د سيګار بشپړې شوې مالي پلټنې | | |
|---|---|---|
| **راپور شمېره** | **د راپور سرليک** | **د خپريدو نيټه** |
| د سيګار مالي پلټنه 15-7-FA | د USAID افغانستان وچرونه په کرنه کې د ډېر شوي توليد لپاره: د هغه لګښتونو پلټنه چې د نړيواله سوکالي او پرمختګ شرکت(IRD) لخوا مصرف شوي دي. | 10/2014 |
| د سيګار مالي پلټنه 14-100-FA | د USAID د افغانستان ښاروالیو پیاوړي کولو پروګرام: د نړيوال ښار/کاونټي مديريت سازمان لخوا پيښ شوي لګښتونو پلټنه | 9/2014 |
| د سيګار مالي پلټنه 14-95-FA | په افغانستان کې د امريکا بهرنيو چارو وزارت د ماين پاکولو فعاليتونه: د ماين پاکوني پلانولو اداري لخوا پيښ شوي لګښتونو پلټنه. | 9/2014 |
| د سيګار مالي پلټنه 14-94-FA | د USAID د افغانستان ټولنې ته اطلاع رسولو پروګرام: د AECOM نړيوالي پرمختيا شرکت لخوا پيښ شوي لګښتونو پلټنه. | 9/2014 |
| د سيګار مالي پلټنه 14-93-FA | په افغانستان کې د ټولنې ميشته تعليم پرمخ وړو لپاره د USAID ملګرتيا: د هغه لګښتونو پلټنه چې د پاملرنې نړيواله موسسې لخوا مصرف شوي | 8/2014 |
| د سيګار مالي پلټنه 14-91-FA | د USAID د افغانستان شمالي او لويديزو سيمو کې د ځايي حکومتولی او ټولنې پراختيا پروژه: د ARD شرکت لخوا پيښ شوي لګښتونو پلټنه. | 8/2014 |

## نوې مالي پلټنې

سيګار د راپور ورکووني دې دوره کې يوه مالي پلټنه پيل کړې.

| تر اکتوبر 30، 2014 پورې د سيګار نوې مالي پلټنې | | |
|---|---|---|
| **د پلټنې شميره** | **د پروژې موضوع** | **د پيل نيټه** |
| F-065 | د پرمختګ عمل لپاره خواړو له لارې د افغانستان لپاره د کرنيز توکو ليد لپاره د امريکا سويابين انجمن سره د USDA تعاوني تړون | 8/2014 |

## رواني مالي پلټنې

سیګار د دې راپور ورکووني دورې په جریان کې 33 رواني مالي پلټنې درلودې.

| د پلټنې شمیره | د پروژې موضوع | د پیل نېټه |
|---|---|---|
| **تر اکتوبر 30، 2014 پورې د سیګار رواني مالي پلټنې** | | |
| F-064 | د ANA ډیپو ملاتړ لپاره د رایتون تخنیکي خدماتو کمپنی LLC سره د امریکا دفاع وزارت قرارداد | 4/2014 |
| F-063 | د DRS تخنیکي خدماتو، Inc سره د ANA مخابراتي تجهیزاتو خدمت نظارت، سیسټمونو انجینري، تخنیکي مرستي، روزني او ساتني لپاره د امریکا دفاع وزارت قرارداد | 4/2014 |
| F-062 | د Engility کارپوریشن سره د امریکا دفاع وزارت قرارداد (L-3 MPRI) د MOI او ANP خدماتو ملاتړ لپاره | 4/2014 |
| F-061 | د Dyncorp، نړیوال، LLC سره د ANSF ملاتړ کې نظارت او روزني خدماتو لپاره د امریکا دفاع وزارت قرارداد | 4/2014 |
| F-060 | د بهرنیو چارو وزارت د PAE حکومت خدماتو شرکت سره د قضا سیکټور ملاتړ پروګرام (JSSP) تخنیکي ملاتړ لپاره قرارداد | 3/2014 |
| F-059 | د ګلوبل رایټس سره د State بلاعوضه مرستي د کورنی قانون پیرودونکو لپاره قضا ته د لاسرسي ډیرولو او د مدني ټولني/ځوان وکیلانو ظرفیت پیاوړي کولو لپاره ترڅو په افغانستان کي بشري حقونه خوندي کړي | 3/2014 |
